بسم الله الرحمن الرحيم

د يرغل

پر

وړاندې

ليکوال: مولوي عبدالهادي (مجاهد)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د يرغل پر وړاندې

ليکوال : مولوي عبدالهادي (مجاهد)

د چاپ کال : ۱۳۹۵هـ ش (۲۰۱۶) م

چاپوار: اول

دچاپ شمېر: (۲۰۰۰) ټوکه

د ترلاسه کولو درکونه :

د افغانستان او پښتونخوا ټولې مشهورې کتابخانې.

د چاپ او هر ډول نشر حقوق ئې له مؤلف سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

د دې ټولګې په اړه څوکربښې! 11
"د یرغل پر وړاندې" کتاب یوه ځانګړې مبارزه 13
د پیل خبرې 19
امریکا د افغانانو د اسلامي هویت د له منځه وړلو په هڅه کې 26
د افغاني ټولنې د اسلامي هویت اساسي عناصر 26
اول عنصر ـ ټینګ ایمان: 26
د نصراني غرب درې جبهې : 29
د سیکولریزم جبهه: 29
د کلیساجبهه: 30
پوځي جبهه: 32
دویم عنصر ـ غیرت او همت: 34
د دیني او معنوي ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره غربیانو تدابیر 34
د نشراتي وسائلو پراخه خپراوی: 34
د لیکوالانو او مفکرینو خریداري: 36
د لنډغرو او بې غیرته حاکمانو مسلطول: 36
دریم عنصر ـ عفت او شرف: 37
د اخلاقي فساد د خپرولو ډولونه او مثالونه 39
د میډیا له لارې د اخلاقي فساد خپرول 39
د ښځو د چارو عجیب او غریب وزارت : 40
د هېواد په ښارونو کې د شرابخانو او فحشاوو د اډو جوړول: 41
څلورم عنصر ـ د جهاد او سربښندنې فطري استعداد : 43
پنځم عنصر ـ د غرب له لوېدلي او مبتذل فرهنګ او تمدن څخه د افغانانو لرې والی: 44

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې یوه بله جګړه هم روانه ده!........................ 46
د خاموشې جګړې ډګرونه.. 48
د حاکمیت ډګر:.. 48
د حاکمیت په ډګر کې د امریکایانو دوه ډوله ملګري:........................ 48
د دین او فکر ډګر: 51
د دین او فکر په ډګر کې د اشغالګرو امریکایانو اقدامات 51
په عملي لحاظ د دولت په عدلي او قضایي ارګانونو کې د شریعت د تطبیق مخنیوی: 51
د اسلام یو لیبرال او غربي تعبیر رامنځته کول:........................... 52
په ټولنه کې د تزکیې او احسان له منځه وړل،او پرځای یې د (منحرف روحانیت) او (بې لارې پیرانو) لپاره د نفوذ زمینه برابرول:............ 53
ځوانان له اولویاتو څخه په فېشن، لوبو او د پردیو په تقلید مصروفول: 54
د ټولنیز ډګر متشنجول:.. 54
دیموکراسي څه شی ده؟.. 56
د ډیموکراسۍ د پېژندلو اهمیت 56
د ډیموکراسۍ تعریف: 58
د ډیموکراسۍ دوه مهم بنسټونه:.. 63
اول بنسټ ـ دولس حاکمیت: 63
دویم بنسټ ـ حقوق او آزادۍ: 65
د دین او عقیدې آزادي:... 65
د رأیې د اظهار د آزادي:... 70
شخصي آزادي: 74
د مسکن د انتخاب آزادي: 76
د ملکیت حق:... 76
د کار حق:... 77

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کړې حق: 77
پارلمان د ډیموکراسۍ ممثله اداره........................ 78
پارلمان ولې طاغوتي اداره ده؟ 79
د صلیبي جګړو نن او پرون د عواملو او مشابهتونو په رڼا کې.......... 87
د جګړې د اسبابو او عواملو مشابهتونه 87
د مسلمانانو د یوه دولت او خلافت پر ځای د ډېرو کمزورو دولتونو شتون: 88
د منحرفو فرقو او نظریاتو موجودیت:.......................... 89
په مسلمانو هېوادونو کې د سیاسي قیادت د نا أهلۍ ستونزه.......... 93
د صلیبیانو اقتصادي مصالح او پراخ غوښتنه:..................... 95
غرب د مسلمانانو لپاره څه ډول اسلام غواړي؟.................. 98
له رینښتیني اسلام سره د غرب دښمني: 100
د رینښتني اسلام په خلاف دغرب د معاصرو رهبرانو دریځونه:......... 102
هغه اسلام چې غرب یې د مسلمانانو لپاره غواړي:................. 108
بې شریعته اسلام: 111
فکري جګړه او د اسلامي مفاهیمو تحریف: 112
د اسلام د تحریفولو او د هغه په خلاف د فکري جګړې لپاره د غرب وسائل: 115
مېډیا او مطبوعات : 116
تعلیم او تربیه :.. 120
قوانین او سیاسي فشارونه : 126
د غرب له نظره منځلاری اسلام څه شی او منځلاري مسلمانان څوک دي؟...... 130
منځلاری اسلام او تاریخ: 131
منځلاری اسلام یو امریکایي ایجاد دی:.......................... 132
د امریکا او غرب فکري مراکز او د منځلاري اسلام د تولید پروسه: .. 134

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشهور امریکایي فکري مراکز: 137
مشهور برتانوي فکري مراکز 138
راندکارپوریشن څه ډول مرکز دی؟ او تر اوسه یې د اسلامي نړۍ او مسلمانانو په خلاف څه کړي دي؟ 139
د منځلاري اسلام لپاره د امریکا معیارونه.. 144
د منځلاري اسلام لپاره د رنډکارپوریشن د فکري مرکز معیارونه:.... 145
په اسلامي نړۍ کې د امریکایي (منځلاري اسلام) پرځای د (اصلي اسلام) له تطبیقه د غرب ویره: 147
امریکا د منځلاري اسلام د خپراوي لپاره په کومو ډګرونو کې مرستې او فعالیت کوي؟.. 150
د امریکایانو له اشغاله وروسته په افغانستان کې د سیکولر احزابو پرله پسې زېږون.. 153
د سیکولر احزابو له جوړولو د امریکا دوه مهم هدفونه.. 153
اول هدف ـ په سیمه کې د جهاد د فرهنګ ختمول: 153
دوهم هدف ـ د سیکولرزم (بې دینۍ)حاکمول 155
غربي اشغالګر او په اسلامي نړۍ کې د تعلیم سیکولریزه کول.. 160
د تعلیم د لادینه کولو لارې چارې 162
د غرب تعلیمي مشاورین او ماهرین : 163
د تعلیمي ماحول غربي کول : 164
د فرعون پوهنتون.. 166
فرهنګیان که فرنګیان؟.. 174
جهاد که جګړه؟.. 181
عسکرجانه تاته وایم ! 187
د پوهنتونونو ځوانان دهیواد د اسلامي اصالت شعوري سپاهیان.. 208
په پوهنتوني محیط کې د مسلمانو ځوانانو ستونزې 212

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سازماني انسجام نشتوالی..212
د غرب د فرهنګي يرغل په مقابل کې د اسلامي نشراتو او مطبوعاتو نشتوالی:..212
نشنلزم او نشنلست حرکتونه:..213
د اسلامي امت د ذلت له اسبابو او عواملو څخه..215
د خلافت سقوط..215
(سيکولريزم)يا د دين او د دولت بېلتون..216
روحي شکست او د کمترۍ احساس..219
ناپوهي او په اسلامي او تجربوي علومو کې بېرته پاتې والی..220
نشنلزم او وطنيت:..222
ماديت، له دنيا سره بې حده مينه، او له مرګ څخه وېره:..225
د رسول الله صلی الله عليه وسلم او اسلام په خلاف د غرب مشترک جنايات.....227
له قرانکريم څخه د دفاع د افغاني پاڅون حقيقت، لاسته راوړنې، دلالتونه، دريځونه او راتلونکې..234
په افغانستان کې د امريکا ماتې نور په کنفرانسونو نه جبيره کېږي........256
په سيمه کې د امريکا درې اهداف او هغو د تحقق په کار کې د امريکا ناکامي..257
اول هدف ـ د طالبانو اسلامي حکومت له منځه وړل:..257
دويم هدف ـ په منځنۍ آسيا کې د امريکا د جيوستراتيژيکو مصالحو تأمين او د سيمې د انرژۍ پر منابعو او د هغې د انتقال پر لار تسلط: .259
دريم هدف ـ په افغانستان کې مجاهدين او د جهاد نظريه له منځه وړل 260
امريکا د قضيې ريښتني او واقعي حل ته نه حاضرېږي..263
د بن دويم کنفرانس خپل اهداف ترلاسه نه کړل..264
د ستراتيژيک تړون خطرناک امريکايي اهداف..266
د ستراتيژيک تړون اصلي هدفونه :..268

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول هدف – د منځنۍ آسيا او د کسپين د حوزې نفتي منابعو ته دلاري تأمين 268
دويم هدف ـ په افغانستان کې د يوه رينښتني اسلامي حکومت د قيام مخنيوی: 269
دریيم هدف : د سيکولريزم، ليبراليزم او تنصير حمايت او پالل:....... 271
څلورم هدف ـ د داسې يوه اسلام دښمنه پوځ رامنځته کول چې د غرب ګټې وساتي: 273
پنځم هدف ـ د سيمې د مسلمانو هېوادونو دائمي تهديد او د هغوئ ترمنځ د سياسي او پوځي نږدېوالي مخنيوی: 275
صليبي اروپا له منارو څخه په ويره کې ده................................ 277
غولوونکي اصطلاحات 283
امريکا له افغانستانه وځي که د خپلې جګړې شکل بدلوي؟............. 287
امريکا ولې خپل پوځونه باسي؟... 288
امريکا ولې په افغانستان کې په محلي ډول جګړه دوامداره ساتي؟... 291
د دې لپاره چې په افغانستان کې بيا يو اسلامي حکومت جوړ او شريعت تطبيق نشي: 292
د دې لپاره چې د امريکا لخوا رامنځته شوی وضعيت او د هغې لاسته راوړنې دلته دوام وکړي: 292
د دې لپاره چې افغانستان له غرب سره په امنيتي، استراتيژيکو، سياسي، تعليمي او فرهنګي تړونونو پورې تړلی وي: 293
د دې لپاره چې طالبان له نامنظمو چريکي مجاهدينو څخه په يو منظم ايډيالوژيك عسکري ځواك بدل نشي. 294
امريکا په افغانستان کې د خپلې جګړې شکل ته تغيير ورکوي 294
د ناپوځي جګړې شکل او وسائل 295
د غرب ملګري په واك کې ساتل:... 295

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ناپوځي لارو د طالبانو د کمزوري کولو هڅې.................. 296
د جهادي فکر او عقيدې په خلاف منفي تبليغات..................... 297
په افغانانو کې د مقاومت روحيه له منځه وړل: 298
د تعليم نظام او نصاب د ټولنې د غربي کولو لپاره د وسيلې په ډول استعمالول:.. 299
د معتدل اسلام او منحرف روحانيت له پيروانو کار اخيستل:........... 301
د مېډيا له لارې د فکرونو تسخيرول:.................................. 304
د اقليتونو پالل او نشنلستي افکار تقويه کول.......................... 305
حکومتي نقش ناحکومتي مؤسساتو ته سپارل 306
ملي وحدت د چا له ليد لوري؟ 311
د مفاهيمو جګړه:.. 312
ملي وحدت يوه پردۍ اصطلاح.. 313
د ملي وحدت تعريف:.. 314
ملت څه ته وايي؟ 314
د ملت لغوي معنی: 315
د ملت شرعي معنی: 315
د (ملي وحدت) مفهوم د شريعت له نظره.............................. 318
(ملي وحدت) د سيکولرانو له نظره:..................................... 318
موږ د مسلمانانو په حيث د (ملي وحدت) کوم تعريف اختيار کړو؟.... 320
ملي وحدت که سياسي وحدت؟ 321
د (مورچل) مجله په افغانستان کې د غرب د ماتې عيني شاهد او د روان جهادي تاريخ امين 323
د جهادي خپرونو پر مفاهيمو د نوي غور ضرورت 330
اعداد يو شرعي مسؤوليت او جهادي ضرورت 338
د اعداد شرعي دلائل:... 340

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جهادی اعداد ډولونه:..343
ايماني او شرعي اعداد:..343
بدني او عسكري اعداد:..346
د وسلو او وسائلو صحيح استعمال:..347
پوځي صنعت:..348
افغان علماء، د لیکوالۍ ستونزه او د اسلامي معلوماتو فقر..353
عجيبه معادله:..355
د لیکوالۍ پراخه ساحه او بې شمېره موضوعات:..356
يو ارمان او يو مهم وړانديز:..362
انټرنيټي كتابتون:..364
د تخيل په دنيا کې له ازادۍ سره مرکه..366
اوسني جهادي ادب ته يوه کتنه..383
د جهادي ادب اهميت:..384
د جهادي ادب اهداف..385
جهادي شعر او ترانې:..387
اصلي دښمن څوک، دښمن که د دښمن افکار او نظريات؟..392

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ټولګې په اړه څوګرښې!

عبدالرحيم ثاقب

د "يرغل پر وړاندې" دا ټولګه د محترم مولوي عبدالهادي (مجاهد) د هغو مقالو مجموعه ده چې د صليبي يرغلګرو په خلاف د جهادي مقاومت په جريان کې په ډېرو سختو شرائطو کې ليکل شوې دي.

د "يرغل پر وړاندې" اثر ټولې مقالې هره يوه د خپل وخت د جهادي احداثو يو ښه انعکاس، يو پرځای تحليل او يو ژوندی تصوير دی چې درانه استاذ په ډېر دقت او غور او خورا امانت داري سره ورباندې قلم خوځولی او د پېښنې هر اړخيزه ارزونه يې کړې. د يادې ټولګې په راټولولو کې د پېښنو زماني تسلسل هم په داسې ډول په پام کې نيول شوی چې د ۱۵ کلن جهادي بهير د مهمو او اساسي احداثو ډېره برخه يې احتواء کړې.

په لنډه کې ويلای شو چې د "يرغل پر وړاندې" تر لاس لاندې ټولګه هم د جهادي احداثو هينداره او هم د يرغلګرو د پوځي او فرهنګي جنايتونو رسوا کوونکي وسيله ده.

دلته هم د يرغلګرو په خلاف د پوځي مقاومت سنګرونه ستايل شوي او هم د هغوی په وړاندې ځوان نسل ته د فرهنګي او فکرې مقابلې تکتيکونه ورښودل شوي دي.

په دې مجموعه کې د يرغلګرو په خلاف مبارزه کوونکو مجاهدينو ته د ديني پوهاوي له لارې د جهاد او مبارزې شعور ورکړل شوی او د يرغلګرو اصلي ماهيت ورته بربنډ شوي دی.

د "يرغل پر وړاندې" په مجموعې کې د صليبي يرغلګرو ټولې هغه دجالي دسيسې ښې افشاء شوې کومې چې دوئ په افغانستان کې د خپل وحشيانه يرغل د تبرير لپاره د ډيموکراسۍ، آزادۍ او بيا رغونې تر نامه لاندې پر لاره اچولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د "یرغل پر وړاندې" لیکوال د پخواني او اوسني جهاد د پېښنو یو ژوندی تاریخ دی چې زمونږ د هېواد د تېرو دریو لسیزو د ټولو پوځي او سیاسي جریاناتو عیني شاهد پاتې شوی او له هغو څخه په تجربې اخیستو سره یې خپل معلومات له ځوان نسل سره د همدې لیکنو په وسیله شریك کړي دي.

د "یرغل پر وړاندې" اثر لیکوال یو له هغو جهادي لیکوالانو څخه دی چې د پوځي جهاد ترڅنګ یې د یرغلګرو په وړاندې د فرهنګي جهاد سنګر هم تود ساتلی ، په یرغلګرو یې د علم ، پوهې او بصیرت په رڼاکې اغیزناك ګوزارونه کړي او د فرهنګي جهاد په ساحه کې یې د ډېرو ځوانانو په روزلو سره د یادولو وړ خدمتونه کړي.

د "یرغل پر وړاندې" لیکوال ته په دې لاره کې د مزید توفیق غوښتنه کوم او له الله تعالی څخه غواړم چې زمونږ په ټولنه کې یې امثال زیات کړي.

والسلام

عبدالرحیم ثاقب

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د يرغل پر وړاندې" کتاب يوه ځانګړې مبارزه

لطف الله خيرخوا

موږ د قضيې او دښمن په پېژندلو کې تل ستونزه لرلې. همدا د دې لامل ګرځېدلی چې موږ ډېر ځلې د دښمنانو د یر غلونو د واقع کېدلو په مخنيوي کې پاتې راغلي يو. او د ير غل له واقع کېدلو او د هغه په خلاف د اوږدو مقاومتونو له رامنځته کېدلو وروسته مو چې هر ځل دښمن په پوځي لحاظ مات کړی بيا هم تقريبا هر ځل موږ د هغه د فکري او سياسي دسيسو پر وړاندې ماتې خوړلې. د دې ټولو تکراري پېښو لامل يو دی، او هغه دا چې موږ په خپله قضيه په تمامه معنا هېڅکله نه يو پوه شوي.

د سوبې لومړی شرط دا دی، چې په مبارزه کې انسان په خپل فکر، کړنلارې، هدف او دښمن پوه شي. هله به مناسبه رويه او د لومړيتوبونو انتخاب رامنځته کيږي او کرار به د هدف خوا ته درومي. همدا پوهه مبارز انسان پر حالاتو، شرايطو او ظروفو حاکم ساتي او د خپل انتخاب حق ورکوي. که دا پوهه نه وه، نو حالات، شرايط او ظروف به ځان مسلطوي، بيا نو مبارز ته بويه، چې څه ډول رويه کاروي او څه ډول د حالاتو مقابله کوي؟

د"د پرغل پر وړاندې"کتاب د فکري مبارزې شهکاره نمونه ده او يو داسې کوښښ دی چې د روان يرغل په اړه دې بشپړ پوهاوی رامنځته شي. موږ کاش د استاد مجاهد په څېر شخصيتونه ډېر لرلی، چې تر شوني بريده ډېر پوهاوی رامنځته شوی وی، خو دا چې نه شته، ځای يې دا نيسي، چې د دې کتاب مفاهيم په ژوره مطالعه کړو، عقل او زړه ته يې وسپارو او تر نورو يې ورسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کتاب کې ډېرې خبرې د پام وړ دي، چې څو خبرې ترې زه د نمونې په توګه راوباسم :

د یرغل ماهیت :

د غرب او سیمې د استعماري او نیمه استعماري زورواکانو د مغالطو په پایله کې زموږ ډېر خلك د دې جګړې په ماهیت نه پوهیږي. څوك وایي دا مازې اقتصادي جګړه ده. څوك وایي دا د څو هېوادونو د نیابتي جګړو میدان دی. څوك وایي ټول کار د امریکا دی او د خپلې سلطې د دوام لپاره یې ځان ته مصنوعي مقاومت پیدا کړی چې تر شونې بریده یې دلته قیام اوږد شي. اصل هدف یې چین او روسیه ده...

دغو خلکو کې شعوري خلك هم شته، چې د موضوع عمق ته رسیږي، مګر په لوی لاس د هغو خلکو د بې لارې کولو کوښښ کوي چې نه پوهیږي او یا د نورو په تقلید ځان یوې نتیجې ته رسوي. دغه شعوري ډله د دې کتاب د محتوی له نظره څو جنایات کوي او لارویان یې ورسره د هغو مرتکبین دي:

اول دا چې دوئ د دښمن عقیدوي او فکري هویت پټوي، او په دې کار پر هغه حکم باندې هم خاورې اړوي چې اسلامي شریعت یې ورته ټاکي.

دوهم دا چې د دې دښمن پر وړاندې د جهاد حکم کې شکونه پیدا کوي، ځکه چې دوئ د دښمن اصلي څېره پټه کړې او خلکو ته داسې ښیي چې ګوندې دا هغه صلیبیان نه دي چې اسلام یې په اړه دا او هغه حکم کوي.

دریېم جنایت یې دا دی، چې د دې خاورې مسلمان ملت له خپل رزمي تاریخ او اصیل فرهنګه شکوي. دې مسلمانانو چې هر مهال بهرنی دښمن په ځغاسته او مات مات له خپل کوره وېستلی، اوس یې په دې تېرباسي چې ګوندې دا جګړه درباندې بل چا تپلې. هغوی نه غواړي افغانستان ارام شي، پرمختګ وکړي او...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کتاب خپل خلك بېرته خپل تاریخ او ثقافت ته ورګرځوي، چې ګورئ دا تپونکي په هغه وخت کې نه ول چې تاسو دا ډول جګړې ګټلې. د دې تپونکو نوم لانه و، چې تاسو ځان څه چې لانور ملتونه هم ګټل!

څلورم جنایت دا کوي، چې د دې مسلمانانو پر حافظه ملنډې وهي. دې مسلمانانو په نږدې تېر کې غزاګانې وګټلې، دښمنان یې مات کړل، مګر دوئ یې رزمي تاریخ اوس داسې تفسیروي چې ګوندې تاسې خو هېڅکله له دښمن سره جګړه نه ده کړې، او دا اوس مو چې څه روان کړي دي دا د ناپوهۍ له امله دي. دا دېرش کاله دا ولس بې علمه پاتې شوی، او دېته ورته نورې خبرې. دوئ کوښښ کوي چې د کفر د سلطې په دوران کې د شکلي ښوونې په ترویج دې له مسلمانانو هوتکي، ابدالي، غزنوي او د تېر جهاد پېرونه هېر کړي. دا ملت د یوه غبي او متهاك منځې ملت په توګه مخاطب کړي!!

پنځم جنایت یې دا دی چې د دې مسلمان ملت افتخارات او سربښندنې په ډېر مهارت بل چا ته منسوبوي. دغه خلك، چې د افغان دوستۍ په جامه کې د افغانانو اصلي دښمنان دي نه غواړي دا ملت خپل تاریخي تسلسل وساتي، نه غواړي دا ملت د خپل ثقافت اصول په ژوندي ډول مراعات کړي، ویې پالي او د عمل په میدان کې یې ترجمه کړي.

دا کتاب د روانې جګړې اصل ماهیت روښانوي، او له هغو څېرو پرده پورته کوي، چې دا جګړه بدله ښیي او پورتنې یاد شوي جنایتونه ترسره کوي.

د یرغل کیفیت :

په کتاب کې به ځای ځای تاسې ته "بله جګړه، فکري جګړه، د مفاهیمو جګړه، خاموشه جګړه" یا دې ته ورته ترکیبونه مخې ته درځي. استاد کوښښ کړی چې د جګړې کیفیت روښانه کړي او خپلو خلکو ته وښیي چې دا جګړه دومره په ساده کیفیت کې نه ده څه ډول یې ځینې خلك

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعبيروي، بلکې دا يو هر اړخيز يرغل دی او په يو وار زموږ تنه او روحيه دواړه له منځه وړي.

دا جګړه، چې څومره مساحتي وسعت لري او ټوله اسلامي نړۍ يې لاندې کړې او هر ځای کې يې مسلمان په شکنجه کې نيولی، همدومره يې معنوي اړخونه هم ګڼ دي. همدومره تکتيکي تعدد لري. او هر اړخ او هر تکتيك يې ځانګړې توجه، دفاع او مقاومت غواړي.

دا کيفيت چې په دې کتاب کې په څه ډول روښانه شوی ښيي چې دا جګړه د تجزيې قابله نه ده. او د هغې په خلاف هم په حکم او هم د حکم په تعميل کې منظم او هراړخيز ستراتېژيك مقاومت ته ضرورت لري.

د کتاب محتوی په دې ډېر دلايل لري چې دا جګړه په مجموع کې د يوه فکر او يوې عقيدې له لوري اداره کېږي. په دې جګړه کې د دښمنانو تشکيلاتي توپير نه د هغوئ د ارزښتونو او اهدافو تغيير دی، او نه وربااندې دليل دی. د کتاب د دلايلو ساده خلاصه دا ده چې د دې جګړې د مقابل لوري مدير د هغه د ټولې ادارې مدير دی، نو ولې ورسره په رويه او حکم کې توپير پيدا کړی شي؟

هغه خلك، چې په همدې ډول ادارو کې کار کوي او ځان په تشکيلاتي توپير کې له جنايته پاك ګڼي، دا کتاب يې سر خلاصوي، چې څنګه پر يوه ښکاره وضعي فکر او فلسفي اصل څروبه اداره په خپلو تشکيلاتو کې د خپل اساس اغېز ردولی شي؟

تاسې به کتاب کې ولولئ، چې غرب دلته په فکري برخه کې څه راوړي؟ همدغه فکر په ټوله اداره حاکم دی که نه؟ څه ډول خلك په کې استعمالېږي؟ کومې لارې انتخابېږي؟ او دا هر څه بيا د کومو اهدافو لپاره کارېږي؟ که په ټوله اداره کې داسې کوم تشکيل وي، چې دې اهدافو ته کار نه کوي نو بيا خو سمه ده، او که نه نو د ځان د تېر ايستو هېڅ اړتيا نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دښمن کلتوري هویت

یو څوك یوازې په جغرافوي انتساب نه پېژندل کیږي، چې فلانی کومه محدوده کې زېږېدلی او ژبه یې څه ده؟ که عبارت مې غلط نه وي نو دا یوه شکلي پېژندنه ده. اصل پېژندنه دا ده، چې د هغه تاریخي ژور ته کوز شې، د هغه فکري رجحان او میلان راوسپړې، د هغه د خوځښتونو تر شا هڅاند فرهنګ مطالعه کړې، چې د دې فرهنګ او نظریې سرچینې کومې دي؟ نو ایله به دې د دښمن د پېژندو لار میندلې وي.

که دښمن په دې وپېژنو، چې هغه په خپله په تزویري ډول د ځان په اړه څه وايي؟ ملګري یې د هغه په اړه څه وايي؟ خادمان او مزدوران یې په اړه څه وايي؟ نو دا یوازې هغې لومې ته ځان وربرابرول دي چې دښمن د همداسې غافلو خلکو لپاره ایښې او همدا ډول نا بلدي ورکې رانیسي!

بیا هم مهمه دا ده چې د دښمن له عقیدې زېږېدلی فرهنګ مطالعه شي او وشنل شي، ځکه چې د یوې معلومې قضیې په اړه د هغه د تمایلاتو فکري او فرهنګي ارزونه تر نورو ټولو لارو چارو د هغه هویت ښه روښانوي.

دا کتاب په همدې بنسټ په روانه قضیه کې د مسلمانانو د دښمن اصل هویت څرګندوي. د فکر سرچینې یې درښیي. د هغه د کار مېتود ته دې دروي. دکار وسایل یې در په ګوته کوي، د هغه د کار چورلیزونه برسېروي، د ترکیز نقاط یې مخې ته درږدي، تر ټولو مهم دا چې د دښمن کار او زیار په داسې ښه درته ږدي چې د خپل غفلت انتها ته دې پام واوړي!

تاسې به په کتاب کې ولولئ چې د روانو جریاناتو ستره بهانه «دیموکراسي» څه شی دی؟ په دې کې به هغو نکتو ته ستاسې پام واوړي چې دا دیموکراسي څه ډول د «اسلام» بدیل ګڼل کیږي؟ شریعت په کومو دلایلو له ژونده ویستل کیږي؟

پدې مطالعه به مو د هغو خلکو په اړه هم ذهن خلاص شي چې ولې هغوی د اعتدال او سولې په نوم د دښمن رضاکار لښکریان دي. هغه منځلاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هر حرکت، منډه او هڅه یې یوازې او یوازې دښمن حاکمیت ته مشروعیت ورکوي.
د کتاب په اړه دې څوک دا فکر نه کوي، چې ولې لیکوال د یو علمي څېړونکي په څېر بې طرفه نه دی. دا بې ځایه فکر دی، ځکه چې یو خو کتاب په یوه موضوع نه څرخي، بلکې د څوارلسو کلونو د بېلابېلو جریاناتو په اړه د مقالو ټولګه ده. دوهم دا چې لیکوال د قضیې سړی دی او لیکوال د میلیونونو مسلمانانو تر منځ یو هغه مسلمان دی چې روانو جریاناتو د ژوند پر داسې سختو مورګو درولی چې ممکن کوم رفاه پلوی یې یوازې په کیسه لوستو زاره چاودی شي.
لیکوال د هغه علمي منافق په څېر نه دی چې عقیده یې یوه وي، خو لیکي او وایي بل څه. دی چې څه وایي د یوه مؤمن په څېر پر هغه معتقد هم دی. لیکي یې، اوروي یې، بل ته یې رسوي او د یوه بلا همت په زور د منزل په لو ردرومي.

لطف الله خیرخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیل خبرې

الحمدالله رب العلمین، والصلاة والسلام علی رسوله المرسل بالبلاغ المبین، الذي بلغ الرسالة، و أدّی الأمانة، و کشف الغمّة، و جاهد في الله حق جهاده، وعلی آله و صحبه الهداة المهدیین المجاهدین الذین رضي الله عنهم و رضوا عنه، و علی من اتّبعهم بإحسان إلی یوم الدین أجمعین.

په تېرې یوې نیمې پېړۍ کې غربي هېوادونو د اسلامي نړۍ ډېر هېوادونه او ولسونه تر خپل اثر لاندې راوستل، او په سیاسي، پوځي، اقتصادي، فکري، او فرهنګي لحاظ یې په ځان پورې وتړل.

غربیانو نه یوازې دا چې په اسلامي نړۍ کې پر خلکو د خپلې خوښې حکومتونه نظامونه، قوانین او احزاب ومنل، بلکې په ټول توان یې د هر هغه چا په خلاف هم د ژوند په ټولو ډګرونو کې خپلې هر اړخیزې جګړې او دښمنۍ ته دوام ورکړ چې په اسلامي نړۍ کې د دوئ د استعماري پلانونو او ظالمانه پالېسیو د پلي کېدو د مخنیوي په لاره کې فعالیت او مبارزه کوي او مسلمانان بېرته د اصیل اسلام غېږې ته ورګرځوي.

د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتمبر له یولسمې وروسته چې د امریکا په مشرۍ غربي ائتلاف افغانستان اشغال کړ نو دلته یې هم د افغانانو د تسخیرولو او په افغانستان کې د خپل اشغال د دائمي ساتلو په مقصد په بېلابېلو شکلونو کې خپلې پالیسۍ او پلانونه طرح او عملي کړل.

غربیانو د افغانانو د تابع کولو او په خپل ځان پورې د تړلوپاره ډول ډول پوځي، سیاسي، اجتماعي، تعلیمي، فکري او فرهنګی پروژې په ډېر مهارت سره پداسې ډول تر کار لاندې ونیولې چې له یوې خوا په افغانستان کې د غرب په ګټه یو هراړخیز تحول رامنځته کړي، او له بلې خوا دلته د غرب د پلانونو او خطرناکو سیاستونو په خلاف د خلکو احساسات او حساسیتونه هم راونه پاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرب د پوځي يرغل پر وړاندې خو د افغانانو ځواب دا ځل هم د تل په څېر د پاڅون، جهاد او نه ستړې کېدونکي مسلح مقاومت په شکل کې مخې ته راغی، خو دا چې د دې يرغل ډېرو نورو اړخونو د ښکاره جګړې بڼه نه درلوده نو ډېرو خلکو په آسانه دا خبره نشوه درك کولی چې دلته نورې پټې فکري، فرهنګي، تعليمي، سياسي او رواني (روحي) جګړې هم رواني دي.

دا چې د دغه ډول ناپوځي جګړو په مقابل کي درېدل د علماوو، ليکوالو، دعوتګرو، او د فکر او نظر د خاوندانو کار وي، او د هغوئ مسؤوليت وي چې ولس د دښمن له پلانونو، عزائمو او پټو توطيو خبر کړي، او په خلکو کې له دښمن سره د مقابلې لپاره روحيه، انګيزه او معنوي توانايي پيدا کړي، نو له همدې امله د نورو علماوو، ليکوالو او د اسلامي فکر د سپاهيانو په کتار کې د درېدلو او د خپل انفرادي مسؤوليت د ادا کولو په مقصد ما هم د دې يرغل په مقابل کې خپل ولس او د جهادي صف ځوانانو ته په بېلابېلو وختونو کې د يو لړ فکري او تحليلي مقالو د ليکلو هڅه کړې چې د هغو له جملې څخه يوه برخه يې د (***فکري پوهنه***) دکتاب په شکل کې څو کاله مخکې افغان ولس ته وړاندې شوې او د الله تعالی په فضل هغه کتاب په پښتو او دري ژبو کې په تېرو څو کلونو کې په مکرر ډول په لسګونو زره نسخې چاپ او د دې مسلمان ولس له تاوده استقبال سره مخ شو.

دا دی اوس يوه بله مجموعه مضامين چې هغه هم د امريکايي اشغال په خلاف د مقاومت په سلسله کې ليکل شوي دي او د همدغه زماني مقطع د حالاتو او فکري ادبياتو څرګندوونه کوي تر بيا کتنې او ځينې اصلاحاتو وروسته پدې مجموعه کې د (***د يرغل پر وړاندې***) د کتاب په شکل کې د لوستونکو مخې ته ږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کتاب مضامين د بېلابېلو سياسي، فکري او د افغانستان په روان وضعيت پورې د اړوندو موضوعاتو په اړه دي، خو د ټولو ترمنځ مشترکه نقطه د دې صليبي يرغل پر وړاندې د ولس په ځوانانو او لوستو خلکو کې د مقاومت د روحې رابيدارول او د دښمنانو پر توطيو او عزائمو د هغوئ خبرول دي. الله تعالی دې وکړي چې پدې هکله مې خپلو خلکو ته داسې څه ليکلي وي چې ما ورکې خپل ديني مسؤوليت اداء کړی وي او د آخرت لپاره مې توښه وګرځي، او خپلو خلکو ته مې د روانو جريانونو څو داسې زاويې روښانه کړې وي چې د هغوئ د ايمان ساتنې، آزادۍ پالنې او له اسلام سره د هغوئ د محکم شعوري تړاو وسيله وګرځي.

پدې کتاب کې به ځينې مقالې داسې هم وي چې په کوم خاص حالت او وضعيت پورې به تړاو لري، خو پدې کتاب کې يې د راوړلو اهميت پدې کې دي چې راتلونکو نسلونو ته دا ور معلومه شي چې پر افغانانو او افغانستان د امريکا د يرغل په وخت کې دلته څه تېرېدل؟ او د دې يرغل پر وړاندې د دې مسلمان ولس څه دريځ وو؟

د امريکا د اشغال په مقابل کې د قلم د پورته کولو تر څنګ ما ته الله تعالی د غږ د پورته کولو توفيق هم را په برخه کړ، چې پدې ډګر کې مې په بېلابېلو وختونوکې د هېواد له مجاهدينو، لوستو خلکو، او د فکر او فرهنګ له خاوندانو سره چې په هغو کې د پوهنتونونو، مدارسو، مکاتبو استاذان او محصلين هم شامل ول د فکري پوهاوي درسونه او مجالس درلودل.

د فکري پوهاوي په سلسله کې مې پر بېلابېلو هغو علمي او فکري موضوعاتو چې په موجود وضعيت او جهادي جريان پورې يې اړه درلوده او پر هغو باندې پوهېدل او پوهول د معاصر اسلامي دعوت له ضرورتونو ګڼل کېدل يوه سلسله درسونه درلودل چې له نيکه مرغه د هغو درسونو يوه برخه يې د ځينو مخلصو دوستانو او شاګردانو په همت په صوتي شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثبت شوې او نشر شوي هم دي چې لاندې عنوانونه یې ځینې مهم موضوعات تشکیلوي:

١ - استشراق او پر اسلامي نړۍ د هغه فکري تأثيرات.

٢ - استعمار، د استعمار تاريخ ، استعماري دولتونه، استعمار شوي دولتونه، د مستعمرينو ځايي ملګري اوځايناستي، او د مسلمانانو د ژوند پر بېلابېلو اړخونو د استعمار تأثيرات.

٣ - ويسټرنايزيشن (داسلامي نړۍ غربي کول).

۴ - په اسلامي نړۍ کې د (شريعت) پر ځای د (وضعي قوانينو) د رائجولو اوږد او پراخ جريان.

۵ - ډيموکراسي.

۶ - سيکولريزم (د دين او دولت بېلول) .

٧- نشنلزم.

٨ - تنصير (د غرب له لوري د انسانانو د نصراني کولو نړيوال حرکت).

٩ - صليبي جګړې.

١٠ - د اسلامي امت د ذلت اسباب او عوامل .

١٢ - د اسلامي نړۍ معاصره پېژندګلوي.

١٣- فکري استعمار.

١۴- فکري جګړه او د هغې ډولونه.

١۵- پر اسلامي نړۍ د غربی ډوله تعليم اغېزې.

١۶ - د اسلامي تعليم او تربيې اهميت او ورکې موجود مشکلات.

١٧ - د افغانستان د اشغالولو ترشا د امريکا سياسي، اقتصادي، پوځي او فکري اهداف.

١٨ - د مجاهدينو لپاره د نړۍ او نړيوالو د پېژندلوضرورت.

١٩ - د مجاهدينو ديني، پوځي او ټولنيز مسؤوليتونه.

٢٠ - د زاړه او معاصر جاهليت پيژندل.

٢١ - د اسلامي دعوت اهميت او ضرورت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲ - قرآن ښوونه.
۲۳ - پـه افغانســتان كــې سياســي او فكــري جريانونــه (اســلامپالي، كمونستان او غرب پلوي) .
۲۴ - د غرب له نظره منځلاري اسلام او منځلاري مسلمانان.
۲۵- غرب ولي او څنګه د مسلمانانو ځوانان بې لارې كوي؟
۲۶ - په اسلامي عقيده كې د حاكميت تصور.
۲۷ - په افغانستان كې امريكايي اشغال او د قوانينو تبديلي.
۲۸ - د امريكـايي اشـغال د وخـت پـر اساسـي قـانون د شـرعي تبصـري تفصيلي درسونه.
۲۹- په افغانستان كې د امريكا د جګړې بېلابېل اړخونه .
۳۰- د (معالم في الطريق) درسونه.
۳۱- د اسلامي فكر مشخصات.
۳۲ - د جهادي اعلام (مېډيا) اهميت، تأثير او وظائف.
۳۳- جهاد چيست؟
۳۴ - عقيدۀ ولاء وبراء.
۳۵- د معاصر كفر د ډولونو د پېژندلو د درسونو سلسله.
۳۶- كافران څنګه مسلمانان د قوت له عواملو محروموي؟
۳۷- ويژه گی های افغانها و افغانستان در جهاد.
۳۸- ولې جهاد كوو؟ څنګه جهاد وكړو؟ د چا په خلاف جهاد وكړو؟(د درسونو سلسله).
۳۹- غرب څنګه ځينې اسلامي جهتونه د خپلو اهدافو لپاره استعمالوي؟ او په لسګونو نور مهم موضوعات.

پـه پورتنيـو عنوانونـو كـې تقريبـا ۲۰۰ سـاعته صـوتي درسـونه دي چـې د ځوانانو د فكري پوهاوي په لاره كې به ان شاء الله تعالى بې فائـدي نـه وي، او پدې مقدمه كې يې يادونه ماتـه ځكـه ضروري ښـكاره شـوه چـې مفـاهيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوموضوعات یې د دې کتاب له محتوی سره قوي مناسبت لري، او ښايي په ډېرو مواردو کې د دې کتاب د مضامينو شرحه او متمم هم وګڼل شي.
پورتني صوتي درسونه د افغانستان په ټولو ولاياتو کې ترلاسه کېږي، او که په ځينی ځايونو کې موجود نه وي نو هيله ده چې د اسلامي فکر ځوانان به يې بېلابېلو ځايونو ته د رسولو همت وکړی. او دا هم د يادولو ده چې د پورتنيو درسونو له صوتي شکل څخه ليکلي متن ته پر را اړولو هم کار روان دی او په راتلونکي کې به ان شاء الله تعالی په کتابي شکل کې هم هېوادوالو ته وړاندې شي.
د دې کتاب په ځينې مضامينو کې د غربي يرغلګرو په خلاف د ستر اسلامي مقاومت (د طالبانو د جهادي حرکت) په اړه څرګندونې او پر موجود وضعيت د هغه د تأثيراتو يادوونه هم شوې ده. پدې اړه زما خبرې د دغه حرکت د ترجمانۍ، تبرير او يا ترديد په معنی نه دي، بلکې پدې جهادي بهير کې د يوه شريك مسلمان په حيث چې ما ته کوم څه د واقعيت په حيث ښکاره شوي دي هماغه مې په دې مقصد ليکلي دي چې د نړيوال کفري يرغل په مقابل کې مې د يوه مسلمان مقاوم جهت ملاتړ کړی وي چې همدا مې ايماني مسؤوليت هم وو، خو دا چې تاريخ او تجربې ښودلې چې تقريبا ټول اسلامي او جهادي حرکتونه د خپلې مبارزې د مسير په کږليچونو کې کله ناکله له يو لړ خطاګانو او اشتباهاتو سره هم مخ کېږي نو دا حرکت هم له دغې عارضې مبرّأ او معصوم نه بولم، خو د افغانستان په اوسني وخت کې يې د موجودو اسلامي جهتونو په منځ کې اسلامي شريعت، جهاد او جهادي فکر ته تر نورو ښه ملتزم او متعهد بولم. او دا هم عين ممکن ده چې ما دې د دغه حرکت سمه ارزوونه نه وي کړې. نو په کار ده چې د (طالبانو) مواقف او پر هغوئ حکم دې له هغو وثائقو او مصادرو واخيستل شي چې دوئ په خپله د خپل ځان په اړه په رسمي ډول نشر کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې پداسې حال کې چې مسلمانانو ځوانانو ته د دغه ډول کتابونو د لوستلو توصيه کووم د دين له علماوو او د اسلامي فکر او نظر له خاوندانو احترامانه هيله کووم چې ځوان نسل ته پر معاصرو اسلامي موضوعاتو مؤثر ليکل وکړي، د دين (اصلي پيغام) خلکو ته په معاصره ژبه او معاصر اسلوب وړاندې کړي، او نوی نسل د اسلام د دښمنانو له فکري او عقائدي فتنو خبر کړي تر څو د هغو ښکار نشي.

او د دين له باخبره علماوو او د اسلامي فکر له استاذانو مې دا هيله ده چې که زه چېرې د دې کتاب په کومه موضوع او يا کوم حکم کې تېروتلی يم نو هغه به زما د کم علمۍ نتيجه وي، نه دا چې زه به پر غلطۍ اصرار کووم،نو د مهربانۍ او لورينې له مخې دې دوئ ما خپلې غلطۍ ته متوجه او خپل مسؤوليت دې رفع کړي.

د دې کتاب په اړه دا خبره يادول هم ضروري بولم چې زما دا کتاب ګوتې کوم علمي او تحقيقي أثر او په تخنيکي لحاظ يو معياري کتاب ندی، بلکه يوازې د يرغل پر وړاندې زما د انفرادي مسؤوليت د اداء کولو يوه نيمګړې هڅه ده، او مضامين يې پدې مقصد ليکل شوي چې له غرب څخه د را صادرو شويو فکري او عقائدي انحرافاتو او د غربيانو او د هغوئ د پيروانو له ورانوونکو پلانونو او پټو توطيو مې خپل ولس ته د خطر په مقابل کې د را ويښېدلو څو له سوزه ډکې چيغې وهلې وي. الله تعالی دې يې راڅخه قبولې کړي، او د خطا په صورت کې دې الله تعالی عفوه راته وکړي آمين.

(رَبَّنَا لاَتُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَتَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَتُحَمِّلْنَا مَا لاَطَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنتَ مَوْلاَنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ).

مولوي عبدالهادي (مجاهد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريکا د افغانانو د اسلامي هويت د له منځه وړلو په هڅه کې

امريکا ته په افغانستان کې د انګريزانو او روسانو له تجربو دا ورمعلومه وه چې افغانستان يوازې په زور او جګړې نه ايل کېږي او ترڅو چې د افغانانو په فکري او ټولنيز ژوند کې د افغانی هويت عناصر موجودوي تر هغه به دوئ د هر يرغلګر په خلاف د مقاومت توان لري، نو ځکه خو امريکا د افغانانو په ژوند کې د دوئ د اسلامي هويت عناصر تر بريد لاندې ونيول تر څو د تل لپاره په افغانانو کې د جهاد روحيه له منځه يوسي او پدې ترتيب افغان نوی نسل د غربي فرهنګ او نظرياتو پر اساس وروزي.

د افغاني ټولنې د اسلامي هويت اساسي عناصر

د افغاني ټولنې د اسلامي هويت اساسي عناصر ما ته تر ډېره ځايه په لاندې ټکو کې را ښکاري.

د ټينګ ايمان درلودل او د شريعت منل.

غيرت او همت.

عفت او شرف.

جهاد او سربښندنه.

د غرب د لويدلي فرهنګ له تاثيراتو لرې والی.

اول عنصر- ټينګ ايمان:

افغانان چې له کومې ورځې مسلمانان شوي له هماغې ورځې تر اوسه اسلام د دوئ دين، شريعت يې قانون او اسلامي فرهنګ يې د ژوند بڼه ده. دا رښتيا ده چې په عمومي ډول به په افغانانو کې شرعي علوم په پراخه ډول دومره ډېر نه وي خپاره شوي خو د اسلام په منلو کې په عملي ډول د سيمې تر نورو ولسونو غښتلي دي، او له دين څخه د دفاع په لار کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر نورو څو ګامه مخکې دي، او دا هغه حقیقت دی چې د سیمې تاریخ یې تل شاهدي او مثالونه وړاندې کړي دي.

د روسانو او کمونیزم په مقابل کې د جهاد په وخت کې به چې دلته راغلیو عربو مجاهدینو د افغانو د تدین او ښې مسلمانۍ ستاینه کوله نو ما چې لا هغه وخت د عربي نړۍ له اوسني وضعیته د عمر د کشروالي او د معلوماتو د نشتوالي له امله خبر نه درلود هغوئ ته به مې ویل چې زما په تصور کې خو تاسې عرب د ډېر قوي ایمان خاوندان یاست، ځکه چې تاسو د اصحابانو لمسیان یاست، د وحیې پر زمکه هستېږئ، قرآن ستاسی په ژبه نازل شوی او داسی نور، خو هغوئ به راته ویل: (ولكنّنا تلقّينا دروس الإيمان العملية منكم في هذا الزمن)، یعنې دا سمه ده چې موږ د دې امتیازاتو لرونکي یو، خو موږ د ایمان عملي درسونه پدې زمانه کې له تاسو افغانانو حاصل کړل.

همدغه د ایمان د قوت او له اسلام سره د وفادارۍ زور دی چې افغانان یې تل د مادي وسایلو له کموالي او یا نشتوالي سره سره د چنګېزیانو، انګرېزانو، روسانو او امریکایانو په مقابل کې درولي او تل یې یرغلکرو ځواکونو ته ماتې ورکړې ده.

له افغانانو د ایمان د وسلې د اخیستلو په لاره کې هېڅ کفري قوت او ملګرو یې خپلې هڅې ندي سپمولې.

انګریزانو د خپل استعمار په وخت کې ورته خپل کفري کتابونه ژباړلي او راوړي دي، او روسانو او امریکایانو ورته خپل. له ما سره د تورات او انجیل (عهد قدیم او عهد جدید) یوه پښتو نسخه موجوده ده چې د نولسمې میلادي پېړۍ په آخر کې په لندن کې چاپ شوې او بیا دې سیمې ته راوړل شوې ده، او دا په داسې حال کې چې په هغه وخت کې د دې سیمې هېڅ پښتون مسیحیت ته ور مرتد شوی نه وو. انګریزانو په خپل وخت کې افغانستان ته د (قادیانیت) کفري عقیده هم راصادره کړې، یو څو کورنۍ قادیانیت ته هم ور اووښتې وې چې د مشرانو تر اعدامېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته يې اولادونه پېښور ته وتښتېدل او د انګرېزانو تر تسلط لاندې د پېښور د (اچيني) په کلي کې ميشت شول چې تر نولس سوه نوي يمو کلونو پورې هماغلته پراته ول او په مهاجرو افغانانو کې يې خپل دين ته دعوت هم پيل کړی وو.

روسانو هم لاډېر پخوا له افغانانو څخه دايمان د وسلې د اخيستلو په نيت خپله الحادي کمونستي نظريه افغانستان ته راصادره کړه، او بيا يې د همدغې الحادي نظريې د خپراوي او ټينګښت په خاطر افغانستان اشغال کړ، په سلګونو زره الحادي، مارکسيستي او ليننې کتابونه يې د افغانانو ژبو ته وژباړل.

د فرهنګي فعاليت تر څنګ يې د افغانانو د اولادونو دکافر کولو لپاره د (پېش آهنګانو) لړۍ هم شروع کړه، او تر يوسل او شل زره زيات کمکي هلکان او نجونې يې شوروي اتحاد ته ولېږل، او هلته يې په مستقيمه او غير مستقيمه توګه د الحاد افکار د دوئ په ذهنونو کې ورځای کړل، او دلته يې هم په هېواد کې په بېلابېلو نومونو د ځوانانو لپاره فکري او انقلابي سازمانونو جوړ کړل، او هم يې د کمونيزم نظريه او افکار په مستقيمه توګه په افغانی نصاب کې شامل کړل.

کمونست ببرک به په واز کومي هر وخت افغانو ځوانانوته تلقين ورکاوه چې بايد له دوئ څخه (انسان نوين) جوړ شي، بايد د مارکس، انګلز او لينن فلسفه خپله کړی.

خو کله چې کمونيزم په افغانستان او نړۍ کې ماتې وخوړه نو د هغه د فکرې تشې د ډکولو لپاره د نصراني غرب يرغلګر په لاندې دريو جبهو کې رامنځته شول:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نصراني غرب درې جبهې:

۱ - د سیکولریزم جبهه:

سیکولریزم په انګریزۍ کې (بې دینې) یا (په نظام او حکومت کې دین ته ځای نه ورکولو) ته وایي. غربي سیکولریزم که څه هم په افغانستان کې لا د امان الله خان له وخته خپلې ریښتې غزولې او د ظاهر شاه او داود خان په وختونو کې ښه ډېره وده کړې وه. په تېره نیمه پېړۍ کې غرب پلوو اشخاصو، احزابو او مؤسساتو هم د سیکولریزم د خپراوي لپاره پراخ کار کړ،او خبره تر دې ځایهرا ورسېده چې د جهاد په دور کې یې د ځینې غرب پلوو تش په نامه جهادي ګوندونو له کړکۍ یې هم سر راوویست. دغه ګوندونه چې ځان یې (منځ لاری) یعنې نه کمونیستان او نه هم توندلاري مجاهدین بلل د غرب د اهدافو د پلي کولو لپاره د ډېرې کاریګرې وسیلې په حیث ثابت شول. هغوئ چې یو وخت یې د (پیرۍ) (حضرتۍ) او غولوونکي (روحانیت) په نامه افغانان له خالص عملي اسلامه ګرځول دا ځل یې سرونه د امریکا او غرب له ګرېوانه راووتل. سیکولریزم یوازې په غرب پلوو تنظیمونو، احزابو او اشخاصو کې منحصر پاتې نه شو، بلکې هغه اخواني مزاجه پخواني تنظیمونه او د هغو ډېره برخه اتباع یې هم تر خپل تأثیر لاندې راوستل، او په یوه سیکولر دیموکرات حکومت کې یې د غربي یر غلکرو تر سیوري لاندې د نورو سیکولرو احزابو او اشخاصو تر څنګ د غرب په خدمت کې ودرول.

امریکایانو پر افغانستان له خپل پوځي یرغل وروسته دغو غرب پلوو (روحانیونو!!؟) او سیکولر دیموکرات مجاهدینو!!؟ ته د افغانستان د قیادت، اقتصاد، پوځ، عدلي سیستم، اجتماعي خدماتو، تعلیم او فرهنګ چارې وروسپارلې. دغو ډلو ته یې مالي او اطلاعاتي وسایل په لاس ورکړل تر څو د سیکولریزم د خپراوي لپاره په خلاص لاس کار وکولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرب دغو نويو او زړو ملګرو د هر ډول وارداتي افکارو پرمخ د هېواد دورازې ورخلاصې کړې، خو د هغو په مقابل کې چې هر څوک د سوچه اسلامي فکر پالنه او ساتنه کوي د دوئ لخوا د (القاعدې) په نامه وهل، تړل، شړل او وژل کېږي، او کټ مټ د ترکيې د(کماليزم) په څېر خپل سيکولريزم د زور په وسيله او له خپل لوري د وضع شويو قوانينو له لارې پر خلکو عملي کوي.

د اسلامي نړۍ د ټولواسلامي مذاهبو علماء پدې متفق دي چې سيکولريزم ځکه کفر دی چې له الله تعالی څخه د حاکميت او تشريع حق اخلي، خو (سيکولر ديموکرات مجاهدين) او امريکا پلوي (روحانيين) يې ځکه پلی کوي چې په لکونو ډالره مياشتني معاشونه، شکرانې او نور سياسي او مادي امتيازات تر لاسه کوي.

سيکولريزم په يوه ورځ له خلکو څخه ايمان نه اخلي، بلکی په کراره کراره ايماني ارزښتونه د هغوئ له ژوند څخه باسي او د وخت په تېرېدلو يې داسې مرحلې ته رسوي چې دوئ به بيا په خپله اسلامي شريعت نه غواړي، خو سره له دې به بيا هم ځانونه مسلمانان بولي.

غربيانو په افغانستان کې پر سيکولريزم د (مدني ټولنې) (ديموکراسۍ) او د (نوي بهير) نومونه ايښي دي، ځکه چې دا هغه اصطلاحات دي چې عام وګړي يې په اصلي مقصد نه پوهېږي، او په اسانه يې په لومو کې ښکار کېږي.

۲ – **د کليسا جبهه**:

کليسا لا له ډېر پخوا راهيسې د افغانانو د مسيحي کولو پروګرام تر لاس لاندې نيولی وو، پر (اسلامي نړۍ يرغل) نومی کتاب چې د مسيحي مبلغينو د هغو مقالو مجموعه ده چې په فرانسوي مجله د(مسلمانانو نړۍ) کې خپرې شوې او بيا د مصر ستر عالم (الشيخ محب الدين الخطيب) په عربي ژبه چاپ کړی دی، په دې کتاب کې د مسيحي مبليغينو د افغانانو په هکله څه د پاسه سل کاله پخوا ليکلي چې (دهندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

غربي پولو ته څېرمه پراته پښتنانه ډېر سخت خلک دي، هغوئ هېڅکله هم مسيحيت نه مني، مونږ بايد هڅه وکړو چې غربي او مسيحي ادبيات د دوئ په سيمه کې خپاره کړو چې لدې لارې به دوئ په تدريجي ډول له غربي کلتور او افکارو سره بلد شي).
د همدې او دېته ورته توصيو له مخې غربي کليسايي مؤسسو د افغانانو د هجرت په ورځو کې دغې سيمې ته مخه وکړه او د مرستو او صحي خدماتو په پلمه يې په لسګونو زره د انجيل نسخې او د مسيحيت کتابونه په پښتو او فارسي ژبې د مهاجرينو په منځ کې ووېشل.
ما په خپله ولېدل چې د خيبر درې د سړك پر غاړه په يو مسجد کې د انجيل نوې نسخه د قرآن کريم د نسخو د پاسه ايښودل شوې وه چې ښايي پر دغه لاره تېرېدونکيو د خارجي مؤسساتو صليبيانو به ايښې وه. بل ځل مې د پېښور د مهاجرينو د بورډ په بازار کې د سرک پر غاړه له يوه افغاني کتاب خرڅونکي سره د انجيل نسخه ولېده چې د کتابونو په منځ کې يې د خرڅلاو لپاره ايښې وه.
غربي کليسا ګانو د پاکستان په اسلام آباد کې د پاکستان دمسيحي ټولنې په چوکاټ کې د افغانانو لپاره يوه خاصه مسيحي راډيو جوړه کړه چې له دېرشو کلونو راهيسې په پښتو، فارسي او هزاره ګي ژبو د (صداى زنده ګي)،(صداى اميد)او (مسيحي بچې پروګرام) په نامه په ورځ کې څو څو ساعته پرله پسې خالصې مسيحي خپرونې کوي. او دا په داسې حال دي چې په افغانستان کې په ښکاره ډول نصرانيان نشته.
غربي کليسا ګانو د مهاجرينو په منځ او بيا وروسته په کابل کې افغانان مسيحيت ته وروبلل، او هغوئ ته يې د مسيحيت د ښوونې مرکزونه جوړ کړل.
په افغانستان د امريکايانو له مسلط کېدلو سره سم تقريبا څلور زره غربي مؤسسې افغانستان ته راغلې، چې تقريبا نيمايي يې په کليساګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې اړه لري او د امريکايي پلوي نظام تر سيوري لاندې اوس په بېلابېلو نومونو په کابل او نورو ولاياتو کې خپل فعاليتونه ترسره کوي.
د افغانستان په تاريخ کې په لومړي ځل په کابل، مزارشريف، قندهار، کندز، خوست، هرات او ځينې نورو ولاياتو کې د امريکايانو د اشغال په وخت کې د هغوئ په اډو او مراکزو کې کليساګانې جوړې شوې چې اوس خو راغلي يرغلګر ورکې خپل دين پلی کوي، خو د دوئ پلان دا دی چې وروسته به بيا دلته د دوئ د پاتې کېدلو په صورت کې د بيان او عقيدې د ازادۍ د حق پر اساس چې اوسنی اساسي قانون يې هم تأييد کوي د ډيموکراسۍ په سيوري کې مسيحيت ته ور مرتد شوي افغانان هم په ازاده خپل عبادتونه ورکې تر سره کوي چې د زمانی په تېرېدلو او د شرايطو په بدلېدلو به بيا دغه وړوکی مرتد شوی اقليت د مسيحي غرب تر پالنې او حمايې لاندې سياست او پارلمان ته هم لاره پيد اکوي، او کرار کرار به د قوانينو په رامنځته کولو او تصويب کې د خپل پارلماني حق په استعمال کفر ته په افغانستان کې رسمي او قانوني موجوديت وربښي چې د پنجشېري عبدالرحمن په ښکاره نصراني کېدل او د لاس پوځي نظام د رئيس اشرف غني د نصرانۍ ښځې (رولا) په تاريخ کې د لومړنۍ افغانې نصرانۍ په حيث راجستر کېدل د همدې کار يو ډول پيل هم بلل کېدی شي.
د افغانانو ايماني ارزښتونه کله هم له دومره لوی ګواښ سره نه وو مخامخ شوي. امريکايان او غربيان غواړي چې لدې لارې د افغانانو ايمان ولوټي او بيا يې په خپل خدمت کې د مفتو مزدورانو په حيث په کار واچوي چې له يوې خوا به پدې کار محلي مزدوران په لاس ورشي، او له بلې خوا به افغانان د افغانو په لاس کفر ته ور وبولي.

۳ـ پوځي جبهه:

کله چې امريکا او غربي هېوادونو وليدل چې افغانان د رباني او کمونستانو له ايتلاف نه وروسته يو ځل بيا د اسلام تر بيرغ لاندې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي شريعت سره را ټول شول نو يې پر افغانستان د خپل پوځي برید لپاره تیاری پيل کړ، د شمال کمونیستي نیشنلستي ټلواله يې تأیید، تقويه او بيا استعمال کړه، او (بوش) د ټول غرب په یوځای کولو او په شرق کې خپلو ملګرو ته د امر په ورکولو خپله نړيواله صليبي جګړه اعلان کړه. بوش په واز کومي دغه جګړه مقدسه صليبي جګړه و بلله، او په نتيجه کې يې د صليبي لښکرو په زور او د هغوئ تر څنګ د افغاني ملېشه يي ډلو د قومندانانو په استخدام افغانستان اشغال کړ.

بوش پوهېده چې په یوازې سر افغانستان نه تسخیرولی شي او نه يې ساتلی شي، نو ځکه يې د ټولې دنيا کافران په پرله پسې ننواتو له ځان سره ملګري کړل.

امریکا د خپل يرغل په کلونو کې د شمال له ځینې کمونیزم ځپلو سیمو پرته نور د یوه ولایت خلک هم له ځان سره ملګري نه کړای شول،که څه هم چې ډېرې لويې غونډې، لويې جرګې او څو څوځله يې انتخابات په کار واچول خو هېڅ ګټه يې ورته ونه لرله. جهاد نور هم زور واخيست او پر افغانانو د امریکا د جنګي ټکنالوژۍ د غرور جادو هم بې تاثيره شوه، خلک پوه شول چې امریکایان هم وژل کېدای شي، او د دوئ له ډېرو پرمختللو وسايلو نه هم ځان په ډېرو ساده طريقو ساتلی شي.

امریکا به ارومرو دغه جګړه بایلي، ځکه چې روسان له افغانستان سره په پوله پراته ول خو بیا يې هم خپله جګړه اکمال نه کړای شوه، نو امریکابه يې له شل زره کيلو متره ليري هېواده څنګه اکمال کړای شي؟ خو امریکایان به کوښښ وکړي چې تر هغو په افغانستان کې خپل نظامي حضور ته دوام ورکړي چې تر څو دلته یو غرب پلوی نسل تربيه کړي او بیا د خپلې ماتې په صورت کې دا هېواد خپلو دغو روزل شويو غلامانو ته د افغانانو په نامه ور وسپاري.

له همدې امله امریکایانو د افغانستان ټول پخواني پوځي تشکيلات لغوه او پخواني افسران يې له کاره ګوښه کړل، او دا ځکه چې هغوئ یو ځل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ملت او هېود په خلاف د روسانو لپاره د جګړې ترخه تجربه ليدلې وه، او د دې ډېر احتمال وو چې د هغوئ یوه زیاته برخه به بیا دخپل ملت په خلاف د امریکایانو لپاره نه وو جنګېدلي. امریکایانو د هغوئ پر ځای داسې بېسواده، بې فرهنګه، بې احساسه او بې تجربې اوباشان د (ملي اردو) په نامه رامنځته کړل چې یوازې څو هفتې یې له امریکایانو پوځي روزنه تر لاسه کړې، خو د خپل ملت په خلاف د جګړې له ترخو عواقبو ناخبره دي.

دویم عنصر ـ غیرت او همت:

امریکایانو او غربیانو ته د خپلو (استشراقي) معلوماتو په په رڼا کې ور معلومه وه چې ډېر افغانان لا تر اوسه د غرب له لوېدلي او بې غیرته فرهنګه ندي اغېزمن شوي او تر اوسه یې په معنوي ژوند او ټولنیزو ارزښتونو کې غیرت لوړ ځای لري، او ترڅو چې دغه شعور ورکې ژوندی وي د غرب په څېر بې حیا او د ښځو او نرو تر منځ مختلط او بې بندو باره ژوند نه مني، نو ځکه خو یې کوښښ وکړ چې د اسلامي غیرت احساس په خلګو کې له منځه یوسي. امریکایانو په افغاني ټولنه کې د دې دیني او معنوي ارزښت د له منځه وړلو لپاره له لاندې یادو شویو تدابیرو کار واخیست:

د دیني او معنوي ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره غربیانو تدابیر

۱ـ د نشراتي وسائلو پراخه خپراوی:

د دې لپاره چې امریکایان د افغانانو له ذهن څخه د خپل پوځي یرغل تصور وباسي او په تفریحي او ترفیهي مصروفیتونو یې مشغول کړي نو په پراخه پیمانه یې په افغانستان کې نشراتي وسائل خپاره کړل، او د هغو له لارې یې خپل فرهنګ، اجتماعي او اخلاقي ارزښتونه او د غربي ډوله ژوند بڼه افغانانو ته ور تلقین کړه. یرغلګرو د دغو نویو وسائلو له لارې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ کې په زرګونو ساعته راډیو یې او تلویزوني خپرونې پیل کړې او پراخه انټرنټي او مطبوعاتي تبلیغات یې په کار واچول.
یوازې یوې امریکایې مؤسسې(USAID) تر سلو زیاتې نادولتي محلي FM راډیوګانې د افغانستان په ولسوالیوکې فعالی کړې چې هره یوه یې په ورځ کې لږ تر لږه تر لسو ساعتونوپورې د دوئ په ګټه خپرونې کوي. د دې ترڅنګ د امریکا، بي بي سي او ازادۍ راډیوګانو خپلې یونیم او دوه ساعته خپرونې څلېریشت ساعته کړې، او له مرکزي راډیوګانو علاوه په ولایاتو کې په محلي FM سټېشنونو هم خپروي.
ددغو راډیوګانو تر څنګ په ټول افغانستان کې تر اتیاوو زیات تلویزوني او د هغو ترڅنګ په سلګونو کیبلي کانالونه هم د یرغلګرو لپاره خپرونې کوی.
په مطبوعاتي ډګر کې په افغانستان کې تر زرو زیاتې ورځپاڼې، اونیزې، نیم میاشتنۍ او میاشتنۍ خپرونې د سیکولر او په غرب پورې د تړلو جهتونو له لوري د دوی په ګټه خپرونې کوي.
په دغو ټولو خپرونو کې مرکزي ټکی دا دی چې امریکا او غربیان یرغلګر نه دي، هغوئ د افغانانو دنجات لپاره راغلي، او داسې نور.
دغه ټولې خپرونې چې د غرب لخوا تمویلېږي او اداره کېږي کوښښ کوي چې په افغانانو کې پر دین، ناموس او نورو معنوي ارزښتونو د غیرت احساس له منځه یوسي، دښمن ورته د دوست په شکل کې ښکاره کړي، او د غربیانو جنایات افغانانو ته د خدماتو په بڼه کې ور معرفي کړي.
دلته راغلیو یرغلګرو که د افغانانو پر عزت، ناموس او معنوي ارزښتونو هر څومره تېري وکړل د اشغال د وخت نشراتو هغه توجیه کړل، او د هغو په اړه یې د خلکو دکرکې او نفرت د سړولو لپاره د غیرت او حمیت خلاف افکار خلکو ته ور تلقین کړل، تر څو مسلمان افغانان د امریکا په خلاف هم هغسې یوه ملي قیام ته چمتو نشي چې د روسانو او کمونستانو په خلاف د خپل دیني غیرت په نتیجه کې چمتو شوي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د ليکوالانو او مفکرينو خريداري:

په هر ملت کې مفکرين، ليکوالان، شاعران او پوهان د هغه ملت د فکري او معنوي ارزښتونو ساتنه، پالنه او له هغو څخه د فاع کوي. او که چېرې دغه ډول خلک د دښمن په صف کې ودرېږي نو په ډېرې اسانۍ ملتونه ذلت او تسليمېدو ته غاړه ږدي او له جهاد او مبارزي څخه لاس اخلي.

همدغه خلک ول چې د کمونيزم په خلاف د جهاد په وخت کې يې په افغانانو کې ديني غيرت راوپاراوه او هغوئ يې د جهاد ، دفاع، شهادت او مبارزی په مفاهيمو وپوهول، په سنګرونو کې يې کښېنول، او په نتيجه کې ټول ملت دروسانو او کمونستانو په خلاف راپورته شو.

خو دا ځل امريکا او غربيانو کوښښ وکړ چې تر هر څه دمخه دغه ډول خلک يا قتل، تبعيد او تجريد کړي، او يا يې هم يوه لويه برخه په خپلو ډالرو خريداري کړي او په خپل صف کې يې ودروي. ځکه خو اوس په سلګونو هغه مفکرين، ليکوالان او شاعران چې يو وخت يې د جهاد ملاتړ کاوه او په خلکو کې يې د دښمن په خلاف د ديني غيرت ولولې پارولې او پاللې دا ځل د څو ډالرو په بدل کې د يرغلګرو ترڅنګ ولاړ دي او مسلمان ملت ته د ډيموکراسۍاو ليبراليزم کفري نظريات د معاصرو او پرمختللو ارزښتوتو په نامه ور وړاندې کوي، او د جهاد او له وطن څخه د دفاع پرځای ځوانان د تروزرم په خلاف د مبارزې په نامه د مجاهدينو په خلاف جګړې ته هڅوي، او د ير غلګو لخوا په جوړو شويو نظامي تشکيلاتو کې د شموليت تر عنوان لاندې يې د يرغلګرو په صف کې دروي، او پدې ډول د امريکا په خدمت کې د ديني غيرت د وژونکو په حيث خپله ذليلانه وظيفه تر سره کوي.

۳- د لنډغرو او بې غيرته حاکمانو مسلطول:

امريکا په افغانستان کې په پرله پسې ډول له داسې سيکولرو، پردي پالو او غرب پلوو خلکو حکومتونه جوړ کړل چې يوه برخه يې عملا امريکايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او غربي تابعيتونه لري، او يوه برخه نور يې غربيانو ته د ورنږدې کېدلو په مقصد د هر ذلت منلو او د هر جنايت ترسره کولو ته تيار دي.

دغه له امريکايانو او نورو غربيانو سره راغلي افغانان هلته په غرب کې پداسې يوې بې بندوباره او لنډغره ټولنه کې اوسېدلي چې په ټوله معنا له اسلامي او افغاني ارزښتونو څخه پردي شوي دي. دوئ په پخپله او د دوئ ښځې، لوڼې او زامن له لسګونو (ګرل فرينډانو) او (بواى فرينډانو) سره اوسېدلي او د غرب اخلاق او بې معنويته حيواني فرهنګ ورته تمدن ښکاري. دغه خلك په خپلې ټولې توانايۍ هڅه کوي چې په خپل حاکميت کې دلته هم هماغه ډول يو اخلاقي او فرهنګي محيط ايجاد کړي.

په حکومت کې د دوئ د دې ځاى شريکان بيادلته په افغانستان کې د بې غيرتۍ، لنډغرتوب، ټوپکسالارۍ او وحشتونو کرغېړنه مشهوره سابقه لري.

نو اوس که د يرغلګرو په حکومت کې د دوئ ورسره راغلي (مستران) او يا د دوئ د دې ځاى ملېشه يي شريکباڼې د افغانانو پر ديني غيرت، معنوي ارزښتونو او ناموس تېرى کوي نو د دوئ په نزد څه بده خبره نه ده، بلکې دا د دوئ لپاره يو مطلوب کار دى، ځکه چې دوئ د همدغه ډول يوه وضعيت او ماحول د رامنځته کولو لپاره راغلي او توظيف شوي دي.

د دوئ چې خپلې ښځې په ارګ کې د سلګونو امريکايي (کاوبايانو) لخوا (وساتل) شوې نو د نورو خلکو د ناموس دساتلو به څه پرواوکړي؟ او يا به يې د ديني غيرت او معنوي ارزښتونو د ساتلو څه غم وکوي؟

درېيم عنصر ـ عفت او شرف:

افغاني ټولنه د مسلمانانو په منځ کې د عفت او شرف بهترين سمبول ګڼل کېده. په هره ټولنه کې چې حيا عفت او شرف وجود ولري په هغه ټولنه کې ځوانان او پيغلې د عزيمت خاوندان وى، او له دين څخه د دفاع او د هېواد د آزادۍ د ساتلو په لاره کې د قربانۍ لپاره هميشنۍ تيارى لري. د دغه ډول ټولنې ځوانان غواړي پلرونه شي، او نجونې يې غواړي ميندې شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پدې کار سره د یوې پاکې او سالمې ټولنې د تداوم داسې یوه سلسله تضمینوي چې د تل لپاره د یرغلګرو په مقابل کې د غیرتمنو او عزتمنو ځوانانو او مبارزینو شتون حتمي کوي.

په سپېڅلې او باعفته ټولنه کې ځوانان د کامل انسانیت روزنه تر لاسه کوي او له جنسي حیوانیت او بې لاریتوبه نجات مومي. همدغه وجه ده چې ټول اسماني دینونه په عفت او پاک لمنتوب باندې تأکید کوي، له هر ډول اخلاقي بې لاریتوبه یې د ټولنې د ژغورلو لپاره بېلابېل وقایوي او جزائي قوانین رامنځته کړي دي. نه یوازې اسماني ادیان بلکې ډېر د بشر په لاس جوړ شوي مذاهب لکه (زردشتي) (بودایي) (هندویزم) (سک مذهب) د چین د خلکو د(کنفوشیوس) مذهب او داسې نور هم د خپلو ټولنو له تباهۍ څخه د ژغورلو لپاره جزائي قوانین عملي کوي.

خو د غرب تر ډېره حده ماده پرسته او په الحاد ولاړه ټولنه چې له خپل اصلي (یهودیت) او (نصرانیت) څخه هم تېره شوې ده د نړۍ د خلکو د بې لارې کولو، په هڅوئ کې د عزیمت د ختمولو او بیا پرهغوی د غلبې د حاصلولو لپاره یې د (جنس) او (بدلمنتوب) بازارونه په دنیا کې ګرم کړي او خپل ټول نشراتي وسایل یې د اخلاقي فساد د خپرولو په لاره کې په کار اچولي دي چې په دې لړ کې افغانستان هم د دوئ تر مسقیم تأثیر لاندې راغلی دی.

ټول غرب او په سر کې یې امریکا د رو سانو په خلاف د افغانستان د جهاد په کلونو کې ولیدل چې څنګه په لکونو ځوانان پرته له کومې مادي معاوضې د جهاد او قربانۍ ډګر ته راووتل، په لکونو شهیدان شول، د هېواد لویشت لویشت خاوره د هغوی په وینو سره شوه، خو د کمونیزم ټغر یې پدې خاوره کې غوړېدو ته پرې نښود.

همدا ډول په ملیونونو پېغلې د خپل دین او عفت د ساتلو پخاطر د هېواد پرېښودلو او هجرت ته چمتو شوې، خو د الحاد په غېږ کې یې ژوند ونه مانه. هماغه و چې په شلمه میلادي پېړۍ کې نړۍ د جهاد ستره معجزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليدله، او د نړۍ ډېرو ملتونو د دغو باعفته ځوانانو د قربانيو په برکت د ازادۍ ژوند حاصل کړ.
اوس چې امريکا افغانستان اشغال کړی نو امريکايان لدې په وېره کې دي چې ښه ډېر افغان ځوانان به دا ځل د دوئ په خلاف هم د جهاد او قربانۍ ډګر ته راووځي، او د روسانو تجربه به دا ځل پر دوئ تکرار شي، نو ځکه خو يې تر هر څه زيات د ځوانانو په منځ کې د اخلاقي فساد د خپراوي کار په پراخه پيمانه پيل کړ چې په لاندې څو نقطو کې يې ځينې ډولونه او مثالونه يادوو:

د اخلاقي فساد د خپرولو ډولونه او مثالونه

۱ – د مېډيا له لارې د اخلاقي فساد خپرول:

امريکايانو د خپل اشغال په لومړۍ هفته کې هغه تر هر څه د مخه په کابل کې د (کابل ننداري) په تياتر کې پداسې حال کې د بې لارو ښځو يو تياتر وړاندې کړ چې لا د تياتر ځمکه له خاورو او ايرو پاکه شوې هم نه وه. دغه تياتر ته امريکائي پوځيان او افسران په پراخه پيمانه ورغلي وو. دغه ډول د تياتر افتتاح په هغه خاص وخت کې خپل يو اهم پيغام درلود ، او هغه دا چې امريکا به دلته د خپل استقرار په صورت کې همدغه ډول فرهنګ ته رواج وروکوي.
د غربيانو او د هغوئ ددې ځای د ملګرو دغه ډول خپرونې دومره شرمېدلې او بربنډې دي چې د دوئ د ادارې مزدورو او دين پلورونکو تش په نامه ملايانو او روحانيونو ته هم د منلو وړ نه وې، او په پرله پسې ډول يې د کابل ادارې ته دا توصيې کولې چې بېلارې کوونکې او مبتذل نشريات دې بند کړي چې په خلاف به يې خلك را وپارېږي. خو حکومت کله هم پدې ونه توانېده چې دغه ډول خپرونې بندې کړي، او دا ځکه د دغه خپرونو تر شا پخپله امريکا ولاړه ده او کله به هم د کابل ادارې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازه ورنه کړي چې د دوئ د پلانونو د عملي کېدلو په لاره کې دې خنډ شي.

۲- د ښځو د چارو عجیب او غریب وزارت:

غربیان پدې پوهېږي چې د ښځو فساد دټولې ټولنې فساد او اصلاح یې د ټولې ټولنې اصلاح ده، له همدې امله امریکایانو او نورو غربي اشغالګرو هم هڅه وکړه چې دلته په افغانستان کې هم باید په پراخه پیمانه او مستقیما د چا له نګرانی پرته امریکایی مشاورین د افغانانو د (ژوندښې) او (فکر) د غربي کولو لپاره خلاص لاس او پراخ فرصتونه ولري، نو هماغه وو چې تر اشغال سمدستي وروسته یې د ښځو د چارو د وزارت په نامه د اشغال په حکومت کې یو رسمې ارګان جوړ کړ چې د افغانستان په تاریخ کې کله هم پدې نامه کوم وزارت وجود ندی لرلی.

دغه وزارت په منظم او سیستماتیک ډول ښځې د خپل دین، خپلو شرعي مکلفیتونو او د خپلې ټولنې د عنعناتو او اعتقاداتو په ضد راپاروي. وزارتونه خو په اصل کې د هېوادونو د چارو د چلولو او د ستونزو د حل لپاره منځ ته راځي، خو اوس پوښتنه دا ده چې آیا(ښځه توب) هم کومه داسې چاره او یاکومه ستونزه ده چې د یوه مستقل وزارت ضرورت ایجابوي؟ او که هغه هم د (نارینتوب) په څېر یو فطري امر دی چې د انسانیت په عمومي دائره کې راځي چې باید ټول وزارتونه او اداري یې پالنه وکړي؟

که هدف دا وي چې ښځې د هېواد په چارو کې استخدام شي او د دوئ په اند د یوې سیکولر ټولنې د رامنځته کولو لپاره ترې کار واخیستل شي نو دا کار خو دوئ په نورو وزارتونو کې هم کړی دی. او که هدف داوي چې ښځه توب هم یو خاصه چاره ده چې د امریکایی مشاورینو تر نظارت لاندې د وزارت ضرورت لري نو بیا خو ځینې افغانان ملامت ندي چې دغه وزارت ته (وزارت امور زنان) پر ځای (وزارت امور زنا) وایي. ځکه چې همدغه وزارت دی چې په زرګونو غربي مؤسسو ته ځوانې ښځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمانانې، سکرترانې او کار کوونکې برابروي. او همدغه وزارت دی چې امريکايي او غربي پوځيانو او چارواکو ته افغاني ترجمانانې او دايساف په دفترونو کې کار کووونکې برابروي چې د نه اورېدلو کيسې يې هره ورځ د کابل دخلکو په منځ کې خپرېږي. يو ځل خو لا همدغه وزارت اعلان وکړ چې د (تياتر) لپاره د نجونو د روزنې ضرورت هم پوره کوي.

حقيقت دا دی چې د ښځو د چارو وزارت هغه د (رنګينو لومو دام) دی چې غربيانو په افغانستان کې د افغانو ښځو د ښکار کولو او په هغوئ کې د غربي ډوله فرهنګ د رائجولو په مقصد جوړ کړی دی، او په هغه کې يې ځو داسې له اسلامي او افغاني فرهنګه پردۍ شوې غرب پلوې ښځې توظيف کړې دي چې د هغوئ په وسيله په افغانستان کې د ښځو د فاسدولو لپاره د غرب پروګرامونه او پلانونه تطبيق کړي. له همدې امله خو دغه وزارت خپل کارونه هم په ښارونو او د غرب د (فکري تأثير قبلونې) په ساحو کې متمرکز کړي دي او اطرافي سيمو ته يې هېڅ پام ندی کړی، او دا ځکه چې هلته د غرب (فکري تأثير ګذاري) ډېره ممکنه نده.

۳- د هېواد په ښارونو کې د شرابخانو او فحشاوو د اډو جوړول:

په افغانستان کې د امريکايي اشغال له ټينګېدو سره سم يوازې دکابل په ښار کې د (ګېسټ هاوسونو) په نامه او په نورو بېلابېلو نومونو د خارجيانو او داخليانو تر سر پرستۍ لاندې په لسګونو (بارونه) او د فحشاء مراکز پرانستل شول، او په ازادانه ډول يې کار او فعاليت کاوه. جنسي بې لاريتوب کابل داسې په خپلې غېږ کې اخيستی وو چې که جهاد زور نه وای اخيستی نو نږدې وو چې د اشغال په لومړيو کلونو کې کابل هم د تايلند د (بنکاك) په څېر د جنس د بزنس مرکز وګرځي.

په ۲۰۰۴م کال کې د کرزي د شرمېدلې ادارې د عامې روغتيا د وزارت د يوه چارواکي په استناد د ازادۍ راډيو وويل چې يوازې د کابل په ښار کې (۶۰۰۰) شپيته زره ښځې او ماشومان په بدلمنۍ اخته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه بل انکشاف کې په همدې کال کې په کابل کې د رابعه بلخي د ښځینه روغتون یوې کار کوونکې په ښکاره مېډیا ته وویل چې په دغه روغتون کې د ناواده شویو نجونو د (اسقاط حمل) پېښې سلګونو ته رسیدلې دي. او هغه ناواده شوې نجونې چې ژوندي اطفال زېږوي د هغوئ بچیان د روغتون لخوا هغو خلکو ته ورکول کېږي چې اولادونه نه لري.
که د امریکا په خلاف جهادي مقاومت ډېر ژر په هېواد کې خپور شوی نه وای او حالات هماغسې روان وای نو په افغانستان کې به هم د امریکا په څېر د ښاروالیو لخوا د بې پلاره (حرامیانو) د پاللو کلتور هم دود شوی وای.
دغه ډول پیغلې ټولې هغه نجونې وې چې یا یې په غربې مؤسسو کې کار کاوه، او یا هغه بې بندوباره نجونې وې چې په مکتبونو، پوهنتونونو او دولتې ادارو کې یې له ځوانانو سره جنسي ازادانه اړیکي درلودې، ځکه چې د کورونو د نجونو په هلکه په افغاني ټولنه کې دغه ډول تصور هم نشي کېدای.
غرب او امریکا غواړي د دغه ډول اخلاقي فساد په خپرولو افغاني نجونې او ځوانان د انحلال او فساد خواته ورټېل وهي، تر څو د دوئ په مقابل کې د جهادي مقاومت زور وانخلي. خو د دې فساد په مقابل کې چې د هېواد هغه باضمیره او مسلمانان ځوانان چې د هېواد په پوهنتونونو او تعلیمي ادارو کې د دغه ډول فساد په خلاف خپله کرکه او انزجار ښکاره کوي او غواړي خپله ټولنه د غرب د بېلارې فرهنګ په تېزابو کې له ویلې کېدو وژغوري هغوئ د حکومت لخوا د القاعده، تروریستو او بنسټ پالو په نومونو نومول کېږي، په ډول ډول نورو تورونو تورن کېږي، بندیان کېږي، تهدیدېږي او یا د پوهنتونو پرېښودولو ته اړ ویستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم عنصر ـ د جهاد او سرښندنې فطري استعداد:

د افغاني هويت څلورم عنصر په افغانانو کې د جهاد او سرښندنې فطري استعداد او د يرغلګرو په خلاف د افغانستان د جغرافيې طبيعي موقعيت او جوړښت دی.

افغانان په فطری ډول د جهاد لپاره جوړ دي. او دا ځکه چې په جهاد کې دوه عنصره ډېر مهم وي چې يو يې (ټينګه عقيده) او بل يې (پر مشکلاتو صبر او د ستونزو په سره سينه ګالل دي). دغه دواړه عنصرونه د افغانانو د طبيعي ژوند بنسټونه تشکيلوي. د دې دواړو ترڅنګ بل شی دوسلې د استعمال دی چې اتيا فيصده افغان يې ښه په اسانۍ چلولی شي. د روسانو په مقابل کې زمونږ تر پنځو ميليونو زياتو خلکو پرمختللي جنګي تکتيکونه زده کړل، او د چريکي جنګ تر ټولو غوره تجربه يې حاصله کړې ده.

په جهاد او ازدۍ غوښتنه کې زمونږ ملت د استاذۍ هغې لوړې درجې ته رسېدلی چې د نړۍ د هر ځای مستضعفو مسلمانانو له دوئ څخه د زده کړې لپاره ديخوا ته مخه وکړه، لدې ځايه يې روحيه او تجربه واخيسته او بيا يې ببرته په خپلو هېوادونو کې د جهاد سنګرونه تاوده کړل، او له هغو خاورو يې هم د يرغلګرو د شړلو پلانونه طرح او عملی کړل، او پر مسلمانو د ورتپل شويو رژيمونو ستنې يې ور ولړزولې.

دغه ټول هغه عوامل دي چې زمونږ له ولس څخه يې يو مجاهد او باعزيمته ولس جوړ کړی دی.

امريکايان او نور غربيان په افغانانو کې د دغو عواملو د شتون پر اهميت پوهېږي، نو ځکه خو يې د جهاد، مجاهدينو او جهادی فرهنګ په خلاف نه ستړې کېدونکي تبليغات پيل کړي دي، او د مظلومو خلکو د آزادۍ سپيڅلې جګړې ته هم ترويزم وايي، او غواړي پدې ډول خلک له جهاده منصرف کړي، او د غلامۍ په بېلابېلو رنګينو ځنځيرونو يې وتړې، ترڅو د تل لپاره د افغانانو د اسلامي هويت دغه عنصر ته هم د پای ټکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږدي. خو د روسانو او د امریکایانو په خلاف د افغانانو جهاد او له دین سره پر قوي تړاو ټینګار دا وښودله چې غربیان به هېڅکله هم پدې کې بریالي نشي چې مسلمان افغانان به له یوې مخې په فکري او فرهنګې لحاظ تسخیر کړي. بلکې دغه پردي فکري او پوځي یرغلونه به د دوئ ذهنونو کې اسلامي مفاهیم نور هم پاخه کړي، او په ژوند کې به د هغو د عملي کولو لپاره د دوئ عزم نور هم ورکلك کړي، او د تل لپاره به د یرغلګرو په مقابل کې خپل مقدس جهاد ته ادامه ورکوي، که څه هم چې ځینې رهبران به یې لکه امیر دوست محمدخان او د ځینې پخوانیو جهادي تنظیمونو اوسني مشران تر بري وروسته دښمن ته ورتسلیم هم شي.

پنځم عنصر ـ د غرب له لوېدلي او مبتذل فرهنګ او تمدن څخه د افغانانو لرې والی:

غربي هېوادونو په شملې پېړۍ کې د خپل عسکري استعمار په نتیجه کې ډېر اسلامي هېوادونه ایل او بیا سره بیل کړل، او هم یې هغوئ له خپل اصیل اسلامي فرهنګ څخه بې برخې کړل. خو افغانان د الله تعالی په فضل او بیا وروسته په خپلې میړانې او له یرغلګرو سره د جګړو په برکت له دغې وبا تر ډېره حده لیرې پاتې ول، که څه هم چې د شاه امان الله، ظاهرشاه او د داود مفسدو رژیمونو پر افغانانو د غربي فرهنګ د ورتپلو په لاره کې ډېرې هڅې کړې وې.

د غرب له مادي او الحادی تمدن څخه د لیرې والي تر ټولو لویه فایده دا ولیدل شوه چې په ډېره لږه موده کې ټول ملت د روسانو په مقابل کې د جهاد په صف کې ودرید ، او دروسانو مادیاتو ته ورتسلیم نه شو.

امریکا هم له همدغه ډول یوې نتیجې په وېره کې ده، نو ځکه خو غواړي چې د (ډرګ) او (سیکس) د فرهنګ په خپرولو زمونږ ټولنه او ځوانان هم د (بې غیرتۍ) او (ځان بایلودنې) په طاعون اخته کړي، او له همدې امله یې د ملیونونو ډالرو په سرمایه بېلابېلې فکري او فرهنګي پروژې په کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

اچولې دي، او په هغو کې يې ښه ډېر مزودر او وطن پلورونکي افغانان په کار ګومارلي دي چې په افغانانو کې د غرب فکر، فرهنګ او نظريات خپاره کړي. دغه خلك تر پرديو ډېر خطرناک دي ځکه چې دوئ پردي نظريات په ډېر منافقانه ډول په افغاني نومونو او اصطلاحاتو افغانانو ته وروړاندې کوي، او راتلونکي نسلونه مو په غرب پورې تړي. خو دا چې اسلامي معتقدات او اسلامي هويت زموږ په ژوندانه کې تر هر څه زيات حاکميت لري نو هېڅکله به امريکا او نور يرغلګر زموږ ولس له خپل اسلامي افغاني هويت څخه محروم نه کړای شي، البته د دغه هويت په ساتنه او پالنه کې تر بل هر چا د قلم د خاوندانو رول زيات دی چې په تر سره کولو يې بايد خپل ملي او اسلامي مسؤوليت په غاړه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې يوه بله جګړه هم روانه ده

امريکا په افغانستان کې د خپلې پوځي جګړې تر څنګ يوه بله خطرناکه جګړه هم روانه کړې ده، او هغه د اسلامي فکر او د افغان ولس د ټولنيز جوړښت د له منځه وړلو لپاره فکري جګړه ده.
ريښتنی اسلامي فکر او د افغانانو دين محوره ټولنيز جوړښت په افغانستان کې د امريکا د پلانونو د پلي کېدلو په لاره کې دوه هغه مهم خنډونه دي چې په هېڅ صورت د امريکا لپاره د منلو نه دي.
ريښتني اسلامي فکر ځکه ورته د منلو ندی چې هغه په هېڅ صورت له غرب څخه له راصادرو شوو افکارو او عقايدو سره پيوند نه اخلي. ځکه چې اسلام نه له کمونيزم سره پيوند اخلي، او نه هم د پانګه وال نظام له فکري مباديو لکه ديموکراسي، سيکولريزم، ليبراليزم، هيومنزم، ګلوبلايزيشن او ماديت ځپلي مسيحيت سره د پخلاينې او Peacefull co existence (سوله ييز ګډ موجويت) روحيه لري. بلکې اسلامي فکر په خپل ټول توان د پرديو را واردو شويو نظرياتو په مقابل کې جنګېږي، او پدې لاره کې ستومانی او غفلت نه مني.
کيدای شي ځيني خلک و وايې چې ځينې اسلامي تنظيمونه، احزاب او حتی دولتونه له غربي نظرياتو سره يوځای ګوزاره کوي او د نړۍ له کفري نظامونو سره متبادل مصالح لري، چې پدې ډول يې هم د جګړې او ټکر مخه نيولې او هم د مادي پرمختګ پر لاره روان شوي دي.
د دې شبهې يواځينی او حقيقي ځواب دا دی چې دغه ډول احزاب، دولتونه او ټولنې هېڅکله هم په ريښتينې او حقيقي معنی اسلامي ندي، بلکې هغوئ يوازې د (اسلامي) کلمه د دې لپاره په ځان پورې لګولې ده چې هم د اسلامي ټولنې له امتيازاتو څخه برخمن پاتې شي او هم د غرب

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ارزښتونه خپل کړي چې يوازې د (خوند) او (ګټې) پر بنسټونو ولاړ دي.
دغه ډول احزاب او دولتونه يوازې اسلام ته منسوب دي، خو د اسلام سياسي نظام، د (ولاء او براء) اسلامي عقيدې او د ژوند په ټولو چارو کې د اسلامي شريعت تطبيق ته التزام او تعهد نه لري. که چېرې دغه احزاب او نظامونه په ربښتيا (مسلمان) وي نو بايد په هر څه کې (اسلامي عقيده) او (اسلامي شريعت) خپل نصب العين وګرځوي، او د دنيا له کفري دولتونو او نظامونو سره په يو ډول اصولو او قوانينو ونه چلېږي.
او د افغاني ټولنې اسلامي اجتماعي ترکيب ځکه امريکا ته دمنلو ندی چې دلته لاتر اوسه د افغانانو ټولنيز ژوند پر قبيلوي بنسټونو ولاړ دی او کورنۍ د افرادو روابط تنظيموي. دلته لاتر اوسه ټولنه دومره پاشل شوې نه ده چې افراد يې هر هغه څه وکړي چې غواړي يې. د افغانانو پر ټولنه لا تر اوسه دين حکمراني کوي، او عالمان او مشران په ټولنيزو چارو کې د تصميم او فيصلې مراجع ګڼل کېږي.
په افغاني ټولنه کې لاتر اوسه دومره بې بندوباري نشته چې لويدلي، سپک او د ټولنې له دين او عرفونو وتلي او پردي شوي خلک دې د ټولنې قيادت ته ورسېږي.
غرب غواړي چې د افغانانو دغه ټولنيز جوړښت چې دوئ يې د تل لپاره په نورو ملتونو کې له منحل کېدلو ژغورلي او د هر وخت لپاره يې د يرغلګرو د مقابلې لپاره يو موټی او په سنګر کې ساتلي دي له منځه يوسي، او دلته هم داسې يو وضعيت حاکم کړي چې هېڅوک دې پر بل چا کار نه لري، بلکې پردې دې ږدي چې افراد هر څه کول او هر ډول اوسېدل غواړي هماغسې وکړي.
که چېرې غربيان وکولی چې شي د افغانانو دغه ټولنيز جوړښت مات کړي نو په هغه صورت کې به بيا غرب ته آسانه وي چې زمونږ د ټولنې ټول ديني، اخلاقي او اجتماعي ارزښتونه او جوړښتونه تبديل کړي، او افراد

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په خپل ځان پسې د غرب پر لاره روان کړي. په هغه وخت کې به بيا ځوانان د يرغلګرو مقابله نه کوي، بلکې يرغل ته به يې لاره هواروي، او د يرغلګرو په صف کې به دريږي. په هغه وخت کې به بيا دين، جهاد، هجرت، مقاومت، آزادي، خپلواکې او د خپلو تاريخي او ټولنيزو ارزښتونو ساتل او پالل خلکو ته له موده لويدلي او بې ارزښته خبرې ښکاري، او د بېرته پاتې والي نښې به يې ګڼي، لکه همدا ا وس چې يې ځينې غرب پلوي ليکوالان او سيکولر عناصر خلکو ته ور تلقينوي.

همدې هدف ته د رسيدلو په مقصد امريکا په افغانستان کې د خپلې ښکاره او پوځي جګړې ترڅنګ يو بله پټه او خاموشه جګړه هم روانه کړې ده چې په لاندې ډګرونو کې په شدت سره جريان لري:

د خاموشې جګړې ډګرونه

۱ــ د حاکميت ډګر:

د حاکميت ډګر چې د ولسونو په ژوند کې د هغوئ د ټولو چارو د تنظيم لپاره تر ټولو مهم ډګر دی تر هر څه مخکې د يرغلګرو هدف ګرځي. امريکا هم پر افغانستان تر خپل يرغل سمدستي وروسته د حاکميت ډګر په ټوله معنی اشغال کړ، او تر اشغال وروسته يې لاندې دوه ډوله خلک پدې ډګر کې پر افغانانو ورمسلط کړل:

د حاکميت په ډګر کې د امريکايانو دوه ډوله ملګري:

لومړی ډول:لومړی ډول خلك هغه سيکولر او غرب پلوي عناصر دي چې په تمامه معنی له خپل دين، خپل ملت، خپلو ارزښتونو او خپل افغاني فرهنګ څخه پردي شوي دي، يوازې د ډالرو راټولول او دخوندونو حاصلول يې د ژوند اساسي مقصد دي.

دغه غرب پلوي او سيکولر عناصر په قدرت کې د پاتې کيدلو او د امريکايانو د اشغال د تداوم لپاره د خپل ولس په حق کې د هر ډول جنايت تر سره کولو ته حاضر دي. او له همدې امله خو په افغانستان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريکايانو د اوږدې مودې لپاره د پاتې کېدلو تړونو نه هم امضاکوي، او د هغه دمشروعيت لپاره وهمي او له ځانه جوړ کړي دلائل هم تراشي.

دوهم ډول: دوهم ډول يې هغه جنګي جنايت کاران، غله، لوټماران، د ولسونو جنګوونکې نشنلستان او ملي خائنين دي چې قدرت ته د رسېدلو لپاره د هجرت او جهاد له اهدافو انحراف ته، او هم له روسانو، کمونستانو، اروپايانو او په پای کې له امريکايانو سره ايتلاف ته حاضر شول.

دغه ډله خلک د امريکايې اشغال په چوکاټ کې په قدرت کې د شريک پاتې کېدلو په مقصد د امريکايانو لپاره (ملېشه توب) ته هم تيار شول، او خپل اتباع يې د امريکا په لاس په جوړ شوي پوځ، پوليسو، استخباراتو، ملېشو او اربکيانو کې تنظيم کړل. او هم د اشغالګرو په ګټه د خپل ملت په خلاف جګړې ته تيار شول.

امريکا نه يوازې دغه ډول خلک دحاکميت په ډګر کې پر افغانستان مسلط کړل، بلکې د حاکميت نظام او قوانين يې هم داسې جوړ کړل چې يوازې همدغه ډول خلک ورته لاره پيداکړي.

دغه ډول حاکميت ولس د نظام، او نظام د ولس په خلاف د جګړې په صف کې ودرول. له دغې لوبې د امريکا هدف دا وو چې د نظام چلوونکو ته ووايې چې تاسې هېڅکله زموږ له پوځي موجوديت پرته دلته حکومت نشئ کولی، نو که غواړئ چې په قدرت کې پاتې شئ بايد زموږ پوځي موجوديت ته مشروعيت ورکړئ.

د دغه ډول حاکميت په شتون کې امريکا په سيمه کې افغانستان د خپلو استراتيژيکو اهدافو د تحقق لپاره د خبز د تختې په حيث کارول غواړي، او دا يوازې په هغه صورت کې ممکن دي چې امريکا دلته د يو رېښتني اسلامي حکومت د قائميدلو مخه ونيسي.

امريکا د افغانستان تر نيولو وروسته پدې هېواد کې د حاکميت لپاره د (ډيموکراسۍ) تګلاره رواج کړه، او دا هغه تګلاره ده چې انسانان ورکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تدين، عقل، صلاحيت او صالحيت پر اساس نه تلل کېږي، بلکې يوازې د حيواناتو په څېر شميرل کېږي، او فيصله ورکې د حق پر معيار نه بلکې د شمېرې د ډېروالي پر اساس کېږي.

د حاکميت په ډګر کې غرب د ديموکراسۍ تګلاره او نصاب د افغانانو لپاره دومره ډېر وستايه او تبليغات يې ورته وکړل لکه همدغه چې يواځينۍ د حاکميت کامیابه تګلاره وي. حقيقت دا دی چې ډيموکراسي يوازې د هغو ولسونو لپاره د حاکميت يوه تګلاره کېدلی شي چې يا خو دين نه لري، او يا هم نه غواړي چې د خپل ژوند چارې د خپل دين مطابق تر سره کړي.

خو مسلمانان چې دين يې ورته د ژوند د ټولو چارو د سمبالولو لپاره نظام، تګلاره او قوانين لري، هېڅکله نه ديموکراسۍ ته ضرورت لري، او نه يې تطبيقولی شي. او که يې خامخا تطبيقول غواړي نو دا بيا يوازې په هغه صورت کې ممکن دي چې – نعوذبالله – دين ورته پرېږدي او ديموکراسي خپله کړي.

اسلام او ديموکراسي دواړه په هېڅ صورت کې نه سره يوځای کېږي، ځکه چې اسلام له مسلمانانو دا غواړي چې ژوند دې هغسې وکړي چې الله جل جلاله يې غواړي. خو ډيموکراسي بيا وايي چې انسانان الهي احکامو او لارښوونو ته ضرورت نه لري، بلکې د خپل ژوند د چارو د تنظيم لپاره په خپله د هر ډول قوانينو د جوړولو حق لری، او هېڅوک يو بل څوک د ژوند په يوې خاصې طريقي او يا يوې خاصې عقيدې ته په التزام نشي مجبورولی. په ډيموکراسۍ کې دا د انسان خپله خوښه ده چې کوم دين مني، او که له سره هېڅ دين او شريعت نه مني.

امريکايان او نور غربيان نن ورځ په افغانستان کې تربل هر څه د ډيموکراسۍ د خپرولو او نافذولو لپاره ډېر کار کوي، او دا ځکه چې ډيموکراسي له دين څخه د مسلمانانو د ويستلو يوه (موډرنه) (نرمه) او

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پرکششه) لاره ده. او یوازې له همدې لارې ممکن دي چې د شریعت د تطبیق او د اسلامي نظام د نافذیدلو مخه دې ونیول شي.

د دې ترڅنګ چې امریکایان د سیاست او تقنین په ډګرونو کې د ډیموکراسي شعارونه پورته کوي په عمل کې یې هم د افغانستان اداره داسې مفسدو خائنو، رشوت خورو او بې رحمه خلکو ته ورسپارلې چې په افغانستان کې یې د فساد، اختلاس او رشوت اخیستلو نړیوال ریکارډ جوړ کړ.

د حاکمیت په ډګر کې امریکا د دې لپاره دغه ټول جنایات تر سره کړل تر څو افغانان په مستقیمه توګه د خپل سیاسي، اجتماعي او اقتصادي ژوند د تنظیم لپاره یوه قوي او پر اسلامي اصولو ولاړه اداره ونه لري. ځکه چې که دلته یوه قوي مستقله او اسلامي اداره منځته راشي، په هغه صورت کې به بیا نه دلته په زرګونو غربي مؤسسې په آزاد ډول کار کولی شي، او نه به هم دلته د امریکا لنډمهاله او اوږدمهاله اجنداوې عملي کېدلی شي.

۲ـ د دین او فکر ډګر:

امریکا پر افغانستان له خپل یرغل وروسته خپله توجه تر هر څه زیاته د دیني او فکري ډګرنو تسخیرولو ته واړوله، او پدې کار کې یې داسې تدابیر او اقدامات په کار واچول چې په لنډه موده کې یې د عامو افغانانو دیني او فکري ژوند ته تر ډېره حده تغییر ورکړ. پدې اړه یې ځینې تر سره شوي اقدامات یې په لاندې ډول یادولی شو:

د دین او فکر په ډګر کې د اشغالګرو امریکایانو اقدامات

۱ – په عملي لحاظ د دولت په عدلي او قضایي ارګانونو کې د شریعت د تطبیق مخنیوی:

امریکا د افغانستان لپاره داسې یو اساسي قانون جوړ کړ چې د اسلامي شریعت د تطبیق پر مخنیوي تأکید کوي، او هغه داسې چې اوسنی اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون د (ډیموکراسۍ تحقق) او د (بشر د حقوقو ملاتړ) د دولت مکلفیت ګڼي. او دا ښکاره خبره ده چې ډیموکراسي او د بشر د حقوقو اعلامیه دواړه غربي نظریات دي، او اسلامي شریعت ته ورکې هېڅ ځای نشته.
همدارنګه د اوسني اساسي قانون په اومه ماده کې راغلي: **(دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بین الدول معاهدو، د نړیوالو میثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامي رعایت کوي)**. او دا هم ښکاره خبره ده چې یاد شوي تړونونه، معاهدې او میثاقونه ټول د اسلام لیري د غربیانو د سیاسي او اجتماعي مصالحو د تحقق لپاره جوړ شوي دي.
که څه هم چې په اوسنې قانون کې د خلکو د تېرایستلو په مقصد دا لیکل شوي چې د افغانستان دین اسلام دی، او د شریعت په خلاف به قوانین نه جوړیږي، خو دا خبره خپله همدغه قانون په لسګونو ځایه نقض کړې ده، او د اسلام مخالف احکام یې صادر کړي چې ځینې مثالونه یې همدا پورتني یادشوي مثالونه دي.
دا چې اوسنی اساسي قانون اساساً د(ډیموکراسۍ د تحقق) او (د بشر د حقوقو) د تطبیق لپاره جوړ شوی دی، نو ځکه خو د دې قانون له نافذېدلو وروسته په ټول افغانستان کې په هېڅ ځای کې د شریعت یو(حد) هم تطبیق نه شو. نه چېرې قاتل په هغه ډول قصاص شو چې شریعت یې حکم کړی، نه چېرې زاني رجم شو، نه د غله لاس پرې شو، نه شرابي په دورو ووهل شو، نه د فحشاء مخنیوی وشو، او نه هم د ارتداد مخه ونیول شوه. بلکې ددې ټولو د خپرېدو لپاره نوره هم زمینه برابره شوه، او دولت یې ترشا ودرید.

۲ – **د اسلام یو لیبرال او غربي تعبیر رامنځته کول**:

امریکایانو له خپل یرغل وروسته د ټولو هغو علماؤ، دیني مدارسو او تعلیمي نصابونو مخه ونیوله چې اسلام یې د غربي فکر له تاثیراتو لیري او د دې امت د سلفو رحمهم الله تعالی د فهم مطابق تعبیراوه. او د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه پر ځای يې د داسې خلکو او داسې عالم ډوله کرايې اشخاصو رامنځته کېدلو ته زمينه برابره کړه چې په خپلو هڅو او نصابونو يې د (منځلاريتوب) ترعنوان لاندې د اسلام داسې تعبير وړاندې کړ چې د غربي نظرياتو لکه (ډيموکراسۍ)،(ليبراليزم)، ريشنلزم (د وحيې په مقابل کې عقلانيت) او سيکولريزم موافق دی. دغه جهتونه هڅه کوي چې غربي مفاهيم او نظريات خلکوته د اسلام په نامه ور معرفي کړي، او د اسلام حقيقي تعبير او تفسير د (بنسټپالنې) په نامه رد کړي.

۳ – په ټولنه کې د تزکيې او احسان له منځه وړل،او پرځای يې د (منحرف روحانيت) او (بې لارې پيرانو) لپاره د نفوذ زمينه برابرول:

تزکيه او احسان د اسلامي روحانيت اصلي نوم، د پيغمبر صلّی الله عليه وسلّم اساسي وظيفه او د مسلمانانو معنوي مکلفيت دی. د تزکيې او احسان لپاره هم اسلام داسې روښانه تګلاره لري لکه څنګه يې چې د عباداتو او معاملاتو لپاره لري. او مقصد يې دا دي چې په ټولنه کې پاکي، عفت، نيک اخلاق، له الله تعالی څخه وېره، له حرامو څخه ځان ساتل او له بې ځايه هوسونو څخه بې رغبتي رامنځته شي.

خو امريکا زموږ په ټولنه کې د دې هر څه دښمنه ده، له همدې امله خو يې د نوي نسل د بې لارې کولو په مقصد په زرګونو وسيلې په کار اچولې دي، او رينښتني مصلحين، علماء، مربيان او مسلمان دعوتګر يې له صحنې وېستلي، او له بېلابېلو بنديزونو سره يې مخ کړي دي.

خو بالمقابل يې بې دينه (سيکولرو پيرانو)، (ډالري حضرتانو)، منحرفو او دجالي روحانيانو، درباري ملايانو،سيکولر ديموکرات مجاهدينو!!؟ او د بې لارې عقايدو دعوتګرانو ته د فعاليت پراخه زمينه برابره کړې ده. همدغه د معنويت درواغجن دعوه داران د جهاد او مجاهدينو په خلاف ولاړ دي، او د دښمن له لوري د حقيقي اسلام په خلاف استعمالېږي. او د همدوئ په وسيله د امريکا اشغال او او د اشغال تر سيوري لاندې د کفارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لخوا د جوړ شوي نظام وجود ته مشروعیت ورکول کېږي. همدوئ د امریکا د فکري جګړې کرایې (روحاني اربکیان) دي چې له یرغلګرو سره د ملت په فکري تسخیر کې مرسته کوي.

۴ – ځوانان له اولویاتو څخه په فېشن، لوبو او د پردیو په تقلید مصروفول:

ځوانان چې د ملتونو رښتیني ځواک او د مستقبل چارواکې دي باید په فکري او فرهنګي لحاظ په اولویاتو او تعمیري نظریاتو مصروف شي. په هغوئ کې باید د قربانۍ، میړانې، له دین، هېواد او ملت څخه د دفاع احساس پیدا کړای شي، او د پردیو په مقابل کې باید په هغوئ کې حساسیت وپالل شي .

خو امریکا په اشغال شوي افغانستان کې د دغه ځواک د له منځه وړلو په مقصد هم بېلابېل تدابیر او اقدامات په کار واچول. او د دې لپاره چې ځوانان په مهمو اسلامي او ملي مسائلو کې مصروف نشي هغوئ یې په (کرکټ) او نورو بېلابېلو لوبو د افراط تر حده مصروف کړل، او د هغوئ د ذهنې مصروفولو لپاره یې تلویزوني کانالونه،(ایف ایم راډیوګانې)، هندې، ترکي او امریکایې سریالونه، د ادبیاتو او هنر په نامه د (بې ادبۍ) او(بې هنرۍ) بنډارونه، د پېغلو او ځوانانو ترمنځ د معاشقې او یارانې لارې چارې او نور مصرفیتونه ایجاد کړل. او پدې ډول یې د ښارونو او کلیو ځوانان او پېغلې د جدیت او عمل پر ځای په موډ ، فیشن، لوبو او د پردیو په تقلید مصروف کړل.

۳ــ د ټولنیز ډګر متشنجول:

امریکایانو په ټولنیز ډګر کې هم خپله فسادي اجنډا په لاندې ډول تطبیق کړه :

۱ –له خپل راتګ سره سم یې په شمال کې ځینې مفسدې او نشنلستې ډلې دیته وهڅولې چې په هغې سیمه کې پر پښتنو قومونو ور وبلوسي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسې وهم شول. پښتانه قومونه د سيمې پرېښودلو ته اړشول، زمکې يې ونيول شوې، او په عزتونو يې تېري وشول، چې د کرزي د ادارې د حقيقت موندنې د وزيرانو ډلې هم چې د کرزي د سلاکار وزير (عارف نورزي) په مشرۍ ورلېږل شوې وه دا هرڅه تأييد کړل. دې کار په ټولنه کې حسادتونه راوپارول، او د افغانې ټولنې د قومونو تر منځ د يو والي کوشيرونه يې مات کړل.

۲–امريکايانو ځينې اقليتونه لکه شيعه ګان او اسماعيليان تر خپلو وزرو لاندې ونيول او د اکثريت په خلاف يې استعمال کړل. د امريکايانو د دې احسان منته واک ته رسېدلي اقليت پدې ډول وکړه چې په قطعي ډول يې نه يخپله د اشغال په خلاف په فرض جهاد کې برخه واخيسته، او نه يې هم نور خلک په خپلو سيمو کې مقاومت ته پرېښودل.

۳– افغاني ټولنه چې يوه (مرکز پاله) او متحده ټولنه وه د امريکايانو په لمسون او شيطاني پاليسيو په يوه وېشلې ټولنه بدله شوه.

۴ –امريکايانو په ټول توان او ډېرو مالي مصاريفو هڅه وکړه چې افغاني ديني ټولنه په ښارونو کې په يوې (لبرالې) او سيکولر (مدني ټولنې) بدله کړي، او پدې ډول مرکزې اداره کمزورې او د غربې مؤسساتو په لاس د جوړې شوې (مدنې ټولنې) تر فشار لاندې وساتي، او هر وخت لدې لارې خپل پروګرامونه ورباندې عملي کړي.

دغه ياد شوي او نور ډېر اقدامات دي چې د امريکا د پوځي جګړې تر څنګ د هغې د فکري جګړې وسائل تشکيلوي، او لدې لارې امريکا غواړي د خپلي پوځي ماتې په صورت کې زمونږ ملت د فکري جګړې له لارې مغلوب کړي، چې لدې مغلوبيت څخه راوتل بيا ناممکن کار دی، او دا ځکه چې هغه ولسونه چې غرب په فکري لحاظ مغلوب کړي دي بيا هېڅکله هم دغربيانو له غلامۍ وتلي ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديموكراسي څه شی ده؟

د ډیموکراسۍ د پېژندلو اهمیت:

د ډيموكراسۍ په اړه د اسلام حكم او موقف واضح كول ځكه ډېر مهم دي چي دې شيطاني پديدې ټوله دنيا په مخه كړې ده، او هر هغه څوك چي دغه پديده نه مني او ايمان وربانديې نه لري ټوله دنيا ورپسي راپورته كېږي، او په خلاف يې د فكري او پوځي جګړې هر ډول وسائل او اسباب په كار اچول كېږي.

ډيموكراسي يوازې يوه سياسي نظريه او د حكومت كولو يو شكل ندی، بلكې هغه هم دين او مذهب دی، او هم اخلاق موډ او فېشن. هم دولت سياست او فوځ دی، او هم اقتصاد. هم فلسفه ده او هم د ژوند لپاره يوه اجتماعي شيطاني تګلاره.

د ديموكراسۍ په اړه ما په خپل بل كتاب (فكري پوهنه) كې په تفصيل سره په تقريبا ٩٠ صفحو كې بحث كړی، خو د دې لپاره چي دغه شيطاني دين په مختصر ډول يو څه پدې كتاب كې هم معرفي شوی وي په اړه يې لاندې مفاهيم يې له لوستونكو سره شريكووم:

ډيموكراسي كله او په كوم ځاي كې را پيدا شوه؟

د پيداكېدو عوامل او اسباب يې څه وو؟

د اسلام په اړه د ديموكراسۍ موقف څه دی؟

او آيا د اسلامي ډيموكراسۍ په نامه هم څه شته؟ پدې معنی چي آيا ډيموكراسي اسلامي كېدای او اسلام ديموكرات كېدای شي؟

دا هغه څو مشخصې پوښتنې دي چي غواړو پدې بحث كې له عواطفو او احساساتو ليرې د دلائلو په رڼا كې وربانديي څو خبرې وكړو، او دا ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته روښانه کړو چې د مسلمانانو په حيث زمونږ موقف بايد دديموکراسۍ په اړه څه وي؟

مخکې تر دې چې د ديموکراسۍ د معنى او حقيقت په اړه خبره وکړو دا به غوره وي چې د هغې د تاريخي پس منظر او د منځته راتلو د ځای او حالاتو په اړه يو څه وويل شي.

ديموکراسي د اروپايانو او امريکايانو نوی دين دی چې د مسيحيت د انحراف په نتيجه کې رامنځته شوی، او غربيانو د خپل ژوند لپاره د قانون او نظام په حيث منلی دی.

ډيموکراسي يوازې يوه نظريه نه ده، بلکه هغه د معاصر غرب هغه تر ټولو مهم او مقدس مادي او معنوي ارزښت دی چې دوئ يې په نړۍ کې د خپرولو او پر ولسونو د تحميلولو لپاره خپل ټول وسائل په کار اچوي.

منفعت پرست غربيان د يوې عادي نظريې لپاره دومره قرباني نه ورکوي، او نه دومره دفاع ورڅخه کوي. دا نن چې د ديموکراسۍ د خپراوي په لاره کې په زرګونو ميليارده ډالر مصرفېږي، او په لکونو انسانان يې د دفاع په خاطر قرباني کېږي، او په لکونو انسانان پدې جرم وژل کېږي چې ولې ډيموکراسي نه مني؟ دا هر څه پر دې دلالت کوي چې پدې زمانه کې همدغه د غرب دين دی چې تر نصرانيت او بل هر دين يې غوره ګڼي.

په اوسنيو حاکمو نظامونو کې که مسلمان (مسلماني) پرېږدي هېڅوك محاسبه نه ورسره کوي. که نصراني (نصرانيت) پرېږدي هم څوك مشکل نه ورسره لري. همدارنګه که يهودي (يهوديت) پرېږدي هم په ډېر بد نظر نه ورته کتل کيږي، خو که څوك په دغو نظامونو کې ديموکراسي پرېږدي، نو هغه داسې ګڼل کېږي لکه چې انسانيت يې پرې ايښی وي چې د دې نوي دين د حکم مطابق بايد يا په زوره دغه دين ورباندې ومنل شي، او يا هم بايد محوه شي.

همدارنګه که څوك په غرب کې ديموکراسي نه مني نو په ټول غرب کې يې ځای نشته، له همدې امله خو په غرب کې ديموکراسی نه منل پيغور او يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول کفر ګڼل کېږي. په غرب کې د میسحیت د خپراوي لپاره دومره مصارف نه کېږي لکه څومره چې د دیموکراسۍ د خپراوي لپاره کېږي.
په هند کې هم دهندویزم د خپراوي لپاره دومره مصارف نه کېږي لکه څومره چې د دیموکراسۍ لپاره کېږي. په اسلامي هېوادونو کې د غرب پلوو نظامونو له لوري هم د اسلام د خپراوي لپاره دومره مصارف نه کېږي لکه څومره چې د دیموکراسۍ د خپراوي او پر ملتونو او دولتونو د هغې د ورتپلو او تحمیلولو لپاره کېږي. نن په نړۍ کې ولسونه د دې لپاره وژل کېږي او په سلګونو او زرګونو انسانان په دې خاطر له خاورو سره خاورې کېږي چې هغوئ دیموکراسي نه مني.

د دېموکراسۍ تعریف:

په لغوي لحاظ دیموکراسي یوه یوناني کلمه ده چې له دوو کلمو څخه چې یوه یې ډیموس (Demos) چې د (ولس) په معنی او بله یې کراتوس (cratos) چې د (واك او حکم) په معنی ده ترکیب شوې ده، چې وروسته بیا د زمانې په تېریدو لدې دوو کلمو څخه دیموکراسي جوړه شوې ده چې معنی یې (ولسواکي) یا (د ولس حاکمیت) دی، پدې معنی چې د حاکمیت حق به د خلکو وي، نه د الله تعالی، او قانون به خلك ځانته پخپله جوړوي، نه دا چې د الله تعالی له لوري رالېږلی شوی دین به پر خلکو حاکم وي.
تر دې ځایه خو د دیموکراسۍ لغوي معنی شوه. غربیانو د ډیموکراسۍ لپاره اصطلاحي تعریف هم په لاندې ډول غوره کړی دی:
“Government of the people, by the people, for the people”
(دخلکو حکومت، دخلکو لخوا، دخلکو لپاره).
د دیموکراسۍ اصطلاحي تعریف هم د لغوي تعریف په څېر په خلکو ور څرخي چې نه ورکې د الله جلاله ذکر شته، نه ورکې د دین ذکرشته، او نه هم ورکې د حق ذکر شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د ديموکراسۍ دغه نوی دين څنګه رامنځته شو؟ او هغه ته اروپايانو او بيا وروسته ټولو غربيانو څنګه دومره اهميت ورکړ چې تر دينونو يې هم پورته وګڼله؟ دا يوه ډېره ترخه کيسه لري چې په لاندې کرښو کې يې په لنډو ټکو کې يادوو:

په اروپا کې له نن څخه تقريبا درې سوه کاله مخکې اروپايانو يو طبقاتي ژوند درلود چې هغوئ ټول ورکې په لاندې درې طبقو ويشل شوي ول:

اوله طبقه د دوئ حاکمان، بادشاهان، رئيسان او په بادشاه پورې تړلي خلك ول.

دويمه طبقه يې ديني اشخاص ول چې ځانونه يې د کليسا له لارې د الله تعالی ممثلين بلل.

او دريمه طبقه يې عام خلك وو چې د مخکنيو دوو طبقو په خدمت کې به ول.

بادشاه خپل حاکميت پر خلکو يو الهی حاکميت ګاڼه، بادشاهانو سره دا تصور وو چې په موږ کې چې د بادشاهۍ يا حاکميت کوم صلاحيت پروت دی دا موږ خپله ګټلی ندی، بلکې دا د الله تعالی له لوري موږ ته راکړل شوی دی. نو پر همدې بنا هر هغه څوك چې د دې اسماني فيصلې مخالفت کوي نو بايد هغه ته سزا ورکړل شي. او د دې لپاره چې د دې اسماني ورکړل شوي صلاحيت تأييد او توثيق دکليسا لخوا هم وشي نو بادشاهان دېته اړ ول چې دکليسا د مشرانو تأييد حاصل او خپل قانونيت او مشروعيت د هغوئ له لوري هم تثبيت کړي.

کليسا په هغه وخت کی د خپل تحرف شوی مسيحيت ممثله، معلمه او نماينده وه. د مسيحيت دين لا هماغه وخت دومره تحريف شوی وو چې هر پاپ به ځان په مستقل ډول د الله ﷻ نماينده ګاڼه، او خلکو ته به يې ويل چې که څوك الله تعالی ته توبه باسي، او يا د خپلې ګناه مغفرت غواړي، نو د توبې يواځنۍ لار يې دا ده چې کليسا ته ورشي، او د ټکس په بدل کې د کليسا له پادري يا کشيش څخه د خپلې ګناه د ببښل کېدو (چك) تر لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، ځکه چې په مسيحيت کې ځوك مستقيما له الله تعالیﷻ څخه بخښنه نشي غوښتلی.

کليسا د خپل ديني استبداد په زور د انسان او الله تعالی ﷻ تر منځ د روحانيت او معنويت رابطه پرې کړې وه، او خلك مکلف وو چې يوازې بايد د پادري له لارې له الله تعالی سره رابطه وکړي، او دا نو بيا د کليسا خوښه وه چې چاته يې بخښنه کوله او چا ته يې نه کوله، او پر چا يې په دنيا کې د انکويزيشن (محاکمې) او د تعذيب حکم صادراوه.

مذهبي استبداد دې مرحلې ته رسېدلی وو چې يوځل په روم کی د روم مذهبي مشر د هغه وخت د فرانسې له بادشاه څخه خفه شوی او هغه ته په غوسه شوی وو او هغه يې له خپل رحمت څخه محروم اعلان کړی وو چې په نتيجه کې يې په هغه وخت کې خلك د فرانسې د بادشاه په خلاف را پورته شوي وو او ورته يې ويلي وو چې ته نور تر هغه يو قانوني مشر نه يې چې تر څو (پاپ) درته بخښنه کړې نه وي. د فرانسې بادشاه مجبور شو او د روم مذهبي مشر ته ولاړ او هلته يې څلور ورځې د کليسا د ديوال سيوري ته په يخنۍ او واورو کې د پاپ دربار ته عذرونه او زارۍ کولې، خو هغه بخښنه نه ورته کوله. څلور ورځې د ذلت په حالت کې هلته ولاړ وو او توبه يې نه ترې قبلېدله چې بالآخره يې په ډېرې خوارۍ هغه راضي کړ او د خپلې بادشاهۍ مشروعيت يې ورڅخه تر لاسه کړ.

همدارنګه کليسا پر خلکو مالي حاکميت هم مسلط کړی وو، او له خلکو به يې د هغوئ د زمکو حاصلات او نور مالونه په بېلابېلو مذهبي ټکسونو او مالياتو د شاهي پوليسو په زور راټولول. دا چې دوئ د پادشاه د پوليسو په زور له خلکو د هغوئ مالونه اخيستل، نو ځکه خو يې له بادشاهانو سره يو تړون او تعهد درلود، او هغه پدې ډول وو چې پاپانو به بادشاهانو ته ويل چه مونږ به پر خلکو ستاسې حاکميت ته مشروعيت ورکوو، او تاسې به موږ ته له خلکو څخه د خپلو پوليسو په زور دکليسا مال او متاع راټولوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپايانو په هغه وخت کی صنعتي ژوند نه درلود ، هلته صنعت او تجارت وروسته رامنځته شو، په هغه وخت د اروپايانو ژوند پر کرنه او مالدارۍ ولاړ وو چې اکثره حاصل به يې ورڅخه بادشاه او کليسا په زوره اخيسته، او يوازې يوه لږه برخه به يې چې پاتې کېده چې هغه به يې يو څه تخم ته ساته او په نور به يې په ډېرې سختۍ خپل ژوند تېراوه، چې نه به ورباندې مړه کېدل، او نه به يې د عزت ژوند ورباندې تېرولی شو.

عام خلك به د حاکمو دواړو طبقو تر منځ لکه د ژرندې د دوه تيږو تر منځ اوړه کېدل. په هغه وخت کې چې خلك څومره له بادشاهانو تنګ وو په همدومره اندازه له خپل (دين) او د دين له (متوليانو) هم بېزاره ول.

هماغه وو چې د دغه وضعيت په نتيجه کې اروپايان د خپلو بادشاهانو او بادشاهي نظامونو او هم د خپلو مذهبي مشرانو په خلاف راپورته شول او انقلاب يې اعلان کړ. انقلابيانو داسې شعار اوچت کړ چې: (وروستی بادشاه د وروستي مذهبي مشر په کولمو غرغره کړئ). يعنې پادري مړ کړئ، کولمې يې را اوباسئ، او په هغو بادشاه غرغره کړئ، چې په يوه وخت کې به له دواړو ظالمو طبقو خلاص شئ.

په هغه وخت کې خلك د مسيحيت او حکومت په خلاف چې دواړه يو د بل ملاتړي وو را و پارېدل، او د دين او بادشاهانو په خلاف پدې جګړې کې په زرګونو انسانان ووژل شول، او حاکمان، بادشاهان او مذهبي مشران هم له منځه لاړل. کليساګانو ته اور ورواچول شو، او تر هغه وخته دغه آتشفشان په آرام نشو چې ترڅو کليسا او شاهانه حاکمېتونه دواړه له منځه نه وو تللي.

د کليسا او شاهانه حکومتونو تر له منځه تللو وروسته له خلکو سره دا پوښتنې پيدا شوې چې اوس به ژوند په کومه طريقه تېروي؟ حق او ناحق به له کومه ځايه معلوموي؟ د حق او د باطل د معلومولو لپاره به معيار څه شی ټاکي؟ او (دين) ته به په ژوند کې څومره ځای ورکوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلیسا استبداد او د دیني کشیشانو تنګ نظرۍ خلك پر (دین) باندې دومره بدګومانه کړې وو چې نور یې نه غوښتل (دین) دې پر دوئ حاکمیت ولري. له همدې امله خو یې له دیني مشرانوځان خلاص کړی وو. هماغه وو چې اروپایانو تصمیم ونیوه چې نور به (دین) د دوئ د ژوند په چارو کې هېڅ دخل او غرض نه لري، او دوئ چې هر څه کوي څوك به د (دین) له ادرسه دا نه ورته وایي چې دا کار روا دی، او هغه ناروا.

هغوئ خپلو مذهبي مشرانوته وویل چې (دین) به په (کلیسا) کې بند وي، که زمونږ ورته اړتیا پیدا شوه نو پخپله به ورځو، او که موږ کلیسا ته نه ورتلو، نو (دین) به په موږ پسې ټولنې او نظام ته نه راووځي، او زموږ د ژوند په چارو کې به هېڅ مداخله نه کوي.

هماغه وو چې دین د غربیانو د سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، عسکري او اخلاقي ژوند له ساحې ووت، او خپل ځای یې پر دین نه ولاړ نظام (سیکولریزم) ته پرېښود.

په ژوند کې د کلیسا نقش ته د پای د ټکي تر ورکولو وروسته اروپایانو د خپل ځان لپاره یو داسې نوی دین جوړ کړ چې په هغه کې د دوئ اخلاقي، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، عسکري او نورې ټولې چارې پر داسې اصولو او په داسې نظام کې تنظیم شوې چې پر دین نه وو ولاړ.

که اروپایانو په هغه وخت کې اسلام منلی وای نو مشکلات به یې حل وو، ځکه چې اسلام د تحریف شوي مسیحیت په څېر نه وو چې خلك له علم او پرمختګ څخه منع کړي، او یا پر خلکو داسې استبداد مسلط کړي چې خلك له ژونده زړه بدي کړي. بلکه اسلام به دوئ هم علم او پرمختګ ته تشویق کړي وو، او هم به یې د دوئ ژوند ور منظم کړی وو.خو دا چې دوئ د مسیحیت د جبر او طغیان په نتیجه کې له دین څخه دومره بېزاره شوي وو چې نور یې له هر دین سره دښمني پیل کړې وه، او هر هغه څه به چې په معنویاتو او روحانیت پورې اړه درلوده هغه ته به یې د شك او نفرت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګه کتل. هماغه وو چې اروپایانو د دین ځای په (سیکولریزم) ډك کړ، او د شاهي نظام تشه یې په (ډیموکراسۍ) ډکه کړه.

د دیموکراسۍ تعریف له درې عناصرو جوړ دی:

۱- د خلکو حکومت.

۲- د خلکو لخوا.

۳- د خلکو لپاره.

د ډیموکراسۍ په تعریف کې د الله ﷻ ، دین او پیغمبر ذکر نشته. او دا ځکه چې د مسیحي دین رهبرانو چې خلکو ته کوم رب معرفي کړی وو دوئ نور له هغه بېزاره شوي وو. اروپایانو نور د دین حکومت نه غوښت، بلکه د خلکو حکومت یې غوښت. د الله د دین له لوري یې د حکومت مشروعیت ته ضرورت نه درلود، ځکه چې حکومت باید د خلکو له خوا وي، او د الله تعالی د دین د حاکمولولپاره یې نه غوښت، بلکه د خلکو لپاره یې غوښت. او د ژوند د تېرولو لپاره یې د پیغمبر لارښوونو ته ضرورت نه احساساوه، ځکه چې د قانون او تشریع مصدر یې خپلې خوښې، خپل عقلونه او هوسونه وو. څه یې چې خوښ وو هغو ته یې حلال ویل، او څه یې چې نه خوښېدل هغه یې حرام ګڼل. پدې ډول غربیانو د حاکم ټاکل، د نظام د کیفیت تعیینول او د قوانینو جوړول خپل حق وګڼل، او پدې ټولو کې یې د (دین) مداخله ممنوع کړه، او دې ټولې منظومې ته یې د دیموکراسۍ نوم ورکړ.

د ډیموکراسۍ دوه مهم بنسټونه:

اول بنسټ ـ دولس حاکمیت:

پدې معنی چې د (سیادت) یا د (اعلی حاکمیت) حق د ولس دی، ولس چې څوك د ځان لپاره د حاکم په حیث ټاکي هماغه به حاکم وي، پرته لدې چې دېته دې وکتل شي چې په هغه کې د حاکمیت لپاره صالحیت او صلاحیت شته او که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه به ولس د ځان لپاره د حاکمیت نوعیت ټاکي، او دېته به نه کتل کېږي چې د نظام دغه نوعیت د الله تعالی په دین کې روا دی او که ناروا.

ولس به د خپلو هر ډول معاملاتو او قضایاوو لپاره تشریع او قانون پخپله جوړوي، او په دغه قانون جوړوونه کې به دېته نه کتل کېږي چې دغه قانون د الله تعالیﷻ، او د پیغمبر ﷺ د لارښوونو مطابق دی او که مخالف.

د قانون جوړونې لپاره به د اکثریت رأیه معیار ګڼل کېږي. اکثریت چې څه غواړي هغه به (حق)وي، او اکثریت چې د څه مخالف وي هغه به ناحق او باطل وي.

په خلاصه ډول د دیموکراسۍ د اول بنسټ معنی اکثریت ته د (الوهیت) حیثیت او مرتبه ورکول دي. اکثریت په دیموکراسۍ کې د (حاکمیت) او (تشریع) له حیثیته د (إله) ځای لري. که اکثریت وغواړي چې نارینه دې له بل نارینه سره نکاح وکړي، نو په ډیموکراسۍ کې دا یو روا کار دی، چې په اوسني عصر کې د غرب په ډېرو هېوادونو کې دا کار همدا اوس وجود لري، او په ځینې هیوادونو لکه برتانیا کې د دې کار د جواز لپاره قوانین هم تصویب شوي او عمل ورباندې کېږي. هلته یو نارینه له بل نارینه سره او یا یوه ښځه له بلې ښځې سره پدې کار توافق کوي او په محکمه کې د قاضي په مخکی رسما د هغوئ تر منځ نکاح تړل کېږي، او دا ځکه چی د هغوی اکثریت دغه کار تأیید کړی دی. همدارنګه که د دیموکراسۍ په نظام کې اکثریت وغواړي چې سود او یا قمار دې جایزوي نو هم جایز ګڼل کېږي.

په ډیموکراسۍ کې د خلك د عقل، دیانتدارۍ ،علم او تجربې په لحاظ نه تلل کېږي، بلکه هلته یوازې سرونه شمېرل کېږي او دېته هېڅ اعتبار نه ورکول کېږي چې په مغزو کې یې څه شته او که نه؟ په ډیموکراسۍ کې که د کوم قانون او یا کومې نظریې د رد او یا تأیید لپاره یوې خواته ۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهان، متخصصين او د تجربې خاوندان وي، خو بلې خواته ۵۱ ناپوهه او بې تجربې خلك وي نو بيا به هم پدې خاطر د همدغو ناپوهو خلکو رأيې ته ترجيح ورکول کېږي او يوازې لدې امله به مدار د اعتبار ګڼل کېږي چې شمېر يې تر هغو پوهو خلکو زيات دي.

دويم بنسټ ــ حقوق او ازادۍ:

د ډيموکراسۍ دوهم بنسټ د حقوقو او آزاديو بنسټ دې. دغه حقوق او آزادۍ په حقيقت کې د ډيموکراسۍ د نظريې او فلسفې حاصل او ثمره ده. په هر نظام کې چې دغه حقوق او آزدۍ خلکو ته حاصلې نه وي هغه نظام ډيموکراتيک نه ګڼل کېږي.

۱ــ د دين او عقيدې ازادي:

د آزاديو او حقوقو په لړ کې اول د دين د انتخاب او د عقيدې آزادي ده. په ډيموکراسۍ کې هر انسان ته دا حق ورکول کېږي چې هر وخت وغواړي د ځان لپاره په خپله خوښه نوی دين انتخاب کړي نو انتخابولی يې شي. د مثال په ډول: يو انسان حق لري چې نن دې يهودي وي، سبا ته نصراني شي، بله ورځ دې هندو شي، بله ورځ دې مسلمان شي، بل وخت دې بيا بېرته اسلام پرېږدي او بودائي دې شي، او يا دې هم له ټولو اديانو انکار وکړي او ملحد يا کمونست دې شي. پدې ټولو حالاتو کې هغه نه محاسبه کېدلای شي، او نه ورڅخه څوک د عقيدې د آزادۍ حق سلبولی شي.

په ډيموکراسۍ کې دين او عقيده يو شخصي امر دی چې د دولت او نظام ورسره هېڅ کار نشته. دين په ډيموکراسۍ کې د جامو او فيشن حيثيت لري چې د هر چا خوښه ده چې کوم رنګ او کوم ډول جامې اغوندي او څنګه فيشن غوره کوی. خو په اسلام کې دين او عقيده يو شخصي امر نه، بلکې يو مکلفيت دی. او همدغه تدين د انسانانو او پيريانو د خلقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

هدف ښوولی شوی دی، لکه چې الله تعالیﷻ فرمايي: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الذاريات: ٥٦

ترجمه: (او ما نه دي پيدا کړي پېريان او انسانان مګر د دي لپاره چې زما عبادت وکړي).

الله تعالیﷻ پېريان او انسانان د عبادت لپاره پيدا کړي دي، او تر پيدا کولو وروسته يې بيا د عبادت دکيفيت د تعيين او د طريقې د ورښودلو لپاره ورته دين نازل کړی او انبياء عليهم السلام يې را لېږلي چې تر ټولو وروستی دين (اسلام) او تر ټولو وروستی پيغمبر (محمد) ﷺدی. او د همده په مبارک راتګ پخواني ټول اديان منسوخ شوي دي. د الله ﷻ په نزد يواځينی مقبول دين (اسلام) دی. نو هر څوک چې د الله ﷻ د عبادت لپاره له اسلامه پرته بل دين انتخاب کړي هېڅکله به يې الله تعالیﷻ ورڅخه قبلول نه کړي، الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴾ آل عمران: ٨٥

ترجمه : (او هر څوک چې له اسلامه پرته بل دين ولټوي هېڅکله به ترې ونه منل شي، او هغه به په آخرت کې له تاوانيانو څخه وي).

په اسلام کې له اسلام څخه وتل (ارتداد) دی چې که مرتد توبه ونه باسي، او بېرته په اخلاص اسلام ته راونه ګرځي نو سزا يې وژل دي. ځکه چې له يوه دين څخه وتل او بل دين ته داخلېدل د پخواني دين د باطل ګڼلو په معنی دي. يعنې هرڅوک چې له اسلام څخه پرته کوم بل دين ته ورځي هغه په خپل دغه عمل په اسلام باندې د بطلان حکم کوي. او د نوي دين د حقانيت اعتراف کوي. خو په ډيموکراسۍ کې د دين بدلول هېڅ سزا نه لري. ځکه چې هغه يوشخصي امر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې چې امریکایانو د خپل اشغال په وخت کې کوم ډیموکراتیک نظام جوړ کړی دی همدغه د (ارتداد) حق یې هم د اساسي قانون له لارې د هر فرد لپاره خوندي کړی دی. ځکه چې د اساسي قانون په شپږمه ماده کې په صراحت سره د (ډیموکراسۍ تحقق) او د (بشري حقوقو ملاتړ) د دولت مکلفیت ښودل شوی دی. او د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په اته لسمه ماده کې په صراحت سره داسې لیکل شوي دي: **(هر انسان د فکر د آزدۍ او د دین د انتخاب له حق څخه برخمن دی. او همدا حق د دین او د عقیدی تبلیغ، د ډله ییزو ښوونو او رسنیو له لارې د نظر اظهار او همدارنګه د شعائرو سرّي او علني ترسره کولو او له هغو څخه حفاظت ته هم شامل دی).** (اتلسمه ماده).

د همدغې اعلامیې په نولسمه ماده کې د (ارتداد) حق په نور صراحت سره پدې ډول بیان شوی دی:

(**هر انسان د نظر او خپل لید لوري د آزادۍ له حق څخه برخمن دی. دغه حق د دېته هم شامل دی چې څوک دې د بل چا افکار او نظریات د بل چا له مداخلې پرته ومني. او هم کولای شي خپل افکار او نظریات په هرې ممکنې وسیلې له هر جغرافیوي قید او بند څخه پرته تر لاسه او نشر کړي**).
(نولسمه ماده).

دا چې د افغانستان اوسنی اساسي قانون چې د **(ډیموکراسۍ تحقق)** او د **(بشر د حقوقو ملاتړ)** د دولت مکلفیت ګڼي، او پدې دواړو کې د دین او عقیدې انتخاب د هر چا شخصي حق دی، او د بل چا دخالت ورکښې ناروا کار ګڼي، نو ځکه خو اساسي قانون هم تر پردې لاندې په ضمني ډول هر چا ته د مرتدکېدلو حق ورکوي. اوس نو په خلکو، وضعیت او حالاتو پورې اړه لري چې څوک د مرتد عبدالرحمن پنجشیري په څېر د ډیموکراسۍ له دغه حق څخه داستفادې علني جرأت کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينو تش په نامه اسلامي حکومتونو خو په خپلو اساسي قوانينو کې دا هم ليکلي چې د اسلام په خلاف به قوانين نه جوړېږي، خو له بل لوري يې دا هم په صراحت سره ليکلي چې هېوادونه يې د ملګرو ملتونو، نړيوالو تړونونو د بشر د حقوقو د اعلامیې د رعايت کولو تعهد هم لري. لکه د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې چې په اوومه ماده کې داسې ليکل شوي دي:

اوومه ماده:(**دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بين الدول معاهدو، د نړيوالو ميثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو ولري او د بشري حقوقو د نړيوالې اعلاميې رعايت کوي**).

د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې چې د افغانستان اساسي قانون يې رعايت کوي په ۲۹ مه ماده کې د بشري حقوقو د اعلاميې له حقوقو سره د تعامل په اړه داسې راغلي دي:

۲۹ مه ماده: د ج جزء: (**په هېڅ ډول شرايطو کې روا نه ده چې د بشر له حقوقو سره دې په داسې ډول چلند وشي چې د ملګرو ملتو له اصولو او اهدافو سره تضاد ولري**).

يعنې د بشري حقوقو د تعبير او تفسير صلاحيت يوازې دملګرو ملتونو له سازمان سره دی، او هر دولت يې چې رعايت کوينو بايد د ملګرو ملتو له اصولو او اهدافو سره سم يې دې وکړی، نه دا چې د خپل دين او مذهب مطابق يې تعبير کړي. نو له همدې امله دا خبره يوازې يو منافقت دی چې په يوه اسلامي هېواد کې دې هم اسلام تطبيق شي او هم دې د ملل متحد او د بشر د حقوقو اعلاميه تطبيق شي. بلکې له دواړو څخه به يوازې يو تطبيقېږي اوبس.

په اسلام کې هم د عقيدې او دين د آزدۍ حق شته دی، خو هغه په دې معنې دی چې د نورو اديانو منونکي به په زور نشي مسلمانولی، بلکې يوازې دعوت او په ښه طريقه به مناقشه او مناظره ورسره کولی شي. لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې الله تعالی فرمايي: ﴿ ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ ﴾ النحل: ۱۲۵

ترجمه: (ای پيغمبره د خپل رب د لاری په لور په حکمت او نيک اسلوب بلنه وکړه، او مباحثه کوه له هغوئ سره په هغه طريقه چې هغه ډېره ښه وي).

او د زور د نه استعمال په هکله الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿ لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ ﴾ البقرة: ۲۵۶

ترجمه: (نشته زور د دين په منلو کې، په تحقيق سره ښکاره شو هدايت له بې لاری څخه).

اسلام نامسلمانو خلکو ته د اسلام حقانيت او فضيلت بيانوي، او د منلو توصيه يې ورته کوي، خو په زور يې هېڅکله هم منلو ته نه اړباسي. او که څوک اسلام نه مني هغوئ پر خپل دين او طريقه پدې شرط پرېږدي چې مسلمانان به کفر ته نه دعوت کوي، او د اسلامي نظام له انتظامي اصولو او لوائحو به سرغړونه نه کوي.

د اصحابو رضي الله عنهم له زمانې راهيسې تر ننه پورې په اسلامي نړۍ کې د مسيحيانو، يهوديانو، هندوانو او نورو طائفو شتون پر دې دلالت کوي چې اسلام هغوئ په مسلمانېدلو نه دي مجبور کړي، بلکې هغوئ ته يې په خپل دين د آزاد پاتې کېدلو حق ورکړی دی.

خو په اسلام کې په هېڅ ډول يوه مسلمان ته دا اجازه نشته چې هغه دې له اسلام څخه مرتد شي. ځکه چې مرتد له اسلام څخه د وتلو په عمل په اسلام باندې د بطلان حکم کوي. که داسې نه وي نو بيا ولې له اسلام څخه خارجېږي؟ دا چې هغه پدې کار سره هغه پر حق دين د بطلان حکم کوي او په اسلامي ټولنه کې اضطراب رامنځته کوي، نو ځکه بايد تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

استتابې(توبه غوښتنې) وروسته که بېرته راونه ګرځېد بايد ووژل شي، لکه چې رسول الله ﷺفرمايلي دي: ((**من بدّل دينه فاقتلوه**) بخاري.

ترجمه:(چا چې خپل دين بدل کړ و يې وژنئ).

په اسلام کې د عقيدی آزادي د ډيموکراسۍ د عقيدې له آزادۍ سره د رڼا او د تيارې فرق لري. خو هغه ډله غرب پلوي عالم ډوله خلك چې غواړي خلکو ته اسلام او ډيموکراسي يو شی وښئي په منافقانه ډول دغه دواړه آزادۍ يو ډول ښئي، ترڅو خلکو ته د اسلام په قالب کې کفر ښائسته کړي.

۲ـ د رايې د اظهار د ازادي:

د ډيموکراسۍ له آزاديو څخه يوه هم د رأيې (نظر) د اظهار آزادي ده. په ډيموکراسۍ کې هرڅوک حق لري چې خپل هر ډول نظر په آزادۍ بيان کړي، که څه هم چې هغه نظر د الهي وحيې او ديني مقدساتو په خلاف هم وي.

د دغه ډول آزادۍ د ترلاسه کولو تصور څکه په غرب کې راپيداشو چې ټول غرب د فرانسې تر انقلابه دمخه د کليسا تر مطلقې ديني او فکري واکمنۍ لاندې اوسېده.

دا چې کليسا د انحراف او فکري استبداد اوج ته رسېدلې وه، او هېچا ته يې په دينياتو، اخلاقياتو، اجتماعي اصولو او حتی ساينس کې د رأيې د اظهار حق نه ورکاوه، او که به چا د رأيې د اظهار جرأت وکړ، نو هغه به په ډول ډول سزاګانو محکومېده. نو له همدې امله اروپايانو د کليسا د استبداد په خلاف آواز پورته کړ، او د تحريف شوي مسيحيت د کليسا تسلط يې له منځه يووړ، او په هر څه کې يې د نظر د اظهار آزادي تر لاسه کړه.

اروپايانو خو په هغه وخت کې دغه اقدام د يو (باطل او تحريف شوي) دين په خلاف وکړ، خو وروسته يې دغه آزادي د يو (مقدس حق) په حيث د (حق دين) په خلاف هم استعمالول شروع کړل. ان تر دې چې د اسلام مقدسات يې هم د دغې بې بندوباره آزدۍ تر بريد لاندې راوستل، او د اسلام د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شريعت، قرآن کريم او پيغمبرﷺ په خلاف يې هم خپل له سپکاوي ډک اظهارات د رأيې او بيان د آزادۍ د حق په نامه ياد کړل، چې پدې لړ کې دغه لاندې اقدامات په نږدې ماضي کې ټولې دنيا وليدل:

هندوستانی مرتد(سلمان رشدي) چې د برتانيې تابعيت لري د غرب په هڅونه يې د اسلام په خلاف خپل مشهور کتاب (شيطاني آيتونه) وليکه، او د ټولې دنيا مسلمانانو ته يې سپکاوی وکړ، خو کله چې مسلمانانو له غرب څخه د هغه د محاکمې غوښتنه وکړه، ټول غرب په يوه خوله د هغه له دې اقدام څخه دفاع وکړه، او د هغه دغه کار يې د رأيې او بيان د آزادۍ حق وګڼه، او هغه ته يې پناه ورکړه، چې لا تر ننه يې په خپل حفاظت کې ساتي.

نه يوازې دا چې غرب (سلمان رشدي) ته پناه ورکړې، بلکې د برتانيې ملکې هغه په لويو شاهانه القابو هم په رسمي ډول ونازاوه، او د مسلمانانو د دين او د احساساتو هيڅ پروا يې ونه لرله.

تر (سلمان رشدي) وروسته بنګله ديشۍ مرتدې ليکوالې (تسليمې نسرين) هم د رشدي پر پله پل کېښود، او هغې ته هم غرب په خپلې غېږې کې پناه ورکړه، او د هغې اقدام يې د نظر د اظهار په آزادۍ تعبير کړ.

هالنډي ژوناليست هم د قرآن کريم د سپکاوي فلم جوړ کړ، او کله چې مسلمانانو احتجاج وکړ، نو د هالنډ صدراعظم د هالنډي ژونالست کار د رأې د بيان آزدي وبلله، او له هغه څخه يې دفاع وکړه.

د قرآن کريم بل سپکاوی هغه ؤ چې غرب د (رښتيني قرآن) په نامه له الحاد او سپکاوي ډک کتاب چې د قرآن کريم سورتونو ته په ورته شکل ليکل شوی ؤ رامنځته کړ، او په انټرنيټ کې يې خپور کړ. او دا يې هم د رأيې د اظهار حق وګڼه.

د ډنمارک يوه کاريکاتور جوړوونکي د اسلام پيغمبرﷺ ته منسوب له سپکاوي ډک کارتونونه جوړ او خپاره کړل. کله چې مسلمانانو په ټوله نړۍ کې احتجاج وکړ، او د هغه رسام د محاکمې غوښتنه يې وکړه، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډنمارک صدراعظم (اندریس فوګ راسموسن) چې ورسته بیا د ناټو د تړون رئیس هم شو له کارتون جوړونکي څخه دولتي دفاع وکړه، او د هغه کار یې د رأیې د بیان د آزادۍ حق وباله.
کله چې مسلمانانو خپل احتجاج ته نور هم زور ورکړ، او له اروپایي مصنوعاتو سره یې د پریکون اعلان وکړ، نو د ناټو د تړون رئیس د ډنمارک موقف د ټولې اروپا د موقف په حیث اعلان کړ، او په دې ډول هغه کارتونونه په مکرر ډول په نورو اروپایي هېوادونوکې هم خپاره شول.
په افغانستان کې چې د امریکا د پوځي شتون تر حمایې لاندې د بلخ په ولایت کې یوه مرتد (پرویز کامبخش) د اسلام خلاف مضامین چاپ او خپاره کړل او د مسلمانانو د شدید فشار په نتیجه کې محکمې هغه په ارتداد محکوم او بندي کړ، نو ټول غرب او غربي مېډیا د هغه ترځنګ ودریده،او د هغه موقف یې د رأیې د اظهار په آزادۍ تعبیرکړ،او د هغه د خوشې کولو هڅې یې پیل کړې، چې په نتیجه کې یې د اعدام حکم په حبس تبدیل شو، او وروسته بیاد اریکا له لوري د افغانستان لپاره ټاکل شوي رئیس (حامد کرزي) د خپل دوهم ځل انتخابېدلو په درشل کې هغه د یوه فرمان په صادرولو آزاد کړ، او په درناوي د غربي حلقو لخوا له افغانستانه وویستلی شو.
همدا رنګه په فرانسه کې هم د(چارلي هیبدو) طنزي مجلې څو ځله د رسول الله صلی الله علیه وسلّم کارټونونه جوړ او خپاره کړل، خو کله چې په 2015م کال کې دریوو مسلمانوځوانانو د دغې فرانسوي مجلې کارټونستان ووژل، نو ټول غرب د هغو دریوو مسمانو ځوانانو کار د رأیې د اظهار په خلاف عمل وګاڼه، او د هغوئ په لټون پسې یې په یوه ورځ ۸۰۰۰۰ اتیازره پولیس راووېستل، او هغوئ یې شهیدان کړل، خو د خپلو کارټونستانو د کار د تمجید او تأیید په مقصد یې د غربي نړۍ رهبران ور وبلل او داسې یوه مظاهره یې په ټوله فرانسه کې راووېسته چې د دوئ په وینا لس میلیونه خلکو ورکې برخه اخیستې وه. فرانسې پدې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکتفا ونه کړه، بلکه د نوموړې مجلې په راتلونکې ګڼه کې یې د درې ملیونه نسخو په شمېر د اسلام د ستر پیغمبر صلّی الله وسلّم د سپکاوي په مقصد بیا نور کارټونونه چاپ او خپاره کړل، پداسې حال کې چې نوموړې مجله به پخوا په عادي حالاتو کې یوازې شپږ زره نسخې چاپېده.

اسلام د رأیې د اظهار د آزادۍ مخالف نه دی، بلکې د ګمراه کوونکې رأیې د اظهار مخالف دی. هغه رأیه چې د حق د بیان او آزادۍ لپاره وي اسلام نه یوازې د هغې پلوی کوي، بلکې هغه یو عبادت بولي، او اظهار ته یې خلک تشویقوي، که څه هم چې هغه دیو ظالم حاکم په مخکې وي. په هغه حدیث شریف کې چې أبوسعید الخدري ﷺ روایت کړی دی رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

﴿**إن من أعظم الجهاد كلمة عدل عند سلطان جائر**﴾ ([1]).

ترجمه: ﴿بې له شکه دا له لوی جهاد څخه ده چې د عدل خبره دې د ظالم پادشاه په مخکې وکړای شي﴾.

او که څوک د حق د وینا له امله ووژل شي، نو هغه په اسلام کې له غوره شهیدانو څخه شمېرل کېږي، لکه چې رسول لله ﷺ فرمایلي دي: ﴿**خیر الشهداء حمزة بن عبدالمطلب، و رجل قام إلی رجل فأمره و نهاه في ذات الله فقتله علی ذلک**﴾ ([2])

ترجمه: ﴿په شهیدانو کې غوره شهید حمزه بن عبدالمطلب او هغه سړی دی چې دالله ﷻ لپاره یو بل چاته په نېکۍ امر وکړي او له بدۍ څخه یې منع کړي او هغه یې بیا پدې کار ووژني﴾.

نو معلوه شوه چې په اسلام کې هرڅوک بل چاته د حق وینا او نصیحت کولی شي. او باید چې ویې کړي، ځکه چې ﴿دین نصیحت دی﴾.

1الترمذي کتاب الفتن باب أفضل الجهاد.
[2] المستدرک للحاکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په ډيموکراسۍ کې انسان ته د هرڅه د ويلو او اظهار اجازه شته چې هغه (حق) وي او که (باطل).

د مسلمانانو په هغو هېوادونو کې چې غربي ډيموکراسي ورکښې حاکمه ده په ښکاره ليدلی کېږي چې هلته خلک يوازې د باطل د اظهارولو حق لري او بس. او هر څوک چې د حق رأيه اظهار کړي هغه له وژلو، تړلو، شړلو او ډول ډول تهديدونو سره مخ کېږي.

د کفري نظرياتو د خپرولو لپاره ټول وسائل په کار اچول کېږي، خو د حق د اظهار لپاره هېڅ راډيو، تلويزيون، مجلې اخبار او نشريې ته اجازه نه ورکول کېږي. او که چېرې يو نيم ځای اجازه هم ورکړل شي نو بيا يې هم پاليسي، حدود او موضوعات ورته د دولتي ادارو لخوا ټاکل کېږي چې تر هغو هاخوا يې نشريات جرم ګڼل کېږي.

۳ـ شخصي ازادي:

د ډيموکراسۍ تر ټولو مهمه آزادي چې د ډيموکراسۍ زړه بلل کېږي شخصي آزدي ده چې اخلاقی آزادي هم بلل کېږي.

د شخصي آزدۍ معنی دا ده چې انسان د خپل شخص (ذات) په اړه مکمله آزادي لري چې هر څه ورباندې کوي بې له کوم قيد او شرطه يې کولی شي. د ټولنې عرفونه، رسم او رواج، اداب او اخلاقي قوانين بايد له ژوند څخه د خوند د اخستلو په لاره کې مانع ونه ګرځي. او فرد بايد پدې کار کې د هر چا له تسلط او محاسبې څخه آزاد وي.

د دغه ډول آزادۍ مطالبه هم په غرب کې د کليسا د طغيان او د خلکو په اجتماعي او اخلاقي ژوند باندې د شديد مراقبت عکس العمل وو. لکه څنګه چې اروپايانو د دين، عقيدې او عبادت په مجال کې دکليسا تسلط ورختم کړ، همدا ډول يې د کليسااخلاقي څار او رقابت هم له منځه يووړ.

د فرانسې انقلاب (دين) له (دولت) څخه جلا کړ،او د سيکولريزم نظريه يې ايجاد کړه. او تر هغې وروسته يې د (دين) او د (اخلاقو) ترمنځ هم بېلتون راوست. د اخلاقو په ښه والي او بدوالي باندې حکم کول د دين صلاحيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه، بلکې د شخصي ذوق او سليقې کار وګڼل شو. پدې معنی چې هر هغه څه چې فرد ته ښه ښکاري هماغه ښه اخلاق دي او څوک بايد پرې د اعتراض حق ونه لري. د همدغې شخصي آزادۍ د فلسفې د منل کېدو له امله په غرب کې زنا ، لواطت، سحاق، (ښځينه همجنس بازي) د نارينه له بل نارينه او د ښځې له بلې ښځې سره واده کول د اخلاقو خلاف کارونه نه ګڼل کېږي، او دغربي هېوادونو قوانين ورته اجازه ورکوي. دغه ټول کارونه د ډيموکراسۍ په فرهنګ کې تر هغه پورې جرم نه ګڼل کېږي چې تر څو په اجباري شکل نه وي تر سره شوي. او که په اجباري شکل ترسره شي نو بيا هم لدې امله جرم نه ګڼل کېږي چې دغه کارونه حرام دي، بلکې لدې امله جرم ګڼل کېږي چې په اجباري شکل تر سره شوي دي.

د شخصي آزادۍ غربي معيارونو ته په پام سره په ډيموکراسۍ کې (امر بالمعروف او نهي عن المنکر) هېڅ ځای نه لري. او په همدې بنا چې په هر دولت کې چې ديموکراسي عملي کېږي هلته د (امربالمعروف او نهي عن المنکر) حق په خپله په اتوماتيک شکل له منځه ځي. هلته به يا ډيموکراسي وي، او يا به امربالمعروف وي، دواړه په هېڅ صورت نشي جمع کېدلای. ځکه چې (امربالمعروف او نهي عن المنکر) اکثره په عباداتو او اخلاقياتو پورې اړه لري، او په ډيموکراسۍ کې دغه دواړه شخصي امور دي چې بل څوک ورکښې د مداخلې حق نه لري.

په ديموکراسۍکې د شخصي آزادۍ او اخلاقو فلسفه د انګريز فيلسوف هوبز (۱۵۸۸ - ۱۶۷۹م) پر نظرياتو ولاړه ده چې وايي: د خير معنی شهوت (خوند) دی، او د شر معنی نفرت (کرکه) ده. يعنې په هر هغه څه کې چې شهوت (خوند) موجود وي هغه د خير کار دی. او په هر هغه څه کې چې نفرت (کرکه) موجوده وي هغه د شر کار دی. د خير او د شر د معيارونو تعيين د (دين) کار نه بلکې د شخصي ذوق او غريزې کار دی. دغه ډول شخصي آزادي نه يوازې دا چې په اسلام کې ځای نه لري بلکې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو اديانو اوسليم فطرت سره هم مخالفت لري. نو پر همدې بنا ډيموكراسي د دغه ډول آزدۍ د لرلو له امله هم صريح كفر ګڼل کېږي.

۴ـ د مسكن د انتخاب ازادي:

په ډيموكراسۍ كې هر انسان ته حق وركړ شوي چې په هر ځاى كې يې چې زړه وي هلته واوسېږي. پر همدې اساس غربي ډيموكراسي دا نه مني چې كفار دې له (جزيرة العرب) څخه و ويستل شي، او يا دې كفار د حرم په ساحه كې نه پرېښودل کېږي، پداسې حال كې چې د عربو په جزيره كې د كفارو د نه پرېښودلو صريح حكم په حديث شريف كې راغلی دی، رسول الله ﷺ فرمايي:((**أخرجوا المشركين و في رواية: اليهود و النصارى من جزيرة العرب**...)) ([1]).

ترجمه:(مشركان د عربو له جزيرې وباسئ) په بل روايت كې دي:(يهود او نصارى له جزيرة العرب څخه وباسئ).

له همدې امله عمر بن الخطاب رضى الله عنه په خپل خلافت كې ټول يهودان او نصارى له جزيرة العرب څخه و وېستل. خو كه په اوسنې وخت كې چې څوک له جزيرة العرب څخه د يهودو، نصاراؤ او يا نورو كفارو د وېستلو غوښتنه كوي، يا يې د وېستلوهڅه كوي هغوئ د ډيموكراسۍ د مخالفت په جرم محكومېږي او د وژلو جواز يې برابرېږي.

۵ـ د ملكيت حق:

دا چې غربي ډيموكراسي د كپيټاليزم (پانګه وال اقتصاد) د خوندي ساتلو لپاره رامنځته شوې ده، نو له همدې امله وركې فرد ته له هرې لارې د مال د ګټلو او په هر څه كې د مصرفولو مطلقه آزادي وركړل شوې ده.

د مال په ګټلو او مصرفولو كې ډيموكراسي هېڅ ديني او اخلاقي عامل ته د دخالت حق نه وركوي. همدا دليل دی چې په ډيموكراتيكو هېوادونو كې

---

[1] بخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانګه وال د سود ، احتکار، د مزدورانو د زيبښاک او ان د نورو هېوادونو د نيولو او د هغوئ د طبيعي زيرمو د غلا کولو، لوټولو، د جنګونو د رامنځته کولو او د وسلو د خرڅولو او حربي فابريکو دچلولو له لارې خپله پانګه ډېروي،او بيا يې په عيش او عشرت، قمار، فحشاء او بدخرڅيو کې مصرفوي.

خو په اسلام کې لکه څنګه چې د مال د ګټلو لپاره د روا لارو او وسايلو انتخاب ضروري دی، همدارنګه يې د مصرفولو لپاره هم قيود وضع شوي دي.

اسلام د يوه داسې متوازن اقتصادي نظام لرونکې دی چې نه لکه د پانګه وال نظام سرمايه د څو محدودو خلکو په منځ کې ساتي، او نه لکه کمونيزم دی چې افراد له شخصي ملکيت څخه محروموي. بلکې اسلام فرد ته هم د سرمايې د لرلو حق ورکوي،او هم د بډايو خلکو په سرمايه کې د نېستمنو او غريبو خلکو حق تثبيتوي.

۶ـ د کار حق:

په ډيموکراسۍ کې انسان ته د هر ډول کار د کولو او پېشې د اختيارولو مطلق حق حاصل دی. خو په اسلام کې خلك يوازې د حلال او روا کار د کولو حق لري. او که چېرې داسې يو کار اختيار کړي چې له مسلمانۍ سره تضاد ولري لکه شرابخانه خلاصول يا د زنا اډه او داسې نور جوړول نو په هغه صورت کې اسلام خلکو ته د دغه ډول کار اجازه نه ورکوي. خو په ډيموکراسۍ کې خلك دا هر څه کولای شي.

۷ـ د زده کړې حق:

په ډيموکراسۍ کې خلکو ته د هر فن او علم د زده کړې مطلق حق حاصل دی. خو په اسلام کې خلکو ته د داسې علومو او فنونو د زده کولو حق نه ورکول کېږي چې هغه له اسلام سره ټکر لري، لکه: د کوډو (جادو، شعبده بازۍ، مداري ګرۍ او داسې نور علمونه. اسلام د جادو زده کړه کفر بولي او مخنيوی يې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پارلمان د ډیموکراسۍ ممثله اداره

پارلمان په ډیموکراسۍ کې د خلکو د منتخبو استازو هغه اداره ده چې د خلکولپاره د قوانینو د جوړولو یا د تشریع (تحلیل تحریم) مطلق حق لري.

د اکسفورډ قاموس د (پارلمنټ)کلمه داسې تشریح کوي:

Parliament: a group of people that makes the lows of a Country.

(پارلمنټ د خلکو هغه ډله ده چې د یوه هېواد لپاره قوانین جوړوي).

مخکې ولیدل شول چې په ډیموکراسۍ کې د خلکو اکثریت د (اله) مرتبه لري، ځکه چې د سیادت (اعلی حاکمیت) حق چې د (امر) او (نهې)، (تحلیل) او (تحریم) مطلق حق دی په اکثریت پورې اړه لري. او لکه څنګه چې په دین کې د الله ﷻ فیصله نشي رد کېدلی همدا ډول په ډیموکراسۍ کې د اکثریت فیصله هم نشي رد کېدلی.

دا چې اکثریت په ډیموکراسۍ کې د (إله) مرتبه لري، نو پارلمان چې د اکثریت استازی دی د پیغمبرۍ (استازیتوب) مرتبه لري. پدې معنی چې استازی به د خپلو موکّلینو د خوښې مطابق قوانین ایجادوي او د هغوئ مصالح به تأمینوی.

ډیموکراسۍ چې اصلاً د سیکولریزم (لادینیت) پر بنسټ ولاړه ده د حکومت او نظام په چارو کې (دین) ته د مداخلې حق نه ورکوي. نو پر همدې اساس ټول هغه قراردادونه او مسودې چې د قانون کېدلو لپاره پارلمان ته د بحث او غور په مقصد وړاندې کېږي بایدپر دیني بنسټونو ولاړې نه وي.

د ډیموکراسۍ له لارې طرحې، نظریات او مسودې تر هغه وخته د تطبیق وړ نه دي چې تر څو یې د پارلمان لخوا د (قانونیت) حیثیت نه وي تر لاسه کړی. ځکه چې په پارلمان کې هغې مصوبې ته (قانون) ویل کېږي چې د پارلمان دواړه جرګې یې تصویب کړي او جمهور رئیس یې توشیح کړي، لکه چې د امریکایی اشغال د وخت د اساسي قانون په څلور نویمه ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې چې داسې تصریح ورباندې شوې ده:((قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورى د دواړو جرګــو لــه خــوا تصــویب او د جمهور رئیس له خوا توشیح شوې وي، مګر دا چې په دې اساسي قانون کې بل ډ ول څرګنده شوې وي)). ([1]). او ترڅو یې چې دا مراحل نه وي طي کړي تر هغه پورې د تطبیق وړ نه ګڼل کېږي.

په ډیموکراسۍ کې د هر فکر او نظر خلک د انتخاباتو له لارې ځان پارلمان ته رسولی شي. کفر الحاد، یا کوم بل عقیدوي انحراف پارلمان ته د هغوئ د رسیدو مانع نه ګرځي. او هر څوک چې پارلمان ته ورسېږي هغوئ هلته د خپلې خوښې او نظریې مطابق قانوني طرحې پارلمان ته وړاندې کوي، او هغوئ بیا د خپلو هر ډول افکارو او نظریاتو د بیان له امله تر عدلي تعقیب لاندې هم نشي راتلای، که څه هم چې هغه نظریات د دین په خلاف وي چې همدغه صلاحیت د امریکایانو په لاس د جوړ شوي حکومت د ۱۳۸۲هـ کال د اساسي قانون په ۱۰۱ مه ماده کې داسې بیان شوی دی:

((د ملي شورى هېڅ غړی د هغې رأیې یا نظریې له امله چې د وظیفې د اجرا په وخت کې یې څرګندوي تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي)). ([2])

پارلمان ولې طاغوتي اداره ده؟

طاغوت په اسلامي شریعت کې هر هغه څه ته ویل کېږي چې پرته له الله ﷻ یې عبادت کېږي.

عبادت یوازې لمانځه، روژې، زکات، حج او دعا ته نه ویل کېږي، بلکې د یو چا د تحلیل، تحریم او تشریع منلو ته هم ویل کېږي. پدې معنی چې که یو څوك او یا کوم جهت د یو چا لپاره داسې قانونګذاري وکړي چې حلال ورته پکښې حرام او حرام ورته پکښې حلال کړي او خلك هم د دې فرد یا جهت همدغه قانون یا قوانین ومني نو دا د دې خلکو له لوري د دې فرد او یا د دې جهت عبادت کول

---

[1] –د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون څلور نوي یمه ماده.

[2] –د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون یوسل او یوومه ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼل کېږي. دلیل یې دا لاندې حدیث شریف دی چې امام ترمذي، امام بیهقي او نورو محدثینو په خپلو سننو کې له عدي بن حاتم ﷛ څخه روایت کړی دی:

(عن عدی بن حاتم: أنّه سمع النبی ﷺ {یقرأ هذه الآیة: (اتّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَاباً مِنْ دُونِ اللهِ وَالْمَسِیحَ ابْنَ مَرْیَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِیَعْبُدُوا إِلَهاً وَاحِداً لا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا یُشْرِکُونَ)[التوبة: ٣١]، فقلت: إنا لسنا نعبدهم. قال: (ألیس یحرمون ما أحل فتحرمونه، ویحلون ما حرم الله فتحلونه؟ فقلت بلی، قال: (فتلک عبادتهم). رواه أحمد والترمذی وحسنه).

عدي بن حاتم د بنوطی د قبیلې د مشهور سخاوتمند حاتم طائي زوی ؤ، هغه مسیحیت منلی ؤ او په شام کې یې له اهل کتابو سره ژوند تېر کړی وو. هغه د خپلې خور په دعوت اسلام ته تشویق شو او پداسې حال کې د رسول الله ﷺ مجلس ته راغی چې د سرو زرو صلیب یې په غاړه ؤ. هغه وایي: زه په داسې حال کې د رسول الله ﷺ مجلس ته راغلم چې هغه مبارک د قرآن کریم دا آیت لوست :

﴿ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ التوبة: ٣١

ترجمه: (یهودو او نصارا ؤ خپل علماء او پیران له الله ﷻ پرته خدایان نیولی ؤ).

عدي﷛ وایي : ما رسول الله ﷺ ته وویل: موږ خو یې عبادت نه کاوه. رسول الله ﷺ و فرمایل: آیا هغوئ د الله حلال درباندې حراموي نه؟چې تاسې یې هم ورسره حراموئ، او د الله حرام درته حلالوي نه؟ چې تاسې یې هم ورسره حلالوئ، ماورته وویل: هو ولې نه؟ و یې فرمایل:همدغه کار دهغوئ عبادت کول دي.

دا چې په ډیموکراسۍ کې حلال او حرام د تشریعي قوې (پارلمان) لخوا تعینېږي،او د پارلمان غړوته د قوانینو د وضع کولو مطلق حق ورکړشوی دی، نو په همدې اساس دوئ ته (مشرّعین) هم ویل کېږي. پداسې حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د حلال او حرام تعينول يوازې د الله ﷻ خصوصيت دى، او په دغه خصوصيت کې د بل هر چا ورګډول د الله ﷻ د تشريع په خصوصيت کې له هغه سره شرک ګڼل کېږي، الله ﷻ تعالى فرمايي:﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ ﴾ الشورى: ٢١

ترجمه:(آيا داسې شريکان لري چې هغه دين يې ورته جوړ کړى چې الله ﷻ يې اجازه نه ده کړې؟).

په ډيموکراسۍ کې د (دين) او (اخلاقي امورو) په اړه د حکم وضع کول هم د پارلمان کار دى. د مثال په ډول که په غرب کې د پارلمان اکثريت غړي دا تأييد کړي چې (همجنس بازي) رواه ده، نو بيا هغه يو (روا) او قانوني عمل ګڼل کېږي او د هغه لپاره قوانين جوړېږي او حقوق يې تثبيتېږي. او يا دا چې که زنا د دواړو لوريو په موافقه وشي نو هېڅ جرم نه ګڼل کېږي.

په اسلام کې د (جرم) او د (سزا) تعيين د شريعت کار دى، خو دا په ډيموکراسۍ کې د پارلمان حق دي، نه د شريعت.

په ډيموکراسۍ کې به د اختلاف په صورت کې منازعه د فيصلې لپاره شريعت ته نه بلکې اساسي قانون او نورو هغو وضعي قوانينو ته وروړل کېږي چې د ډيموکراسۍ له اصولو سره سم وضع شوي دي. پداسې حال کې چې په اسلام کې د الله ﷻ له قانون او شريعته پرته بل هر قانون، شريعت او د فيصلې مرجع ته (طاغوت) ويل شوي دي. او مسلمانانو ته امرشوى چې پر هغو کافر شي (ويې نه مني). او همدارنګه د هغو خلکو ايمان د درواغو ايمان بلل شوى چې په خوله وايي مؤمن يم، خو فيصله د الله ﷻ پر قانون نه، بلکې د بل چا پر قانون کوي.

الله ﷻ فرمايي:﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓاْ أَن

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَكۡفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا ﴿٦٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيۡتَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودٗا ﴿٦١﴾ ﴾ النساء: ٦٠- ٦١

ترجمه: (آيا ته نه ګورې (اى محمده) هغه خلک چې ګومان کوي چې پر هغه کتاب يې ايمان راوړی چې نازل شوی دی تاته، او هم پر هغه چې نازل شوی ؤ تر تا د مخه، غواړي د فيصلې لپاره وړاندې شي طاغوت ته، پداسې حال کې چې دوئ ته امر شوی چې پر طاغوت کافر شي. (ويې نه مني) شيطان غواړي هغوئ ډېر زيات ګمراهان کړي. او چې کله هغوئ ته وويل شي د الله ﷻ نازل کړي کلام او رسول ته راشي (د فيصلې لپاره) نو ته وينې چې منافقان له تا څخه مخونه اړوي).

همدارنګه الله د هغو خلکو په هکله چې فيصله د الله ﷻ پر قانون نه کوي داسې فرمايي:

﴿ وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٤٨﴾ ﴾النور: ٤٧- ٤٨

ترجمه: (او منافقان وايي چې مونږ په الله ﷻ او رسول ﷺ ايمان راوړی. او طاعت مو کړی دی. خو بيا ځينې خلک لدې وينا مخ اړوي، دوئ مؤمنان نه دي. او کله چې هغوئ د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ په لور ور وبلل شي چې رسول ﷺ د هغوئ ترمنځ فيصله وکړي، نو ځينی يې نابېره ډډه کوي).

خوکه چېرې د اسلام کوم حکم له ډيموکراسۍ سره مطابق وي، او د دوئ مقاصد ورڅخه په يو ډول ترسره کېږي، نو دوئ بيا هغه د اسلام حکم هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مني. خو د دې لپاره نه چې هغه د الله ﷻ واجب العمل حکم دی، بلکې د دې لپاره چې هغه د ډیموکراسۍ مطابق دی.
پدې کار کې ډیموکراتان کټ مټ د الله ﷻ د دې وینا مصداق دي چې فرمايي: ﴿ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ﴿٤٩﴾ ﴾النور: ٤٩
ترجمه: (که چېرې حق د هغوئ پر خوا وي نو بیا ښه غاړه ایښودونکي د پیغمبر په لور را روان وي).
د اوسنۍ اسلامي نړۍ په ټولو هغو حکومتونو کې چې ځان ډیموکراټیک بولي فیصلې ورکې د الله د شریعت په خلاف د هغه اساسي قانون مطابق کېږي چې د ډیموکراسۍ له اصولو سره سم جوړ شوی وي.
په دغو حکومتونو کې د (اساسي قانون) حرمت او قداست تر (قرآن کریم) او (احادیثو شریفو) پورته وي. که چېرې د کومې فیصلې په تأیید کې هرڅومره د قرآن کریم، حدیث شریف او د شریعت دلایل راوړل شي، خو چې د اساسي قانون مطابق نه وي نو د منلو وړ نه ګڼل کېږي، او د پارلمان وکیلان هم هېڅکله داسې قوانین نشي تصویبولی چې د اساسي قانون د موادو مخالف وي. نو له همدې امله پارلمان یوه (طاغوته) اداره ده.
که په کوم اسلامي هېواد کې چې پر ډیموکراسۍ عمل ورکې کېږي او د پارلمان کوم غړی یا جهت چې د اسلام لپاره کار کول غواړي هم وغواړي چې د شریعت کوم حکم یا احکام د پارلمان له لارې د قانون په حیث عملي کړي نو باید خپل وړاندیز د مسودې په شکل پارلمان ته د بحث او رأیې اخیستنې لپاره وړاندې کړي، چې یا به تأییدېږي، او یا به رد کېږي. او د رد کېدلو په صورت کې به بیا دغه وړاندیز د یوې ټاکلې مودې لپاره دوهم ځل د بحث لپاره هم نه وړاندې کېږي.
په پورتنۍ صورت کې د الله ﷻ حکم بشر ته د (موافقې) یا (نه موافقې) لپاره وړاندې کېږي چې (وړاندې کوونکی) او (ردوونکی) یې دواړه له دین څخه وځي او کافر کېږي. ځکه چې وړاندې کوونکي دلته بل څوک د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی پر حکم (حَکَمْ) ګرځوي،او بل چاته دا حق ورکوي چې د الله ﷻ فیصله (رد) او یا (تأیید) کړي، پداسې حال کې چې الله ﷻ فرمایي: د ده فیصله هېڅوک نشي وروسته کولی:﴿وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٤١﴾﴾الرعد:٤١

ترجمه: (او اللهﷻ فیصله کوي (په هر څه چې اراده وفرمايي) نشته هېڅوک وروسته کوونکی د هغه د فیصلې، او هغه ډېر زر حساب کوونکی دی).

همدارنګه الله ﷻ فرمایي:﴿وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ﴿٣٦﴾﴾الأحزاب: ٣٦

ترجمه: (او نه ده روا هېڅ مؤمن سړي او مؤمنې ښځې ته چې فیصله وکړي الله ﷻ او رسول ﷺ یې په یو کار کې چې وي دې دوئ ته اختیار په خپل کار کې. او هر څوک چې نافرماني کوي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ، په یقین سره هغه ګمراه شو په ګمراهۍ ښکاره).

په دغه ډول پارلماني جریان کې د الله ﷻ د حکم رد کوونکی د (رد) له امله کافر کېږي، او وړاندې کوونکې یې له دې امله له دین څخه ووځي چې بل چا ته د اللهﷻ پر فیصلې د پاسه د بلې فیصلې په حق قائل دي.

په دې هکله همدغه فهم د عمر بن الخطاب ﵁ له هغه عمل څخه هم څرګندېږي چې د یوه منافق چې له یوه یهودي سره یې منازعه وه او رسول الله ﷻ د یهودي په حق کې فیصله وکړه، خو منافق پر هغې فیصلې قناعت ونه کړ،او د رسول الله ﷺ فیصله یې عمر ﵁ ته یووړه. کله چې عمر ﵁ پوه شو چې په دې منازعه کې رسول الله ﷺ یو ځل فیصله کړې ده، او منافق د رسول الله ﷺ پر فیصلې د پاسه د عمر فیصله غواړي، نو ځکه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه سړی مرتد و باله او سر یې ترې پرې کړ. رسول الله ﷺ نه یوازې دا چې پدې کار عمر رضی الله عنه ملامت نه کړ، بلکې هغه ته یې د (فاروق) لقب هم ورکړ.

په اسلام کې لکه څنګه چې د لمانځه، روژې، زکات او حج حکم د عملي کولو په مقصد د اکثریت د فیصلې لپاره نه وړاندې کېږي او رأساً یې د تطبیق امر شوی، همدا ډول حدود، حجاب، قصاص، له کفارو سره د دوستۍ حراموالی او نور احکام هم د تطبیق لپاره د اکثریت رأیې او فیصلې ته نه وړاندې کېږي. خو په ډیموکراسۍ کې دغه کار د ډیموکراسۍ د اصولو خلاف او د نه منلو دی.

د ډیموکراسۍ په هکله د دغې مقالې په پای کې دې نتیجې ته رسېږو چې ډیموکراسۍ یو غیر اسلامي، کفري شیطاني دین دی چې د انساني ژوند ټولې خواوې یې احتوا کړې دي. ډیموکراسۍ په حقیقت کې له الله ﷻ څخه د بشریت لپاره د هر ډول نظام او قانون د جوړنې د حق سلبول او- نعوذ بالله – د الله تعالی د بې واکه کولو تصور دي.

ډیموکراسي په غرب کې د مسیحیت د انحراف او د الحاد د رامنځته کېدو په نتیجه کې منځته راغلې چې هر څه ورکښې له هر دیني قید او بند څخه آزاد او د انسانانو په خپله خوښه تر سره کېږي.

په ډیموکراسۍ کې د الله ﷻ منل او نه منل دواړه یو ډول ارزښت لري. ځکه چې د منلو په صورت کې یې بیا هم د قانون او شریعت منل د ډیموکراسۍ د اصولو خلاف کار دی.

ددې مقالې په پای کې ډیموکراسي په لنډ ډول په لاندې کرښو کې داسې خلاصه کوو:

ډیموکراسۍ د غرب د ملحدو فیلسوفانو د افکارو او نظریاتو پر بنسټ ولاړه ده، له اسلام سره هېڅ ډول مشابهت او رابطه نه لري. لکه څنګه چې د اسلام د دین کمونست کېدل،مسیحي کېدل، یهودي کېدل او هندو کېدل نا ممکن دي، همداسې د اسلام دیموکرات کېدل هم ناممکن دي. خو غرب پلوي سیکولر (بی دینه) عناصر او له هغوئ څخه یو څو متأثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

غولېدلي مسلمانان کوښښ کوي چې عامو مسلمانانو ته په درواغو د اسلام او ډيموکراسۍ تر منځ روابط او مشابهتونه وتراشي، ترڅو لدې لارې هغوئ د ډيموکراسۍ د کفري دين په خلاف له مبارزې او جهاد څخه راوګرځوي.

ډيموکراسي په اسلامي نړۍ باندې د غربي استعمار او تسلط د دائمي ساتلو يو خطرناک تضمين دی چې غرب يې د زور، زر، تزوير، زندان او مرګونو په مټ په اسلامي نړۍ کې د خپلو غلامو حکومتونو له لارې خوندي او تلپاتې ساتي، او د هغې د خپرلو او تنفيذ په لاره کې په زرګونو ملياردونه ډالره، په لکونو پوځيان او پوځي وسايل مصرفوي، او د مخالفت د له منځه وړلو لپاره يې په لکونو مسلمانان په اسلامي هېوادونو کې وژني، او اسلامي حرکتونه او نهضتونه لدې وېرې له منځه وړي چې مظلوم او ځپل شوي مسلمانان د ډيموکراسۍ له کرغېړن حقيقت څخه خبر نه کړي.

اوس چې افغانستان د غرب تر يرغل لاندې راغلی دی، او پدې هېواد کې يې مرګونې جګړه پدې خاطر روانه کړې چې ډيموکراسي ورکښې نافذه کړي، نو په کار ده چې افغان مسلمان ملت د خپل دغه دښمن په فکري، عقائدي او اخلاقي ماهيت پوه شي، او د دښمن هويت ورته له هرې زاويې معلوم شي.

البته ځينې په زړه خيرنو خلکو په ځينې موارو کې د اسلام او ډيموکراسۍ تر منځ يو څه مشابهونه تراشلي، او هم يې په ديموکراتيکو نظامونو کې د کار کولو د جواز لپاره ځينې دلائل ذکر کړي، او يو څه شبهې يې هم را ولاړې کړې دي چې موږ په خپل بل کتاب (فکري پوهنه) کې د شرعي او عقلي دلائلو په رڼا کې په تفصيل سره خبره ورباندې کړې ده. د زيات تفصيل غوښتونکي دې هغه کتاب ته رجوع وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صليبي جګړو نن او پرون د عواملو او مشابهتونو په رڼا کې

پدې کې هېڅ شك نشته چې د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې روانې جګړې صليبي جګړې دي. په دغو جګړو کې يوې خواته مسلمانان دي چې د خپلې بقا او د اسلامي نظام د حاکميت لپاره په خپل کور کې په دفاعي جهاد مصروف دي، او بلې خواته غربي صليبيان او يا د هغوئ شرقي ملګري دي چې د صليبيانو په ګټه د خپلو ملتونو په خلاف جنګېږي.
دغه صليبي جګړې کومه اوسنۍ خبره نه ده، بلکې دا د هغو جګړو دوام دی چې څه باندې زر کاله مخکې د غرب د کليسا مشرانو د اروپا د بادشاهانو په توسط د صليب تر بيرغ لاندې د اسلام په خلاف پيل کړې وې، او په لکونو صليبي عسکرو او جنګي بدمعاشانو ورکې برخه اخيستې وه.
دا چې د پرونيو او ننيو صليبي جګړو تر منځ کوم مشابهتونه او مشترك علتونه او عوامل موجود دي؟ او موږ څنګه د جهاد او مبارزې په مسير کې د تاريخ له تکرارېدو استفاده وکړو، پدې مضمون کې د پرونيو او ننيو صليبي جګړو د اسبابو، عواملو او نتائجو د څو مهمو مشابهتونو په هکله د خپل ولس په خدمت کې څو ټکي وړاندې کووم:

۱ــ د جګړې د اسبابو او عواملو مشابهتونه:

پرونۍ صليبي جګړې د اسلام پر ضد پداسې حال کې پيل شوې وې چې اسلامي امت د اسلامي نړۍ په داخل کې له څلورو خطرناکو مشکلاتو سره مخ ؤ. دغو مشکلاتو دښمن ته د دې زمينه برابره کړې وه چې د مسلمانانو پرضد داسې لويه جګړه اعلان کړي چې د اروپا ټول ملتونه ورکې شريك وي.
هغه څلور مشکلات په لاندې ډول وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – د مسلمانانو د یوه دولت او خلافت پر ځای د ډېرو کمزورو دولتونو شتون:

په شپږمه هجري پېړۍ کې صلیبیانو پداسې حال کې د مسلمانانو په خلاف جګړې ته ملا وتړله چې اسلامي خلافت او د مسلمانانو ځواکمن دولت په څو کمزورو دولتونو وېشل شوی ؤ. مسلمانه افریقا او د آسیا ځینې عربي او فارسي سیمې اسماعیلي(عبیدي) او نورو شیعه ګانو لاندې کړې وې، چې له یوې خوا یې د (اهل سنتو) مسلمانانو په اړه د دښمنۍ موقف او روحیه درلوده او له بل لوري یې د کفارو په خلاف پر جهاد باور نه درلود.

جزیرة العرب، عراق، او شام د سلجوقي دولت له زوال وروسته پر بېلابېلو وړو وړو کمزورو امارتونو وېشل شوي وو.

د هند، منځنۍ آسیا او خراسان روابط هم په سیاسي او پوځي لحاظ له عربي او نورو اسلامي سیمو سره کمزوري وو.

په دغه ډول حالاتو کې د اروپا (کلیسا) هڅه کوله چې د اروپا بېلابېل دولتونه سره یو کړي، او دا کار هغه وخت ممکن ؤ چې کلیسا دوئ ټول د یوه بهرني دښمن د مقابلې په صف کې درولي وای. هماغه ؤ چې د کلیسا مشرانو اروپایان د اسلامي نړۍ د اشغال، او د اسلام پر ضد د جنګ لپاره وهڅول.

د کلیسا له لوري د جنګ لپاره دخلکو د هڅولو حرکت تقریباً نوي کاله وخت واخیست، چې په لومړي ځل د (پاپ دوهم سلفستر) لخوا په ۱۰۰۲ م کال کې پیل شو، او بیا وروسته (پاپ خوریفوریوس) پوره شل کاله په مسلسل ډول اروپایان ورته په خورا احساساتي ډول وهڅول، تر څو چې په ۱۰۹۷م کال کې اروپا خپله لومړۍ صلیبي حمله د مسلمانانو پر ضد پیل کړه، او پدې ډول یې د اروپا مختلف دولتونه د اسلام په مقابل کې د صلیب تر بیرغ لاندې سره یو کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس پدې زمانه کې هم مسلمانان د يو قوي اسلامي خلافت يا څو محدودو قوي اسلامي دولتونو پر ځای پر اوه پنځوس (**۵۷**) کمزورو دولتونو وېشل شوي دي چې يو يې هم له خپل ځان څخه د غربي دولتونو په مقابل کې پر دفاع قادر نه دی، بلکه ټول يې د عقيدوي، تشريعي، سياسي او فکري انحرافونو له امله د غربي نړۍ د هېوادونو په غلامۍ کې اخته دي، او د تقريباً يو نيم مليارد مسلمانانو موقف يې دومره کمزوری کړي چې ټوله اسلامي نړۍ يې د غرب په يوې لويې وېشل شوې مستعمرې بدله کړې ده، او له ټولو يې د کفارو په مقابل کې د دفاع قدرت سلب کړی دی. او د دې کار نتيجه دا راوتلې چې هر مسلمان هېواد په ځانګړې ډول د کوم غربي هېواد تر تأثير او قوماندې لاندې چلېږي.

۲- د منحرفو فرقو او نظرياتو موجوديت:

له هغو اسبابو څخه چې صليبي اروپا يې د اسلامي نړۍ لاندې کولو ته تشويق کړه يو هم په اسلامي نړۍ کې په فکري او عقيدوي لحاظ د منحرفو او ګمراه فرقو شتون ؤ. دغو ګمراه فرقو که له يوې خوا مسلمانان خپلو بې لارو او باطلو نظرياتو ته وربلل، او له صحيح اسلام څخه يې منحرفول، نو له بلې خوا يې د مسلمانانو پر ضد د صليبيانو مرسته هم کوله.

د مثال په ډول په مصر او فريقا کې (عبيدي) يا (فاطمي) دولت له يوې خوا خلك د زور او تزوير له لارې د (اسماعيلي تشيع) د باطلې عقيدې منلو ته اړ کړي وو، او له بلې خوا د فاطمي دولت مشر وزير (شاور) صليبيانو ته پټ پيغامونه لېږل او هغوئ ته يې ويل چې تاسو له بهر څخه د (صلاح الدين ايوبي) پر لښکر چې له شام څخه د مصر د حفاظت لپاره ورغلی ؤ حمله وکړئ، او مونږ به د مصر له دننه څخه د هغه پر خلاف عسکري اقدام وکړو، او پدې کار سره به اسلامي نړۍ له يو ستر مجاهد (صلاح الدين ايوبي رحمه الله) څخه محرومه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شيعه عبيديان له دې وېرېدل چې مصر ته د صلاح الدين په ورتګ او هلته په پاتې کېدلو به د اسماعيليه باطل مذهب له منځه ولاړ شي، او خلك به بېرته اصلي اسلام ته وروګرځي، نو ځکه يې صليبيانو ته پر سني مسلمانانو ترجيح ورکوله.

همدا ډول په هغه وخت کې په جزيرة العرب او فارس کې د (حشاشينو) په نامه د اسماعيليه (باطنيه) شيعه ګانو يو بل خطرناك حرکت تسلط پيدا کړی وو. اسماعيليه وو د عباسي سني خلافت پر ضد پراخ فعاليتونه شروع کړي وو، اسلامي شريعت يې لغو اعلان کړی وو، محرمات يې جائز ګڼلي وو، د اسلامي نړۍ حاجيان يې له حج څخه منع کړي وو، (حجر اسود) يې له کعبې څخه غلا کړی او تر شلو کلونو زيات يې له ځانه سره د (احساء) په سيمه کې ساتلی وو.

په هغه وخت کې اسماعيليه وو ته ورته نورې فکري او مذهبي منحرفې ډلې هم رامنځ ته شوې وې چې دښمنانو له دغو باطلو او منحرفو ډلو څخه د مسلمانانو په ځپلو او له منځه وړلو کې استفاده وکړه.

نن هم چې صليبي لښکرو پر افغانستان، عراق،شام، صومال، ايريتيريا ، او نورو هيوادونو خپل تسلط ټينګ کړی يوه زياته برخه اسلام ته منسوبې منحرفې ډلې يې له ځانه سره ملګرې کړې او تر يوه حده يې په سياسي قدرت کې شريکې کړې هم دي.

د دغو اوسنيو ډلو او فرقو پلويان ځينې د غربي (سيکولرو) نظرياتو خاوندان دي چې د اسلام له نظام سره يې سخته دښمني ده، که څه هم چې په خوله ځانونو ته مسلمانان وايي، خو په حقيقت کې غربي، صليبي، او يا لبېرال او ډيموکرات نظريات ورته تر اسلامي نظرياتو، احکامو او ارزښتونو ډېر ارزښتمن دي.

او ځينې نور يې بيا د اسلام په نامه له جهاد ، مجاهدينو او د اسلامي نظام د قيام لپاره له کار کولو سره مخالفت کوي. په دغو ډلو کې سنيانو ته منسوبې ډلې هم شته، لکه ځينې تصوف او روحانيت ته په درواغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

منسوبې بدعتي ډلې، او يا ځنې درباري تش په نامه سلفي او د ډيموکراتيك اسلام د پلويانو ډلې چې له جهاد او مجاهدينو څخه کرکه لري، خو له سيکولرو او لادينه احزابو سره د امريکا او نورو صليبيانو تر حمايې لاندې د ګډو حکومتونو جوړولو ته تيارې دي. خو تر ټولو خطرناك موقف بيا د شيعه ډلو دی چې په ټوله اسلامي نړۍ کې دسني مجاهدينو پر ضد د صليبيانو علني ملاتړ کوي.

د شيعه جهتونو په سر کې د ايران شيعه حکومت دی چې په عراق کې يې د شيعه ګانو قدرت ته د رسېدلو لپاره د امريکايانو مرسته وکړه، او لا اوس يې هم کوي، او په خپل ټول توان هڅه کوي چې په عراق کې د امريکايانو لخوا د شيعه ګانو او سيکولر عناصرو لپاره جوړ شوی حکومت او په سوريه کې د نُصيري باطني فرقې حکومت د مجاهدينو لخوا ړنګ نشي، او هلته يو قوي واقعي اسلامي حکومت قائم نشي.

په عراق کې د تشيع مذهبي مشر سيستاني د مجاهدينو پر ضد د امريکا تر څنګ ودريد ، او د عراق ټولو شيعه ګانو ته يې د امريکايي ادارې د طاعت توصيه وکړه.

همدا ډول په افغانستان کې ټول شيعه احزاب په يومخيز او مسلسل ډول په هغو حکومتونوکې شامل شول چې امريکايانو د افغانستان لپاره جوړ کړل. کېداي شي ځينې خلك ووايي چې په افغانستان کې سنيان هم د امريکايي ادارې برخه دي، دا خبره صحيح ده چې يوه برخه يې لارې، خرڅ شوي او مرتد عناصر به د هغوئ تر بيرغ لاندې درېدلي وي، خو نور ټول سنيان د امريکا په مخالف صف کې ولاړ دي او د مجاهدينو ملاتړ کوي. پداسې حال کې چې د صليبيانو په خلاف په اوسني مقاومت کې نه کوم شيعه تنظيم ولاړ دي، او نه هم په شيعه ميشتو سيمو کې د امريکا په ضد کوم جهادي حرکت او يا مخالفت ليدلی کېږي.

په اسلامي نړۍ کې د سنّي مجاهدينو په هکله د ايران او په نړۍ کې د ټولو شيعه ګانو او غربيانو موقف يو ډول دی، او ټول په مشترك ډول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغږې سره کار کوي چې مجاهدين بايد په هېڅ صورت کې د اسلامي دولت جوړولو ته پرې نښودل شي.

پر افغانستان د صليبيانو په اوسني تسلط کې (اسماعيليه) شيعه ګان هم چې په افغانستان کې د (آغاخانيانو) او (کيانيانو) په نامه پېژندل کېږي ښه په ټينګه د صليبيانو ترڅنګ ودريدل. د (منصور نادري) پيروان د آغاخان د نړيوالې مؤسسې له اقتصادي امکاناتو څخه په استفادی د امريکا او اروپايي دولتونو تر حمايې او سيوري لاندې د افغانستان پر درې مهمو او حياتي برخو لکه مېډيا ، بانکدارۍ، او تعليم مسلط شول، او د (طلوع) او (لمر) د تلويزيونونو په لرلو يې ټول افغانستان مستقيماً د غربي فرهنګ تر تأثير لاندې راووست.

صليبيان فکر کوي چې د دوئ تر وتلو وروسته د افغاني شيعه ګانو ډلې چې اسماعيليه او اماميه شيعه ګان ټول ورکې د خليلي، محقق، محسني، نادري، او نوروشيعه رهبرانو په مشرۍ شاملې دې د صليبيانو ښه خلف ثابتېدلی شي، له همدې امله يې هغوئ ته د هر ډول پرمختګ زمينې او وسائل برابر کړل، او د اشغال په کلونو کې يې د غربي ډيموکراسۍ په قالب کې د حکومت کولو ښه تمرين هم ورکړ.

امريکايانو او د سيمې شيعه جهتونو د يو سنجول شوي پلان له مخې د کابل ښار د افغانستان د شيعه ؤ په تر ټولو لوی مرکز تبديل کړ، او په زرګونو تعليمي، حرفوي، سياسي، فرهنګي، قومي او اقتصادي مراکز او مؤسسات يې ورته د کابل په شيعه ميشتو سيمو کې جوړ کړل.

له بلې خوا د افغاني مرتد شويو مسيحيانو په نشراتو، ويب پاڼو، راډيويې او تلويزوني خپرونو کې هم ليدل کېږي چې ډېره برخه مرتد شوي مسيحيان هم د افغانستان په هزاره توکم پورې اړه لري، که څه هم چې د نورو قومو اړوند خلك هم ورکې ليدل کېږي.

په مجموع کې ويلای شو چې په افغانستان، عراق او سيمه کې د منحرفو فرقو او مذهبي ډلو شتون د صليبيانو د يرغل لپاره يو ښه مشوق، او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ د تسلط د قيام لپاره يو قوي تضمين دی. او هر څومره چې دغه منحرفې ډلې په سياسي، اقتصادي، تعليمي، فرهنګي او اجتماعي لحاظ تقويه کېږي، په هماغه اندازه دلته د صليبيانو د پاتې کېدلو چانس نور هم زياتېږي.

د دې لپاره چې د صليبيانو په ګټه د محلي ملګرتيا او تقويې منابع وچ شي، او د سيمې د خلکو له مرستو څخه بې برخې شي، نو د صليبيانو او د هغوئ د ملګرو د قتال تر څنګ د دغو منحرفو فکري فرقو چې که هغه سيکولر احزاب او ټولنې دي، او که مذهبي فرقې دې هم بايد د هراړخيزې فکري، فرهنګي او اجتماعي مقابلې پلان تر کار لاندې ونيول شي.

۳- په مسلمانو هېوادونو کې د سياسي قيادت د نا اهلۍ ستونزه :

د پرونيو او ننيو صليبي جګړو تر منځ د مشابهت يو بل ټکی په مسلمانو هېوادونو کې د سياسي قيادت د نا اهليت ستونزه ده. د پخوانيو صليبي جګړو تر پيل کېدو مخکې اسلامي سيمې د داسې خلفاوو، پادشاهانو، وزيرانو او واليانو لخوا اداره کېدې چې د قيادت او ولايت سم اهليت يې نه درلود. د هغوئ ځينې به په موروثي شکل قدرت ته رسيدلي ول، ځينې به په فکري او اخلاقي لحاظ منحرف وو، او ځينې نورو ته د امت تر عليا مصالحو خپل شخصي مصالح ډېر مهم وو، او د هغو د خوندې ساتلو لپاره د خپلو مسلمانو وروڼو په مقابل کې له صليبيانو سره ايتلاف ته هم تيار وو، او هغه مخلص قائدين او مشران چې د قيادت استعداد يې درلود هغوئ د خپلو حريفانو له طرفه د دښمنانو له مقابلې مشغول کړل شوي وو. د دې وضعيت نتيجه په هغه وخت کې دا راووتله چې دښمن په ډاډه زړه د مسلمانانو پر هېوادونو حملې وکړي، ځکه هغوئ پوهېدل چې اسلامي نړۍ له داسې قيادت څخه بې برخې ده چې مسلمانان د صليبيانو په خلاف د جهاد لپاره تيار کړي، او په خپله دجګړو قيادت وکړي. خو په مقابل کې اروپا خپل تر ټولو پياوړي او د ښه عسکري او قيادي اهليت خاوندان د جګړې د رهبري کولو لپاره راولېږل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن هم د سياسي قيادت په ډګر کې اسلامي هېوادونه له همدغه ډول يو مشابه وضعيت سره مخ دي، مسلمانان په سياسي لحاظ د خلافت له اسلامي واحد نظام څخه بې برخې دي، او د اسلامي نړۍ د اکثره هېوادونو قيادت د نااهلو، بې دينو ډارنو او عيش پرستو پادشاهانو او مشرانو په لاس کې دی چې په موروثي ډول د قيادت سلسله په همدوئ کې راروانه ده او د اسلامي هېوادونو سره او سپين ، اقتصادي منابع، نفت او ګاز، لوی صنعتونه او هر څه د همدوئ په انحصار کې دي، او مسلمان ملتونه يې د فقر او لوږې په حالت کې ځانته تابع او محتاج ساتلي دي. دغو پادشاهانو په استبدادي ډول د الله ﷻ د شريعت پر ځای غربي قوانين پر خپلو ملتونو تحميل کړي دي، او د اسلامي قوانينو او شريعت د تنفيذ مخه يې نيولې ده.

د ځينې نورو هېوادونو قيادت بيا د داسې بې دينه او سيکولرو حکامو په لاس کې دی چې غرب د اسلامي نړۍ پر هېوادونو په بېلابېلو طريقو مسلط کړي دي. دغه ډول حکام په حقيقت کې په اسلامی نړۍ کې د غرب د پلانونو تنفيذوونکي دي، او دا کار چې په هر قيمت ورته تماميږي هېڅ پرواه يې نه لري. دوئ د غلاوو، بډو او اختلاس د بېلابېلو جناياتو مرتکبين دي. دغه حکام په ديني لحاظ د شريعت احکامو ته هېڅ ډول پابندی او التزام نه لري، او تر ټولو سخته دښمني يې له هغه چا سره ده چې د الله ﷻ د شريعت د تطبيق لپاره کار کوي. ځکه چې دوئ پوهېږي چې کله په ريښتني ډول اسلامي شريعت تطبيق شي نو دوئ به بيا حاکمان نه وي، بلکه د ملي خيانتونو او لويو جناياتو د ارتکاب له امله به محاسبه ورسره کېږي. نو دوئ فکر کوي چې په هره وسيله چې وي بايد د اسلام د حکومت د جوړېدو او د خلافت د رامنځته کېدو مخنيوی وکړي،او خپل ټول پوځونه او نور مادي او معنوي وسائل د مجاهدينو پر ضد د جګړې ميدان ته راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي نړۍ نن ورځ د دغه ډول بې دينو، ډارنو، مفسدواو مرتدو حکامو په يرغمل کې ده.
پر افغانستان او عراق د امريکا د حملې پر مهال وليدل شول چې په ټولو اسلامي هېوادونو کې هېڅ رئيس او بادشاه د امريکا د صليبي حملې په مقابل کې څه مخالفت ونښود. بلکه ټولو په چوپه خوله د امريکا د ملګرتيا لاره غوره کړه.
که د اسلامي نړۍ يوازې يو څو هېوادونه هم د صالحو او مؤمنو قيادتونو لخوا داره کېداى او په خپل منځ کې يې د اسلام د غوښتنو پر اساس د تعاون يو اتحاد درلودلی نو صليبي نړۍ به د مسلمانانو پر ضد دغه ډول يو اقدام ته په آسانه زړه نه واى ښه کړى.

۴- د صليبيانو اقتصادي مصالح او پراخ غوښتنه:

د پرونۍ او ننۍ صليبي جګړې د عواملو ترمنځ يو بل مشابهت د صليبيانو د ديني هدف ترڅنګ د اقتصادي او د پراخ غوښتنې د اهدافو تحقق دی. پرون چې اروپايي صليبيانو په کومه زمانه کې د اسلام په خلاف صليبي جګړې پيل کړې وې هغوئ پخپله هغې زمانې ته د اروپا په تاريخ کې د تيارو زمانه (Dark Ages) وايي، او د تيارو زمانه ځکه ورته وايي چې په هغه وخت کې په اروپا کې د روم امپراتوري له منځه تللې وه، د يونان فلسفه او عقلي علوم هم تر خاورو لاندې شوي ول، او اروپايانو په جهل، غربت، خپل منځي جګړو، مذهبي استبداد او نابرابرې طبقاتي ټولنه کې ژوند کاوو چې د ژوند آسانتياوې د يو څو محدودو پادشاهانو او د کليسا د مشرانو په واک کې وې، او نورو خلکو د غلامانو په څېر د خوارۍ ژوند تېراوه. د زراعتي حاصلاتو يوه زياته برخه به يې ظالمو حکومتونو او د کليسا مشرانو په ډول ډول ټکسونو کې ورڅخه په زوره اخيسته.
له بل لوري د اروپايانو د نفوسو شمېر په ډېرېدوؤ، او د اروپا وچه يې د ځان لپاره کافي نه ګڼله. په مقابل کې اروپايانو په هغه زمانه کې ليدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي نړۍ د هر ډول نعمتونو ځای دی، او اسلامي تمدن خلك له جهل او فکري بېرته پاتېوالي څخه د رڼا او هوسا ژوند په لوري راوېستلي دي، او د مدیترانې د سمندر په شرقي او جنوبي څنډو کې یې په هغو سیمو کې خپل بیرغ پورته کړی چې د اسلام په اولو وختونو کې دنصرانیانو تر تسلط لاندې وې.

د اروپا دغو بدو اقتصادي حالاتو اوروپایي مشران دېته وهڅول چې د اقتصادي مقاصدو او د پراخ غوښتنې په خاطر پر اسلامي نړۍ یرغل وکړي. د کلیسا مشرانو هم دغه یرغل د مذهبي او اقتصادي مصالحو په خاطر تائید کړ او د جګړې میدان ته ورسره راووتل، او پدې ډول د اروپا د سیاسي او دیني مشرانو د اهدافو مشارکت دوئ په خپلو کې سره یو ځای کړل.

نن هم په اسلامي نړۍ کې د نفتو او ګازو دومره لوی، ارزښناك او د اقتصادي اهمیت وړ ذخایر پراته دي چې ټوله دنیا ورته محتاجه ده، او د دنیا د نفتو او ګازو اتیا په سلو کې ضرورت د اسلامي نړۍ له هېوادونو پوره کېږي. که مسلمان هېوادونه یوازې تېل هم د سیاسي او اقتصادي فشار د یوې وسیلې په حیث استعمال کړي نو د ټولې دنیا خلك به یې د خبرې منلو ته تسلیم شي.

د نفتو او ګازو د اهمیت تر څنګ د اسلامي نړۍ د جغرافیوي موقعیت اهمیت پدې کې هم دی چې د ټولې نړۍ اکمالاتي او تجارتي لارې داسلامي نړۍ د هېوادونو له بري، بحري، او هوایي حدودو څخه تېرېږي، او مسلمانان د یو صالح قیادت او قوي حکومت په لرلو سره کولی شي چې د نورې نړۍ پر خلکو خپل تجارتي شرایط ومني. ځکه چې په تجارتي او ترانسپورتي لحاظ د ستر اهمیت لرونکي د نړۍ اوه سمندري معبرونه چې د (جبل الطارق)، د مصر (سویز کانال)، (باب المندب)، د (هرمز) تنګی، د (باسفور) او د (دردنیل) تنګي او د (مالکا) معبرونه دي دا ټول په اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ کې موقعیت لري چې له طریقه یې د ټولې نړۍ سمندري تجارت او ترانسپورت تر واك لاندې راوستل کېدی شي.

د پرونیو او ننني‌و صلیبي جګړو د اسبابو او عواملو تر منځ نور هم ډېر لوی او واړه مشابهتونه شته چې دا ټول موږ ته دا را په ګوته کوي چې ترڅو چې مسلمانانو په داخل کې له دې عواملو څخه ځان نه وي خلاص کړی نو تر هغه وخته به د صلیب پیروانو ته اسانه وي چې پر اسلامي نړۍ پرله پسې یرغلونه وکړي، مسلمانان تسخیر کړي، پر خاوره یې خپل تسلط ټینګ کړي، شتمنۍ یې غلا کړي او د اسلام د دین د تحریف پراخې هڅې په کار واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرب د مسلمانانو لپاره څه ډول اسلام غواړي؟

غرب که ل يوې خوا په ټوله نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو په خلاف يوه هراړخيزه جګړه پيل کړې ده نو له بلې خوا ښه په شد او مد سره دا دعوه هم کوي چې غرب له اسلام سره دښمني نه لري، بلکې په اسلامي نړۍ کې د حکومتونو مرستې کوي، او غربي هېوادونه او مؤسسې د مسلمانو ولسونو د ژوند د سطحې د لوړولو او هغوئ ته دخدمت کولو لپاره ښه ډېر پلانونه او پروژې لري چې دا هر څه پدې دلالت کوي چې غرب له اسلام او مسلمانانو سره دښمني نه لري.
پورتنۍ دواړه خبرې هره يوه پر خپل ځای سمه ده. او هغه داسې چې غرب په خپل ذهن کې دوه ډوله اسلام لري، يو هغه اسلام دی چې د الله تعالی له لوري پر محمدﷺ نازل شوی، مسلمانانو د تاريخ په اوږدو کې منلی او له هغه يې دفاع کړې ده. او همدغه دين مسلمانان د يو داسې امت په حيث معرفي کوي چې په خپل هر څه کې له نورو خلکو جلا او د خپل ايمان له امله تر نورو ټولو انسانانو غوره دي. دغه اسلام مسلمانانو ته د شريعت د منلو او نورو خلکو ته د هغه د ور رسولو امر کوي، او دعوت د مسلمانانو وظيفه او د دعوت د رسولو په لاره جهاد فريضه بولي.
د دې اسلام شريعت په هر څه کې پوره دی، او له نورو دينونو او نظرياتو سره نه (پيوندکارۍ) مني او نه ورته ضرورت لري. دغه اسلام له خپل ځانه پرته نورو ټولو دينونو او نظرياتو ته (کفر) (جاهليت) او (فتنه) وايي، او خپلو پيروانو ته امر کوي چې د(کفر) (جاهليت) او (فتنې) په خلاف شرعي (قتال) او (جهاد) وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اسلام (حق) يوازې په خپل ځان کې منحصر ګڼي، ځکه چې د ټولو پخوانيو منسوخ شويو اسماني دينونو (حق) او ښېګڼې يې په خپله غېږه کې راټولې کړې دي.

دوهم ډول اسلام هغه دی چې غرب د خپل (استشراقي)،(استعماري) (تنصيري) او د (پراختيا غوښتنې) د فهم، غوښتنو او مصالحو په رڼا کې د مسلمانانو لپاره جوړ کړی، او په اسلامی نړۍ کې يې د خپلو حليفو نظامونو، مؤسساتو او مفکرينو په توسط پر مسلمانانو ورتپل او مسلطول غواړي.

دغه دوهم ډول اسلام د (الهي وحيې) او (نبوي تعليماتو) پر بنسټ نه بلکې يو (ديموکرات) او د خلکو په خوښه جوړ شوی اسلام دی چې د قوانينو مصدر ورکې (قرآن او سنت) نه بلکې د (انسانانو عقل) او (د اکثريت غوښتنې) دي.

د غرب دغه اسلام بنيادموته يوازې د انسان په نظر ګوري، ټول انسانان ورکې يو ډول حيثيت، مرتبه او احترام لري، او د تفاضل (يو پر بل د برترۍ) ټول اسباب او عوامل ردوي، د ټولې نړۍ له خلکو سره په يو ډول (مشترکو ارزښتونو) باور لري، او يو ډول بين المللی سياسي، حقوقی او مدني قوانين مني.

د غرب پدې معرفي شوي اسلام کې د (جهاد)، (ولاء او براء) او پر نورو اديانو او نظرياتو د (غلبې فکر) ته ځای نشته. دغه اسلام کوم ځانګړی شريعت نه لري، بلکې په هغو (وضعي قوانينو) فيصله کوي چې انسانانو د خپل (عقل) او (ضرورت) پر بنسټ جوړ کړي دي.

پدې اسلام کې د(ښو) او (بدو) اخلاقو، افعالو او عقائدو تعيين د شريعت حق نه بلکې د انسانانو خپل حق دی. هر څه ته چې ښه وايي هغه (ښه) او هر څه ته (بد) وايي هغه (بد) دي. په دې اسلام کې مسلمان کېدل (د اسلام د دين اختيارول) يو مکلفيت نه بلکې يو اختيار دی چې انسان په اسلام کې پاتې کېږي او که کمونيزم، ليبراليزم، ديموکراسي، هيومنزم، نشنلزم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او يا کومه بله نظريه او دين مني. خو په هر صورت کې به انسان بيا هم مسلمان ګڼل کېداى شي که وغواړې چې (مسلمان) دې وګڼل شي.

د غرب له لوري دغه ډول جوړ شوى اسلام د غرب د (بشري حقوقو د نړيوالې اعلامې) له بې استثناء منلو سره هېڅ ستونزه نه لري. او همدارنګه په ټولو هغو (ميثاقونو) او (تړونونو) عمل کول نه يوازې روا بولي بلکې د مسلمانانو مکلفيت يې بولي چې د (ملګرو ملتونو) د ادارې، د (امنيت د شورى)،(ناټو)،(اروپايي اتحاديې) او نورو لويو سازمانو او ادارو له لوري رامنځته شوي دي.

پدې اسلام کې له ولسونو سره د روابطو، جنګ او سولې لپاره معيار (دين) او (عقيده) نه بلکې سياسي او اقتصادي مصالح دي. همدا رنګه پدې اسلام کې د(جنس) فرق نشته، ښځې او نارينه ټول يو ډول حقوق او وجايب لري او په هر څه کې سره برابر دي.

غرب له هغه اسلام سره چې د الله تعالى ﷻ له طرفه راغلى دښمني لري، خو د دې دوهم ډول اسلام د خپراوي لپاره هم کار کوي او هم يې په اسلامي نړۍ کې له پيروانو څخه هر اړخيز ملاتړ کوي.

د دې لپاره چې دا موضوع مو د دلايلو په رڼا کې روښانه کړې وي په لاندې عنوانو يې ويشو:

له ريښتيني اسلام سره د غرب دښمني:

غربيان په مجموعي ډول چې که هغه (يهودان) يا (نصرانيان) دي، او يا هم ملحدان (دين نه منونکي) دي، دا درېواړه طايفې د اسلام له شروع نه تر نن پورې له اسلام سره په جګړه کې دي، چې د رسول الله ﷺ په خلاف د يهودانو توطيې، د اصحابو کرامو په خلاف په شام کې د مسلطو روميانو لښکرکشۍ، د اسلام په تاريخ کې صليبي جګړې، د غربي دولتونو له لوري استعمارې جګړې او د جهاد او ريښتني اسلام په خلاف روانه نړيواله جګړه يې ټول تاريخي شواهد دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن کريم په ډېرو آيتونو کې اهل کتاب (يهود) او (نصارى) او نور کافران د الله تعالى ﷻ او د مسلمانانو د دښمنانو په حيث معرفي کوي، او مسلمانان ديته هڅوي چې د هغوئ دښمنۍ ته تيار و اوسي، او له هغوئ سره په هېڅ ډول دوستي ونه کړي، ځکه چې هغوئ تر هغه د مسلمانانو له دښمنۍ لاس نه اخلي چې تر څو يې مسلمانان کافر کړي نه وي، لکه چې الله تعالى ﷻ فرمايي:﴿وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴾البقرة : ١٢٠.

ترجمه: (هېڅکله به يهود او نصارى له تا څخه خوشحاله نشي تر هغه چې د دوئ په ملت پسې روان نه شې).

علماء وايې چې پدې آيت کې د(لن) ټکى درې مفهومه افاده کوي چې (نفي)،(تأکيد) او (تأبيد) دي. يعني په يقيني ډول به دوئ هېڅکله له تاسې څخه تر هغه وخته راضي نشي تر څو مو چې د دوئ لاره نه وي خپله کړې.

الله تعالى په بل آيت کې له مسلمانانو سره د کفارو د تعامل په اړه فرمايي :﴿وَلَا يَزَالُونَ يُقَـٰتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَـٰعُوا۟ ﴾البقرة: ٢١٧.

ترجمه: (همېشه به کافران له تاسې سره جګړه کوي تر څو تاسې له خپل دين (اسلام) څخه مرتد کړي که چېرې دوئ پدې کار وتوانېږي).

د عربي ژبې علماء وايې چې د دې آيت د(ولايزالون) په تعبير کې د (استمراري تجدد) مفهوم پروت دى، پدې معنى چې جګړه به مستمره او دايمي وي، خو په شکل او وسائلو کې به يې تبديلي او نوى والى راځي.

قرآن کريم پدې دواړو آيتونو کې د (حتى) ټکى د مسلمانانو په خلاف د کفارو د ناراضۍ او د هغوئ د جګړې د (فاصل حد) په حيث ذکر کړى دى، پدې معنى چې که مسلمانان تر (حتى) پر دمخه حالت ټينګ ولاړ ول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د کفارو پیروي یې نه کوله، نو د هغوئ په خلاف به د کفارو ناراضي او جګړه دوام لري، او په بېلابېلو ډولونو به د اسلام او مسلمانانو په خلاف د کفارو ناراضي او جګړه دوام لري. خو که یې د کفارو د ملت پیروي وکړه، او د خپل دین د احکامو له عملي کولو وګرځېدل، نو په هغه وخت کې به بیا د دوئ په خلاف د کفارو جګړې او مخالفت پای مومي.

د ریښتني اسلام په خلاف دغرب د معاصرو رهبرانو دریځونه:

د معاصر غرب سیاسي پوځي او فکري رهبران هم په همدې ټینګار کوي چې مسلمانان باید د غرب (نظریات)، (نظامونه) (قوانین)، (فرهنګ) او (ژوند بڼه) ومني، او که یې په رضا نه مني نو باید په زور او جبر وربانديې ومنل شي.

(رنډکارپوریشن) چې په امریکا کې دامریکا نظام ته له امریکا او امریکایي ارزښتونو څخه د دفاع لپاره د تحقیقاتو، مشورو ورکولو او استراتیژیکو مطالعاتو لوی او مهم مرکز دی د معاصرې امریکا لوی رهبران او مفکرین چې د هغوئ په ډله کې د امریکا پخوانی د دفاع وزیران (هارولډ براون)، (فرانك کارلوچي)،(ولیام پیري)، (ډونالډ رامسفیلډ)، د ملي امنیت پخواني لوی مدیران او مشاورین (سیکوکرفت)، (کنډولیزا رایس)، (زلمی خلیلزاد)، په دوهمه نړیواله جګړه کې د امریکایي پوځ لوی قومندان جنرال (آرنولډ)، د امریکا معاصر فیلسوف او مفکر (فرانسیس فوکویاما) او د امریکا پخوانی مشهور خارجه وزیر (هنري کیسنجر) شامل دی د دې مرکز غړي او مشاورین دي. دغه مرکز د امریکا لپاره د اسلامي نړۍ په اړه د پالیسۍ جوړولو ستر تحقیقاتي مرکز دی.

دغه مرکز په خپله هغه څېړنه کې چې په ۲۰۰۴م کال کې یې د (ډیموکراتیك متمدن اسلام) په نامه خپره کړې دا تشخیصوي چې د مسلمانانو او غرب تر منځ به تر هغه وخته کشمکش روان وي چې تر څو مسلمانانو غربي فرهنګ او ارزښتونه چې دغه مرکز یې (نړیوال فرهنګ او ارزښتونه) بولي نه وي قبول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځېړنه دغه مفهوم پدې ټکوکې بيانوي:
(له نړيوال فرهنګ څخه د مسلمانانو ليرې والی د هغوئ او د نورو ترمنځ د کړکيچ زمينه برابره کړې ده).
په پورتنې عبارت کې که څه هم چې د مسلمانانو په خلاف د غرب د جنګ عامل چې د مسلمانانو له لوري د غرب د فرهنګ نه منل دي په ادبي الفاظو بيان شوی او په منافقانه ډول د غرب فرهنګ ته ورکې نړيوال فرهنګ ويل شوي، خو د پورتنۍ خبرې ريښتنې معنی او مفهوم دا دی چې د مسلمانانو او غرب ترمنځ به جګړه او کړکېچ تر هغه دوام لري چې تر څو مسلمانانو (خپل فرهنګ) پرې ايښی او د غربيانو په تعبير (نړيوال فرهنګ) يې خپل کړی نه وي. او هر کله چې د فرهنګونو دغه توپير له منځه ولاړ شي نو په هغه صورت کې به کړکيچ هم په خپله له منځه ځي. او دا کټ مټ هماغه مفهوم دی چې الله تعالی په قرآن کريم کې په مخکنيو يادو شويو آيتونوکې بيان کړی دی.
د غرب او د اسلام ترمنځ د جګړې په اړه معاصر امريکايې مشهور مفکر او فيلسوف (ساموېل هټنګټن) چې د (تمدنونو د ټکر) په نامه د جنجال پاروونکي مشهور کتاب مؤلف هم دی داسې وايي :
(د اسلامي او غربي تمدن ترمنځ ټکر له ۱۳۰۰کلونو راهيسې راروان دی. او دا ټولې پيړۍ د اسلام او غرب ترمنځ په مسلح کشمکش کې تېرې شوې او هېڅکله هم د دې جګړې اور ندی مړ شوی. د دې تمه نه کېږي چې دغه کشمکش به له منځه ولاړ شي، بلکې نور به هم زور واخلي، ځکه چې اسلام وينې بهوونکی تصور لري).
دغه معاصر فيلسوف چې نظريات يې د امريکا په جنګي او استراتيژيکو پلانونو کې مهم ځای لري په صراحت سره غرب او اسلام يو د بل دښمن معرفي کوي او په ښکاره وايې چې د غرب او د اسلام ترمنځ د جګړې د درېدلو څه امکان نشته، او علت يې هم دا ښيي چې اسلام له غرب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړه نه مني، او د خپلې بقا لپاره خپلو پيروانو ته د قربانۍ او وينو تويولو تصور ورکوي.
د ريښتني اسلام او غرب ترمنځ د جګړې د حقيقت او دوام په اړه هغه کميسيون هم چې د (ستمبر د يوولسم) د پېښې په اړه يې تحقيق وکړ دې نتيجې ته رسېدلی چې له اسلام سره سوله نشي کېدای. دغه کميسون په خپل راپور کې ليکلي :
(د امريکا حقيقي دښمن اسلامي راديکال بنسټپال فکر دی، هغه چې د (ابن تيميه) او (سيدقطب) له افکارو يې سرچينه اخيستې ده. او لدې فکر سره په هېڅ ډول د سولې مجال نشته).
امريکايي محققينو ته دا ښه ورمعلومه ده چې اسلام د (ابن تيميه) او (سيدقطب) د افکارو زېږنده نه دی، بلکې هغه د الله تعالی دين دی چې (ابن تيميه) او (سيدقطب) يې منونکي او پيروان دي، خو دوئ دا دواړه ځکه مشخص کړي دي چې دې دواړو هر يوه په خپل وخت کې د اسلامي فکر د (خالصيت) لپاره ژور کار کړی، او له اسلام څخه يې په خپل وخت کې (جاهلي تصورات) په خورا زوړرتيا او معقوليت سره څنډلي دي، او مسلمانان يې د (معاصرو جاهليتونو) په خلاف مبارزې ته هڅولي، او هغوئ ته يې د جاهليت په خلاف د مقاومت داسې يو روڼ تصور ورکړی دی چې له جاهليت سره ورکې د جوړ جاړي لپاره هېڅ ځای نشته.
امام (ابن تيميه) په خپل وخت کې ټول هغه (جاهلي تصورات) له اسلامي فکر څخه ليرې کړل چې جنګيزيانو د خپل مقدس قانون (يا سق) په بڼه کې د اسلامي او غير اسلامي احکامو او تصوارتو په سره يو ځای کولو رامنځته کړي وو او له هغو څخه يې په اسلامي نړۍ کې د خپلو رعاياوو لپاره د ژوند تېرولو لائحه او قانول جوړ کړی وو.
او (سيدقطب) په شلمه ميلادي پيړۍ کې د غرب ټول هغه تاثيرات له اسلامي فکر څخه وغورځول چې غرب د (کمونيزم)، (ليبراليزم)،

(c) ketabton.com: The Digital Library

(نشنلیزم)، (ډیموکراسۍ) او نورو نظریاتوپه بڼه په اسلامي فکر کې ور داخل کړي ول.

که د اسلام او مسلمانانو په اړه د معاصر غرب د رهبرانو دریځونو او ویناوو ته پام وکړو نو وبه وینو چې هغوئ په ښکاره د اسلام په خلاف خپله جګړه اعلانوي، او غربیان د مسلمانانو په خلاف جګړې او د هغوئ د هېوادونو نیولو ته هڅوي.

د امریکا پخواني جمهور رئیس (ریچارډ نکسون) په خپلو یادښتونو کې د مسلمانانو په اړه وایي :

((د مسلمانانو په اړه مونږ د حل یوازې دوه لارې لرو:

اوله دا چې له یوې مخې یې له منځه یوسو.

دوهم دا چې په مدني او سیکولرو ټولنو کې یې ویلي کړو)).

دا چې لومړی کار غربیانو ته ناممکن او مسلمانانو ته مقاومت پاروونکی دی نو ځکه خو غربیانو د مسلمانانو د تسخیرولو لپاره په پراخه پیمانه له دوهمې حل لارې څخه کار اخلي.

همدارنګه د امریکا په خارجه وزارت کې د پلان جوړونې د څانګې پخوانی رئیس او د منځنې ختیځ لپاره د امریکا د یوه پخواني جمهور رئیس (جونسن) مشاور (ایوګین روستو) وایي :

((مونږ باید پدې پوه شو چې زموږ او عربو ترمنځ اختلافات د دوو دولتونو او یا دوو ولسونو ترمنځ اختلافات ندي، بلکې دا د اسلامي نړۍ او مسیحي تمدن تر منځ اختلافات دي، او د تاریخ حالات د دې ګواهي ورکوي چې امریکا د غربي نړۍ یو تکمیلوونکی جز دی چې د غرب د فلسفې، عقیدې او نظام د تکمیل لپاره کار کوي، او دغه وظیفه امریکا په شرق کې د اسلامي نړۍ، اسلامي فلسفې او اسلامي عقیدې او دین په خلاف د جګړې په صف کې دروي. امریکا لدې پرته بله لاره نه لري چې په شرق کې د اسلام په خلاف د یهوانو تر څنګ ونه دریږي، ځکه چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريکا لدې پرته بله لاره غوره کړې نو بيا به يې خپلې ژبې، خپل فرهنګ، خپلې فلسفې او خپلو ټولو بنسټونو ته شاه کړې وي)).

(ايوګين روستو) په پورتني عبارت کې د دې نظريې اظهار کوي چې په اسلامي نړۍ کې د غربي اشغالګرو او يرغلګرو هدف د اسلام او اسلامي تمدن له منځه وړل دي، او د دې کار لپاره په شرق کې د يهودي دولت ټينګول او له هغه څخه ملاتړ د غرب يو استراتيژيك ضرورت دی.

کله چې په تېره پېړۍ کې په مراکش کې د فرانسې جګړه اوږده شوه نو د فرانسې د پارلمان ځينې غړي د فرانسې خارجه وزير (مسيو بيدو) ته ورغلل تر څو له هغه وغواړې چې دې جګړې ته نور د پای ټکی معلوم کړي، هغه ورته په ځواب کې وويل :

((دا د هلال او صليب ترمنځ جګړه ده)).

پدې معنی چې تر څو د مسلمانانو د مسجدونو پر منارو (هلال) پورته وي، او د غرب پر کليساګانو (صليب) ولاړ وي نو دا جګړه به روانه وي.

د مسلمانانو په خلاف د جګړې او پر اسلامي نړۍ د تسلط په اړه د برتانيې پخوانی صدراعظم (ګلاډستون) وايي :

((تر څو چې قرآن د مسلمانانو په لاسونو کې وي نه به اروپا هېڅکله اسلامي نړۍ تر خپل تسلط لاندې راوستلی شي، او نه به په خپله په امن کې وي)).

د پورتني خبرې مطلب دا دی چې اروپا خو په هر صورت پر اسلامي نړۍ د تسلط هڅې جاري ساتي، خو د دې تسلط په مخکې خنډ د مسلمانانو په ژوند د قرآني تعليماتو شتون او عملي کېدل دي، او تر څو چې مسلمانان د ژوند په چارو کې د قرآن له تعليماتو ليري نه کړای شي نو تر هغه به غرب خپل هدف ته ونه رسېږي.

غرب او په سر کې يې امريکا غواړي چې په هر قيمت چې وي بايد د نړۍ خلك د غرب سياسي، فکري، اخلاقي او اقتصادي ارزښتونه او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

برلاسی ومني. او که يې ځوك په خپله خوښه نه مني نو بايد په زور ورباندې ومنل شي.
د (جنګ او سولې لپاره په يو ويشتمه پېړۍ کې د پنتاګون نقشه)
(The Pentagon's new map: war and peace in the twenty first century)
نومي د کتاب ليکوال او د امريکا د دفاعي چارو کارپوه .Thomas P.M. Barnett) په خپل کتاب کې ليکي :
((د امريکا اوسنی نقش يوازې د ډيموکراسۍ او د بشر د حقوقو نشرول ندي، بلکې تر دې مهم د(پانګه وال نړيوالتوب) عملي کول دي چې بايد د نړۍ په بېلابېلو برخو کې يې عملي کړي، که څه هم چې په عملي کولو کې به يې د زور استعمال او د وسلې کارولو ته ضرورت پېښ شي)).
پر اسلامي نړۍ د امريکايي تسلط او دلته د امريکايي ارزښتونو د حاکمولو په اړه د امريکا د ملي امنيت پخوانۍ مشاوره او د (بوش) د وخت د امريکا خارجه وزيره (کنډوليزا رايس) هم وايي چې:
((مونږ بايد په منځني ختيځ کې د کرکې او وژنې د افکارو (جهادي افکارو) په خلاف د جګړې له ټولو هغو لارو چارو کار واخلو چې د کمونيزم په خلاف مو د سړې جګړې په وخت کې ترې کار واخيست، او پدې فکري جګړه کې زمونږ اساسي هدف امريکايي ارزښتونو لکه آزادۍ، ډيموکراسۍ او آزاد بازار ته رواج ورکول دي)).
د غرب په معاصرو فلسفي مفاهيمو کې (آزادي) د چا له تسلط څخه خلاصون ته نه ويل کېږي، بلکې د غربيانو په نزد آزادي (لبيراليزم) له (دين) او (اخلاقي قيدوبند) څخه آزاد اوسېدلو ته ويل کېږي. او ډيموکراسي بياد غرب سياسي او اجتماعي نظام دی، او آزاد بازار يې پر کمزورو هېوادونو د اقتصادي برلاسۍ وسيله ده. نو د (کنډوليزارايس) د خبرو ساده مفهوم دا دی چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ بايد اسلامي هېوادونه له دين او ديني اخلاقي ارزښتونو آزاد کړو، شريعت او د اسلام ټولنيز نظام له منځه يوسو، او د مسلمانانو پر اقتصاد اواقتصادي منابعو د آزاد بازار له لارې خېټه واچوو، او د دې کار لپاره بايد هر اړخيزه فکري جګړه وکړو.

تر دې ځايه خو له ريښتني اسلام سره د غرب د دښمنۍ په اړه قرآني دلائل او د غرب د رهبرانو، فيلسوفانو او مفکرينو دريځونه او ويناوې شوې چې د غرب او د اسلام ترمنځ د جګړې پر حتميت ټينګار کوي، خو غرب د (ريښتني اسلام) په خلاف د جګړې تر څنګ په اسلامي نړۍ کې د يو بل اسلام د رائجولو لپاره هم هر اړخيز کار کوي چې پدې اړه به په لاندې کرښو کې د غرب د رهبرانو د ويناوو او دريځونو يادونه وکړو:

هغه اسلام چې غرب يې د مسلمانانو لپاره غواړي:

هغه اسلام چې غرب يې د اسلامي نړۍ او مسلمانانو لپاره غواړي د امريکا د استراتيژيکو څېړنو تر ټولو ستر مرکز (رنډکارپورېشن) يې پدې ډول تعريفوي :

((امريکا، نوې صنعتی نړۍ او په مجموع کې نړيواله ټولنه يو داسې اسلام غواړي چې د نورې نړۍ له نظامونو سره پر يوه لار روان شي، ډيموکراتيك او مترقي اسلام وي، او پر نړيوالو قوانينو، احکامو او اخلاقو وچلېږي)).

په پورتني ياد شوي تعريف کې لاندې نقطې مشخصې شوې دي :

١ - اسلام بايد د امريکا او بين المللی ټولنې په خوښه وي.

٢ - اسلام بايد يو بېل تشخص او ځانګړی نظام او شريعت ونه لري، بلکې د نورې نړۍ له نظامونو سره دې يو ډول وي.

٣ - اسلام بايد ډيموکراتيك وي، يعنې قوانين او احکام دې يې دخلکو لخوا د اکثريت د تأييد په شکل کې رامنځته شوي وي، نه دا چې د (وحيې) او (سنت) پر بنسټ دې ولاړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – اسلام دې باید خپل زوړ شکل پرېږدي اینبی وي، او (نوی مترقي) شکل دې یې غوره کړی وي.
۵ – اسلام باید په خپلو احکامو او اخلاقي فلسفه کې پر نړیوالواحکامو او اخلاقو وچلېږي.
همدارنګه د هغه اسلام په اړه چې غرب یې د مسلمانانو لپاره غواړي د پینتاګان په یوه راپور کې چې (عقلونه، زړونه او ډالر) په نامه لیکل شوی وو او په ۲۰۰۶م کال د U.S newse امریکایي مجلې خپور کړ د امریکا د دفاع وزارت داسې لیکلي دي :
(دامریکا د ملي امنیت مصالح یوازې په هغه څه پورې اړوند نه دي چې په اسلامي نړۍ کې پېښېږي، بلکې په خپله د اسلام په دین پورې اړه لري، او د دې معنی دا ده چې تر دې وروسته به زمونږ هڅې خپله د اسلام دین ته د جګړې د یوه ډګر په حیث متوجه وي، او دا توجه به پدې مقصد وي چې اسلام به پر نویو بنسټونو درولی کېږی، پدې معنی چې اسلام باید په غربي معیارونو برابر شي، او پر هغو افکارو ترکیز وکړي چې د اسلام او غرب ترمنځ مشترك دي، اسلام باید داسې پیغام ولري چې د (جهاد او قتال)، (ولاء او براء) افکار او نظریات او د اسرائیلو په خلاف دکرکې او نفرت روحیه ورکې نه وي)).
د اسلام د بدلولو په اړه د رنډکارپوریشن د اداري مجلس مشر او د امریکا پخوانی د دفاع متعصب وزیر (ډونالډ رامسفیلډ) هم داسې وایي :
((مونږ غواړو چې د منځني ختیځ د هېوادونو اسلام باید داسې شي لکه د شرقي اروپا دخلکو اسلام)).
له شرقي اروپا څخه د (ډونالډرامسفیلډ) مقصد (بوسنیا)، (البانیا)، (کوسووا) او (مقدونیا) دي، هلته چې مسلمانانو ته یې یوازې د اسلام نوم ورپاتې دی، خو نور ژوند یې په مکمل ډول اروپایې او (سیکولر) یا (الحادي) شکل غوره کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د غرب يوه بله مشهوره څېره او په نړۍ کې د جهادي فعاليتونو د څارنې د ادارې (Jihad watch) مشر (روبرټ سپنسر) د اسلام د بدلولو په اړه وايي:

(نوی اسلام بايد پدې معنی وي چې نور دې د قرآن ټکي په ټکي منل پريښودل شي).

يعنې هغه خلک چې د اسلام د نوي تعبير لپاره کار کوي هغوئ بايد داسې يو اسلام ايجاد کړي چې خلک ورکې د ټول قرآن په منلو مکلف نه وي.

معاصر امريکايې مفکر او فيلسوف (فرانسيس فوکوياما) او (د تاريخ پای) د کتاب ليکوال هم وايي چې :

((زه نور څخه داسې سبب نه وينم چې خلک دې اسلام ته له يوه نوي شکل ورکولو څخه منع کړي)).

دا يوازې د امريکا رهبران او مفکرين ندي چې د اسلام بدلول غواړي، بلکې د اروپا مشهور شخصيت د فرانسې پخوانی خارجه وزير او بيا صدراعظم (نيکولای سرکوزي) هم وايي :

((هغه اسلام چې فرانسه يې غواړي هغه فرانسوي اسلام دی، نه په فرانسه کې اسلام)).

يو بل فرانسوی مفکر (جيل کپيل) چې په ۲۰۰۴ م کال کې يې (د اسلام په زړه کې د جګړې فتنه) په نامه کتاب وليکه، هغه هم په خپل کتاب کې د نوي غربي ډوله اسلام او په هغه کې د يو نوي نسل د روزلو په هکله په خپل کتاب کې ليکلي :

((په اسلامي نړۍ کې يوه اسلامي فتنه (بنسټپالنه) پيدا شوې ده، دغې (فتنې) اروپا ته هم سرايت کړی دی، او لدې فتنې څخه د خلاصون يواځينۍ لار دا ده چې د مسلمانانو يو نوی نسل دې د غربي ډوله فرهنګ په غېږه کې و روزل شي.))

د امريکا مشهور يهودی مفکر (توماس فريدمان) غرب ته توصيه کوي او د اسلام د تبديلولو په هکله داسې ورته وايې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

((که غرب غواړي چې له اسلام سره د لښکرو په جګړه کې ښکيل نشي نو د اسلام په خلاف دې په اسلام کې دننه د افکارو جګړه پيل کړي)).

بې شريعته اسلام:

د برتانيې پخواني خارجه وزير په **۵ / ۱۰ / ۲۰۰۵** م تايخ د (Heritage Foundation) داستراتيژيکو څېړنو مرکز ته د تروريزم (جهاد) په هکله يوه وينا وکړه، هغه په خپله وينا کې وويل :

((په حقيقت کې دا افکار او نظريه ده چې تروريستان يې په خوځښت راوستلي دي. هغه آزادي غوښتونکي حرکتونه چې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته په اسلامي نړۍ کې رامنځته شول او د استقلال، مساوات، دوينا د آزادۍ او ديته ورته شعارونه يې درلودل هغه تر ډېره حده د زغملو او ملنو وړ وو، او له ډېرو سره يې جوړه هم وشوه. خو هغه چې په هېڅ صورت ورسره مذاکرات نشي کېداى او د منل کېدو ندي هغه دا دي چې :

اسلامي خلافت دې بېرته اعاده شي.

په اسلامي هېوادونو کې دې شريعت تطبيق شي.

په اسلامي هېوادونو کې د د نارينه وو او ښځو ترمنځ د مساوات نشتوالى ومنل شي.

او په اسلامي نړۍ کې دې د نظر د اظهارولو آزادي سلب شي.

ځکه چې دا هر څه زمونږ د تمدن بنسټونه دي، او د دې اصولو پر سر په هېڅ صورت له چا سره جوړ جاړى نشو کولاى)).

د فرانسې اوسنى جمهور رئيس (فرانسوا هولاند) هم په کلکه ددې مخالف دى چې د نړۍ په کوم ځاى کې دې شريعت تطبيق شي.

هغه د (مالي) په هېواد کې د (انصارالدين) د مجاهدينو د تنظيم په خلاف چې په هغه هېواد کې د شريعت د تطبيق لپاره راپورته شوي وو د فرانسې د يرغل په ورځ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(نړیواله ټولنه په هېڅ صورت او په هېڅ ځای کې د شریعت تطبیق نشي زغملی، او دا هغه موضوع ده چې په قطعي ډول نه ورباندې له چا سره د خبرې امکان شته، او نه له چا سره وربانديې جوړ جاړی کېدی شي.

فکري جګړه او د اسلامي مفاهیمو تحریف:

د غرب سیاسي او فکري رهبرانو دا خبره درك کړې ده چې تر څو مسلمانان پر خپلې اسلامي عقیدې او خپلو اصلي اسلامي مفاهیمو ټینګ ولاړ وي نو تر هغه پورې به د یوه قوي او غالب امت په حیث په نړۍ کې خپل وجود ساتي. او دا ځکه چې د مسلمانانو د قوت اصلي سرچینه د دوئ په عقیده او فکر کې ده. له همدې امله د غرب سیاسي، فکري او نظامي رهبران هڅه کوي تر څو د مسلمانانو نوی نسل د اسلام پر عقیدې او مفاهیمو بې باوره کړي، او په سیستماتیك ډول یې په ذهنونو او زړونو کې غربي مفاهیم ورځای کړي، تر څو د وخت په تېرېدلو پخپله له اسلامه فاصله ونیسي، او د غرب لاره د ځان لپاره د خیر او سعادت لار او غربي معیارونه د ځان لپاره د کمال او پرمختګ معیارونه وګڼي.

امریکایي صهیونست مفکر (توماس فریدمان) پدې هکله وایي: (که غرب غواړي چې له اسلام سره د لښکرو په جګړه کې ښکیل نشي نو د اسلام په خلاف دې په اسلام کې دننه د افکارو جګړې ته ور داخل شي). (اسرائیلی ورځپاڼه یدعوت احرونوت ۲۰۰۳ / ۸ / ۲۰۰۳م).

یو بل امریکایی پوځي او سیاسي مفکر د نږدې ختیځ لپاره د واشنګټن د استراتیژیکو څېړنو پخوانی مدیر او د (تروریزم په خلاف فکري جګړه) د کتاب لیکوال (رابرټ سوتلوف) په خپل کتاب کې امریکاته توصیه کوي او ورته وایي:(امریکا باید په منځني ختیځ او اسلامی نړۍ کې د ځوانانو د عقلونو په راخپلولو او هغوئ ته د امریکا په اړه د یو ښه تصور په ورکولو ترکیز وکړي، او دې هدف ته د رسېدلو لپاره باید له ناپوځي وسائلو لکه مطبوعاتو، راډیوګانو، تلویزونونو، موسیقۍ، تعلیمي مؤسسو، لوبو او امریکا ته د ځوانانو له راغوښتلو څخه کار واخلي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هڅه دې وکړي چې د اسلامي نړۍ د ځوانانو له زړونو او ذهنونو جهادي روحيه وباسي).

همدارنګه د برتانيې پخوانی صداعظم (توني بلير) هم پدې نظر دی چې بايد د مسلمانانو په خلاف دې فکري جګړه وشي، هغه وايي : (که غواړو چې جګړه د دښمن خاورې ته نقل شي ، نو اول دهغوئ (مسمانانو) افکارو او دعوت ته ماتې ورکړئ).

دامريکا پخوانی د دفاع د وزير مرستيال (وولف ويتز) هم د بوش د جګړې له اعلان څخه وروسته وويل : (زمونږ جګړه د فکرونو او عقلونو جګړه ده او ددې لپاره چې تروريزم (جهاد) ته ماتې ورکړو نو بايد په فکري جګړه کې کامياب شو).

د(وولف ويتز) دغه وينا د (بوش) پر هغې وينا تاکيد وه چې د سپتمبر د يوولسمې د پېښې له پېښيدو يې وروسته وکړه او ويې ويل : (موږ په بېلابېلو پوځي ، اقتصادي، سياسي او فکري ډګرونو کې په جګړه مصروف يو).

دبوش د ادارې د دفاع وزير او پر افغانستان دامريکايې يرغل سمبالوونکی (ډونالډ رامسفيلډ) هم په ۳۰۰۳ م کال کې په خپله يوه وينا کې وويل : (مونږ به فکري جګړه هم کوو لکه څنګه چې پوځي جګړه کوو، او موږ پدې ټينګ ايمان لرو چې زموږ افکار او نظريات بې مثاله دي).

نوموړي زياته کړه :(زموږ د فکري جګړې هدف د خلکو فکرونه بدلول دي، او پدې لاره کې زموږ کاميابي حتمي ده. موږ بايد يوازې پر پوځي جګړې اکتفاء ونه کړو).

د مسلمانانو په خلاف پر فکري جګړې د امريکايانو او برتانويانو تر څنګ د ايټاليې مشران هم ټينګار کوی، پدې اړه د ايټاليې پخوانی صدراعظم (برلس کوني) وايي:(معاصر غربي تمدن تر اسلامي تمدنه ډېر غوره او ډېراوچت دی، او لکه څنګه چې زموږ تمدن (کمونيزم) ته ماتې ورکړه، همدارنګه به اسلامي تمدن ته هم ماتې ورکړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په خلاف د بوش د صليبي جګړې تر اعلانولو وروسته په اروپا کې د ناټو د پوځي ترون عمومي مشر امريکايي جنرال (کلارک) د مسلمانانو په خلاف د فکري جګړې هدف ښه په رسا ټکو کې بيان کړ، او په ډاګه يې کړه چې د دې جګړې هدف د سپتمبر د پيښې انتقام اخيستل ندي، بلکې په خپله د اسلام تحريف او د امريکا په خوښه اسلام ته د يو نوي شکل ورکول دي، هغه وايي:

(که څوك پدې باور وي چې موږ به له خپلو کورنو د دې لپاره راوتلي يو چې د سپتمبر د يوولسمې د پيښې انتقام واخلو نو هغوئ دې خپل دغه غلط تصور سم کړي، ځکه چې قضيه داسې نده. هغه اساسي قضيه چې موږ د هغې د حل لپاره راوتلي يو هغه په خپله (اسلام) او د هغه تفسير او تعبير دی. موږ د دې لپاره راوتلي يو چې دا خبره په يومخيز ډول فيصله کړو چې آيا ربښتيا هم اسلام د سولې دين دی لکه څنګه چې خلك ګومان کوي!؟ او که هغه يو داسې دين دی چې خپل پيروان د جهاد په شکل کې تاو تريخوالي ته تشويقوي. وګورئ ! دا يوه ډېره مهمه قضيه ده چې تر يو مليارد ډېر مسلمانان پدې نړۍ کې اوسېږي او دوئ ټول له خپل دين څخه الهام اخلی. دغه مسلمانان کولی شي چې نړۍ د امن ځای وګرځوي، او هم دا کولی شي چې د نړۍ امن او استقرار لړزندکړي. نو ځکه موږ دا نه غواړو چې اسلام دې خپله ازادي ولري، او مسلمانان دې د دې صلاحيت ولري چې کوم شی (اسلام) دی؟ او کوم شی (اسلام) نه دی؟ نور به موږ د دې فيصله کوو چې کوم شي ته دې اسلام وويل شی).

د جنرال (کلارك) پورتنۍ څرګندونې د ده شخصې نظر ندي، بلکې هغه د اسلام په خلاف د ناټو د هېوادونو او حکومتونو د تفکر حقيقت دي چې د يوه پوځي جنرال په ژبه څرګند ېږي.

غرب غواړي اسلام د (وحيې) او (سنت) له چوکاټه وباسي او د بشري عقل او غوښتنو پر بنسټ يې ودروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرب هم پخپله او هم په اسلامي نړۍ کې د خپلو (سيکولرو) او (ډيموکراټو) ملګرو په توسط هڅه کوي چې د اسلام (قداست) او د هغه د (نه بدلېدلو) اصل له منځه يوسي، او د نورو بشري فلسفو او نظرياتو په څېر داسې يو شی ورڅخه جوړ کړي چې هر څوك يې په هغه ډول تعبير او تفسير کړي چې زړه يې غواړي، او هېڅوك بايد دا حق ونه لري چې د بل چا تعبير او تفسير ته غلط ووايي.

غرب په عملي ډول په اسلامي نړۍ کې پراخې هڅې پيل کړي چې د دغه ډول (پيوندي اسلام) په رامنځته کولو کې چې د (روا) او (ناروا) او د(ښه) او (بد) فيصله ورکې د غربي نړۍ په واك کې وي، او په اسلامي نړۍ کې د داسې يو نسل روزنه او پالنه وکړي چې تش په نامه مسلمان وي، خو نور د ژوند په ټولو سياسي، اجتماعي، اقتصادي، فکري، فرهنګي او نورو ډګرونو کې د غرب پر لاره روان وي. دغه نسل به داسې خلك وي چې نه به په عملي ډول اسلام مني، او نه به ورڅخه په صراحت سره خپل (ارتداد) ښکاره کوي، د اسلام هر څه ته به د شك په نظر ګوري، خو د غرب په نظرياتو او قوانينو به يې اطمينان حاصلېږي، او هماغه به ورته د پرمختګ لاره ښکاري.

د اسلام د تحريفولو او د هغه په خلاف د فکري جګړې لپاره د غرب وسائل :

غرب او په سر کې يې امريکا د اسلام د تحريف او د هغه په خلاف د فکري جګړې لپاره بېلابېل وسائل کاروي چې ځينې مهم يې په لاندې ډول دي:

١ – ميډيا او مطبوعات

٢ – تعليم او تربيه

٣ – مالي او پوځي مرستې

۴ – قوانين او سياسي فشارونه

۵–منځلاري او منځلاريتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ مېډيا او مطبوعات:

د اسلام د تحريف او د مسلمانانو د بې لارې کولو لپاره د غرب په لاس کې مېډيا او مطبوعات تر ټولو خطرناکه وسيله ده، ځکه چې غرب کولی شي د دې وسيلې له لارې د مسلمانانو هر فرد ته پداسې شکل خپل پيغام ور ورسوي چې مسلمان به ورباندې پوه هم نشي چې د بل چا پيغام اخلي او د هغه مطابق خپل ژوند عياروي.

د دې لپاره چې غرب خپله فکري جګړه په مؤثر او پراخ ډول د مسلمانو ولسونو په خلاف پرمخ بوځي هڅه کوي د خپل قوي اقتصاد په مټ په اسلامي هېوادونو کې په لسګونو زره د مېډيا کارکوونکي، ژورنالستان، ليکوالان، اديبان، مؤلفين، مفکرين، د پوهنتونو استادان، ايمان خرڅوونکي ملايان او پيران، ممثلين او سينماګران، د کتابونو ناشران او نور هغه عناصر په ډالرو خريداري کړي چې په ډېرې سپين سترګۍ او مکر د دښمن پيغام په آسانه خپل ولس ته رسولی شي.

کله چې امريکا پر افغانستان او عراق تېری وکړ همدغه چاره يې ترسره کړه، او د خپلو ډالرو په زور يې په زرګونو د قلم، فکر او وينا خاوندان د مجاهدينو په خلاف د خپلو يرغلګرو قواوو ترڅنګ ودرول.

کله چې امريکا افغانستان اشغال کړ نو د (سپينې ماڼۍ) د ارتباطاتو مدير (ټاکر اسکيو) د جګړې د فکري اړخ د پرمخ بيولو او د اسلام د مفاهيمو د تحريف لپاره يو مفصل پلان جوړ کړ او د (بوش) ادارې ته يې وړاندې کړ.

(ټاکر اسکيو) د خپل پلان لنډيز سپينې ماڼۍ ته پدې الفاظو کې وړاندې کړی وو: (موږ پيسې لرو، تجربه لرو، افکار او نظريات هم لرو، ځکه خو د امريکا په مقابل کې هڅوك د فکري جګړې په ډګر کې نشي درېدلی).

د (ټاکر اسکيو) د پلان د عملي کولو لپاره امريکا په افغانستان او سيمه کې د فکري بدلون لپاره پراخ پلان تطبيق کړ، او هغه پدې ډول چې د عربي نړۍ لپاره يې د (امريکا غږ د راډيو تلويزون) تر څنګ د (الحرّة

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلويزون، د (سوا) او (العراق الحُرّ) راډيوګانې جوړې کړې. او د افغانستان او پښتنو لپاره يې هم د (امريکا غږ) تر څنګ د (آشنا تلويزون) د(آزادۍ)، (ډيوه) او (مشال) راډيوګانې هم جوړې کړې.
د يادو شويو لويو او قوي راډيوګانو تر څنګ د امريکا د نړيوالې پراختياد مؤسسې(USAID) لخوا په افغانستان او سيمه کې ۱۷۰ د (F.M) راډيوګانې هم جوړې شوي. د همدغو راډيوګانو د چلولو لپاره امريکا په زرګونو (لوستي) او يا (نيم لوستي) ځوانان استخدام کړل، او هم يې دغو راډيوګانو ته له ډېرو پخوانيو (کمونستانو)، له غربه له راغليو (سيکولرانو) او منحرفو (جهاديانو)، (ډيموکراټو اخوانيانو) او د (ماډرن اسلام) له منونکو (فرهنګيانو) څخه (کارپوهان)، (مبصرين) او (فيلسوفان) هم جوړ کړل، چې دغو ټولو بياحالات د دښمن په ګټه تشريح کړل او د هغه جنايات يې توجيه کړل.
امريکا دغه خلك ښه استعمال کړل، او د دوئ په ژبه يې خلکو ته د هغه اسلام ډنډوره وغږوله چې غرب يې د مسلمانانو لپاره غواړي، او همدغه تجربه يې د اسلامي نړۍ په ټولو هېوادونو کې عملي کړه چې خطرناك او تباه کوونکي نتائج يې ولرل.
خو کله چې تر څوارلس کلنې ناکامې جګړې وروسته امريکايان په دې پوه شول چې په افغانستان کې نور د دوئ پلانونه نه کاميابېږي او ډالر يې هسې بېځايه مصرفېږي نو د جنګې لګښتونو د کمولو تر څنګ يې پر هغو رسنيو او نشراتي مؤسساتو هم خپل لګښتونه ودرول او يا يې کم کړل چې د پوځي اشغال په وخت کې يې د (آزادو رسنيو) په نامه را منځته کړې وې. په دې هکله په 2015/08/24 تاريخ دافغانستان مشهورې انټرنټي وېبپاڼې(نن ټکی آسيا) په دې عنوان چې (**د امريکا په مرستو ولاړې رسنۍ له ګواښ سره مخ دي**) د واشنګټن پوسټ د ورځپاڼې د يوه ځانګړي راپور لنډيز خپور کړ چې ورکې راغلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په یوه مفصل راپور کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو له وتلو سره د هغو رسنیو برخلیك څېړلی چې د امریکا په مالي ملاتړ رامنځ ته شوې دي. د ورځپاڼې په باور دغه امریکایي رسنۍ د امریکایانو له وتلو سره له حیاتي ګواښ سره مخ دي. ورځپاڼه وایي، دغه رسنۍ په یوه «دښمن چاپېریال» کې اوسېږي.

راپور په کابل کې د «نی» خبري ادارې له انګړ څخه پیلېږي. خبریال د «نی» ادارې هغه امنیتي تدابیر بیانوي، چې دغې ادارې له هغې وروسته ونیول، چې د طالبانو له خوا په دې تورنه شوه چې د »امریکایانو د فرهنګي یرغل مرکز» دی. د نی ادارې مالي لګښت امریکایان ورکوي. کله چې طالبانو پر نی ادارې تور پورې کړ چې ګواکې د امریکایانو کلتوري ګټې پالي، دغې ادارې خپلو کارکوونکو ته څو ورځې رخصت ورکړ. د ادارې مشر داسې انګېرله چې د طالبانو له خوا به د برید هدف وګرځي. د نی اداره چې پخوا د دارالامان پر عمومي سړك كې وه، له ګواښ وروسته یې ځای هم بدل کړ.

واشنګټن پوسټ لیکي: د طالبانو حکومت له ړنګېدو وروسته امریکایانو ۱۱۰،۷ میلیونه ډالر ولګول، چې په افغانستان کې »ازادې رسنۍ» رامپیاوړې کړي. ورځپاڼه وایي: «د طالبانو د حکومت له نسکورېدو سره په دغه جګړه ځپلي هېواد کې 'ازادو رسنیو' په ډېرې چټکۍ سره وده وکړه .«خو ورځپاڼه دا هم وایي، چې د دغو «ازادو» رسنیو بودیجه او تخنیکي سلاکاران د امریکایانو له خوا ګومارل کېدل. د ورځپاڼې په باور پر افغانستان د امریکا د یرغل له مهمو اهدافو څخه د بیان ازادي وه.

واشنګټن پوسټ په افغانستان کې د امریکا په مالي مرستو ولاړې رسنۍ «خپلواکې» بولي. ورځپاڼه وایي، د طالبانو د حکومت پر مهال خپلواکې رسنۍ فعاله نه وې.

واشنګټن پوسټ وړاندې لیکي: «د امریکا په مالي مرسته د سروې له مخې، نن د سلو شاوخوا ټلویزیونونه او د ۲۵۰ شاوخوا راډیوګانې فعاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. له ۲۰۰ زياتې ورځپاڼې او مجله خپرېږي». د ورځپاڼې په خبره په افغانستان کې دمګړۍ ۳۴ خبري اژانسونه او ۱۷ د ژورنالیستانو د روزنې مرکزونه کار کوي. يو له دغو مرکزونو څخه هم نی دی. د واشنګټن پوسټ له نظره، نی د «ازادو رسنیو» د پیاوړتیا لپاره هڅې کوي او خپله بودیجه د امریکا د پراختیایي ادارې له خوا ترلاسه کوي.

د راپور لیکوال له نظره اوس دغه رسنۍ، چې خپلواکې ګڼل کېږي، له دې جدي پوښتنې سره مخ دي چې د امریکایانو له وتلو وروسته، چې تمه ده د ۲۰۱۶ تر پایه به ټول امریکایي ځواکونه له افغانستانه وځي، د دغو رسنیو برخلیك څه کېږي. دغه «خپلواکې» رسنۍ خپلې بودیجې له امریکانو ترلاسه کوي، اوس چې امریکایان وځي، دوی د بودیجې له نشت سره مخ کېږي.

ورځپاڼه د یوه ژورنالیست له خولې لیکي، چې دغه رسنۍ به یا له منځه ځي او یا به محلي ځواکونو او یا هم طالبانو ته تبلیغاتي وسیلې ګرځي. د ورځپاڼې په باور، طلوع چې ویل کېږي ډېر کتونکي لري، امریکایانو په لومړي ځل د ۲،۸ میلیونه ډالرو په لګښت پیل کړه. دغه ټلویزیون د حامد کرزي د حکومت پر مهال، کله چې افغان حکومت له امریکایانو سره د امنیتي تړون لاسلیك رد کړ، د افغان حکومت پر ضد پراخه تبلیغات پیل کړل.

ورځپاڼه د پژواك خبري اژانس په اړه لیکي، چې له امریکایانو څخه خپله بودیجه ترلاسه کوي: «امریکایانو ۵،۲ میلیونه ډالرو ولګول چې د پژواك خبري اژانس پیل کړي. دغه اژانس ۱۲۰ کارمندان لري». د ورځپاڼې په باور، پژواك هم په افغانستان کې مخکښ «خپلواك» اژانس دی، چې اوس هم هره میاشت د امریکا د حکومت له خوا ۱۰،۰۰۰ ډالر ترلاسه کوي.

د ورځپاڼې په خبره، پژواك اژانس اوس کولای شي چې تر یوه بریده خپل لګښت پیدا کړي. د دې ادارې مشر، دانش کروخېل واشنګټن پوسټ ته ویلي چې سږ کال هڅه کوي پر ځان بسیا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «سلام وطندار» راډيو مسوول، نجيب الله اميري هم د بوديجې د کمښت له امله خپله انديښنه څرګندوي، د امريکا ګټې پروژې سږ کال او يا هم د ۲۰۱۶ تر لومړيو پای ته رسېږي. ډېری راډيوګانې وار له مخه خپل کارمندان له لاسه ورکړي. اميري وايي: «زموږ له اتيا سلنه زياتې راډيوګانې په ښه مالي وضعيت کې نه دي.»)

په دې اړه په کابل کې د امريکايانو له لوري د «افغانستان د ازادو رسنيو د څار» د ادارې يا «نی» اجرايي رييس عبدالمجيب خلوتګر هم په 2015/09/04 تايخ رسنينو ته وويل چې:((بهرنيان بايد پر هغو ژمنو ودرېږي چې د لندن په ناسته کې يې د افغانستان له رسنيو سره کړې وې.

د «نی» مشروويل: «لکه څنګه چې 'نړيوالې ټولنې' په هېواد کې د رسنيو په رامنځ ته کولو کې مهم رول درلود، اوس بايد د 'رسنيز کړکېچ' مخنيوی هم وکړي.«

خلوتګر وايي، په تېره يوه نيمه لسيزه کې په افغانستان کې رسنيو بې سارې وده تجربه کړه، مګر اوس له مالي او اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان شوي دي. دی زياتوي، ۷۵ غږيزو، انځوريزو او ليکنيزو رسنيو د اقتصادي ستونزو له امله يا خپرونې ودرولي دي او يا هم ورسره مخ دي.

د «نی» اداره هم چې د بهرنيانو له مرستو خپل لګښتونه پوره کوي وايي، د بهرنيو ځواکونو وتل بايد د افغانستان په اړه د «نړيوالې ټولنې» د نه پاملرنې په معنا نه وي)).

۲ـ تعليم او تربيه :

د تعليم عمليه او تعليمي نصاب د نسلونو د جوړولو قالب دی، او قالب چې هر شکل ولري په هغه کې اچول شوی شی به هم په هماغه شکل راوځي. دا نامعقوله ده چې قالب دې مستطيل شکل ولري، خو څوك دې له هغه څخه د دايروي شي د جوړېدلو تمه وکړي. که تعليمي نظام او نصاب د غرب په خوښه جوړ شوی وي نو په طبيعي ډول به د هغه نصاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستونکي د غرب پر لاره ځي. او که نصاب د اسلام مطابق جوړ شوی وي، نو لوستونکي به يې هم د اسلام پر لاره ځي.

کله چې په ۱۸۸۲م کې مصر د انګريزانو په لاس سقوط وکړ، نو د انګلستان د هغه وخت حکومت د مصر له انګريز حاکم (لارډ کرومر) څخه وغوښتل چې په مصر کې د انګريزي تسلط د ټينګولو لپاره يې چې هر څه ته ضرورت وي د برتانيې له مرکزي حکومت څخه دې يې وغواړي.

خو د دې پر ځای چې (لارډ کرومر) د برتانيې له حکومت څخه پوځي وسائل او پوځونه وغواړي هغه ورڅخه د(تعليم ماهرين) وغوښتل. د برتانيې حکومت د (لارډ کرومر) د غوښتنې په ځواب کې هغه ته (ډوګلاس ډنلوپ) چې د لاهوت (مسيحي دينياتو) دشاهي د فاکولتې فارغ التحصيل مسيحي عالم وو ورولېږه.

(ډوګلاس ډنلوپ) د مصر لپاره داسې يو د تعليم نظام او نصاب جوړ کړ چې هم يې د (الأزهر) د تعليمي او معنوي تأثير مخه ورباندې ونيوله، او هم يې د وخت په تېرېدلو په مصر کې د داسې يو نسل روزنه او پالنه وکړه چې د مصر راتلونکی يې له اسلامه بيګانه او د انګريز په رنګ کې رنګ کړ. او کله چې د مصر تعليمي نصاب سيکولر (بې دينه) شو نو په هغه پسې تقريباً د ټولې عربۍ نړۍ تعليمي نصابونه (سيکولر) شول، او حکومتونه يې هم د غرب پر لاره روان شول چې تر ننه لا هم روان دي.

د دې لپاره چې غرب د ټولې اسلامي نړۍ د هېوادونو په تعليمي نصابونو کې د اسلام تاثير له منځه وړی وي، او يا يې لږ ترلږه کم کړی وي نو د ملګرو ملتو نړيواله مؤسسه يې وکاروله، او په ۱۹۷۷م کال کې د يونسکو (دملګرو ملتو د تعليم او فرهنګ د څانګې) په چوکاټ کې يې يوه تعليمي اداره جوړه کړه چې نوم يې (اسلام او غرب) وو. د دې ادارې مشري په ملګرو ملتو کې د برتانيې پخواني سفير(لارډ کارادون) کوله. دې ادارې ۳۵ غړي لرل چې ۱۰ يې د اسلامي ممالکو د (سيکولرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومتونو استازي ول او پاتې **۲۵** يې د اسرائيلو او غربي هېوادونو غړي ول.

د (اسلام او غرب) دغې ادارې پدې موضوع کار کاوه چې څنګه په تعليمي نصابونو کې د اديانو ترمنځ په مشترکو نقطو ترکيز وکړي، او په نصابونو کې د داسې مضامينو او مفاهيمو مخنيوی وکړي چې (دين) ورکې د (سلوك) لپاره معيار ټاکل کېږي.

دې ادارې د ټولو اسلامي هېوادونو نصابونه پداسې ډول جوړ کړل چې د اسلام تاثير ورڅخه له منځه يوسي او يا يې تر ممکنه حده کم کړي. او د اسلام په عوض ورکې نور نظريات لکه (قوميت) (وطنيت)،(ژبپالنه) او داسې نور په تعليمي نصابونو کې د ملي ايډيالوژيو په حيث ورشامل کړي.

د دې ادارې د فعاليتونو يو مثال په مصر کې دا وو چې د نصاب تر تبديلۍ دمخه د مصر د نصاب د تاريخ په مضمون کې د (فرعوني تاريخ) برخه يوازې **۷۵** صفحې وه، خو تر تبديلۍ وروسته **۳۱۷** صفحوته پورته شوه.

او همدارنګه تر تبديلۍ دمخه په نصاب کې د اسلامي تاريخ برخه **۲۰۷** صفحې وه ، خو تر تبديلۍ وروسته دغه برخه **۳۵** صفحو ته راکښته شوه.

همدغه فارموله تقريباً په ټولو اسلامي هېوادنو کې تطبيق شوه، ځکه چې د نه تطبيقولو په صورت کې هېوادونه د(يونيسکو) له سازمان څخه وېستل کېدل، او شهادتنامو يې په غربي نړۍ کې خپل (قبوليت) له لاسه ورکاوه.

پورتنيو حقيقتونو ته په پام سره ويلی شو چې رسمي تعليمي نظام په اسلامي نړۍ کې د غرب تر ټولو خطرناکه وسيله ده.او تر څو چې دغه وسيله د غرب په خوښه چلېږي نتائج به يې هم هغه ډول راوځي چې غرب يې غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي نړۍ کې د غرب لپاره د غربي ډوله تعليمي نصاب او نظام د افاديت په اړه د امريکا يو مهم پاليسي جوړوونکی شخصيت دواشنګټن د نږدې ختيځ لپاره دستراتيژيکو مطالعاتو دانسټيټيوټ پخواني مدير (رابرټ سوتلوف) چې د امريکا حکومت ته د اسلامي هېوادونو په اړه پاليسۍ جوړوي او د امريکا د نويو محافظه کارانو (مسيحی افراطيانو) له ډلې څخه دی په اسلامي نړۍ کې د تعليم په اړه وايي :

په عربي او اسلامي نړۍ کې امريکايي تعليمي اداري يوازې د لوړې سويې تعليمي ادرې ندي، بلکې هغه د عربي او اسلامي ټولنو د امريکايي کولو لپاره د امريکا د استراتيژيکې جګړې سرّي (پټ) لښکر دی).

د (رابرټ سوتلوف) دغه امريکايي پټ لښکر ربتيا هم ټوله اسلامي نړۍ له جګړې پرته د امريکا لپاره فتح کړه، ځکه چې دغه تعليمي نظام د مسلمانانو له نويو نسلونو څخه حقيقي اسلام پټ کړ، او د هغه پر ځای يې داسې يو څه د اسلام په نامه ورته معرفي کړل چې هغه يا اصلاً اسلام ندی، او يا يو تحريف شوی، مسخ شوی او د غرب په خوښه برابر شوی اسلام دی.

غرب د مسلمانانو د تعليمي نصابونو په بدلولو کې د روسانو په څېر له بيړې کار نه اخلي، بلکې د هغه انګريزي متل مطابق چې وايې : (کار په کراره کوه خو پداسې شکل چې تاثير يې يقيني وي) په کراره او تدريج سره د مسلمانانو د تعليم او تربيې نصابونه بدلوي.

غربي استعمارګرو هېوادونو د (يونسيکو) او نورو مؤسساتو په توسط د اسلامي هېوادونو په نصابونو او تعليمي نظام کې څو اساسي تغيرونه راوستل چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

١ - په مسلمانو هېوادونو کې د غربي ژبو او ادبياتو خپرول او بيا همدغه ژبې د تعليم او سياست ژبې ګرځول. غرب لدې لارې خپل ټول سياسي، اجتماعي، اخلاقي او فلسفيانه مفاهيم او نظريات د مسلمانانو د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسل مخې ته کېښودل، او نوی نسل یې وربآندی له اسلام، اسلامي تاریخ، اسلامي تمدن او اسلامي ټولنیزو ارزښتونو مصروف کړ، چې په نتیجه کې غربي فرهنګ او معلومات ورته اصل وګرځېدل، او اسلامي معلومات ورته داسې یو څه وګرځېدل چې د دوئ په اند په عملي ژوند او پرمختګ پوري اړه نه لري.

۲ – په نصابونو کې د دیني او اسلامي ټولنیزو مضامینو اندازه لږ کړای شوه، او د هغو پر ځای رسم، هنر، غربي ډوله مدني او اجتماعي زده کړو او د غرب تاریخ او پرمختګونو ته ځای ورکړ شو.

۳ – د ژبې او ادبیاتو کتابونه یې له دیني موادو او مفاهیمو خالي کړل، او دیني مفاهیم یې په بې کیفیته، بې روحه او بې واقعیته شکل یوازې د (دینیاتو) په کتابونو کې محدود کړل.

۴ – له نصابونو څخه داسلام فتوحات، پر نړۍ د اسلامي تمدن احسانونه او د اسلام د مشاهیرو په هکله معلومات لیرې شول، او پر ځای یې د اروپا او امریکا تاریخ، د غرب لشکر کشۍ، د غرب مشاهیر، فیلسوفان، شاعران، مخترعین ، سیاسي مشران او پوځي افسران د مسلمانانو نویو نسلونو ته د (ماډل) په حیث معرفي شول.

د غرب دې ټولو تعلیمي هڅو اسلام په یوه نیمګړي، تحریف شوي او بېرته پاتې شکل نوي نسل ته تقدیم کړ، چې نتیجه یې له اسلام سره د نوي نسل په (بې رغبتۍ) کې راووتله. او دا طبیعي خبره ده چې که یو څوك د یو څه په اړه بې رغبته وي نو ولې به له هغه څخه د دفاع په لار کې قربانۍ ته حاضرېږي؟

امریکا د افغانستان له اشغالولو وروسته همدغه ټولې کړنې په افغانستان کې هم ترسره کړې، خو د ډېر تأسف ځای دا دې چې امریکا او غرب خپل تعلیمي او فکري جنایات دلته د هغو خلکو په توسط تر سره کړل چې یو وخت یې ځانونه مجاهدین، اخوانیان، اسلامي فرهنګیان او د (نړیوال اسلامي حرکت!!!؟) منسوبین ګڼل، خو نن د همدغو جنایت کارو نومونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤلفينو، مشاورينو او د تعليمي نصاب د پروژې د مشرانو په حيث د هغو کتابونو پر پښتيو ليکل شوي چې د (نبراسکا) د امريکايي پوهنتون تر څارنې لاندې جوړ شوي، د (USAID) لخوا يې بوديجه برابره شوي، او د (آيساف) له لوري چاپ شوي، او د تعليم او تربيې په اختيار کې ورکړل شوي دي.

دغه خلك ښايي د خلکو په سترګو کې خاورې واچوي او و وايي چې يو عصري متوازن او له اسلام سره برابر نصاب يې جوړ کړی دی، خو دوئ په حقيقت کې هغه نصاب جوړ کړی چې د صليبي جګړې اعلانوونکي (جورج بوش) هغه خپل ملت ته په افغانستان کې د خپلې يوې بريا په حيث اعلان کړ او ويې ويل:

"And before the end of the year, we'll have sent almost 10 million of them [that is, new textbooks] to the children of Afghanistan. These textbooks will teach tolerance and respect for human dignity ***instead of indoctrinating students with fanaticism and bigotry***."

– George W. Bush, "Weekly Radio Address," March 16, 2002

(دکال تر ختمېدلو مخکې به موږ د افغانستان ماشومانو ته تقريباً لس مليونه درسي کتابونه ورلېږلي وي. دغه کتابونه به هغوئ ته (د نورو په مقابل کې) زغم او د توندلاريتوب او تعصب پر ځای د انساني کرامت احترام ورزده کوي).

دا خو لا د هغه نصاب اړه خبره وه چې امريکا په اول ځل د (کرزي) حکومت ته تيار کړی وو او ډېرې تبديلۍ يې لا ورکې نه وې راوستلې. تر هغه وروسته افغاني نصاب دوه ځله بيا د امريکايي مشاورينو تر څارنې لاندې د اسلامي او جهادي مفاهيمو له مفرداتو او تاثيراتو څخه محروم شو، او پر ځای يې د غربي فرهنګ تاثيرات او مفاهيم ورکې ځای پر ځای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳–قوانين او سياسي فشارونه :

د ريښتني اسلام په خلاف د غرب د فکرې جګړې له وسائلو څخه بله مهمه وسيله د اسلام ضد قوانين دي چې د اساسي، مدني، جزايي او نورو قوانينو په شکل کې د مستبدو او (سيکولرو) حکومتونو له لوري پر مسلمانانو د زور، زندان او تزوير په وسيله عملي کېږي.

په اوسني وخت کې تقريباً د ټولو اسلامي ممالکو اساسي، مدني، عدلي او قضايي قوانين د غرب د مشاورينو او متخصصينو له لوري داسې جوړ شوي چې بايد د اسلامي شريعت تطبيق ته ورکې هېڅ ځای نه وي. او که چېرې کوم حکم او يا کومه ماده يې تصادفاً له شريعت سره موافقت هم ولري، نو هغه هم بايد په بېلابېلو بهانو غير فعاله شي.

د اسلامي نړۍ د ټولو حکومتونو په قوانينو کې د غرب له لوري د(بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې) منل ضروري ګڼل شوي دي. نه يوازې دا چې د دې کفري اعلاميي منل ورکې ضروري ګڼل شوي، بلکې د هغې د تفسير او تعبير حق هم ورڅخه د دې لپاره اخيستل شوي چې هسې نه چې دغه هېوادونه د بشر د حقوقو اعلاميه او د ملګرو ملتو نړيوال ميثاق او يا د هغو ځينې مادې د اسلام مطابق تفسير او تعبير کړي. همدغه حکم د بشري حقوقو د نړيوالې اعلاميې په **۲۹** مه ماده کې داسې ذکر شوي دی :

((په هېڅ ډول شرائطو کې روا نه ده چې د بشر له حقوقو سره دې پداسې ډول چلند وشي چې د ملل متحد له اصولو او اهدافو سره تضاد ولري)).

غربي هېوادونو او امريکا د اسلامي نړۍ له حکومتونو سره د تعامل داسې معيارونه ټاکلي او حکومتونه يې د هغو په رعايتولو ملکف کړي چې د دغو هېوادونو ټول سياسي، اقتصادي، تعليمي ، فرهنګي او پوځې قوانين بايد د غرب له خوښې سره سم وي، او که چېرې دغه قوانين هغه ډول نه وي چې غرب يې غواړي نو بيا له ډول ډول سياسي، اقتصاد، تعليمي فرهنګي او پوځي بنديزونو او سزاګانو سره مخ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله خطرناکه حربه چې امریکا یې په اسلامي هېوادونو کې د خپلو فشارونو په سلسله کې کاروي هغه د (مذهبي آزادۍ) په نوم کفري ډلو او ادیانو ته د قانوني فعالیت د زمینې تضمینول دي.

امریکا د دیني پلورالیزم (دیني تعدد ګرايۍ) د اصل په تحمیلولو د اسلامي نړۍ پر حکومتونو فشارونه راوړي ترڅو د هېوادونو دروازې د هر ډول کفري دعوت پر مخ خلاصې پرېږدي، او له حقیقي اسلامه پرته د بل هېڅا پر دعوت او فعالیت دې بندیز نه وي.

امریکا او نورو غربي هېوادونو پدې ډول په اسلامي هېوادونو کې په قانوني ډول د (تنصیر) لپاره لاره برابره کړې ده، او دا کار د امریکا د خارجه پالیسۍ په اولویاتو کې ځای لري.

د (دیني ازادۍ) په نامه د امریکا د خارجه چارود وزارت له لوري ۷ نمبر راپور په ۸ / ۱۱ / ۲۰۰۵ تاریخ د څېړنې لپاره دامریکا کانکرس ته وړاندې شو، او په هغه کې په ډېرو عربي او اسلامي هېوادونو کې د (دیني آزادۍ) له نشتوالي شکایت شوی وو، د دې راپور اساسې ټکي په لاندې ډول ول :

۱ – د امریکا متحده ایالات نور د (دیني آزادۍ) قضیه د دولتونو له داخلي چارو څخه نه ګڼي، بلکې هغې ته نور د نړیوالو چارو په سترګه ګوري). یعني دا چې به نور په اسلامي نړۍ کې داسې عملي کېږي لکه نور بین المللي قوانین چې عملي کېږي.

۲ – د امریکا متحده ایالات به نور د (دیني آزادۍ) قضیې ته یوازې د یوې نظریې په نظر نه ګوري او د هغې د عملي کولو لپاره په سپارښتنو اکتفا نه کوي، بلکې د هغې د رعایتولو لپاره به نورو دولتونو ته اوامر صادروي، او پدې لاره کې به د مشوقاتو له ورکولو او د فشارونو له واردولو څخه کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - له (دينې آزادۍ) څخه مقصد په مطلق ډول د خلکو آزاد پرېښودل دي، ترڅو هر څوک چې په اسلامي نړۍ کې بل هر دين اختيارول غواړي اختيار يې کړای شي.
د همدغو يادو شويو قوانينو او فشارونو له امله په افغانستان کې د امريکا له لوري جوړې شوې ادراې هېڅکه ونه کولی شول چې له اسلام څخه (مرتد) شويو خلکو ته سزا ورکړي، او يا په افغانستان کې د (نصرانيت)، (بهائيت) او نور باطلو نظرياتو د خپرېدو مخنيوی وکړي.
ځکه چې د افغانستان اوسنی اساسي قانون د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه رعايتوي، او د همدې اساسي قانون په اوومه ماده کې داسې راغلي:(دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بين الدول معاهدو، د نړيوالو ميثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړيوالې اعلاميې رعايت کوي).
او د بشري حقوقو د نړيوالې اعلاميې په اته لسمه ماده کې په صراحت سره هر چاته په خپله خوښه د(دين د انتخاب) په هکله داسې راغلي دي:((هر انسان د فکر د آزادۍ او د دين د انتخاب له حق څخه برخمن دی، او همدا حق د دين او د عقيدې تبليغ ، د ډله ييزو ښوونو او رسنيو له لارې د نظر اظهار او همدا ډول د شعائرو سرّي او علني تر سره کولو او له هغو څخه حفاظت ته هم شامل دی)).
همدارنګه همدغه د (ارتداد حق) د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې په نولسمه ماده کې هم په صراحت سره داسې ذکر شويدي :((هر انسان د نظر او خپل ليدلوري د آزادۍ له حق څخه برخمن دی. دغه حق ديته هم شامل دي چې څوک دې د بل چا افکار او نظريات د بل چا له مداخلې پرته ومني. او هم کولی شي خپل افکار او نظريات په هرې ممکنې وسيلې له هر جغرافيوي قيد او بند پرته تر لاسه او نشر کړي)).
پورتنيو حقايقو ته په پام سره ويلي شو چې په اسلامي هېوادونو کې د غربي ډوله قوانينو عملي کېدل د اسلام په خلاف د فکري او قضايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې او د هغه د تحريف تر ټولو خطرناکه وسله ده. او همدغې وسيلې اسلام دخلکو له عملي ژوند څخه ليرې کړی او خلکو ته يې داسې ورمعرفي کړی چې اسلام يوازې يو څه تصورات، عبادتونه او دعاګانې دي او بس، چې نه نظام لري، نه قوانين لري او نه هم د بشريت د چارو د سمبالولو وړتيا لري. او که يو څه قواعد او ضوابط ورکې شته هم نو هغه د ډېرې پخوا زمانې لپاره وو چې اوس د تطبيق وړتيا نه لري.

خو که مسلمانان راپورته کېږي او په عملي ډول دا ثابتوي چې شريعت اوس هم د بشريت د چارو د سمبالولو او هم د تطبيقېدلو وړتيا لري، نو غرب او امريکا يې بيا ځواب د زور په استعمال، د بمونو په اورولو، په زندانونوکې د مسلمانو مبارزينو د ورغورځولو او د مسلمانانو د هېوادونو په اشغالولو ورکوي.

بله تر ټولو خطرناکه وسيله چې غرب يې د اسلام د تحريفولو او له غربي ارزښتونو سره د همرنګه کولو لپاره په ټوله نړۍ او په خاص ډول په اسلامي نړۍ کې په کار اچوي هغه د منځلاري اسلام په نامه د يوه نوي دين رامنځته کول دي. دا چې دغه دسيسه ډېره لويه او تأثيرات يې پر معاصرې اسلامي نړۍ ډېر پراخ دي نو مناسبه مو وګڼله چې د دې فتنې په اړه په يو څه زيات تفصيل سره تر را روان ځانګړي عنوان لاندې له لوستونکو سره خبره شريکه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرب له نظره منځلاری اسلام څه شی او منځلاري مسلمانان څوک دي؟

د اسلام په خلا ف د غرب په اوسنۍ روانې پوځي او عقیدوي جګړې کې د غرب او د هغه د ملګرو فکري مراکز او تبلیغاتي او نشراتي وسائل د (معتدل اسلام)، (معتدلو مسلمانانو) (بنسټ پالي اسلام) او (بنسټپالو مسلمانانو) اصطلاحات ډېر ډېر کاروي چې د دغې ډېرې کارونې له امله یې دغو اصطلاحاتو د اسلامي نړۍ د ځیني سیاسي او فکري کړیو په (فکري ادبیاتو) کې هم ځای موندلی دی، او د غرب له لوري هڅه کېږي چې دغې نوې ایجاد شوې اصطلاح (معتدل اسلام) ته د مسلمانانو په ټولنه کې د یوه دین او یوه حقیقت بڼه ورکړي، او د مسلمانانو نوی نسل او راتلونکي نسلونه یې د یوې (عقیدې) په حیث ومني، او د هغې پر بنسټ د (حقیقي اسلام) او (ریښتینیو اسلامي ارزښتونو) په اړه موقف ونیسي، او بیا د همدغه نوي جوړ شوي دین (معتدل اسلام) پر اساس په مسلمانو هېوادونو کې حکومتونه، نظامونه، قوانین، د روا او ناروا او ښه او بد معیارونه او له نړیوالو سره د روابطو کیفیت وټاکي، او هم د همدغه نوي دین (معتدل اسلام) په حدودو کې د مسلمانانو ژوند تنظیم کړي.

دا چې د دغه نوي دین (معتدل اسلام) حقیقت څه شی دی؟ د چا لخوا رامنځته کېږي، ارزښتونه او معیارونه یې څوک ورته ټاکي، له حقیقي اسلام سره یې تعامل څه دی؟ کومو اهدافو او مقاصدو ته د رسېدو لپاره رامنځته کېږي؟ د رامنځته کېدلو لپاره یې له کومو ډلو، جهتونو، اشخاصو، فکري مکاتبو، څېړنیزو مراکزو او مادي او معنوي وسائلو کار اخیستل کېږي؟ او هم دا چې څنګه د دغه ډول یوه (نوي دین) د رامنځته کولو لپاره د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې په یوه وخت هم مهاله فعالیتونه روان دي؟ او په افغانستان کې د دغه (نوي دین) د رامنځته کولو لپاره له

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا څخه په څه ډول کار اخيستل کېږي؟ او څوك وركې په ارادي او غير ارادي ډول استعماليږي؟ او دغو هڅو دامريکا له لوري د افغانستان داشغال په وخت څومره زور اخيستی؟ او پايلې به يې په افغانستان کې د (اسلام) او (افغان ولس) په راتلونکي څه وي؟ او بالآخره د دغې واردې شوې منفي پديدې د رامنځته کېدلو مخنيوی به څوك او څنګه کوي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې پدې ليکنه کې به يې تر يوه حده د ځوابولو هڅه وکړو.

منځلاری اسلام او تاريخ:

د اسلام پېژندنې ټول علماء او مؤرخين چې که هغوئ مسلمانان دي او که نامسلمان مستشرقين (ختيځ پوهان) دي ټول سره پدې اتفاق لري چې اسلام همدا يوازې يو اسلام دی. تر اوسه په تاريخ کې په هېڅ ځای کې چا د (معتدل اسلام) او (بنسټ پالي اسلام) نوم ندی کارولی. په تاريخي لحاظ د(معتدل اسلام) نوم هېڅ سابقه نه لري. البته د اسلام د (فقهي او اجتهادي فهم) له مخې د اسلامي فقهي مذاهبو په نامه نورې تسميې شته لکه حنفي، شافعي، حنبلي، مالکي، ظاهري او نور مذاهب لکه د امام سفيان ثوري، امام اوزاعي او نورو امامانو مذهبونه چې اوس يې پيروان نشته خو يو وخت يې خپل امامان او پيروان درلودل.
اسلام ته د منسوبو ځينې نورو طائفو او مذاهبو نومونه هم د اسلام په تاريخ کې ياد شوي چې د اسلام له حقيقي فهم څخه د انحراف له امله منحرفې، مبتدعې، خرافاتي او يا د ګمراه طائفو په نامه ياديږي لکه خوارج، روافض، قدريه، مرجئه، معتزله او نور چې د اسلامي تاريخ په بېلابېلو وختونو کې راپيدا شوي، تر يوه وخته يې دوام کړی، او بيا ورسته يا له منځه تللې او يا يې بڼه بدله کړې او له نورو سره يوځای شوې دي، خو د (معتدل اسلام) په نامه (فکر) او (مذهب) د اسلام په سياسي او فقهي تاريخ کې سابقه نه لري، او د فرقو او مذاهبو په کتابونو کې يې په هېڅ ځای څرك نه ترسترګو کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځلاري اسلام یو امریکایي ایجاد دی:

غرب د تل لپاره د شرق په خلاف او بیا په خاص ډول د اسلام په خلاف په جګړه کې پاتې شوی، او د توسعه غوښتنې د روحیې په لړلو سره یې د شرق په خلاف لښکرې راوېستلې دي چې د مقدوني سکندر لښکرکشی، د مدیترانې په شرقي او جنوبي ساحلونو کې د آسیاسي او افریقایي سیمو د نیولو لپاره د رومیانو لښکرکشی، صلیبي جګړې، استعماري جګړې او د اسلامي نړۍ په خلاف روانې اوسنی جګړې یې بېلابېل مثالونه دي.

د تاریخ په اوږدو کې د اسلام په خلاف جګړې د جنګېزیانو، هسپانویانو، فرانسویانو، هالنډیانو، پرتګالیانو، انګریزانو، ایټالیایانو او روسانو له لوري په لاره اچول شوي دي. په دغو ټولو جګړو کې مسلمانان تل د عقیدې لپاره جنګېدلي دي، او دښمن هم د دوئ قوت د دوئ له عقیدې ګڼلی دی.

کله چې د شلمې میلادي پېړۍ په اولاټلو کې د انګریزانو د امپراتورۍ زوال پیل شو او تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته یې خپل د استعمار خلافت او د غربي نړۍ قیادت امریکا ته ور پرېښود نو امریکا داسې لارې چارې ولټولې چې د هغو په وسیله پر ټولې نړۍ لاس برې شي، هېڅوك یې مخې ته ونه درېدلی شي، او د نړۍ سیاسي، اقتصادي، فکري او ټولنیز وضعیت دې په هغه ډول عیار شي چې امریکا یې غواړي.

دې لوی نړیوال هدف ته د رسېدلو لپاره امریکایانو نه یوازې دا چې په پوځي او اقتصادي لحاظ ځان پیاوړی کړ بلکه د (فکر) او (ستراتیژۍ جوړولو) په ډګرونو کې یې هم د Think Tanks په نامه د تفکیر، تحلیل، پلان جوړونې او په نړۍ کې د ولسونو او نظامونو پر وضعیتونو او احوالو د ځان خبرولو په مقصد د ستراتېژیکو مطالعاتو قوي مراکز رامنځته کړل، دغو مراکزو امریکا ته د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې څېړنې وکړې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تطبیق وړ پلانونه یې ورته جوړ کړل، او د امریکا لپاره یې په نړۍ کې ډېر هغه کارونه اسانه کړل چې پخوا به انګریزانو په ډېرې سختۍ ترسره کول.
د هغو لویو کارونو په سلسله کې چې امریکا د تفکیر د دغو مراکزو Think Tanks د څېړنو او مسلسل کار په نتیجه کې ترسره کړل یو یې هم د شوروي اتحاد ماتول او د نړۍ یوقطبه کول وو. د شوروي اتحاد ترماتېدلو وروسته امریکا لومړی د نوي نړیوال نظام new world order او بیا وروسته د نړیوالتوب globalization د نظریې د عملي کولو تر عنوان لاندې د نړۍ د لاندې کولو هڅې پیل کړې.
دا چې د اسلامي نړۍ ډېر هېوادونه لاله وړاندې امریکا تر خپل تأثیر لاندې راوستلي وو او په دغو هېوادونو کې یې غرب پلوي او یا مستبد رژیمونه پر مسلمانانو مسلط کړي وو، نو د شوروي د ماتېدلو او د افغانانو د جهاد د افادیت په ظاهرېدلو په مسلمانو هېوادونو کې هم د غرب له سیاسي، فکري، پوځي او اقتصادي تسلط څخه د ځان آزادولو روحیه راپورته شوه، او په مسلمانو ټولنو کې د غرب د هڅو او استعماري سیاستونو په خلاف سیاسي او دیني شعور څپاندشو، او مسلمانانو بېرته خپلو اصولو او خپل دین ته رجوع پیل کړه. او لکه څنګه یې چې د شوروي (کمونیزم) ته د کفر او الحاد په نظر کتل همداسې یې د غرب (لیبرالیزم)، (دیموکراسۍ) او لدې دواړو څخه په مسلمانو هېوادونو کې را زېږېدلی (سیکولریزم) هم (کفر) وباله، او له هغه څخه یې د نجات موندلو په هدف فعالیت ته مخه کړه، چې دغې فعالیت ته امریکا د (بنسټ پالنې) نوم ورکړ.
د شوروي اتحاد او د کمونیزم تر له منځه تللو وروسته امریکا ولیدل چې (چین) له امریکا سره د دښمنۍ روحیه نه لري، بلکه د سیاسي، فرهنګي او اقتصادي مشترکاتو له امله د وخت په تېرېدلو نور هم ورسره نږدې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروپا لا له پخوا له امریکا سره د (ناټو) په تړون کې شامله او په هر څه کې د هغې پر لاره روانه ده.
هند هم د لوی نفوس په لرلو په شرق کې د امریکا د ملګرتیا لاره نیولې او په آسیا کې یې د تر ټولو لویې دیموکراسۍ په حیث تبارز کړی او له امریکا سره د دښمنۍ او مخالفت لپاره څه نه لري.
د نړۍ نور واړه واړه تمدونونه او دینونه هم له امریکا سره فکري او سیاسي پیوندونه لري.
امریکا ولیدل چې یوازې اسلام دی چې نه د امریکا تسلط مني، نه یې دیموکراسي او لیبرال تمدن مني، نه یې د کپټالیزم اقتصادي نظام مني، او نه یې پر خپله خاوره پوځي شتون، لښکرې او د هغې ملګري نظامونه مني. نو هماغه وو چې (اسلام) ورته د یوازیني ریښتني دښمن په حیث ښکاره شو او د هغه په خلاف یې یوه هراړخیزه جګړه پیل کړه. او د دې لپاره چې په اسلامي نړۍ کې یې د اسلام په خلاف جګړه د یوې برخې مسلمانانو په لاس روانه کړې وي نو ریښتینی اسلام یې د بنسټپال اسلام (Radical Islam) په نامه یاد کړ، او د خپلو سیکولرو پلویانو لپاره یې یو بل اسلام چې تعریف او تفصیلات به په راتلونکو کرښو کې ذکر شي د (Moderate Islam) معتدل اسلام په نامه رامنځته کړ، او د اسلام په خلاف یې خپله جګړه تر دې شعار لاندې په لاره واچوله چې. Islam is the problem and the moderate Islam is the solution) (پخپله اسلام ستونزه ده، او معتدل اسلام د دې ستونزې حل) .

د امریکا او غرب فکري مراکز او د منځلارې اسلام د تولید پروسه:

په غرب او بیا په خاص ډول په امریکا کې (فکري مؤسسې) یا (فکري مراکز) چې غربیان یې Think tanks بولي د یولوی او مؤثر قوت د منابعو په حیث پېژندل کېږي، او دا ځکه چې همدغه (فکري مراکز) په غربي هېوادونو کې د پوځي او دفاعي قوت، اقتصاد، صنعت، تجارت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خارجي روابطو او ډپلوماسۍ او د هیوادونو او ولسونو د تقویه کولو او کمزوري کولو د چارو لپاره مهم او د تطبیق وړ پلانونه جوړوي، څېړنې ترسره کوي، او د حکومتونو او لویو کمپنیو لارښوونه کوي.

د فکري مؤسساتو Think tanksهمدې موثریت ته په پام سره یوازې د امریکا لپاره ۴۵۰۰ لویې او وړې فکري مؤسسې کار کوي چې ۲۰۰۰ یې د امریکا په داخل او ۲۵۰۰ یې له امریکا د باندې په نورو هېوادونو کې په څېړنو بوختې دي، او په خپل فعالیت په امریکا کې پالیسې جوړوونکو، سیاسي او نشراتي ادارو ته د نړۍ په مهمو مسائلو او موضوعاتو کې دقیقې څېړنې وړاندې کوي، او هغه لارې چارې ورښیي چې د نړۍ له قضایاوو سره مناسب تعامل پرې خپل کړي. [1]

دغه فکري مراکز په اروپا او امریکا کې د مسلمانانو او اسلامي نړۍ د دیني، فکري، سیاسي، پوځي، اقتصادی او اجتماعي وضعیتونو په اړه هم پراخې او ژورې څېړنې کوي . غرب د دې څېړنو او سروې ګانو له لارې ځانته د مسلمانانو او اسلامي هېوادونو ترمنځ فکري، مذهبي او سیاسي اختلافات معلوموي، مسلمانان په دقیق ډول (صف بندي) کوي، او بیا د دغې دقیقې صف بندۍ په رڼا کې د هغوئ له منځه خپل ځان ته دوستان او دښمنان تشخیصوي، او له دوستانو سره د دوستۍ او له دښمنانو سره د دښمنۍ لپاره تګلارې او د تطبیق وړ استراتېژۍ ورته وضع کوي، او د خپلو حکومتونو او کمپنیو په اختیار کې یې ورکوي.

د اسلامي نړۍ په اړه د غرب فکري مراکز (Think tanks) په مجموع کې پر دوه ډلو تقسیمېږي چې یوه ډله یې پداسې استراتېژیو او تکنیکونو کار کوي چې څنګه مسلمانانو ته له غرب سره پیوند ورکړي، او څنګه یې د معتدلو مسلمانانو په نامه له غرب سره همکارۍ ته ور وبولي. دغه ډله مراکز د غرب او مسلمانانو ترمنځ د ډیالوګ (خبرو اترو) کنفرانسونه،

---

[1]– طروحة راند

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمينارونه، اداري او ښوونيز ورکشاپونه جوړوي، او د دې لپاره زمينه سازي کوي چې څنګه د دوئ په اصطلاح (منځلاري اسلامي حرکتونه) او (احزاب) د مسلمانو هېوادونو په حکومتونو کې پدې شرط ورشريك کړي چې د دې شراکت په بدل کې به د (حقيقي اسلام) ثوابت تحريفوي او تأويلوي، د جهاد په خلاف به منفي دريغ نيسي، او په خپلو هېوادونو کې به د ديموکراسۍ په نظام کې کار کوي، او د شريعت له نافذولو به تېرېږي، چې دغه ډول اسلامي تنظيمونه او احزاب هغه دي چې د (منځلارو اسلامي تنظيمونو) په نامه په مصر، تونس، ترکيه، پاکستان، افغانستان او ځينې نورو هېوادونو کې له غرب پلوو حکوتونو سره يو ځای کار کوي. د دغه ډول فعاليت ترشا دکارنيګي مرکز (Carnegie center) د (سابان مرکز) او د بروکينګز انستيټيوټ (Brookings institute) او دوئ ته ورته نور فکري مراکز ولاړ دي.

او دويمه ډله مراکز بيا پر دې کار کوي چې څنګه دړمسلمانانو د مادي او معنوي قوت سرچينې ور وچې کړي، مسلمانان د آزادۍ او استقلاليت له احساسه او د مقاومت له توانايۍ بې برخې کړي، او د مسلمانانو راتلونکي نسلونه پر هغه لاره روان کړي چې غرب او د هغه په رأس کې امريکايې غواړي. د دغه ډول فکري مراکزو په رأس کې د هېرټېج فاونډيشن (The Heritage Foundation) رانډ کارپوريشن (RAND Corporation) او نور مراکز ولاړ دي.

په لاندې لست کې د امريکا او برتانيې د څو مشهورو فکري مراکزو نومونه ليکو چې د هغه له منځه به د (رنډکارپوريشن) په اړه تفصيلي معلومات وليکو، ځکه چې دې فکري مرکز د(معتدل اسلام) د رامنځته کولو لپاره په ۲۱۷ صفحو کې يوه تفصيلي څېړنه د Building Moderate Muslim networks (دمعتدلو مسلمانانو د نړيوالو شبکو جوړول) په نامه خپره کړې ده، او په هغې څېړنه کې يې غرب او په خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول امریکا ته په نړۍ کې د (معتدل اسلام) د خپرولو لارې چارې وړښوودلې دي.

مشهور امریکایي فکري مراکز:

- American Iranian Council
- Atlantic Council of the United States
- Brookings Institution
- Carnegie Endowment for International Peace
- Center for Advanced Defense Studies
- Center for Global Development
- Center for Strategic and International Studies
- Council on Foreign Relations
- International Center for Research on Women
- The Nixon Center
- New America Foundation
- RAND Corporation
- Resources for the Future
- Urban Institute
- Project for the New American Century
- The Claremont Institute
- American Enterprise Institute
- Heritage Foundation
- American Enterprise Institute
- Center for Security Policy
- Claremont Institute
- Committee on the Present Danger
- Foreign Policy Research Institute
- Heritage Foundation
- Hoover Institution
- Hudson Institute

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **Manhattan Institute**
- **Middle East Forum**
- **National Center for Policy Analysis**
- **Project for the New American Century**
- **Center for American Progress**
- **Center for Defense Information**
- **Center for Economic and Policy Research**
- **Center for Progressive Reform**
- **The Century Foundation**
- **Economic Policy Institute**
- **Institute for Policy Studies**
- **Progressive Policy Institute**
- **Roosevelt Institution**
- **Cato Institute**
- **Foundation for Rational Economics and Education**
- **Progress and Freedom Foundation**
- **Reason Foundation**

مشهور برتانوي فکري مراکز:

- Adam Smith Institute
- Africa Research Institute
- British Future
- Centre for the Analysis of Social Exclusion
-
- The Centre for Cross Border Studies
- Centre for Defence and International Security Studies
- Centre for Policy Studies
- Centre for Strategic Research and Analysis (CESRAN)
- City Mayors Foundation
- Commonwealth Policy Studies Unit

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Cordoba Foundation
- European Council on Foreign Relations
- Foreign Policy Centre
- Institute for Jewish Policy Research
- Institute for Strategic Dialogue
-
- International Institute for Strategic Studies
- Overseas Development Institute
- Oxford Research Group
- RAND Europe (an independent division of the RAND Corporation)
- Resolution Foundation
- Royal Air Force Centre for Air Power Studies
- Royal Institute of Public Administration (defunct)
- Royal United Services Institute for Defence and Security Studies
-
- The Intergenerational Foundation

د یادولو ده چې دا یوازې امریکا او برتانیا ندي چې دغه ډول فکري او د استراتېژيکو څېړنو مراکز لري، بلکې ټول اروپايي هېوادونه، استرالیا او روسیه هم همدغه ډول لوی او قوي مراکز لري.

رانډکارپورېشن څه ډول مرکز دی، او تر اوسه يې د اسلامي نړۍ او مسلمانانو په خلاف څه کړي دي؟

د رانډ کارپرویشن RAND Corporation تحقیقاتي مرکز د اسلامی نړۍ، اسلام او مسلمانانو په خلاف تر ټولو خطرناکې څېړنې ترسره کړې دي. د دې مرکز د تحقیقاتو په نتیجه د اسلامي نړۍ او خپله د اسلام د دین په اړه د امریکا د خطرناکو اقداماتو تأثیرات به تر ډېره وخته پورې د مسلمانانو په فکري، عقیدوي، اجتماعي او سیاسي ژوند کې پاتې وي.

د (رانډ کارپوریشن) د څېړنیز مرکز د ۱۹۴۵م کال د اکتوبر د میاشتې په اول تاریخ په دویمې نړیوالې جګړې کې د امریکا د پوځ او د هوائي ځواك

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستر قومندان (جنرال آرنولد) له لوري د امريكا د (كالفورنيا) په ايالت كې تأسيس شو. جنرال ارنولډ چې كله وليدل چې امريكا دخپلې پرمختللې ټكنالوژۍ او اټوم بم په زور جاپان مات كړ او دويمې نړيوالې جګړې ته يې د پای ټكی كېښود نو عملاً دا ورمعلومه شوه چې علمي څېړنې او پرمختللې ټكنالوژي د غلبې له مهمو عواملو څخه دي، نو هماغه وو چې د جګړې تر ختمېدولو دوه مياشتې وروسته يې د (ډوګلاس) د الوتكو جوړولو د كمپنۍ له مشرانو سره د (كاليفورنيا) په ايالت كې د علمي څېړنو د يو خاص څېړنيز مركز پر جوړولو مجلس وكړ او په نتيجه كې دواړو اړخونو د (رنډ كارپوريشن) پر جوړولو موافقه وكړه.

رانډ كارپوريشن په همدې كال كې د امريكا د هغه وخت د هوايي قواوو د رئيس اركان د معاون (جنرال ليمای) تر سرپرستۍ لاندې د امريكا د هوايي قوت د لاتور پياوړي كولو لپاره په څېړنو پيل وكړ. دوه كاله وروسته (رانډ كارپوريشن) په پوره استقلاليت د كار كولو په مقصد د امريكا د هوايي قواوو د اداري د فيصلې پر اساس د (ډوګلاس) له كمپنۍ څخه جلا شو او په مستقل ډول يې په همدې (كاليفورنيا) كې د يو غير انتفاعي تحقيقاتي مركز په حيث خپل كار ته دوام وركړ. په همدې ۱۹۴۷م كال د (فورډ) مؤسسې چې د (فورډ) د موټر جوړولو د كمپنۍ اړوند وه (رانډ كارپريشن) ته يو ميليون ډالر عطيه وركړه تر څو (رانډ) ورباندې پر خپلو پښو و دريږي.

د (رانډ كارپوريشن) څېړنيز مركز په تېرو تقريباً او ياوو كلونو كې د امريكا لپاره د مصنوعي سپوږمكيو (سټيلايټونو)، كمپيوټر، ويډيويي تصوير، او د پوځ ترمنځ د عصري ارتباط د رامنځته كولو پر وسيلې چې وروسته يې د اوسني (انټرنټ) بڼه غوره كړه پراخې څېړنې ترسره كړې دي.

د (رنډ كارپوريشن) په څېړنيز مركز كې په يوه وخت كې (۱۰۰۰) تنه څېړونكي په څېړنو بوخت دي چې د دغو څېړونكو ۶۰٪ يې په بېلابېلو تخصصاتو كې د (دوكتورا) سندونه او ۲۸٪ يې د (ماسترۍ) سندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، او پدې مرکز کې ۳۰ داسې پوهانو هم عضويت لرلی چې په بېلابېلو تخصصاتو کې يې د (نوبل جائزې) هم اخيستې دي.
رانډ کارپورېشـن خپله د لوړو زده کړو فاکولتـه هم لـري چې پـه سياسـي علومو کې د (دوکتورا) سند ورکوي. دغه څېړنيز مرکز له امريکا د بانـدې نور مراکز هم لـري چې په برتانيـه کې د همدې مرکز مسـتقله څانګه، پـه منځني ختيځ کې د عمومي پاليسـۍ مرکـز، په قطر کې د سياسـي څېړنـو مرکز يې مثالونه دي.
په هغه وخت کې چې شوروي اتحاد امريکا ته د لوی دښمن په حيث مطـرح وو نـو (رانـډ کارپوريشـن) د هغـه د کمزوري کولـو پـه کـار کې دومـره لـوی نقش درلوده چې د شوروي په نظامي او ستراتيژيکو کړيو کې به يې د(رانډ کارپوريشن) مرکز ته (د مرګونو او تخريب د توليد اکاډمي) ويله.
د شوروي اتحاد تر له منځه تللو وروسته چې امريکا (اسـلام) او مسـلمانان د خپل يوه ريښتني دښمن او متوقع خطر په حيث وټاکل نـو بيـا همدغـه د (رانډکارپويشن) څېړنيز مرکز امريکا ته د اسلامي نړۍ په لاندې کولـو او د ريښتني اسلام په تبديلولو او د (منځلاري اسلام) په نامـه د يـوه بـل ديـن د رامنځتـه کولـو پـه چـارو کـې پـوره لارښـوونه وکـړه، او د اسـلامي نـړۍ د قضاياوو د تحليل په اړه يې امريکا تـه ښـې ډېـرې څېړنـې ترسره کـړې چې ځو مشهورې او مهمې څېړنې يې د دې لپاره د افغان لوسـتونکي مخـې تـه پـه لانـدې ډول ړدو چـې دا ورتـه معلومـه شـي چـې (رانـډ کارپوريشـن) د اسلامي نړۍ په اړه د امريکا لپـاره څومره کـار کـړی دی. د يادولو ده چې دغه څېړنې ټولې په انګلېسي ژبه کې خپـرې شوې دي چې مـا يـې نومونـه پښتو ته ترجمه کړي دي :

۱ – د بوسنيا له تجربې زده کړه.

۲ – د ناټو د پوځي ايتلاف د پوځي عملياتو او د بشـري مرسـتو د مؤسسـو ترمنځ د همغږۍ تقويه کول ۲۰۰۲م .

۳ – اسلام د قوقاز په شمال کې، چيچنيا د يوه مثال په ډول . ۲۰۰۳ م .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – متمدن دیموکراتیك اسلام، ملګري ، منابع او ستراتېژۍ، ۲۰۰۳م .
۵ – اسلامي نړۍ د سپتمبر له یولسمې وروسته ۲۰۰۵م .
۶ – د تروریزم په خلاف د جګړې راتلونکې مرحلې او اقدامات. ۲۰۰۵م
۷ – په منځنۍ ختیځ کې له تروریزم څخه د ځوانانو د لیرې ساتلو فرصتونه ۲۰۰۵م .
۸ –اسلام او غرب، د مشترکو زمینو لټول ۲۰۰۶م .
۹ – د محاصرې احساس، د اسلام او غرب سیاسي جغرافیه .
۱۰ – د منځلاري اسلام د نړیوالو شبکو جوړول ۲۰۰۷م .
۱۱ – د تایلند په جنوب کې د مسلمانانو پاڅون ۲۰۰۸م .
۱۲ – په ترکیه کې د سیاسي اسلام راپورته کېدل ۲۰۰۸م .
۱۳ – د جهاد غږ د مجاهدینو له خولې ۲۰۰۸م .
۱۴ – له جرمني تر عراقه د امت په جوړولو کې د امریکا رول.
۱۵ –په منځني ختیځ کې د پوځي تکلوریو بدلون.
۱۶ – د مدیترانې د حوض د هېوادونو امنیت.
۱۷ – د فلسطین د قضیې په اړه څلور پراخې څېړنې.
۱۸ – د عراق په اړه څو بېلابېلې څېړنې.
۱۹ – ایران پېژندنه ۲۰۰۹م .
۲۰ – د سپاه پاسداران ظهور ۲۰۰۹م .
۲۱ –ایران او د خلیج امینت.
۲۲ – د شمالي افریقا امنیت، داخلي او خارجي ننګونې.
۲۳ – د عربي فکر اوسني توجهات.
۲۴ – د عربي هېوادونو اقتصادي امکانات.

د امریکا له لوري د افغانستان تر اشغال وروسته (رانډ کارپوریشن) د افغانستان په اړه هم په ډېرو مهمو موضوعاتو کې څېړنې ترسره کړې چې د امریکا د اشغال د تقویه کولو لپاره ډېرې ضروري یې دغه لاندې درې څېړنې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – په افغانستان کې د راډیو له لارې ښوونه او روزنه. ۲۰۰۱م.
۲ – د افغانستان په نوي اساسي قانون کې اسلام او ډیموکراسي ۲۰۰۳م.
۳ – افغانستان، دولت، ټولنه، د امریکا سیاست او د راتلونکي پر لوري لاره ۲۰۰۸م([1])

په پورتنیو یادو شویو څېړنو کې (رانډ کارپورېشن) امریکا ته هغه لارې چارې او وسائل ور وښودل چې څنګه له هغو څخه په استفاده په افغانستان کې لیرې او د حکومت له کنتروله آزادو سیمو ته د راډیو له لارې هغه مفاهیم ور ورسوي چې د کتاب، مکتب، تلویزیون او حکومتي ادارو له لارې یې نه شي وررسولی، او هم یې امریکا ته هغه لاره ورروښوده چې څنګه د اشغال د وخت په اساسي قانون کې اسلام غیر فعال، او غربي مفاهیم او ډیموکراسي په فعال او عملي شکل ځای کړي. د یادولو ده چې د افغانستان د همدغه اساسي قانون په اړه زما یوسلسله صوتي څېړنیز درسونه نشر شوي چې د دې اساسي قانون کفري موارد او مادې ورکې د شرعي دلائلو په رڼا کې په نښه شوي او بیان شوي دي چې اورېدل یې بې ګټې ندي.

د افغانستان په اړه د (رانډ کارپویشن) په ترسره شویو څېړنو کې تر ټولو مهم نقش د افغاني الاصل امریکایي لوړپوړي مامور (زلمي خلیلزاد) او د هغه د یهودۍ ښځې (چېریل بنارډ) دی چې دواړه د همدغه تحقیقاتي مرکز څېړونکي او په هغه کې د بېلابېلو پروژو مدیران دي. او د دې لپاره چې (زلمي خلیلزاد) د امریکا د مصالحو د تأمین په مقصد په افغانستان او اسلامي نړۍ کې د خپلو نظریاتو او (رانډکارپوریشن) د توصیو د عملي کولو لپاره مهم فرصت او پراخ امکانات موندلي وي نو ځکه خو یې هغه لومړی په افغانستان کی د امریکا د سفیر او بیا په عراق کې د امریکا د

[1] – درنډ کارپوریشن په اړه د معلوماتو په تیارولو کې د (طروحة جامعیة عن تقریر مؤسسة راند الخبیث عن الإسلام الحضاري) له کتاب څخه استفاده شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سفير او په پای کې د ملګرو ملتو په اداره کې د امريکا د سفير په توګه مقرر کړ.

دا هم د ياولو ده چې لکه څنګه چې (اشرف غني) او ښځه يې (مسيحی رولا) دواړه د بيروت د امريکايي پوهنتون فارغان دي همدغه ډول (زلمی خليلزاد) او يهودی (چيريل بنارډ) هم د همدغه پوهنتون فارغان دي.

د منځلاري اسلام لپاره د امريکا معيارونه

امريکا چې له اصلي اسلام څخه په وېره کې ده د هغه پر ضد يې د (معتدل اسلام) په نامه داسې يو څه ته د اسلام نوم ورکړی چې هغه په حقيقت کې د امريکا د اهدافو او نظرياتو تمثيل کوي، او د اصلي اسلام د مسخ کولو او د مسلمانانو د منحرفولو لپاره له هغه څخه د يوې فعالې وسيلې په حيث کار اخلي.

امريکا د معتدل اسلام د رامنځته کولو او متعارف کولو تر نامه لاندې غواړي (اصلي اسلام) له خپلې اصلي محتوی خالي کړي، او پر ځای يې غربي مفاهيم او نظريات ورواچوي.

امريکا او ملګري يې غواړي له اسلامه د (وحيې)، (قدسيت) او (يوازې ديني نصوصو او تعليماتو ته د رجوع کولو) خبره وباسي، او د دغو معيارونو پر ځای (عقل)، (مصلحت)، (دنياوي مادي ګټې) او (له غرب سره پر يوه لار تلل) د معتدل اسلام معيارونه وګرځوي.

هغه اسلام چې امريکا يې غواړي هغه بايد له شرعي قوانينو، د توحيد او حاکميت له عقيدې، له جهاد، د يرغلګرو په خلاف له مسلح مقاومت، د (ولاء او براء له عقيدې)، د اسلامي خلافت له سياسي نظام او د اسلامي امت د (وحدت) له نظريې خالي وي، او د دې ټولو پر ځای دي (ډيموکراسي)، (د غرب له نظره د بشرحقوق)، (د ښځو آزادي)، (شخصي آزادي)، (له کفارو سره سوله ييز ژوند)، (سياسي او ديني تعددګرايي)، (نړيوالو قوانينو او اصولو ته التزام)، (هيومنيزم) او د (ګلوبلايزيشن) تصور دې د (معتدل اسلام) اصلي منځپانګه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لپاره چې امریکا د (توندلاري اسلام) او (معتدل اسلام) تر منځ خلکو ته فرق واضح کړی وي د (رنډکارپوریشن) امریکایي فکري مرکز د (معتدل اسلام) لپاره د ځینې پوښتنو په ترځ کې یو لړ مشخصات او معیارونه وړاندې کړي دي چې که هغه په چا کې راغلل نو هغه به (معتدل مسلمان) ګڼل کېږي، او که یې هغه معیارونه نه منل، نو هغه به په یقیني ډول (توندلاری مسلمان) وي.

د منځلاري اسلام لپاره د رنډکارپوریشن د فکري مرکز معیارونه:

۱ - هر هغه فرد او جهت چې ځان د معتدل اسلام پیرو ګڼي آیا پر مسلح مقاومت (جهاد) باور لري؟ او که اوس پرې باور نه لري او ملاتړ یې نه کوي آیا پخوا یې کله په مسلح مقاومت کې برخه اخیستې؟ او یا یې د هغه ملاتړ کړی؟

۲ - آیا د ډیموکراسۍ تأیید کوي؟ او که ډیموکراسي مني نو آیا هغه په هماغې خپلې پراخې معنی چې د افرادو حقوق او (شخصي آزادي) ورکې شامله ده مني، او که پدې اړه محدویتونه او استثناءات لري؟ (له شخصي آزادۍ څخه مقصد د خپل ځان په اړه د (جنسي آزادۍ په شمول چې همجنس ګرایي او هر ډول جنسي آزادي ورکې شامله ده مراد ده).

۳ - په نړیواله سطحه منل شوي بشری حقوق مني؟ (هغه چې هر چاته د دین د انتخابولو حق ورکوي).

۴ - آیا د بشري حقوقو په منلو کې څه استثناءات غواړي؟(مثلاً د دین د انتخاب او بدلولو په اړه).

۵ - آیا دا مني چې د دینونو بدلول د افرادو خپل حق دی؟

۶ - آیا پر دې ایمان لري چې دولت دې باید شرعي حدود تطبیق کړي؟

۷ - آیا پر دې ایمان لري چې دولت دې باید په مدني قوانینو کې شریعت تطبیق کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ - آیا دا مني چې خلکو ته باید حق ورکړ شي چې که له اسلامي شریعته پرته د سیکولر قوانیو مطابق فیصلي کوي نو څوك یې باید مخه ونه نیسي؟
۹ - آیا دا مني چې نامسلمان اقلیتونه دې له مسلمانانو سره مساوی حقوق ولري؟
۱۰- آیا دا مني چې د نامسلمانو اقلیتونو خلکو دې د اکثریت مسلمانانو په هېواد کې دې لوړو سیاسي منصبونو ته ورسیږي؟(یعني د هېواد مشر، وزیران، قاضیان، د پوځ مشران او داسې نور دې کافران وي).
۱۱- آیا د نامسلمانو اقلیتونو لپاره دا حق مني چې په مسلمان هېواد کې دې د ځان لپاره خپل د عبادت خاص ځایونه (لکه کلیساګانې، معبدونه او داسې نور) جوړ کړي؟
۱۲- آیا داسې نظام او قوانین مني چې پر سیکولریزم (بې دینۍ) ولاړ وي؟
په پورتنیو پوښتنو کې یاد شوي مهم مشخصات او معیارونه چې له مسلح فعالیت (جهاد) سره مخالفت کول، په ټوله معنی غربي ډیموکراسۍ منل او په هغې کې هیڅ ډول ترمیم نه کول، د غرب د معیار مطابق د بشري حقوقو منل، د بشري حقوقو پر غربي معیارونو د اعتراض نه لرل، د دین د بدلولو د حق منل، د شریعت له تطبیقولو انکار کول، په اسلامي ټولنو کې د سیکولر د (پر دین نه ولاړ) قوانینو د تطبیق مخه نه نیول، د کافر او مسلمان لپاره د مساوي حقوقو منل، د د ولت د مشرۍ او د نورو لوړو مناصبو لپاره د کافرو اشخاصو په ټاکلو د اعتراض نه لرل او په اسلامي هېوادونو کې د نویو کلیساګانو، مندرونو او د کفارو د نورو معبدونو د جوړېدلو د حق تسلیمول ښودل شوي دي چې دا هر یو یې د اسلام په دین کې یا (حرام) او یا ښکاره کفر ګڼل کیږي.
له پورتنیو معیارنو دا په واضح ډول معلومیږي چې امریکا او ټول غرب د مسلمانانو لپاره د (معتدل اسلام) په نامه داسې یو (نوی دین) غواړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرب له (ليبراليزم) او (ډيموكراسۍ) سره هېڅ فرق ونه لري، او همدغه مفهوم د (رنډ كارپويشن تحقيقاتي مركز) د (متمدن ديموكراتيك اسلام) په تعريف كې په لاندې ډول ذكر كړى دى:

((امريكا، نوې صنعتي نړۍ او په مجموع كې بين المللي ټولنه داسې يو اسلام غواړي چې د نورې نړۍ له نظامونو سره پر يوه لار روان شي، ديموكراتيك او مترقي اسلامي وي، او پر نړيوالو قوانينو، احكامو او اخلاقو وچليږي)).[1]

په اسلامي نړۍ كې د امريكايي (منځلاري اسلام) پرځاى د (اصلي اسلام) له تطبيقه د غرب وېره:

د معتدل اسلام په اړه د (رنډ كارپويشن) د تحقيقاتي مركز څېړنه په پيل كې لدې شكايت كوي چې ولې په اسلامي ټولنه كې له مسجد څخه د ټولنيزو، اقتصاي او د حاكمو او مسلطو سياسي ناخوالو په خلاف غږ پورته كيږي؟ او ولې په اسلامي هېوادونو كې – د دوئ په اصطلاح- توندلاري (اصلي مسلمانان) خپل ځانونه د موجود مسلط وضعيت د بديل په حيث وړاندي كوي؟ او ولې د غرب د ديموكراسۍ منونكى او ليبرالان په اسلامي هېوادونو كې وېرول كيږي؟ او په ځينې ځايونو كې د وطن پرېښودلو ته اړ كيږي؟ او ولې مرتدان، او يا نور نامسلمان خلك لكه قاديانان چې لا هم ځانونه مسلمان بولي تر فشار لاندې نيول كيږي؟

د دې لپاره چې په اسلامي هېوادونو او نورې نړۍ كې د مسلمانانو په زړونو كې له كفارو څخه كركه ليرې كړاى شي، او خلك د حقيقي اسلام پرځاى د غرب له لوري د جوړ شوي (معتدل اسلام) منلو ته تشويق شي امريكا، اروپا او پر اسلامي نړۍ مسلط د هغوى ملګري نظامونه هركال پر بېلابېلو پروژو په سلګونو مليونه ډالر مصرفوي او د حالاتو او شرائطو مطابق بېلابېلې څېړنې او سروې ګانې ترسره كوي.

---

[1]– Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يادو شويو څېړنو په لړ کې يوه هم د مشهور امريکايي څېړونکي (ډيويډکپلان) څېړنه هم ده چې له امريکايي لوړ پوړيو چارواکو سره د مرکو او د(سي آی ای) د راپورونو د مطالعې پر اساس يې د Hearts) Minds and dollars) په نامه پردې موضوع ترسره کړې چې امريکا څنګه کولی شي چې اسلام له داخل څخه تبديل کړي.

هغه د خپلې څېړنې په پيل کې وايي:((امريکا د اول ځل لپاره داسې ستراتيژي وضع کړې ده چې دا په ډاګه کوي چې د امريکا د ملي امنيت مصلحت په دې کې دی چې اسلام له داخل څخه اغيزمن کړي، خو دا چې امريکا په اسلامي نړۍ کې په سياسي او پوځي لحاظ په جګړه کې ښکيل ده او خلك نفرت ورڅخه لري او د اسلام په اړه يې خبره نه مني،نو له همدې امله د امريکا دغه ستراتيژي داسې وضع شوې چې امريکايان بايد د بل چا په توسط اسلام بدل کړي، چې دغه بدلوونکي جهتونه (منځلاري اسلامي دولتونه)،(مؤسسي) او (اصلاحي) ډلې دي. دوئ بايد تشويق شي چې په ډيموکراسۍ کې برخه واخلي، د نورو (نامسلمانو) په مقابل کې د(زغم) د فرهنګ او روحيې د خپرولو لپاره فعاليت وکړي. امريکا د همدې هدف لپاره ترشلو په زياتو اسلامي هېوادونو کې اسلامي راډيويي او تلويزوني پروګرامونه تمويلوي، فکري ورکشاپونه او سمينارونه جوړوي، له ديني مدرسو او فکري مراکزو سره مرستی کوي، او دا هرڅه د دې لپاره کوي چې دغه خلك د(منځلاري اسلام) خپرولو ته تشويق کړي)).

د اسلام د جهادي تفسير په مقابل کې د منځلاري غرب پلوي اسلام د تفسير د حتميت په اړه (ډيويډکپلان) د خپلې دې څېړنې په يوې برخه کې د (سي آی اې) د يوه متقاعد افسر خبره را اخلي او وايي چې:((که دې وليدل چې د سړك پرغاړه کوم (ملا عمر) خپل نهج او فکر ته خلك وربلل نو موږ بايد د سړك پر بله غاړه يو (ملا براډلي) ولرو چې د اسلام غربي ډوله نهج او فکر ته خلك ور وبولي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي نړۍ کې د منځلاري اسلام خپروونکي:

د (رنډ کارپوریشن) د منځلاري اسلام طرحه او همدارنګه د غربي فکري جهتونو نورې طرحې او کتابونه لکه د (ډیویډ کپلان) د Hearts Minds) (and dollars طرحه او د (رابرټ سوتلوف) د (تروریزم په خلاف د فکرونو جګړه) طرحه، د (ولیام راج) د (دمسلمانانو او عربو اوریدونکو لپاره د عمومي ډیپلوماسۍ) طرحه، ټولې پر دې ټینګار کوي چې د اسلام مقابله باید د اسلام په داخل کې د غرب پلوو عناصر په توسط وشي، چې په دې لړ کې له لاندې یادو شویو خلکو او جهتونو څخه کار اخیستل کېدی شي:

۱ – د مسلمانانو په اکاډیمیک ماحول کې د لوړو تحصیلاتو د سیکولر فکر لرونکي.

۲ – اسلام ته منسوب د (منځلاري فکر) د ټیټې طبقې دیني عالمان.

۳ – د سیاسي ډلو او احزابو فعالین.

۴ – د ښځو له حقوقو د دفاع او له نارینه ؤ سره د هغوئ د مساوات د نظریې پلویان.

۵ – د (منځلاري فکر) لیکوالان او ژورنالستان.

۶ –د صوفیانه فکر لرونکي او د جهادي فکر مخالف پیران اوصوفیان.([1])

([1]) د غربیانو مقصد له تصوف څخه زهد، تقوي، تقرب إلى الله، اشتغال بالأذکار المسنونة او حُسن خلق او هغه څه نه دي چې په اسلام کې ورته (تزکیه) او (احسان) ویل کېږي او هر مسلمان یې بایدخپل کړي، بلکې د هغوئ په نزد تصوف هغو فلسفیانه افکارو او خاصو سلوکیاتو ته ویل کېږي چې اسلام ته د منسوبو منحرفو صوفیانو او نورو دینونو تر منځ مشترك دي، او منونکي یې ټول د جهاد او مجاهدینو په خلاف د سیکولریزم او دیموکراسۍ په صف کې درېږي. همدغه مفهوم رنډ کارپورېشن) د اسلام په اړه په خپله بله څېړنه کې چې د (د متمدن دیموکراتیك اسلام) په نامه یې خپره کړې داسې واضح کوي: ((...صوفیان په ماډرنستانو کې شمېرل کېدی شي. هغوئ د اسلام په اړه یو آزاد فکر او تعبیر لري. په کار ده چې په افغانستان او عراق کې چې خلک یې صوفیانه عنعنات لري صوفیانه تأثیرات په تعلیمي نصابونو او د خلکو په کلتوري معیارونو کې تشویق او تأییدکړای شي... صوفي حرکت د خپلې فلسفې، خپلو صوفیانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- د مدني ټولنو فعالین:
د (رنډ کارپورېشن) د (منځلاري اسلام) څېړنه دامریکا حکومت ته توصیه کوي چې امریکا باید دغه ډول خلك په بېلابېلو وختونو کې امریکا ته وروبولي، د امریکا له ډیموکراتیکو او پالیسي جوړونکو ادارو سره یې آشنا کړي، او د کانګرس غړو ته یې ور وپېژني، تر څو هغوئ په بېلابېلو پلانونو او پالیسیو کې د دې خلکو لپاره د مرستو وړاندیزونه توصیه او تصویب کړي.

امریکا د منځلاري اسلام د خپراوي لپاره په کومو ډګرونو کې مرستې او فعالیت کوي؟

د (رنډ کارپوریشن) د (منځلاري اسلام) طرحه امریکا ته توصیه کوي چې (توندلاري اسلام) یعنې حقیقي اسلام ته د ماتې ورکولو لپاره دې هم له هماغې استراتیژۍ کار واخلي د کومې په نتیجه کې یې چې شوروي اتحاد مات کړ، او د کمونیزم فکر یې خلکو ته د یوه منفور فکر په حیث معرفي کړ. د امریکا د هغه وخت هغې استراتیژۍ دوه مهمې برخې درلوې چې یوه یې:
د امریکا او اروپا په ګټه تبلیغات وه،
او بله یې:
د شوروي په خلاف سایکالوژیکه (رواني) او سیاسي جګړه وه.
او هغه ستراتېژي ځکه مؤثره ده چې هغې له یوې خوا د غرب پر ارزښتونو، تمدن او پوځي قوت د خلکو باور ورجوړ کړ، او له بلې خوایې د شوروي اتحاد او کمونیزم پر ارزښتونو، تمدن، او پوځي وړتیا د شوري په داخل کې د خلکو اعتماد ورخراب کړ. او دا کار د پوځي قوت په توسط نه، بلکې دامریکا او غرب د مؤسساتي او تبلیغاتي قوت په توسط ترسره شو.

اشعارو، او خپلې موسیقۍ له لارې د بېلابېلو دینونو ترمنځ د وصل کېدو قوي پلونه غزوي. Civil democratic Islam Partners Resources and strategies (
۵۸مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو امريکا بايد د (توندلاري اسلام) يعنې حقيقي اسلام په خلاف هم خپل فعاليت د همدغه ډول يوې ستراتيژۍ په چوکاټ کې منظم کړي. پدې معنې چې لکه څنګه چې د شوروي اتحاد د له منځه وړلوپاره د شرقي اروپا په هېوادونو کې غرب پلوي ديموکرات احزاب او تنظيمونه جوړ کړای شول او تقويه شول، همدغه ډول دې په اسلامي نړۍ کې هم غرب پلوي احزاب او د مدنې ټولنې په نامه سياسي او اجتماعي تشکيلات جوړ کړای شي. او لکه څنګه چې له ۱۹۴۷م څخه تر ۱۹۸۴م پورې امريکا له اروپا او ترکيې سره مادي او د مشورې مرسته وکړه چې د شوروي اتحاد په مقابل کې قوي شي، همدغه ډول بايد په اسلامي نړۍ کې هم له غرب پلوو حکومتونو، احزابو او مدني ټولنو سره هم مرسته وشي چې دجهادي فکر په مقابله کې ځواکمن شي.

امريکا په افغانستان کې د خپل (منځلاري اسلام) د خپرولو لپاره له ډېرو فکري او ديني جهتونو څخه کار اخلي چې ځينې يې په شعوري ډول له امريکا سره ملګري دي او ځينې نور يې په غير ارادي ډول په دې کار کې استعمالېږي.

هغه جهتونه چې امريکايان يې استعمالوي په لاندې ډول دي:

۱ – سيکولر احزاب، ټولنې او شخصيتونه.

۲ – له جهاد او اسلامي فکر څخه منحرف شوي پخواني جهادي تنظيمونه چې اوس يې ډيموکراسۍ په کاروان ورګډ شوي دي.

۳ – اوسني اخواني فکر ته ځينې منسوب خلك چې د خپل دعوت لپاره يې د دوئ په ګومان سوله ييز اسلوب او د ډيموکراسۍ قالب غوره کړي دي. دوئ دا وظيفه پرغاړه اخيستې چې په څه ډول مسلمان ځوانان له جهاده منحرف او د هغه پر افاديت باندې يې شکمن کړي.

۴ – د روحانيت منحرف او حرفوي پيروان او هغه ډلې ټپلې چې د معنويت او روحانيت تر پردې لاندې د مجاهدينو او جهادي فکر په خلاف په جګړې اخته دي.

په اسلامي نړۍ کې او بيا په خاص ډول په هغو هېوادونو کې چې د غرب د پلويانو په خلاف جهاد ورکې جريان لري امريکا د خپلو سفارتو، مؤسساتو او استخباراتي کانالونو له لارې پر دغه ډول خلکو ډېرې لورينې لري او هغوئ ته په ټولنه کې د نفوذ پراخ وسائل په لاس ورکوي، او هم يې فکر ته په مطبوعاتو او تعليمي نصابونو کې پراخ ځای ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – هغه ديني ډلې ټپلې او جهتونه چې د افغانانو ترمنځ د مذهبي اختلافاتو خپرولو ته يې کار ويلی دی او تل په خپلو دعوتي او تعليمي فعاليتونو کې همدې اور ته پوکي وهي. دغه ډلې يوازې په کوم خاص مذهب پورې اړه نه لري، بلکې په ټولو فکري مکاتبو او فقهي مذاهبو پورې ځان منسوب بسيي.

۶ – نشنلستان او د قومي تعصباتو پالونکي هم هغه مضر او خطرناك جهت دی چې غربيان يې په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې د حقيقي اسلام په مقابل کې استعمالوي او تر شا يې دريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکایانو له اشغاله وروسته په افغانستان کې د سیکولر احزابو پرله پسې زیږون

غرب او په سرکې یې امریکا له ډېرې مودې راهیسې غوښتل چې افغانستان د خپلې سیاسي غلامۍ په حلقه کې داخل کړي، او افغانان هم د نورو ولسونو په څېر په فکري او فرهنګي لحاظ تسخیر کړي. او د دې کار لپاره یې ډېرې وسیلې، احزاب، شخصیتونه، ادبې حلقې او مراکز او کلتوری فعالیتونه په کار اچولي وو، خو دا چې افغانستان د اوږدې مودې لپاره د جهاداومجاهدینو کور ګرځېدلی وو نو غرب خپلو دغه هدف ته په اسانه نه رسېده، هماغه وو چې امریکا د سپتمبر د یوولسم د پېښې په بهانه افغانستان اشغال کړ، او په مستقیم ډول خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره د عمل میدان ته داخله شوه.

په افغانستان د امریکا یرغل د خپلو نورو سیمه ییزو او بین المللي اهدافو تر څنګ په افغانستان کې دوه ځانګړي او اساسي هدفونه لري چې په لاندې ډول دي.

د سیکولر احزابو له جوړولو د امریکا دوه مهم هدفونه

اول هدف ــ په سیمه کې د جهاد د فرهنګ ختمول:

امریکا ځکه پدې سیمه کې د جهاد فرهنګ ختمول غواړي چې جهاد دلته د کمونیزم د زوال سبب ثابت شو. کمونیزم له خپل ټول توان سره چې په نړۍ کې یې درلود د جهاد په وړاندې مقاومت ونه کړای شو، همدغه جهاد د غرب او امریکا د زوال سبب هم ثابتېدلای شي.

غرب ته د جهاد په وړاندې خپله د ناتوانۍ تجربه د شرقی روم د امپراتورۍ او د اندلس په له لاسه ورکولو کې معلومه شوې وه چې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بياد صليبي جګړو په ترځ کې بيا هم تکرار شوه. د غربي تمدن معاصر فيلسوفان او سياستداران تل پدې نظر دي چې جهاد او مجاهدين د دوئ د بې رحمه او بې معنويته تمدن د زوال سبب کېدای شي، نو بايد په هر ځای کې د جهادي حرکتونو د ځپاند کېدلو مخنيوی وشي.

۲ - غرب په شلمې ميلادي پېړۍ کې د استعماري جګړو او بيا وروسته د غرب پلوو حکومتونو له لارې د اسلامی نړۍ د سياسی، اقتصادی، اجتماعی او فرهنګي چارو واګې په خپل لاس کې ونيول او د اسلامی نړۍ هر څه يې د خپل ځان کړل، او د اسلامی نړۍ حکومتونه او حاکمان يې د شطرنج د مهرو په څېر په اسانۍ بدل را بدل کړل.

د اسلامی نړی د هېوادونو په لکونو پوځونه د دوئ د اهدافو د تحقيق په لار کې نه يوازې دا چې خنډ نه دي بلکې د کرايي مليشو په څېر په ډېره ارزانه بيه د غرب د اهدافو لپاره مسخّر دي، او د دې پر ځای چې دغه پوځونه له دين او هېواد څخه دفاع وکړی، د دين او هېواد د اصيلو بچيانو او مدافعينو په خلاف يې خپله خونړۍ او ظالمانه جګړه پيل کړې ده.

د غرب او د هغه د محلّي ملګرو په مقابل کې يوازې مجاهدين او ځينې اسلامي حرکتونه دي چې د غرب د هر ډول پوځي، سياسي، اقتصادي او کلتوري مداخلو په مقابل کې ولاړ دي او نه پرېږدي چې اسلام او مسلمانان دې په خپلو هېوادونو کې ذليل شي. که له همدغو مجاهدينو وېره نه وي نو غرب پلوي سيکولر او مفسد حاکمان به هر اسلامي هېواد د (ايتاترک) د ترکيې په څېر له اسلامه محروم کړي.

د دې لپاره چې غرب او د دې ځای ملګرو يې دغه موجود او قوي خنډ له منځه وړی وي نو په ټوله نړۍ کې يې د جهاد او مجاهدينو له منځه وړلو لپاره نړيواله جګړه اعلان کړې ده.

دا چې افغانستان په تېرو دوو لسيزو کې يو جهادي محور او د مجاهدينو مرکز ګرځېدلی وو او د نړی محکومو او مظلومو ولسونو دلته د ازادۍ او استقلال د حاصلولو زده کړه وکړه، او د نړۍ په هر ګوټ کې مجاهدينو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادي غوښتونکو له افغانستان او افغانانو سره فکري او ایډیالوژیک تړاو درلود، نو ځکه خو امریکا تر ټولو د مخه پر افغانستان یرغل وکړ، او اشغال یې کړ.

غربیان پدې پوهېدل چې په نورو اسلامي هېوادونو کی د سیکولرو مرتدو حاکمانو او د مستبدو حکومتونو د شتون له امله جهاد او مجاهدین وده نشي کولای، او د دي کار لپاره یوازینی ازاده خاوره افغانستان ده، نو ځکه یې اول پر افغانستان برید وکړ، او پدې یرغل کی یې د نړۍ ټول اسلام دښمنه قوتونه له ځان سره یو ځای کړل.

دوهم هدف ـ د سیکولرزم (بې دینۍ) حاکمول:

دا چې امریکا او غرب له یوې خوا د تل لپاره افغانستان په خپله حلقه او تسلط کې ساتل غواړي خو له بلې خوا د ډېرو درنو پوځي تاوانونو او اقتصادي لګښتونو د نه زغملو له امله دلته خپل نظامي حضور ته دوام نشي ورکولای نو داسې یوه سیاسي فضا او حکومتي میکانیزم رامنځته کوي چې د امریکا له پوځي شتون پرته هم افغانستان د امریکا په غلامۍ کې وساتي او د دې هېواد هر څه ته غربي بڼه ورکړي، او حاکمیت، نظام، کلتور، تعلیم او تربیه، سیاسی جوړښتونه، اخلاقي ارزښتونه، فکری تګلوری او هر څه د امریکا پر لاره روان کړي. دی هدف ته د رسېدلو تر ټولو مهمه او موثره وسیله د Secularism (بې دینۍ) او westernization (غربی کولو) حاکمول دي، ځکه چې یوازې سیکولریزم کولی شي چې افغانان او افغانستان غرب ته تابع وساتي، او یوازې سیکولران غرب ته په هر حال کې وفادار پاتې کېدلای شي.

له همدی امله غرب او امریکا ټول سیکولر (بی دینه) افغانان او افغاني فرهنګي، سیاسي، فکري، او ادبي ټولنې په خپلو پوځي مصارفو او وسایلو افغانستان ته راصادرې کړې او د هغو لپاره یې دلته د فعالیت او ودې کولو زمینه برابره کړه، حکومت او وزارتونه یې ور وسپارل، او هم یې په سلګونو غیر دولتي مؤسسې یې په اختیار کې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرب د افغانستان د اشغال په وخت کې لدې هېواد سره د مرستې په نامه په لسګونو ملیارده ډالر د کابل حکومت او ټولو هغو مؤسسو او جهتونو ته ورکړل چې د سیکولریزم د خپراوي لپاره کار کوي.

د افغانستان په اشغال کې شریکو غربي هېوادونو او مؤسسو د افغاني جهت سیکولرو سازمانونو او شخصیتونو ته د سیکولریزم د خپرواوي لپاره ښه ډېر تبلیغاتي او مطبوعاتي مؤسسې او وسایل په لاس ورکړل چې د افغانانو د سیکولرېزه کولو لپاره په هېواد کې دننه او دباندی په سلګونو نشراتي کانالونه په کار واچوي. دغو سیکولرو جهتونو دلته راډیویي او تلویزوني کانالونه پرانستل، او د دوئ تر څنګ یرغلګرو هېوادونو هم د خپلو راډیوګانو نشرات له یو او دوو ساعتونو څخه ځلېریشت ساعتونو ته وغزول، او ښه ډېر فرهنګیان، ادیبان، لیکوالان، شاعران او ډمان یې د ډالرو په مقابل کې د خپلو راډیوګانو او تلویزونون په خدمت کې کړل، او هغوئ په توسط یې د جهاد، مجاهدینو علماوو د دیني مدرسو د زده کوونکو، متدینو خلکو او بالآخره د هر هغه چا په خلاف یې خپرونې وکړې چې د یرغلګرو او سیکولرو په خلاف یې دریځ نیولی وو.

د اشغال په پیل کې د غربي اشغال دغو فرهنګي ملېشو داسې تبلیغات پیل کړل چې هر په شرع برابر سړی یې د القاعده او تروریزم پلوی وباله، او د اخلاقي فساد پر مخ یې د هېواد دروازې داسې پرانستلې چې په ډېره لنډه موده کې یې افغاني اسلامي اخلاقي او معنوي ارزښتونه وګواښل او داسې بې دینه، د اخلاقو منافي او د افغانی غیرت او حمیت خلاف خپرونې یې وکړې چې د کابل د اشغالي ادارې خرڅو شویو د شؤون اسلامي درباري ملایانو ته هم نور د زغملو وړ نه وې.

د دغو نشراتي مؤسسو لخوا ډول ډول داسې بهرنې بې حیا فلمونه نشر شول چې نوی نسل یې پر بله لار روان کړ، او د دې هرڅه تر څنګ بهرنیانو ته د خدماتو او سهولتونو د وړاندې کولو تر نامه لاندې نایټ کلبونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرابخانې، او د ګيسټ هاوسونو په نامه د زناکارۍ اډې د حکومتي جهتونو تر څارنې او پالنې لاندې منځ ته راغلې چې وروسته بيا په ښارونو کې د مجاهدينو د فعاليتونو له وېرې يا بندې شوې، او يا هم ډېرې محدودې او مخفي شوې خو بې حيا خپرونې لا هماغه ډول روانې دي.

دا هر څه د دې لپاره تر سره کېږي چې په افغانستان کې د سيکولر (بې دينه) ګوندونو د نشأت او د هغو د فعاليت منل کېدو ته ذهنونه او زمينه برابره کړي، او افغانان بيا د هغوئ له بې دينه سياستونو او فعاليتونو سره حساسيت ونه ښيي، چې په نتيجه کې به يې بيا ارتداد، زنديقيت، فحشاء او هر ډول بې لاريتوب د ازادۍ، ډيموکراسۍ، د بشر حقوقو د رعايت او د بيان د ازدۍ تر نامه لاندې تر سره کېږي، قانون به يې دفاع کوي، او څوک به د اعتراض حق ورباندې نه لري.

د همدغه ډول يوې ککړې فضا په رامنځته کولو سره په کابل کې د امريکا لخوا جوړې ادارې د سياسي احزابو د جوړولو قانون جوړ کړ، او د غرب په لارښوونه او د غربي مشاورينو په همکارۍ ټولو (سيکولر) جهتونو د سياسي احزابو په جوړولو لاس پورې کړ، او د حکومت لخوا ورته د فعاليت اجازت جواز ورکړل شو چې پدې لړ کې په لسګونو ګوندونو د خپل جوړښت اعلان وکړ.

دغه اعلان شوي ګوندونه ټول له يوې مخې (سيکولر) ګوندونه دي، کېدای شي ځينې يې ځان د اسلام او يا پخواني جهاد ته د انتساب تر نامه او کوم بل مقدس نامه لاندې مطرح کړي، خو په حقيقت کې هماغه هم سيکولر ګوندونه دي، ځکه چې د امريکا په ملګرتياکې او د هغې تر سيوري لاندې څوک ريښتينی مسلمان يا مجاهد نشي پاتې کېدلای.

همدغه ګوندونه چې ځان ته اسلامي وايي تر هغو نورو ښکاره سيکولر ګوندونو يې د امريکا ډېر خدمت کړی دی. دوئ د امريکا لپاره د مسلمانانو په خلاف جنګېدلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريکا ته يې استخباراتي فعاليتونه ترسره کړي، د جهاد او مجاهد نومونه يې په نړيواله سطحه شرمولي، په افغانستان کې د طاغوت او وضعي قوانينو په حاکميت راضي شوي، د امريکا له سيکولرو ملګرو سره يې ايتلافي حکومتونه جوړ کړي، جهاد يې تروريزم بللی، او په سلګونو داسې جنايتونه يې کړي چې ښکاره سيکولر ګوندونه يې شل کاله وروسته هم نشي ترسره کولای. نو له همدې امله دغه ګوندونه هم په حقيقت کې سيکولر ګوندونه دي.

امريکايان همدغه ډول دوه مخو او منافقو ګوندونو ته ضرورت لري تر څو له يوې خوا د هغو په وسيله حقيقي مسلمانان او مجاهدين وځپي، او له بل لوري ساده او د سطحي فکر لرونکي مسلمانان ورباندې تېرباسي چې د دوئ تر کنترول لاندې اشغال شوي افغانستان کې اسلامی ګوندونه هم موجود دي. نو ځکه خو امريکا دغه ډول دوه مخو ګوندونو او ټولنو ته هم د فعاليت اجازه ورکړه. که داسې نه وي نو بيا امريکا د نړۍ په هر ګوټ کې د مجاهدينو په حرکتونو او فعاليتونو ولې بنديز لګولی؟ ولې يې مشران تر تعقيب لاندې نيولي؟ او ولې يې د هغوئ شتمنۍ غصبې کړې او کنګل کړې دي؟ او ولې هغوئ ترورستان بولي؟

دا څنګه کېدای شي چې په فلپين، فلسطين، کشمير، ازبکستان، چيچنيا، عراق ، سوريه، صومال، ليبيا ، تونس، الجزائر، اندونيزيا او نورو هېوادونو کې دې جهادی تشکّلات او د هغو منسوبين ترورستان بلل کېږي، په افغانستان کې دې د حقيقي مجاهدينو د له منځه وړلو لپاره نړيوال ايتلاف جوړېږي، او بيا دې په هغه کې مرتدو او منافقو اشخاصو او جهتونو ته د اسلامي يا جهادي احزابو تر نامه لاندې عضويت ورکول کېږي، او غربي عسکرو د قرباني کېدلو په نتيجه کې دوئ واك ته رسول کېږي؟

د دې مدعا د ثبوت لپاره ښه مثالونه ټول هغه تنظيمونه،ټولنې او دربارونه دي چې هم يې په پوره بې شرمۍ مشران د امريکا په صف کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودرېدل، او هم يې خپل افراد، مريدان، پيروان او ټوپکيان د امريکايانو په خدمت کې کړل.
امريکايانو هم دوئ ته د اشغال په حکومت او نورو ناحکومتي ادارو کې ښه برخه ورکړه، ځکه امريکايان پوهېږي چې دغه خلک په ډېره ارزانه بيه د مجاهدينو په خلاف جنګېږي اويا دهغوئ په خلاف د نوي نسل ذهن جوړونه کوي. دوئ له ريښتينيو مجاهدينو سره کينه لري، او پدې پوهېږي چې که دغه نظام د مجاهدينو په لاس رنګ شي دوئ به په هغه صورت کې خپل ډېر مادي او سياسي مصالح له لاسه ورکوي، نو ځکه دوئ د امريکايانو په لاس د جوړ شوي حکومت د بقا لپاره د مجاهدينو په ضد جنګېږي او منفي تبليغات کوي که څه هم چې امريکايان ورڅخه د مجاهدينوپه په خلاف د تبليغاتو او جګړې ته د دوام ورکولو غوښتنه هم ونه کړي.
نو پر همدې اساس ويلی شو چې دغه ډول اسلام ته منسوب (پراګماتيست) ګوندونه په ټولې اسلامي نړۍ کې امريکا او غرب ته تر هغو ښکاره سيکولر ګوندونو هم ډېر ارزښت لري. او ځکه خو يې له سيکولرو ګوندونو سره په حکومتونو کې هم شريك ساتي.
غرب دې خلکو ته يوازې په دومره حجم کې د تبارز اجازه ورکوي چې د غرب مقاصد ترې پوره شي، او د ډيموکراسۍ کرغېړن مخ ورباندې سپين کړي، خو هېڅکله د دې اجازه نه ورکوي چې د غرب د منافعو له دائرې ووځي. او په دې ډول غرب ښکاره بې دينه خلك د ښکاره سيکولر احزابو په وسيله او ساده او اسلامپالي خلك د دغه ډول اسلام ته منسوبو ديموکراتو ګوندونو،ټولنو او منحرفو سيکولرو (روحانيونو) په توسط په خپلو خپرو کړيو جالونوکې ساتي. خو افغانان پوهېږي چې رښتني مجاهدين او د هېواد د ازادۍ حقيقي غوښتونکی څوک دي؟ او هېڅکله به هم نه د بې دينه سيکولر احزابو او نه هم د غرب روحاني ملېشو په خبرو او تبليغاتو وغولېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غربي اشغالګر او په اسلامي نړۍ کې د تعلیم سیکولریزه کول

غربي هېوادونه چې څومره د مسلمانانو له جهاد څخه په وېره کې دي په هماغه اندازه په اسلامي نړۍ کې د پوهې او ویښتیابه له خپرېدلو هم په وېره کې دي.
همدغه سبب دی چې هر کله غربي استعمار کوم اسلامي هېواد لاندې کړی نو تر هر څه دمخه یې دهغه هېواد تعلیمي نصاب دخپلو اهدافو د خدمت لپاره عیار کړی او د نصاب مضامین او مفرادت یې په داسې ډول انتخاب کړي چې لوستونکي یې باید په پوره اخلاص د استعمار په خدمت کې پاتې شي، او نور هېڅ ډول مفکوره او د آزادۍ احساسونه لري.
دتعلیم له لارې د ولسونو په اشغالولو کې په هندوستان کې د برطانوي استعمار د تعلیمي نصاب د بنسټ ایښودونکي (لورد میکالي) استراتیژي ډېره واضحه وه چې ویل به یې: (مونږ باید په هندوستان کې داسې یو نسل وروزو چې وینه اوجسم یې هندوستانی، خو فکر، فرهنګ او اراده یې انګلیسي وي، ترڅو د هندوستان دنیمې وچې د پراخو پرګنو په تسخیرولو کې زمونږ خدمت وکړای شي).
د عربي نړۍ د تسخیر لپاره هم انګریزي استعمار د تعلیم له وسیلې څخه کار واخیست. کله چې په ۱۸۸۲م کې مصر د انګریزانو په لاس سقوط وکړ، نو د انګلستان د هغه وخت حکومت د مصر له انګریز حاکم (لارډ کرومر) څخه وغوښتل چې په مصر کې د انګریزي تسلط د ټینګولو لپاره یې چې هر څه ته ضرورت وي د برتانیې له مرکزي حکومت څخه دې یې وغواړي.
د دې پر ځای چې (لارډکرومر) د برتانیې له حکومت څخه پوځي وسائل او پوځونه وغواړي هغه ورڅخه د (تعلیم ماهرین) وغوښتل. د برتانیې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت د (لارډ کرومر) د غوښتنې په څواب کې هغه ته (ډوګلاس ډنلوپ) چې دلاهوت (مسيحي دينياتو) د شاهي فاکولتې فارغ التحصيل مسيحي عالِم وو ورولېږه.

(ډوګلاس ډنلوپ) د مصر لپاره داسې يو د تعليم نظام او نصاب جوړ کړ چې هم يې د (الأزهر) د تعليمي او معنوي تأثير مخه وربانده ونيوله، او هم يې د وخت په تېرېدلو په مصر کې د داسې يونسل روزنه او پالنه وکړه چې د مصر راتلونکی يې له اسلامه بيګانه او د انګريز په رنګ کې رنګ کړ. او کله چې د مصر تعليمي نصاب سيکولر (بې دينه) شو نو په هغه پسې تقريباً د ټولې عربي نړۍ تعليمي نصابونه (سيکولر) شول، او حکومتونه يې هم د غرب پر لاره روان شول، چې تر ننه لاهم روان دي.

د همدغې استراتيژۍ پر اساس په نولسمې او شلمې ميلادي پېړۍ کې استعماري دولتونو لکه برتانيې، فرانسې ، روسيې، پرتګال، هسپانيې او ايټاليې د اسلامي نړۍ په خپلو مستعمراتو کې داسې نسلونه وروزل چې د مستقيم استعمار تر ختمېدو وروسته هم د سلګونو کلونو لپاره په خپلو هېوادونو کې د استعماري سياستونو د تطبيق او دوام ضمانت ورکوي، او همدغه د استعمار په نصاب روزل شوی نسل د اسلامي شريعت او اسلامي ارزښتونو په له منځه وړلو کې تر استعماري څواکونو زيات فعال او سخت زړي دي.

د دغې استعماري تعليمي استراتيژۍ نتيجه دا راووتله چې هر څومره چې په اسلامي هېوادونو کې مکتبونه، پوهنتونونه او نورې تعليمي ادارې ډېرېږي په هماغه اندازه خلک له اسلام څخه لرې کېږي او ټولنې د اخلاقي لويدنې په لور سوق کېږي، او حاکمان يې چې د همدغو استعماري نصابونو حاصل دي غلامۍ ته پر ازادۍ ترجيح ورکوي، او ټول هغه خلک چې د ازادۍ پر لرلو تأکيد کوي او کار ورته کوي په ارتجاع، بنسټ پالنې او له تمدن څخه په ليرې والي تورن کېږي، چې سزايې پرته له زندان، تبعيد او قتل بل څه نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شلمې پېړۍ له پيل راهيسې چې امريکا پر اسلامي نړۍ او په عمومي ډول پر شرق د تسلط کومې هڅې پيل کړې دي په هغو کې يې په مسلمانانو کې د سيکولر(لادين) تعليم د مسلط کولو خطرناکې هڅې هم پيل کړې دي چې پدې کار کې تر اروپايي استعماري هېوادونو هم ډېر مخته تللې ده.

امريکايانو د اسلامي نړۍ د تعليم او تربيې تقريبا ټول وزارتونه دېته اړويستلي دي چې خپل نصابونه، لوائح، قوانين او تعليمي ماحول پر سيکولر (په دين نه ولاړ) بنستېونو ودروي، ځکه هغوئ پوهېږي چې همدا دين دی چې خلک د غرب د ملحدو نظرياتو او د استعمار د امپرياليستي پراخ غوښتنې په خلاف دروي او د مقاومت توان وربښي.

امريکا د افغانستان له اشغالولو وروسته دلته هم همدغه چاره تر سره کړه، او د خپل اشغال په وخت کې يې درې ځلې د افغانستان تعليمي نصاب تبديل کړ، او په هر ځل تبديلۍ کې يې په تدريج سره هغه مضامين ورڅخه و ويستل چې زده کوونکو ته يې د حقيقي اسلام، جهاد، دفاع، آزادۍ او له کفارو څخه د کرکې کولو مفاهيم ورتلقينول. او د دې مفاهيمو پر ځاي يې په سيستماتيك ډول داسې مفاهيم ورکې راوستل چې نوی نسل د جهاد او دفاع له روحيې څخه محروموي، او په لاشعوري ډول يې له غرب سره په هرڅه کې پيوند اخيستلو ته هڅوي.

د تعليم د لادينه کولو لارې چارې :

غرب په پيل کې له لاندې يادو شويو دوو لارو په مسلمانانو هېوادونو کې د تعليم د لادينه کولو هڅې شروع کړې:

اول :غربي هېوادونو د يوې منظمې استراتېژۍ له مخې هغه مسلمان ځوانان چې غرب ته د علومو د زده کړې لپاره ورغلي وو د علومو ترڅنګ په غربي فرهنګ او مادي فلسفه هم وروزل. دغو هېوادونو له بېلابېلو لارو او سکالرشيپونو ذهين او با استعداده ځوانان وروغوښتل، او له فراغت وروسته يې په خپلو مستعمره هېوادونو کې د چارو واګې ورسپارل، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ بیا خپله هماغه غربي نظریه دلته پلې کړه، او د خپلو هېوادونو تعلیمي نصابونه یې پر هماغو غربي نظریاتو ودرول چې دوئ هلته منلي ول.

دوهم:استعماري هېوادونو په خپلو مستعمراتو کې داسې مکتبونه، پوهنتونونه او تعلیمي اداري جوړې کړې چې نصاب، استاذان، لوائح، قوانین او هر څه یې په مستقیمه توګه د مستعمرینو له لوري پر مخ بیول کېدل، خو د دغو ادارو متعلمین یې د تر اشغال لاندې هېوادونو د متنفذو کورنیو او چارواکو اولادونه ول چې په طبیعي ډول به په نظام او حکومت کې مطرح کېدل.

دغو دواړو چارو داسې تعلیمي چارواکي، استاذان او مفکرین رامنځته کړل چې له اسلام سره دښمني او د مادي ژوند فلسفه یې په سیستماتیک ډول له غربیانو څخه په میراث اخیسې وه، او د هغې لپاره کار او مبارزه یې د پرمختګ او (روڼ اندي توب) تر عنوان لاندې خپل افتخار باله.

د غرب تعلیمي مشاورین او ماهرین :

په ټولو اسلامی هېوادونو کې استعماری هېوادونو خپل تعلیمی ماهرین او مشاورین د مختلفو فشارونو او یا د تعلیم لپاره د مالی مرستو په ورکولو او نورو لارو په کار وګومارل چې له تعلیمي نصابونو څخه هر هغه څه وباسي چې د استعماری هېوادونو د اهدافو د تحقق په لار کې خنډ ګرځي، چې په لومړی قدم کې یې اسلامې تاریخ او بیا وروسته د قرآن ایتونه، نبوي احادیث او ټول ایدیالوژیک مضامین یا په مکمل ډول له نصابه و وایستل، او یا یې په مسخه شوي او نیمګړي ډول او په بې اهمیته شکل کې متعلمینو ته وړاندې کړل. خو د دې کار په مقابل کې یې د غربي نړۍ سیاسي، اقتصادي، فکري او اخلاقي ارزښتونو ته په پراخه پیمانه په نصاب کې ځای ورکړ، او کوښښ یې وکړ چې متعلمینو ته غرب د یوې (نمونه) ټولنې په حیث ور وپیژنی، چې د دې کار نتیجه له شرق او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام څخه د یوه کرکجن خو په غرب او غربي ارزښتونو د مین نسل په شکل کې راووتله.

د تعلیمي ماحول غربي کول:

د هرې تعلیمي اداربواړه او ځوانان له خپل ماحول څخه رنګ اخلي، او په هماغو معیارونو ځان برابروي چې په خپل ماحول کې یېویني.
نن ورځ په اسلامي نړۍ کې د استعمار د شاګردانو په لاس جوړو شویو تعلیمي اداروپه پوره ډول د غربي هېوادونو د کلتور او ژوندبڼې د ننداراتونونو شکل غوره کړی دی. د دې لپاره چې د تعلیمي ادارو محیط په ټولیزه توګه له اسلام او اسلامپالنې څخه محروم شوی وي په ټولو تعلیمي ادارو او د هغو په لیلیوو کې د مسجدونو جوړول هېڅ په پام کې ندي نیول شوي، ځکه چې تعلیمي مسؤولین په تعلیمي ماحول کې د مسجدنو له رول او تأثیر څخه په وېره کې دي.
د افغانستان په ټولو پوهنتونو او لیلیه لېسو کې یو اساسي مسجد هم ندی ودان شوی، خو په مقابل کې په هر پوهنتون او لیسه کې د سینما او تیاتر اسانتیاوې په نظر کې نیول شوې وې، او په هغو کې د زده کوونکو او ځوانانو لپاره د غربیانو د لویدلي او حیواني فرهنګ فلمونه او ډرامې ښودل کېدلې. همدغه سبب و چې په پوهنتونونو کې د پوهانو، مخترعینو او محققینو پر ځای زمونږ له تعلیمي ادارو او پوهنتونونو څخه کمونستان، شعله یان، ستمیان، افغان ملتیان او نور د نشنلستي افکارو لرونکې خېرې ټولنې ته راووتلې، چې هېواد ته یې پردي افکار راوارد کړل، او بیا یې د زور او جبر له لارې پر خلکو ور وتپل، چې په نتیجه کې یې د افغانانو ډاډمن ژوند د انقلابونو، کودتاګانو او اضطرابونو په طوفان کې تباه او برباد شو.
په اسلامي نړۍ کې د تعلمي ماحول د لاخرابولو لپاره د نجونو او هلکانو ترمنځ د مخلوط تعلیم سلسله رواج کړای شوه چې مسلمانې ټولنې یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطرناکو عواقبو سره مخ کړي. د نجونو او هلکانو ګډه تعلیم په حقیقت کې د غرب د شیطانی دامونو په سلسله کې تر ټولو خطرناک دام وو چې په اسانۍ یې ورکې په ملیونونو پېغلې او ځوانان ښکار کړل. دغه کار نه یوازې دا چې د اسلامي ارزښتونو پر ضد یو اقدام ؤ، بلکې د تعلیم او تربیې په خلاف هم یوه نا اعلان شوې پټه جګړه وه، او دا ځکه چې پېغلې او ځوانان د خپل انسانی فطرت د تقاضا پر اساس د عمر په دغه مرحله کې د (جنس) خوا ته ډېر میلان ښکاروي، او تر بل هر کار یې توجه دې خواته ډېره وي.

له بلې خوا مېډیا، نصاب، بې لارې ادبیات او د مخنیوونکو قوانینو نشتوالی دغه ډول تمایلاتو ته نوره هم هوا ورکوي چې په نتیجه کې یې ځوانان له علم څخه پاتې او په عشق او عاشقیو کې اخته کېږي.

که وغواړو چې په رښتیا سره مو تعلیم د پرمختګ او انکشاف په لور حرکت وکړي، او په دغه ډګر کې افغانان هم د نورې نړۍ د سیالی جوګه شي نو باید تعلیم او تعلیمي ادارې له بې دینۍ (سیکولریزم) او پردي پالنې څخه پاکې شي، او د اسلام د مترقي تمدن پر اساساتو ودرول شي، ځکه چې د قرآن کریم تر ټولو لومړي آیتونه دعلم او قلم په اړه نازل شوي دي، او دا هم ښکاره خبره ده چې اسلامي تمدن چې انساني نړۍ ته کوم مترقي فرهنګ متعارف کړی هېڅ بل دین او مذهب یې ساری نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرعون پوهنتون

هندوستانی شاعر (اکبر اله آبادي) چې د اقبال په څېر يې غربي تمدن مطالعه کړی او بيا يې ليکنې ورباندې کړې دي په خپل يوه طنزي شعر کې وايي:(فرعون به د خلکو د زامنو د وژلو له امله دومره نه وای بدنام شوی که يې د پوهنتون د جوړولو هنر زده وای).

د موسی عليه السلام د زماني بېرته پاتې او مرتجع فرعون له دې وېرې د بني اسرائيلو نارينه بچيان وژل چې د دوئ له منځه د ده هغه دښمن را پيدا نشي چې کاهنانو دی ورڅخه ويرولی وو، او د ده د فرعونيت د زوال خطر يې بللی وو.

خو که هغه زوړ او ساده فرعون پدې پوهېدای چې په ملتونو کې د خپل دښمن ختمول او ملتونه او ولسونه د خپلو فرعوني مصالحو لپاره تسخيرول په چړې له يو مخيزې وژنې پرته په فکري يومخيزې وژنې هم کېدای شي نو هرو مرو به يې د بني اسرائيلو د ځوانانو لپاره يو (فرعوني پوهنتون) جوړ کړی وای، او حتما به يې د پوهنتون له لارې په (سيستماتيك) ډول د بني اسرائيلو له زړونو د(فرعون) او (فرعونيت) په خلاف کرکه او کينه ورکه کړې وه، او د معاصرو فرعوني ماهرينو په څېر به يې د ځوانانو د Brain wash (مغز وينځلو) عمليه تر سره کړی وه. چې پدې کار سره به د هغه وخت بني اسرائيلو هم فرعون د خپل قوم لپاره يو داسې عظيم محسن ګاڼه چې د تل لپاره به يې دوئ د موسی او هارون عليهما السلام له(بنسټ پالنې) خلاص کړي او د فرعوني ډيموکراسۍ په نعمت به يې نازولي وو. خو افسوس چې د هغې زمانې فرعون د اوسنۍ زمانې د فرعون په څېر هوښيار او مکار نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت په تېرېدلو هر شي ترقي وکړه، د صنعت او ټکنالوژۍ په ذریعه ډېر ګران کارونه آسانه او ناممکن کارونه ممکن شول، او په دې لړ کې (فرعونیت) هم نور په هغې خپلې پخوانۍ ساده ګۍ او شډلتوب کې پاتې نشو، بلکې ترقي یې وکړه او د پخوانیو فرعونانو له ناکامیو او بدنامیو یې پوره درس واخیست.

(ماډرن فرعونیت)اوس د ملتونو د ویلې کولو او د هغوئ د قیادتونو او د هغوئ د معنوي او تاریخي ارزښتونو د له منځه وړلو لپاره د ماشومانو او ځوانانو وژلو ته اړتیا نه لري، بلکې د (مکتبونو) او (پوهنتونونو) په جوړولو، د نصابونو په تحمیلولو او د فکري او فرهنګي مسخ کولو له لارې کولای شي د ډېرو ملتونو د مستقبل سرنوشت پرته له کومې جګړې او ځاني تلفاتو په خپل لاس کې ونیسي.

د اوسنۍ زماني فرعون (امریکا) هم له اوږدې مودې راهیسې په لسګونو لوی او واړه هېوادونه تسخیر کړي دي او هلته یې د خپلې خوښې حاکمان په خلکو ورتپلي دي چې د افغانستان، د سیمې د هېوادونو او د عربي نړۍ اوسني حاکمان تقریبا ټول د همدې ډول فرعوني پوهنتونونو فارغان او زېږنده دي.

د زمانې فرعون (امریکا) د همدغو تپل شوو حاکمانو په لاس تقریباً یونیم ملیارد مسلمانان یرغمل کړي دي چې دغه د (فرعوني ډیموکراسۍ) وفادار پیروان چا ته پر (فرعون) او (فرعونیت) د اعتراض حق هم نه ورکوي.

خو هغه خلک چې د (ماډرن فرعونیت) له نصاب او پوهنتون دباندې په مساجدو او دیني مدرسو کې روزل شوي دي د (معاصر فرعونیت) پیروان هغوئ جاهل، ترهګر، بېرته پاتې، ورانکاري، اورپکي او دآزادۍ او تمدن دښمنان بولي،او د هغوئ د نیولو، تړلو او وژلو لپاره یې د (نړیوال ماډرن فرعونیت) پولیس او پوځونه په کار اچولي دي، او هم یې د هغوئ د جسدي تصفیې لپاره خپله ټوله عصري ټکنالوژۍ په کار اچولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هر څومره چې (معاصر فرعونان) له زوره کار اخلي په هماغه اندازه په مسلمانه نړۍ کې د اسلام سربښندونکي سپاهيان نور هم زياتېږي، او د فکر او تأثير په ساحه کې پراختيا مومي. همدا وجه ده چې (معاصر فرعونيت) د مقاومتونو د دائمي له منځه وړلو لپاره د فکرونو د تسخير په نيت په اسلامي نړۍ کې (امريکايي پوهنتونونه) جوړوي.

دغې خطرناکې وسيلې په تېروسلو کلونو کې د غرب او په ځانګړې ډول د امريکا لپاره په زړه پورې نتيجې لرلې دي. په تېرو سلو کلونو کې امريکا د اسلامي نړۍ په دريو تر ټولو مهمو ښارونو، بېروت، قاهرې او استانبول کې دغه ډول (امريکن يونيورستۍ) جوړې کړې دي.

د غرب صليبي هېوادونو په سلګونوکلونه په مسلسل ډول د شام، ترکيې او مصر په خلاف صليبي جګړې وکړې خو هېڅ يې ترلاسه نه کړل. خو کله يې چې په دغو هېوادونو کې (امريکايي پوهنتونونه) جوړ کړل او په امريکايي او غربي نصابونو يې د مسلمانانو زامن وروزل، نو په ډېرې آسانۍ يې پرته له کومې جګړې پر دغو سيمو خپل حاکميت ټينګ کړ.

امريکايانو په دغو پوهنتونونو کې په پيل کې د دغو سيمو د نامسلمانو اقليتونو ځوانان وروزل، چې وروسته بيا همدغو فارغانو سياسي حرکتونه، قومي او ژبني احزاب او فکري او ادبي ټولنې جوړې کړې. غربي هېوادونه او دلته د هغوئ سفارتونه د دغو احزابو تر شا ودرېدل، او د سياسي فعاليتونو او کودتاګانو له لارو يې دغه احزاب قدرت ته ورسول، چې وروسته بيا دغو د امريکايي پوهنتونونو او نصابونو فارغانو اسلامي خلافت ړنګ کړ او د سيمې هر څه يې د امريکايانو او د هغوئ د ملګرو په خدمت کې کړل.

غرب دغه ډول تېل شوي حاکمان او نظامونه تقريبا پر ټولې اسلامي نړۍ حاکم کړل، او د هغوئ په وسيله يې په اسلامي نړۍ کې د اسلام حاکميت او د شرعي قوانينو نفاذ چې له منځه وړل يې د اسلام د دښمنانو تر ټولو مهم هدف وو له منځه يووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خبره د خپل هېواد په اړه وکوو نو ګورو چې د افغانستان د خلکو مطلق اکثریت تر ډېره ځایه د (فرعوني پوهنتونونو) له خطرناک تاثیره لیرې او په امان کې پاتې وو، نو ځکه خو دلته د جهاد، مبارزې، مقاومت او د غلامۍ د نه منلو روحیه ورکې ژوندۍ پاتې وه. او د نړۍ د پخوانیو دوو لویو امپراتوریو زوال هم له همدې ځایه پیل شوی وو، او په همدې جذبې او قربانۍ افغانانو خپله ازادي او ملي هویت خوندي وساتلی شو.

اوس چې یو ځل بیا د زمانې د فرعون لښکر پر افغانستان یرغل کړی، او د تسخیرولو لپاره یې هر ډول وسائلو ته لاس اچولی، په دې لړ کې یې په کابل کې هم یو (امریکایي پوهنتون) جوړ کړ، تر څو د افغانستان د راتلونکي لپاره ورکې حاکمان، سیاستمداران، د مېډیا او مطبوعاتو چلوونکي، په غربي سیستم د هېواد د اقتصادي چارو سمبالوونکي او د (سیکولر) سیاسي ګوندونو مؤسسین او پیروان وروزي.

امریکایان په دی پوهېږي چېد دوئ له لوري ټاکل شوي جمهور رئیسان دغه هېواد په یوازې ځان د اوږدې مودې لپاره امریکایانو ته نشي اداره کولی، او امریکایان پدې هم ښه پوهېږي چې په دې هېواد کې هغوئ په زرګونو (کرزیانو)، (اشرف غنیانو)، (جلالیانو)، (احدیانو)، (شهرانیانو) او نورو په خټه افغاني امریکایانو ته ضرورت لري.

د شمال لنډغر او د جنوب بې فرهنګه ملېشې د امریکایانو لپاره د افغانستان د (سیکولر) کولو په لاره کې بې فائدې عناصر دي. امریکایان هغوئ یوازې د ملېشو په ډول تر یو څو ورځو استعمالوي تر څو په افغانستان کې د اریکا په خوښه و جوړ شوي تعلیمي نصاب او د (فرعوني پوهنتون) نوي فارغان صحنې ته راووځي. دغه فارغان چې په امریکایي نصاب، امریکایي مېتود او د امریکایي استاذانو لخوا به روزل شوي وي تر ډېرې مودې د امریکایانو لپاره د اوسنیو غلامانو ښه خلف ثابتېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کابل کې د دغه ډول امریکایي پوهنتون د جوړېدلو اعلان په ۷/ /۱۱ ۲۰۰۳م تاریخ په کابل کې د امریکایانو په لاس د جوړې ادارې د لوړو تحصیلاتو وزیر (شریف فائز) له راډیوګانو سره په مرکه کې وکړ، او ویې ویل چې دغه امریکایي پوهنتون به په دارالامان کې په اویا جریبه ځمکه جوړېږي چې لاندې ځانګړتیاوې به لري:

۱ – د پوهنتون نصاب به امریکایي وي.

۲ – د تدریس ژبه به یې انګریزي وي.

۳ – استاذان به یې ټول امریکایان وي.

د لوړو زده کړو وزیر خو لا د توصیې په ډول دآزادۍ دراډیو له لارې داهم وویل چې افغانان دې اصلا په دغه پوهنتون کې د استاذ کېدلوکوښښ نه کوي، ځکه چې د افغانانو علمي سویه د دې پوهنتون وړ نه ده.

۴ – زده کړه به په دغه پوهنتون کې د پیسو په مقابل کې تر سره کېږي.

نو پورتني مواصفات او شرایط که هر یو په بېلابېل ډ ول وڅېړو دې نتیجې ته رسېږو چې امریکایان د افغانستان د دائمي اشغال لپاره یو خطرناک پروګرام لري.

امریکایانو د دغه پوهنتون نصاب ځکه امریکایي انتخاب کړی چې افغاني نصاب د دوئ لپاره فکري غلامان نشي روزلی. افغاني نصاب که څه هم چې یو (سیکولر) ته ورته نصاب دی، خو بیا هم د افغانیت او وطنپالنې آثار ورکې لیدل کېږي.او تجربې هم دا ثابته کړې چې د جهاد او مبارزې یو زیات شمیر منسوبین د افغانی پوهنتونونو له انګړ څخه راپورته شوي ول.

امریکایان نه غواړي چې تر دې وروسته دې هم پوهنتونونه د جهاد او مبارزې سنګرونه وګرځي. هغوئ غواړي چې د پوهنتون محصلین دې له جهاد او اسلامپالنې سره خپل روابط د تل لپاره پرې کړي. او دا کار یوازې هغه وخت تر سره کېدلی شي چې نصاب په مکمل ډول له اسلام او افغانیت څخه بې برخې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان له اروپا او اروپايي ژبو ډېر لرې پراته دي، د هغوئ لپاره انګريزي د تدريس ژبه انتخابول د دې معنی لري چې د دې هېواد يو زيات شمير وګړي دې له لوړو زدکړو بې برخې پاتې شي.
خو امريکا د دې لپاره دا کار کوي چې د تدريس د ژبې له لارې خپل منحط او غير اخلاقي فرهنګ افغانانو ته ور صادر کړي، او يوه برخه ډېر کاري او مؤثر افغانان د تل لپاره له خپلو ژبو، ادبياتو، تاريخي ارزښتونو او ملي عنعنو محروم کړي، تر څو يې د تل لپاره په غرب او غربي اهدافو پورې وتړي.
که داسې نه وي نو بيا خو د علم او ټکنالوژۍ د خپرولو تر ټولو غوره او اسانه لار دا ده چې ټول غوره او مفيد معلومات دې د افغانانو خپلو ژبو ته را واړول شي چې په پراخه پيمانه استفاده ورڅخه وشي.
د افغانانو لپاره د تدريس ژبه انګريزي انتخابول په يوه خاصه ډله کې دعلم د انحصار معنی لري چې په هېڅ ډول له بشري او اخلاقی موازينو سره برابره خبره نه ده.
امريکايان د دې پوهنتون استادان د دې لپاره يوازې امريکايان ټاکي چې دافغانستان په (سيکولر) کولو کې په افغانانو باندې باور نه لري، ځکه چې افغان استاذ که هر څومره ځان (سيکولر) او بې دينه وښيي خو بيا هم په افغانه مسلمانه ټولنه کې اوسېږي او هېڅکله د اسلام او افغانيت په خلاف ښکاره بغاوت نشي کولی. هغه به په هر حالت کې په يو نه يو ډول مسلمان پاتې کېږي، او پدې لړ کې به هغه محصلينو ته هرو مرو د افغانيت تلقين ورکوي ، چې دا د امريکايانو لپاره يو نامطلوب کار دی.
او که خبره د علمی استعداد وي نو بيا خو په سلګونو داسې ماهر افغاني استاذان شته چې خپله د امريکا او اروپا پوهنتونونه ورباندې ودان دي.
امريکايان غواړي چې پدې پوهنتون کې دې افغاني زلميان په يوه هراړخيز امريکايي محيط کې وروزل شي. او که داسې نشي نو بيا به امريکايانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم دروسانو په څېر د هېواد په تعلیمي مؤسسو کې مشکلات پیداشوي وي.
په تېرو دریو لسیزو کې د جګړو او بهرنیو یرغلونو له امله د افغانانو اقتصاد ډېر کمزوری شوی، خلک د یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو لپاره د هېواد پرېښودلو ته اړ شوي دي، او د همدی اقتصادي مشکلاتو له امله تقریباً ۸۰ فیصده خلکو زده کړې ته شاکړې ده. خو په دغه ډول حالاتو کې هم امریکایان غواړي افغانانو ته تعلیم د ډالرو په مقابل کې عرضه کړي.
د دې کار هدف دا دی چې یوازې هغه خلك دې پدې پوهنتون کې زده کړه کوي چې ډالر ولري، او یا هم له یوې خوا له امریکایانو د خدمت او جاسوسۍ په بدل کې ډالر واخلي، او له بل لوري یې بېرته همدوئ ته د تعلیم په بدل کې ورکړي.
حقیقت دا دی چې امریکایان او غربیان هېڅکله نه غواړي چې افغانان دې د علم او پرمختګ پر لاره روان شي. بلکې هغوئ غواړي چې د افغانستان ځوانان دې د دوئ د غلامی په فکري جال کې ښکار شي. که داسې نه وي نو بیا ولې په افغانستان کې موجودو پوهنتونو سره لازمه مرسته نه کوي؟ هلته خو که محصلین د خپلو مشروعو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره مظاهرې وکړې، د امریکایي ادارې د پولیسو او ملیشو له لوري په ټوپکو ویشتل کېږي.
که امریکایان او غربیان په رښتیا سره غواړي چې د لوړو زده کړو ډګر کې له افغانانو سره مرسته وکړي نو د کابل، ننګرهار، مزار، هرات او خوست او نورو پوهنتونونو سره دې مالي، تعلیمي او لوژستیکي مرستې وکړي، او هلته دې معاصر تعلیمي وسائل برابر کړي. خو امریکایان دا هر څه د دې لپاره نه کوي چې هلته افغانان د افغانانو لخوا په افغاني روحیه د افغانستان د مصالحو لپاره روزل کېږي او امریکا ته یې هېڅ ګټه نه رسېږي، بلکې د افغانانو په خود کفا کېدلو کې د امریکایانو سراسر تاوان دی. امریکایان او غربیان غواړي افغانان تل د ځانته محتاج وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شي ځيني تنګ نظره او عاقبت نا انديشه خلک داسې و انګيري چې مونږ به خلک له پوهنتون څخه زړه بدي کوو، او يا به له پوهنتون او لوړوزده کړو سره مخالفت لرو، خو حقيقت دا دی چې مونږ له لوړو او مسلکي زده کړو سره هېڅ مخالفت نه لرو، بلکې پوهنتون او عالي تحصيلات د خپل هېواد او خپلې ټولنې د ډېرو رنځونو علاج بولو. او پدې باور يو چې تر څو په افغانستان کې لوړې زده کړې عامې نشي تر هغه به افغانستان او افغانان دژوند په هر ډګر کې د بل چا محتاج وي.

هغه څه چې موږ خپل ملت او ځوانان ورڅخه په امان ساتل غواړو هغه د غرب په مادي او بې لارې فرهنګ کې منحل کېدل دي. صنعت او پوهه د بشريت مشترک ميراث دی. خو دين، فرهنګ، ملي او معنوي ارزښتونه بيا د هر ملت بيل وي او د همدغو ملي، معنوي او تاريخي ارزښتونو ساتل او پالل د ملتونو بقا تضمينوي، او د پرديو په مقابل کې يې جهاد او مقاومت ته هڅوي.

دا چې امريکايانو او د نړۍ نورو کفارو ته زموږ د ملت مېړانه، جهاد، آزادي ساتنه او اسلامپالنه ورمعلومه ده نو غواړي چې د دغه ډول (فرعوني پوهنتونونو او (فرهنګی مؤسسو) له لارې زمونږ ملت له خپلې معنوي وسلې څخه بې برخې کړي، او بيا يې د غلامانو په څېر د خپل ځان لپاره مسخر کړي. خو افغانان به انشاء الله هېڅکله دغې شومې او کرغېړنې توطيې ته د بريالتوب او تطبيق چانس ورنکړي. د يادولو ده چې ما په خپل بل کتاب (فکري پوهنه) کې د کابل د امريکايي پوهنتون په اړه تفصيلي بحث ليکلی چې د دې خطرناکې فتنې ټول اړخونه ورکې روښانه شوي دي، او لوستل يې د هر بادرده افغان لپاره ضروري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګیان که فرنګیان؟

یرغلګرو کفري دولتونو چې هر وخت پر کوم اسلامي هېواد د هغه د نیولو په هڅه یرغل کړی نو له پوځي یرغل سره سم یې هلته د ذهنونو د تسخیرولو او د مقاومت د له منځه وړلو لپاره هر اړخیز فرهنګي یرغل هم کړی دی. او هڅه یې کړې چې د هغه ولس اصیل فرهنګ، دیني شعائر، اخلاقي او اجتماعي ارزښتونه او ملي عنعنې مسخه کړي، او یا یې له منځه یوسي، او پر ځای یې یو بل پردی او وارد شوی فرهنګ د خلکو په ژوند کې حاکم کړي، تر څو دغه وارد شوی پردی فرهنګ د نوي نسل ذهنونه د غلامۍ منلو ته برابر کړي.

یرغلګرو تل هڅه کړې چې خپل استعماري فرهنګ، نظریات او مفاهیم خلکو ته د ازادۍ، دیموکراسۍ، تمدن، مدني ټولنې، موډ، فیشن او داسې نورو اصطلاحاتو تر نامه لاندې ور تلقین کړي، او اشغال شوي مسلمان ملت خپل فرهنګ د ارتجاع، بنسټ پالنې، تنګ نظرۍ او نورو مختلفو نومونو و نوموي او بیا یې له منځه یوسي.

حقیقت دا دی چې د هر ملت د پایښت، ازادۍ، مقاومت او د سرلوړیې د خوندیتوب اسباب او عوامل د هغه ملت په فرهنګ او معنوي ارزښتونو کې نغښتې وي. او هر ولس چې خپل فرهنګ او معنوي ارزښتونه له لاسه ورکړي هغه خپل وجود هم له لاسه ورکوي. هغه بیا نه له نورو ملتونو سره سیالي کولای شي، او نه هم په نورو کې له منحل کېدلو څخه ځان ژغورلای شي.

انګریزانو چې کله هند ونیو، هلته یې د یو داسې نسل د رامنځته کولو لپاره د فرهنګي تغییر لاره غوره کړه چې په غلامي قانع وي، له خپلې ماضي سره هېڅ رابطه ونه لري، او د ژوند په هره چاره کې ورته انګریز د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره مثال حيثيت ولري. انګرېز حکومت دغه چاره خپل تر ټولو يوه ځيرک او مکار شخصيت (لارډ ميکالي) ته ور وسپارله. (لارډ ميکالي) په مسلمان هند کې د داسې يوه غلام نسل د روزلو لپاره لاره هواره کړه چې تر هر څه ورته د غرب پيروي مهمه وه. هغه به ويل: ((موږ بايد د هند په نيمه وچه کې داسې نسل وروزو چې ژبه، وينه او شکل يې هندي وي، خو عقل، فکر او فرهنګ يې د انګريز وي)).

فرانسويانو هم د خپل تسلط په وخت کې په الجزائر کې همدغه ډول يو نسل وروزه چې تر اوسه هلته د فرانسوي فکر او فرهنګ پالنه او ساتنه کوي.

روسانو خو د منځنۍ اسيا په هېوادونو کې يو داسې فرهنګي تحول راوستلی وو چې د هغې سيمي له خلکو څخه يې خپل هويت هېر کړی وو. د هغوئ ژبې، ادبيات، عنعنې، رواجونه لباس او د ژوند هر څه يې روسي شوي وو.

دا چې د تاريخ په اوږدو کې په افغانستان کې د يرغلګرو پښې نه ټينګېدې، او هر ځل له دې خاورې سرماتي او شرميدلي وتل نو يرغلګر هم د افغانانو د دغې مېړانې او معنوي قوت د سرچينې د ميندلو په هڅو کې دې نتيجې ته ورسېدل چې تر څو يې چې افغانان له خپل اصيل اسلامي او افغاني فرهنګ څخه منحرف کړي او د غرب په بې لارې او غير فطري فرهنګ کې منحل کړي نه وي، نو هېڅکله به د دې خاورې په دايمي اشغال کې بريالي نشي.

هماغه وو چې د امان الله خان له وخته راپدې خوا يې پدې مسلمان ولس کې د غرب د فرهنګ د متعارف کولو هڅې پيل کړې، او يو شمير افغاني ځوانان يې په غربي ټولنوکې وروزل او بيا يې له بېلابېلو وسيلو څخه په استفادې هغوئ د افغاني ټولنې قيادت ته ورسول چې هغوئ بيا له بېلابېلو لارو په افغاني ټولنه کې د غرب فرهنګ خپور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د هېواد تعلیمي موسسې هم د پردیو په نصابونو او د هغوئ تر څارنې لاندې چلېدلې، د مثال په ډول:
د استقلال لیسه د فرانسویانو لخوا، د اماني لیسه د جرمنیانو لخوا، د کابل پولیتخنیک دروسانو لخوا، د کابل پوهنتون د امریکایانو لخوا حمایه کېدل، او د همدغو هېوادونو ژبې ورکې تدریسېدلې، او فرهنګ یې ورکې افغانانو ته تلقین کېده.
کله چې د نوي نسل غرب پلوي مشران د چارو د واګیو او د صلاحیتونو خاوندان شول، نو د هر ډول غربي فرهنګ او بې لاریتوب پر مخ یې د هېواد دروازې په پراخ ډول پرانیستلې، او د بې دینۍ، فحشاء او بربنډتوب لپاره یې تبلیغات وکړل، چې په نتیجه کې یې د لکونو افغاني نجونو او مېرمنو له سر ه پړوني وغورځول. خو چې په دې یې هم بسنه ونشوه، نو نجونې او مېرمنې یې په مکتبونو او دولتي دوائرو کې د (موډ) او (فیشن) په نامه د کمیسونو لنډولو او د پرتوګونو غورځولو ته تشویق کړې چې هره ورځ به په ښارونو کې په لسګونو زره افغاني خویندې او میندې د اروپایانو په څېر بې پردې او بې پرتوګه ګرځېدلې، او دا هر څه د تمدن او ترقۍ تر عنوان لاندې تر سره کېدل.
کافرو یرغلګرو د خپلو پرله پسې یرغلونو او عسکري اشغال په زور له مسلمانو ښځو حیا او پرده لیرې نه کړای شوه، خو دغو افغانانو چې د غرب په فرهنګ لوی شوي او رنګ شوي وو جامې هم ورڅخه و ایستلې.
په حقیقت کې د افغاني ټولنې په بې لارې کولو کې داخلي (فرهنګیانو) تر خارجي (فرنګیانو) خطرناک نقش ولوباوه. دوئ د هېواد نشرات او مطبوعات د غربي فرهنګ د خپرولو لپاره په یومخیز ډول وقف کړې ول.
دوئ د هېواد په ښارونو کې د ځوانانو داسې یو نسل وروزه چې د غرب لوېدلی او بې معنویته فرهنګ ورته تر اسلام او افغاني فرهنګي ارزښتونو ډېر غوره ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځل چې امریکا او انګریزانو د نورو غربیانو په ملتیا زموږ پر هېواد او دین یو ځل بیا پوځي یرغل وکړ، د هېواد شرعي حاکمیت یې له منځه یووړ، په زرګونو بې ګناه انسانان یې ووژل، ښځې یې کونډې او ماشومان یې یتیمان کړل، او د افغانانو د سیاسي او فرهنګي سرنوشت واګې یې په خپل لاس کې واخیستل، نو بیا یې هم له ځان سره داسې غرب پلوي افغانان ملګري کړل چې د دوئ ټول جنایات توجیه کړي، او دغه استعماري یرغل افغانانو ته د ازادۍ، ډیموکراسۍ، مدنیت او ترقۍ په نومونو معرفي کړي.

امریکا د دې هدف لپاره پخپله هم خورا ډېر وسایل په کار واچول، او د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت چارې یې هم داسې افغانانو ته ور وسپارلې چې په پوره اخلاص د غرب د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اهدافو لپاره کار کوي.

دغو غرب پلوو د خپلو بادارانو د فرهنګ د متعارف کولو لپاره نوې جریدې، اخبارونه، مجلې، فرهنګي ټولنې، راډیوګانې او کیبلي تلویزوني چینلونه پرانیستل. دوئ شپه او ورځ په دې هڅه کې دي چې څنګه امریکایي او انګریزي یرغلګر افغانانو ته د رحمت د ملائکو په حیث معرفي کړي.

غرب پخپله هم زموږ د اصلي اسلامي فرهنګ د مسخه کولو لپاره خپلو راډیویې پروګروامونو کې څو برابره زیاتوالی راووست، د مثال په ډول د امریکا غږ، بي بي سي، د ازادۍ راډیو، د المان غږ راډیو، د ماسکو راډیو او نورې راډیوګانې چې پخوا به یې په۲۴ساعتونو کې د افغانانو لپاره یوازې یو یا دوه ساعته خپرونې کولې اوس دا ټولې په مجموعي شکل په یوه شپه او ورځ کې په سلګونه ساعته خپرونې لري او ټولې د بېلابېلو پروګرامونو له لارې د افغانانو د فرهنګ د بدلولو لپاره کار کوي.

بي بي سي، امریکاغږ، المان غږ او د ازادۍ راډیوګانو په اوسني وخت کې د افغانانو تر ټولو غښتلي او مشهور لیکوالان، ژورنالستان، نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادیبان او فرهنګیان په کرایه نیولي دي. او حتی ځیني هغه لیکوالان یې هم د خپل ځان لپاره مسخر کړي چې یو وخت یې په جهادي خپرونو او فرهنګ کې لاس او شهرت درلود.
تر دې ورتېر غرب یو ځل بیا د راتلونکي نسل د روزلو لپاره زمور د هېواد تر ټولو مهم تعلیمي مراکز پخپل کنټرول کې راوستل. له تعلیمي نصاب څخه یې ټول هغه مفردات و ویستل چې په جهاد، اسلام، اسلامي تاریخ، ازادۍ او له کفارو سره په دښمني پورې یې اړه لرله. او دا هر څه یې د داسې چا په لاس له تعلیمي نصابه وویستل چې یو وخت یې په خپله د اسلامي فرهنګي مرکزونو د چلولو افتخار هم درلود، خو اوس د ډالرو سېلاب ته ټینګ نه شول او په پوره خسّت او بې شرمۍ د امریکایي مشاورینو تر څارنې لاندې د اشغال د حکومت لپاره د فرهنګي او تعلیمي ملېشو نقش ادا کوي.
امریکایانو د افغانستان تر اشغالولو وروسته دلته د تعلیم او تربیې په وزارت کې هغه نصاب د تطبیق لپاره راوړ چې د امریکا د(نبراسکا) د پوهنتون لخوا د افغانستان لپاره جوړ شوی وو.
المان یو ځل بیا (اماني لیسه) د دونیم میلیونو ډالرو په مصرف په الماني طریقه فعال کړه، ځکه چې المانیان پوهېږي چې له اماني لیسې څخه چې ځوک فارغېږي حتما به یوه منصب ته رسېږي، او بیا به د دوئ په درد خوري. فرانسې هم بیا د استقلال د لیسې چارې پخپل لاس کې ونیوې.
د عالي تحصیلاتو په لړ کې یرغلګرو امریکایانو په کابل کې د (امریکایي پوهنتون) پروژه عملي کړه چې د بېروت، قاهرې او د استانبول د (امریکایي پوهنتونونو) په څېر به د غرب پلوو حکومتونو لپاره کدرونه تیاروي.
غرب چې د افغانانو په خلاف په فکري او فرهنګي ډګرونوکې دکار کولو لپاره ځومره غربیان شوي افغانان له ځانه سره راوستلي دي له هغوئ څخه زمور څه ګیله نشته، ځکه چې هغوئ پرون هم په ښکاره د دښمن په صف

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ولاړ خلك ول او افغان ولس هغوئ ته د پرديو په ستركه كتل، او نن هم هغوئ ديرغلګرو په صف كې ولاړ دي او له افغانانو سره په هر اړخيزه جګړه كې دي. خو د افسوس خبره دا ده چې يوه ډله نور (فرهنګيان) چې د كمونيزم په خلاف د جهاد په كلونو كې به يې ځانونو ته د اسلامي او افغاني فرهنګ وارثان ويل، او د جهاد او مهاجرينو په چاپيريال كې به يې د ځينو اسلامي او عربي مؤسسو په مالي مرستو ځانونه هم د ښو او تحريكي مسلمانانو په حيث مطرح كړي وو، او اسلامي نشرات به يې هم درلودل، خو اوس هغوئ هم د (فرنګي) (فرهنګيانو) په څېر د يرغلګرو په خدمت كې پراته دي او د جهاد او مجاهدينو په خلاف د تشكيك او منفي تبليغاتو پروژه يې له ير غلګرو په ټيكه اخيستې ده، او په ډېرې نامردۍ دوئ هم په دې اشغال شوي هېواد كې له يرغلګرو سره يو ځای په كار كولو د غرب د (كافرې ډېموكراسۍ) مخ ورسپينوي، او د دې خدمت په بدل كې په لاسته وروړو ډالرو او نورو امتيازاتو په خپل ګومان خپله دنيا او هم خپل آخرت (ښايسته؟؟؟!) كوي.

حقيقت دا دی چې دغه ډول (فرهنګيان) د اشغال په تعليمي اداره كې په خپل شراكت هم خپل ځان تېرباسي، او هم په خپل دې كار د ولس د تېرويستلو په كار كې اخته دي. او د اشغال په خلاف د روان برحق جهاد د لارويانو په خلاف يې د (تشكيك) پوخ سنګر سمبال كړی دی چې فايده يې په يقيني ډول د اشغالګرو غربيانو په ځولۍ كې ورلوېږي. ای كاش چې دغه خلك رښتيا هم د (اولوياتو) په هغې (فقهې) چې دوئ يې دعوی لري پوه شي او عمل ورباندې وكړي، نو په هغه وخت كې به يې خپل قدرمن استعدادونه رښتيا هم د (اسلامي فكر) د خدمت په لار كې كارولي وي.

خو د امريكايانو په لاس د جوړ شوي حكومت تر سيورې لاندې په كار كولو او د دې حكومت د تعليمي پروژې په چلولو دغه خلك په حقيقت كې تر (سيكولرو فرهنګيانو) هم ډېر بد دي، ځكه چې دوئ اوس هم خپله مفكوره خلكو ته د اسلام په حيث وړاندې كوي، خو د كافرو اشغالګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غربیانو او د هغوئ د افغانو مرتدو ملګرو په خلاف د (فرض جهاد) په اړه یې نه یوازې دا چې خپل شرعي مسؤولیت ته شا کړې ده بلکه د ښارونو متدینو ځوانانو ته یې هم شکونه وراچولي دي. دغه ډول خلك یا په زړه خیرن دي، او یا یې د بصیرت سترګې دومره کمزوې شوې دي چې د ازادۍ او غلامۍ ترمنځ ښکاره توپیرونه هم نه ویني.

دغو فرهنګیانو یا لاتر اوسه پورې د غرب مکاري نه ده درک کړې، او یا دوئ هم د بد نیت خاوندان دي چې د (په هر څه کې د اعتدال) تر شعار لاندې د اسلام (ثوابت) هم ترپښو لاندې کوي، او په آګاهانه ډول د دښمن په صف کې ولاړ دي. که داسې نه وي نو د صلیبي یرغلګرو تر سیوري لاندې اسلامي فرهنګ ته خدمت څه معنی لري؟

په عمومي ډول د تاریخي تجربو په نظر کې نیولو سره دا په زغرده ویلی شو چې (فرهنګي) (فرنګیان) د غرب لپاره د مسلمانو ولسونو په تسخیرولو کې تر (جنګي) (فرنګیانو) ډېر خطرناک وي، او دا ځکه چې هغوئ د یوه ملت افراد وژني، خو دوئ د هغه ملت دین، عقیده، ارزښتونه او معنوي پایښت له منځه وړي. نو پر همدې اساس دوئ هم مجرمان دي، او باید په هماغه روحیه تعامل ورسره وشي چې له جنګي یرغلګرو سره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهاد که جګړه؟

د امريکا په مشرۍ د صليبي پوځي ائتلاف لښکرو په تېرو لسو کلونو د خپلو ټولو حربي وسائلو او عصري تکنالوژۍ په کارولو نه ټول افغانستان ونيولی شو، او نه يې د لسګونو مليارده ډالرو په مصرفولو په افغانستان کې د خپل ځان په ګټه کوم واقعي تحول راوستلی شو. بلکې ددې هر څه په خلاف د دې يرغلګر ترړون صليبي لښکرو خپل ډېر څه له لاسه ورکړل چې تر هر څه مهم يې د جګړې د ګټلو روحيه ده.

اوس خبره دې ځای ته راورسېده چې د صليبي ترړون ټول مشران نور له دې جګړې ستومانه ښکاري، او په ښکاره وايي چې د دې جګړې ګټل ورته يو ناممکن کار دی. خو دا چې غرب نه غواړي له افغانستان څخه دې د يوه ماتې خوړلي ځواك په حيث ووځي نو ځکه يې د پوځي جګړې تر څنګ يوه هر اړخيزه سايکالوژيکه (نفسياتي) جګړه هم د افغانانو په خلاف روانه کړې ده چې تر ټولو مهم عنصر يې له جهاد څخه د افغانانو منصرف کول دي. او د دې هدف د تر لاسه کولو لپاره يې دې تبليغاتو ته زور ورکړی چې افغانان نور له جګړې ستړي شوي دي او نور بايد له دښمن سره د سولې پر لارو چارو غور وکړي.

د افغانانو روان جهاد ته که د جګړې په سترګه وکتل شي نو رېښتيا هم بايد ورنه ستړي شوي وي، ځکه چې تر دريو لسيزو اوږده شوه، هېواد کنډواله شو، او جګړې په ميليونونو ککرۍ وخوړې.

خو که دا جګړه يو (في سبيل الله) جهاد وي او افغانانو د الله د دين د لوړولو، د شريعت د نافذولو او د اسلامي نظام د قائمولو لپاره يې د يوه ضرورت او شرعي عبادت په نيت روانه کړې وي نو بيا خو دغه اهداف تر اوسه يو هم ندي حاصل شوي. نه د الله دين حاکم شوی، نه شريعت نافذ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی، نه اسلامي نظام جوړ شوی، او نه هم وطن آزاد شوی دی. نو افغانان به ولې له خپل داسي شرعي في سبيل الله جهاد او عبادت څخه د سترېيا اظهار کوي چې په اسلام کې ورته (ذروة سنام الاسلام) د اسلام تر ټولو لوړ او غوره عبادت ویل شوی دی.

دا سمه ده چې یوه برخه پروني تنظیمي جهادیان منحرف شول، ایمان یې په ډالرو خرڅ کړ، د اسلامي نظام د جوړولو پر ځای د غرب د صلیب تر سوري لاندې د غرب له ګوډاګیو سره د ډیموکراسۍ او سیکولریزم په صف کې ودریدل. خو دا هر څه له جهاد څخه د ستومانۍ په نتیجه کې نه ول، بلکې دا ټول د دغې ډلې دروغجنو (جهادیانو) د انحراف، ځان غوښتنې او قدرت ته د رسېدلو لپاره له کفارو سره د سازشونو له امله منځته راغلل.

دغو خلکو په خپل دې انحراف هم جهاد ته او هم ولس او هېواد ته ښه ډېر تاوان ور ورساوه،خو الله تعالی د دوئ تر انحراف وروسته داسې سپېڅلي، باعزمه، هوښیار او مستعد ځوانان د جهاد او مبارزې صف ته راوستل چې د سرونو په بې دریغه قربانیو یې د صلیبې ترون لښکرو ته ماتې ورکړه.

که پروني منحرف شوي (جهادیان) یوازې له روسانو سره د جګړې خبره د ځان لپاره ویاړ بولي پداسې حال کې چې په آخر کې یې بېرته د روسانو او امریکایانو غېږې ته ورولویدل، نو ننني مخلصو مجاهدینو د تاریخ تر ټولو لوی پوځي ترون ته چې تقریباً د نړۍ ټول هېوادونه ورکې په یوه او بل شکل شامل دي ماتې ورکړه.

دا هر څه پدې دلالت کوي چې افغانان یوازې جنګیالي ندي، بلکې هغوئ د خپل مقدس هدف لپاره چې د الله تعالی د دین لوړول او د اسلامي نظام جوړول دي د جهاد د عبادت ستره فریضه ادا کوي، او هېڅکله هم پدې لاره کې د ستومانۍ اظهار نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې جهاد اوس په نړۍ کې په یو مستقیم مسیر د خپل اصلي هدف په لوري روان او یو نړیوال شکل یې غوره کړی دی، او د نړۍ په هره سیمه کې یې د کفارو مصالح ته ضربې لاندې نیولي دي، نو ځکه خو غرب اوس په دغه ډول تبلیغاتو د مسلمانانو د دیني او جهادي احساساتو د سړولو کوښښ کوي.

غربیانو ته دا حقیقت ښه ورمعلوم دی چې افغانان په شلمې او یوویشتمې پېړۍ کې د اسلامي امت لپاره د جهاد د(استاذۍ) ویاړ او وړتیا لري، که دوئ افغانان له جهاد څخه منحرف کړي نو د نورو ملتونو حوصلې به په خپله لوېږي.

د غرب د دغو تبلیغاتو اصلي مقصد دا دی چې نور دې افغانان د یرغلگرو په خلاف جهاد نه کوي. د امریکا او صلیبیانو واکمنې دې پرځان ومني، د غلامۍ سرنوشت ته دې تسلیم شي، له دین، غیرت، افغاني عزت، سرلوړۍ او خپلواکۍ دې تېر شي، د دوه میلیونو شهیدانو قربانۍ او وینې دې هېرې کړي، د اسلامي نظام د قائمولو فکر دې له ذهن څخه وباسي، افغانې مسلمانې خویندې، میندې او تورسرې دې نور د صلیبي لنډغرو لنډغرتوب ته پرېږدي، او پرې دې ږدي چې غربیان د ښځو د حقوقو او د آزادۍ په نامه افغانه میرمن هم د غرب د ښځوپه څېر د نارینه ؤ د هوسونو وسیله وگرځي.

د دغه ډول تبلیغاتو په کولو سره غربیان غواړي تر څو ځوانان دې وسله پر زمکه کېږدي، د آزادۍ او سرلوړۍ د ژوند تصور دې له مغزو وباسي، صلیبیانو او دهغوئ غلامانو ته دې اجازه ورکړي چې افغاني تنکي زلمیان او پیغلوټې د ډېموکراسۍ تر شعار لاندې د فحشاو لنډغرتوب په محیط کې د سیکولریزم په نصاب او کتاب وروزل شي، او بالآخره دغه دغازیانو ټاټوبی دې د غربیانو د سیاسي، اقتصادي،اجتماعي گټو د تحقق لپاره د چرگانو په یوه بې عوضه مفت ډگر بدل شي.که داسې نه وي نو بیا ولې خلکو ته د جهاد د پرېښودلو تلقین ورکوي؟ افغانان خو جگړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شوقه نه کوي، هغوئ خو په اقتصادي لحاظ د دغې جګړې توان هم نه لري، بلکې افغانان له مجبورۍ ورځې په دغې تپل شوې جګړې اخته دي. پر افغانانو خو تېرې شوې، آزادي او خپلواکي يې سلب شوې، خاوره يې د پرديو تر اشغال لاندې ده، ټول حقوق يې تر پښو لاندې شوي، او انسانيت ته يې په سپکه کتل شوي دي. دا خو د هغوئ لپاره د خپل له لاسه تللي عزت د بېرته ګټلو جګړه ده، نو ځکه خو خامخا دغې جګړې ته دوام ورکوي، او په دې لاره کې د شهادت مرګ ته د غلامۍ پر ژوند ترجيح ورکوي.

تاريخ هم دا ښودلې چې افغانان د يوه ملت په حيث د دښمن په مقابل کې له خپل جهاده نه ستړي کېږي. د جنګيز، ګرګين، انګريز، روسانو او اوس د غرب په مقابل کې د دوئ جهاد او استقامت د دې مدعا ژوندي مثالونه دي.

جهاد د يوه طبيعي ضرورت ترڅنګ يوه داسې الهي فريضه ده چې انبياؤ عيهم السلام او د هغوئ امتونو کړې دی. جهاد کوم مادي مصلحت نه دی چې د هغه په ترلاسه کېدلو دې ساقط شي. جهاد د ملتونو د بقا او دهغو دآزادۍ د استمرار ضامن دی. جهاد جنت او د هغه نعمتونو ته د وررسېدلو تر ټولو لنډه لاره ده.

جهاد د دين او ناموس د ساتلو تر ټولو غوره وسيله ده، او افغانان تر هر چا زيات په اسلام، آزادۍ، عفت او ناموس مين خلک دي. افغانان وطن پرېږدي خو دين نه پرېږدي. افغانان له حکومت څخه تېرېږي خو له خپلو معتقداتو نه تېرېږي. سر ورکوي خو ايمان نه ورکوي. او تاريخ هم د دې ملت په اړه د همدې مدعا شواهد وړاندې کوي. نو بياڅنګه کېدی شي چې دوئ دې د دې مقدسو اهدافو د تحقيق په لاره کې له جهاده ستومانه شي؟

خو دا خبره ربښتيا ده چې افغانان نور له هغو جګړو ستړي شوي دي چې د اسلام د حاکميت لپاره نه وي. په افغانستان کې بې هدفه جګړې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشنلزم پربنسټ ولاړ رقابتونه، تنظيمي جنګونه، د قدرت د ليونيو ترمنځ د وينو تويول او د ولسونو د جنګولو لپاره جنايتکاره باندونه او ډلې ټپلې جوړول ربنتيا هم نور د افغانانو لپاره د منلو وړندي.

د درې لسيزو مسلسلو جګړو او سياسي جريانونو بايد نور افغانان هوښيار کړي وي. نور بايد په هرې هغې جګړې کې له برخې اخيستلو ځان وساتي چې د اسلامي نظام د قائمولو، د الله تعالی د دين د حاکمولو او د يرغلګرو د شرلو لپاره نه وي.

يوې بلې غلط فهمۍ ته هم بايد متوجه و اوسو، او هغه دا چې ځينې خلک وايې چې د افغانانو په خپل منځ کې جګړه د غندلو وړ ده. دا خبره پدې ډول سمه نه ده. صحيح خبره دا ده چې د مسلمانانو تر منځ جګړه غلطه ده. د مسلمانو او کفارو تر منځ جګړه يوه فريضه او مطلوب کار دی، که څه هم چې د واړه طرفه يې په يوه قوم پورې هم اړه ولري.

زمونږ په پروني جهاد کې مقابل لوری کمونستان هم افغانان ول، خو موږ يې په خلاف جنګېدو، او د هغه جنګ په جواز کې مو هېڅ شک نه درلود. نن هم د غربيانو ملګري چې په افغانستان کې د صليبي غرب د اهدافو د تحقيق لپاره کار کوي، د اسلام پر ځای د ډېموکراسۍ حاکمول غواړي، او د خپل ملت په خلاف د يرغلګرو په صف کې ولاړ دي افغانان دي چې په خلاف يې جهاد کوو او د دې جهاد په روا والي کې هم هېڅ شک نه لرو.

پيغمبر صلي الله عليه وسلم هم تر آخره پورې د خپل هغه قوم په خلاف جنګېدلی چې دين يې ورسره نه مانه. په قوم کې له هغوئ سره يووالي رسول الله صلی الله عليه وسلّم له جهاده نه دی منع کړی، ځکه چې د مسلمانانو قوم او ملت د هغوئ دين او عقيده ده، نه د هغوئ وينه، ختېه او يا هم مشترک ټاټوبی. او که داسي وګڼو نو بيا خو – نعوذبالله – د پيغمبرانو عليهم السلام په جهادونو او قربانيو د (نارواوالي) حکم کېږي، ځکه چې هغوئ هم د خپلو قومو د کفارو په خلاف جګړې او مبارزې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غربي يرغلګرو په خلاف افغانان په مخ کې درې لارې لري، يوه دا چې د دښمن په صف ورګډ شي او له هغه سره د ډيموکراسۍ پر اساس په ايتلافي حکومت او ديموکراتيکه پروسه کې کار وکړي، چې دښمن هم همدا ورڅخه غواړي.

دوهمه لاره دا ده چې ټوپک دې کېږدي او کرار چوپه خوله دې کښيني، او پرې دې ږدي چې سرنوشت يې د پرديو لخوا و ټاکل شي.

او دريمه لار د هغوئ له اشغال څخه د خلاصون په مقصد فرض جهاد ته ادامه ورکول دي چې يوازې له همدې لارې آزادي ګټل کېداي او اسلامي نظام منځته راتلای شي او بس. نو طبيعي او معقوله خبره هم همدا ده چې افغانان خپل جهاد ته ادامه ورکړي، او په خاص ډول پدې وضعيت کې چې جهاد يې د فتحې پر درشل ولاړ دی.

افغانان بايد د دښمن هغو تبليغاتو ته هېڅ توجه ونه کړي چې وايي: افغانان نور له جګړې ستومانه شوي دي. پرون روسانو هم تر تښتېدلو مخکې همدغه ډول تبليغات کول، او کمونست رژيم مجاهدينو ته د سولې وړانديزونه کول. خو که پرون مجاهدينو ته (اشرار) ويل کېدل نو هم هغوئ خپل جهاد کاوه، او که نن ورته (ترهګر) او تروررستان ويل کېږي نو هم دوئ په خپل جهاد ته دوام ورکوي، ځکه چې جهاد دوه حتمي پايلي لري چې يوه يې (فتحه) او بله يې (شهادت) ده، او په دواړو کې يې خير دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکرجانه تاته وایم !

عسکرجانه! زه ستا وروریم او غواړم په مینه مینه دې په یو څو خبرو وپوهوم. عسکرجانه! زه ستا هغه ورو یم چې په دې هېواد کې مې د روسانو یرغل له پیله تر پایه ولید، او د هغوئ تر څنګ د دربدلې افغاني اردو انجام مې هم ولید. د دې وطن ټولې ملېشې او تنظیمي ټوپکیان مې هم ولیدل چې څنګه یې د خپل ملت په خلاف د دښمنانو د اهدافو د ترسره کولو لپاره جګړې وکړې.

عسکرجانه! زه نه غواړم چې تر دې ترخو تجربو وروسته دې بیا هم ته هماغه څه وکړې چې ستا ولس پرې کړېږي، خو زما او ستا دواړو کافر دښمن پرې خوشحالېږي.

عسکرجانه! غواړم په مینه او مهربانۍ درسره د زړه حال شریک کړم! زه او ته خو دوه ورونه یو، خو افسوس چې ته رانه کفارو په خپله غېږ کې نیولی یې، خپل ټوپک یې تا ته لاس کې درکړی چې ما پرې وولې. او پدې ګناه مې و ولې چې ولې د کفارو په خلاف جنګېږم، او ولې هغوئ ته سر نه ټیټوم؟

عسکرجانه! زه او ته خو دواړه د یوې مور زامن وو، ما او تا ته خو مورجانې په یوه ورځ سیپاره لاس کې راکړې وه او د جومات ملا صاحب ته یې لېږلي وو چې دین زده کړو، ستا به هم یادېږي چې دواړه به یو ځای د ژمي په یخنۍ کې سهار وختي جومات ته تللو او د ملاصاحب مخې ته به کښیناستو، خو دا چې ما سیپاره وویله نو (طالب) شوم، اوتا تر زلمیتوبه خلاصه نه کړه! تا نه یوازې دا چې درس ونه وایه بلکې بل هېڅ کسب او کمال دې هم زده نکړ، آخر له مجبورۍ ورځې لاړې د کافر په لاس په جوړې شوې اردو کې عسکرجان شوې، هغه هم د کوم ملي مکلفیت پر اساس نه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې د دې لپاره چې دولس زره افغانۍ درکوي. که نه په شروع کې خو زه او ته دواړه (طالبان) وو.
عسکرجانه! تا ته خو ښه درمعلومه ده چې زه چې د مدرسې طالب وم نو هره جمعه به کورته راتلم، له تا او کورنۍ سره به د هرې جمعې ورځ زما اختر وو. د هرې هفتې په سهار بهزما د احترام پخاطر تر نیمې لارې ته هم را سره تللې، زماعزت او احترام به دې کاوه.
ما چې کتابونه وویل نو دا مې هم ورکې زده کړل چې د دین یوازې زده کول مطلوب نه دي، بلکې پر هغه عمل اوله هغه څخه دفاع کول هم د مسلمان کاردی،او د دین تطبیقول هم د دین د زده کوونکو وظیفه ده. هماغه ؤ چې د دین د تطبیق او له هغه څخه د دفاع لپاره مې جهاد شروع کړ.
عسکرجانه وروره! په کار خو دا وه چې تا په دې کار کې زما ملا تړلې وای، او زما ترڅنګ دریدلی وای، خو افسوس چې ته د کلي له چرسیانو او بنګیانو سره ملګري شوې. مور او پلار که هر څومره نصیحتونه او زارۍ درته وکړې خو ته هغه سړی نشوې چې هغوئ غوښتلې. مور او پلار درته پردۍ لور هم کښېنوله چې ګوندې له واده سره به د مسؤلیت احساس درکې پیداشي، ستا خو اولادونه پیداشول خو په تا کې د ښو او بدو د پېژندلو تمیز پیدا نشو. هماغه وو چې لاړې د څو پیسو پخاطر د دین او وطن د کافرو دښمنانو تر څنګ د هغوئ په لاس په جوړې شوې اردو کې عسکر شوې، او اوس هغه څه کوې چې هغوئ يې در څخه غواړي.
عسکرجانه! کافران خو زما او ستا دواړو د دین دښمنان دي. هغوئ له لیرې ځایه د دې لپاره راغلي چې دلته پر ما او تا خپله حمکرانې وچلوي. هغوئ زموږ وطن اشغال کړی او زموږ هر څه يې په خپل واک کې راوستلي دي. ته نو ولې د هغوئ تر څنګ ولاړ يې او له ما سره دښمني کوې؟
عسکرجانه! تا ته به نه در معلومېږي چې زه نه غواړم چې تا ووژنم، خو ته له یرغلګرو کفارو سره په یوه صف کې ولاړ يې، او د هغوئ لپاره کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوې. تا خپل ځان د هغوئ سپر ګرځولی، نو ځکه خو زما په ګولیو لګېږې. خو بیا مې ستا په وژل کېدو خوا بدېږي، ځکه چې ناوې دې کونډه کېږي، سپین سرې مور او سپین ږیری پلار درباندې کرېږي. ستاوړو وړو یتیمانو ته بیا هم همدا زه ځورېږم. او همدا ستا له امله بیا زه په خپل کور کلې کې چاته سر نشم پورته کولی. آیا تا هم کله پدې غور کړی دی؟
عسکرجانه! ته پوهېږې چې تا کفار په دوستۍ نیولي دي! ته پوهېږې چې کافران تا ته خپل دوست وایي؟ آیا پدې هم پوهېږي چې کافران تا او ستا اردو خپله لاسته راوړنه ګڼي؟ پدې پوهېږي چې هغوئ په خپلو منځونو کې وایي چې د اردو له عسکرو مو داسې خلک جوړ کړل چې نور به زموږ پر ځای هغوئ د اسلام او جهاد په ضد جنګېږي؟
عسکرجانه! کېدای شي چې ته ووایې چې زه خو له کافرانو کرکه لرم، خو ستا افسران د امریکایانو، انګریزانو، جرمنیانو او فرانسویانو لخوا ټاکل شوي دي، او ته د هغوئ په قومانده چلېږې. دلته ستا انفرادي کرکه تر هغې هېڅ تاثیر نه لري چې تر څو دې د دې کافرانو په وژلو د خپلې کرکې اظهار نه وي کړي. او که داسې ونشي نو بیا خو ته هم له زړه د هغوئ ملګري یې! ځکه چې ته خو ورسره بندي نه ئې، بلکې په خپله خوښه ورغلی یې، او له هغوئ سره دې د هغوئ د شرائطو پر اساس قرارداد کړی دی. ته له هغوئ سره یوځای اوسې، ته په خپله خوښه د هغوئ لپاره ما وژنې، او هغوئ ته زما د کور لاره ورښئې.
عسکر جانه! هغه بله ورځ دې ولیدل چې ستا یوه ملګري د خپل ټوپک یوازې یوه ججوره په ورسره روزونکو امریکایانو کې تشه کړه او بیا په هسکه غاړه له مجاهدینوسره ملګری شو! ودې لیدل څنګه یې په همدا یوه ججوره ټوله اروپا او امریکا ولړزوله؟ څنګه یې د هغه ځای ولسونه په خپلو حکومتونو پسې راپورته کړل؟ او څنګه د دښمن زړه ته دا خبره ولوېده چې دلته نور د هغوئ خواري ځای نه نیسي؟ ستا په حرکت کې هم همدومره برکت شته، خو ته ناځوانه حرکت نه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکرجانه! ورور مې يې، خو بې لارې ورور. خير، ته چې اوس هر څه يې د آخرت عذاب مې نه درباندې لورېږي، د الله تعالی له عذابه دې وېروم.
الله تعالی کافرانوته جهنم ټاکلی دی، او هرهغه څوک چې په خپله خوښه د هغوئ ملګرتيا کوي او د هغوئ په قومانده او د هغوئ په صف کې جنګېږي، هغه به ورسره جهنم ته ځي.
عسکرجانه! ګوره چې پدې خبره مې خوا بده نه کړې، ځکه چې دا زما خبره نه ده، دا زما او ستا د دواړو د خالق او مالک خبره ده، دا د هغه ذات خبره ده چې له ما او تا دواړو سره به د قيامت په ورځ حساب کوي. هماغه الله په خپل کتاب کې فرمايي:

﴿ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾
المائدة: ٥١.

(او له تاسې څخه چې څوک دوئ (کافران) په دوستۍ ونيسي نو هغه به هم له هغوئ (کافرانو) څخه وي، او بې شکه الله ظالمانو ته هدايت نه کوي).

عسکرجانه! آيا پدې دې غور کړی چې کافران ولې په ما پسې غرونه، سمڅې او ځنګلونه لټوي خو تا ته په خپل څنګ کې ځای درکوي؟ ما وژني، خو له تا راضي دي او تنخواه درکوي؟ دوئ ما ځکه وژني او دښمني را سره کوي چې د دوئ پر لاره نه ځم. خو تا ته ځکه تنخواه درکوي چې د دوئ پر لاره روان يې. که داسې نه وي نو زه او ته خو دواړه ورونه يو، او کور مو هم لا تر اوسه سره يو دی. دا هم درته ښه در معلومه ده چې که زه غره ته ختلی يم نو ښځه او بچيان مې ستا له بچيانو سره يو ځای مور او پلار ته پرې ايښي دي، نو بيا ولې ما وژني او تا ته ډالر درکوي؟
عسکرجانه! آيا ته پدې خبر نه يې چېد امريکا جمهور رئيسو(جورج بوش) چې کله خپل پوځونه د افغانستان د نيولو لپاره دې وطن ته رالېږل نو زما او ستا په خلاف يې خپله جګړه صليبي جګړه و بلله؟ آيا پدې پوهېږې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

صليبي جګړې څه ډول جګړې وې !؟ صليبي جګړې خو په تاريخ کې هغه جګړې وې چې د غربي دولتونو پوځونه د صليب تر بيرغ لاندې د اسلامې نړۍ د نيولو لپاره شرق ته د وچې او سمندر له لارې راغلل. او چې کله د اوسنۍ ترکيې د (انطاکيې) پر ښار فلسطين ته راتېريدل نو د انطاکيې په محاصره شوي ښار کې يې (۱۰۰۰۰۰) سل زره تسليم شوي مسلمانان په بې رحمۍ تر تېغه تېر کړل. او چې کله بيا فلسطين ته راورسېدل نو تر يوې هفتې په لږ وخت کې يې اويا زره تسليم شوي مسلمانان ووژل، او بيا يې د هغوی جسدونه وسوځول. يوازې د(اقصی) د مسجد په دننه کې يې څوارلس زره هغه مسلمانان ووژل چې مسجد ته يې پناه وروړې وه.

عسکرجانه! د دوی افسران به چې کله په مسجد کې د وژل شويو مسلمانانو ليدلو ته ورتلل نو د هغوئ د اسونو پښې به تر زنګنونو د مسلمانانو په وينو کې ډوبې وې.

عسکرجانه! که زما پدې خبرو دې باور نه راځي نو له هغو کافرانو پوښتنه وکړه چې همدا اوس ته ورسره يو ځای زما په خلاف جنګېږې. هغوئ به هرومرو درته ووايې چې هو دا کيسې زمونږ د صليبي جګړو تاريخ ليکونکي (ويليام آف تاير) هم په خپل کتاب A *history of deeds done beyond* the sea کې ليکلې دي.

عسکرجانه! پدې پوهېږې چې پر بيت المقدس د واکمنۍ تر ټينګولو وروسته صليبيانو د مسلمانانو په اولنۍ قبلې (مسجد اقصی) څه وکړل؟ هغوئ نوي کاله له مسجد څخه ډېران (دخځلو د غورځولو ځای) جوړ کړی وو. او تر هغه وخته د مسلمانانو اوله قبله د اروپايانو ډېران وو چې تر څو د اسلام ستر غازي د القدس فاتح (صلاح الدين ايوبي) د هغوئ له ولکې آزاد کړ.

عسکرجانه! اوس خو به پوه شوي يې چې له صليبي جګړې څخه د(بوش) مقصد څه شی وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکرجانه! ستا خرڅ شوي او منافق شرابي افسران درته درواغ وايې چې ته او صليبي پوځيان دواړه د يوې جګړې مساوي شريکان ياست، او دواړه د يوه هدف لپاره جنګېږئ. هو، درواغ درته وايي. هغوئ خو د اسلام او مسلمانانو په خلاف په يوه ښکاره او اعلان شوې صليبي جګړه کې اخته دي. او له تا يې د خپل مقصد لپاره د قربانۍ پسه جوړ کړی دی. که داسې نه وي نو بيا ولې په لارو او سړکونو تا مخته کوي او دوئ در پسې روان وي. خو د جګړې او حرکت قومانده د دوئ په لاس کې وي؟ دا د دې لپاره کوي چې پر هغه ماين تا والوزوي چې ستا ورونو دوئ ته ښخ کړی دی. که دوئ تا خپل شريک ګڼي نو بيا ولې خپله په بندو زرهدارو موټرو کې چې دوئ يې د ماين ضد بولي سپرېږي او ته يې په داسې يو نازکه سرلوڅې رينجر کې کښېنولی يې چې د مجاهد د کلاشينکوف مرمۍ هم تېروبېر ترې وځي؟

دوئ ولې پر مختللې وسلې لري، او تا ته يې له دويمې نړيوالې جګړې پاتې داسې تاريخ تېرې وسلې درکړې دي چې په ټوله نړۍ کې يې اوس استعمال نشته؟

دوئ ولې په ټانکونو کې ګرځي، خو ستا د افغانستان ټانګونه يې له يوه مخې له منځه يوړل؟ ولې يې درنې روسۍ وسلې درڅخه واخيستې او له منځه يې يوړې، او پر ځای يې د درنو وسلو هېڅ درنه کړل ؟. ولې يې ستا د کور او کلي د ورانولو لپاره ډول ډول طياري راوستې؟ خو ستا هغه څو کنډې کپرې طياري يې هم له منځه يوړې؟ ولې يې د افغانستان روزل شوې اردو منحل کړه. او د هغې پر ځای يې يوه بې احساسه، بې تعليمه، بې هويته، بې تجربې، بې دسپلينه، پر قومي او ژبنيو بنسټونو ولاړه او بې سواده د کرايي مليشو مجموعه د اردو په نامه را منځته کړه؟

عسکرجانه! امريکايان دا هر څه ځکه کوي چې له تا هم ډارېږي، هغوئ نه غواړي چې ته دې هم قوي و اوسې، هغوئ غواړي چې يوازې همدوئ دې قوي وي او له تا دې يوازې د يو بې واکه مريي او بې اختياره مزدور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیث کار واخلي. هغوئ په زور راغلي دي او هر څه په خپل زور تر سره کوي. زما وژل خو یې هسې هم هدف دي، خو چې تا ته یې هم طبعیت خراب شي نو وژني دې او بیا څوک ترې پوښتنه هم نشي کولی.

عسکرجانه! ستا منافق او شرابي افسران به دا هم درته وایي چې دوئ خو زمونږ مرستې او زموږ د وطن آزادولو ته راغلي دي. خو آیا تاکله پدې غور کړی چې مرسته همدېته وایې چې زمونږ هېواد راکنډواله کړي، اردو مو ړنګه کړي، ټانګو او ټول پوځي وسایل، هوایي ځواک، د هوایي مدافعې سیستم، رادارونه او د استحکام ټول وسایل مو له منځه یوسي؟ آیا مرسته همدې ته وایي چې واک مو پردی شي؟ مرسته همدې ته وایې چې تر سلو زرو زیات افغانان راووژني او بیا یې هېڅ مسؤلیت هم پر غاړه وانخلي؟ آیا مرسته دېته وایې چې پر جوماتونو، شفاخانو، ودونو، وراګانو، کاروانونو، د سپرلۍ پر موټرو او پر کلیو کورونو او کروندو مو درنې بمبارۍ وکوي؟

عسکرجانه! دا پوښتنه دې کله له ځانه او یا له کوم بل چا کړې چې دوئ دا وطن مونږ ته له چا آزاد کړ؟ له یهودو؟ له نصاراؤ؟ له هندوانو؟ له روسانو؟ له غلو او جنګي مجرمینو؟ او که له هغو مسلمانانو چې دلته یې د الله جلّ جلاله د دین نافذول غوښتل؟ دوئ خو افغانستان آزاد کړی نه دی، بلکې اشغال کړی یې دی.

عسکرجانه! دلته حقیقي واک او اختیار له غربي اشغالګرو قواوو، غربي کمپنیو او غربي مؤسساتو سره دی، او دا ته چې کومې ادارې ته حکومت وایې او خپل ځان د هغې ساتونکی بولې، د دې ادارې هر وزیر یې په صلیبي ایتلاف کې د شاملو جهتونو دګټو د ساتلو لپاره د همهغوئ له لوري ټاکل شوی دی. ته او ستا افسران خو لا څه کوې چې دلته د کابینې ټول وزیران او حتی چې ستا جمهور رئیس هم همدوئ ټاکلی دی. ځکه چې که چېرې هغه رښتیا هم یو خپلواک رئیس وای، نو د اشغالګرو د وحشیانه بمباریو په مقابل کې به یې ژړاګانې نه کولې، او د ښځو په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

به یې اوښکې نه تویولې. بلکې د یوه آزاد هېواد د جمهور رئیس په توګه به یې له هغوئ سره محاسبه کولاې، او هغوئ به یې د دې ډول وحشتونو له ارتکاب څخه منع کړي وای.
عسکرجانه! غربیانو یوازې په افغانستان کې د اسلام او مسلمانانو په خلاف جګړه نده روانه کړې، بلکې هغوئ د اسلامي هېوادونو په ډېرو برخو کې د مسلمانانو په خلاف جګړې روانې کړې دي، په ځینو ځایونو کې خپله په جګړو اخته دي، او په ځینو ځایونو کې یې جګړه نورو ته ورسپارلې او دوئ یې تر شا ولاړ دي چې عراق،سوریه، فلسطین، یمن، صومال، سوډان چیچینیا ،او د اسلامي نړۍ ډېر نور هېوادونه یې مثالونه دي.
عسکرجانه! یوازې افغانستان نه دی چې دوئ ورکې خپل غلامان قدرت ته رسولي دي، بلکې هغوئ د اسلامي نړۍ په تقریباً ټولو هېوادونو کې همدغه کار کړی دی. او په ټولو هېوادونو کې یې د همدې روزل شویو غلامانو په لاس د اسلام د نافذېدلومخنیوی کړی دی.
عسکرجانه! آیا ته ګومان کوې چې رښتیا هم امریکایان او اروپایان د افغانستان اوسنۍ اردو د افغانستان لپاره تربیه کوي؟ او ددې لپاره په ملیاردونو ډالره ورباندې مصرفوي چې سبا ته دا اردو له اسلام او اسلامي هېواد څخه دفاع وکولی شي؟ او ددې لپاره یې په وسلو سمبالوي چې د هېواد خپلواکې وساتي؟ نه، داسې هېڅکله نه ده، ځکه چې که هغوئ تاسې له اسلام او وطن څخه د دفاع په روحیه و روزي نو بیا خو به تر هر چا د مخه په همدوئ شروع کوئ. همدوئ به شړئ، او دا وطن به له همدوئ آزادوئ، ځکه چې ستاسې د دین مخالفین او دښمنان خو همدوئ دي، همدوئ په زوره ستاسو وطن نیولی، او همدوئ په خپل زور په ظلم او ناروا د مظلومو افغانانو په کورونو د شپې په تیارو کې چاپې غورځوي، ښځې او ماشومان یې په روزل شویو سپیو داړي، او نارینه یې لاس تړلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سترګې تړلي نا معلوم لوري ته له ځانه سره وړي، او ستا د حکومت چارواکې بيا په ډېرې عاجزۍ وايي چې مونږ يې هېڅ خبر کړي هم نه وو.
عسکرجانه! هغوئ نه غواړي په تا کې دې د آزادۍ احساس او له وطن څخه د دفاع روحيه پيدا شي. هغوئ غواړي له تاسو څخه داسې يو بې رحمه، بې عاطفې، بې سرېتوبه، بې دينه او بې مروته پوځ جوړ کړي چې په خپلو خلکو هېڅ رحم او زړه سوی ونه لرئ. او بيا ستاسو په لاس او ستاسو د متو په زور لدې خاورې د اسلام بېخ او بوټي وباسي. همدا ستاسې په واسطه اسلام او مسلمانان ذليل کړي. همدا ستاسې په لاس علماء، طالبان، مجاهدين، نيک خلک، آزادي غوښتونکي ملي مشران او د کفارو سرسخت دښمنان زندانونو ته ورټېل وهي.
عسکرجانه! دا چې ته افغان يې او لاتر اوسه ځان يو ښه مسلمان بولې، نو زما دغه خبره به درته عجيبه او مبالغه ښکاري، خو ګوره عسکرجانه ! هغوئ په همدغه ډول د مسلمانو هېوادونو پوځونه په (ترکيې)، (الجزاير)، (عراق)، د هند په نيمه وچه، په عربي هېوادونو، په افريقايې اسلامي هېوادونو او نورو اسلامي هېوادونو کې وروزل چې هلته د همدغو پوځونو او د همدوئ په طريقه د روزل شويو عسکرو له لاسه مسلمانان له ذلت او مشقت سره مخ دي.
عسکرجانه! هغوئ په ملياردونو ډالره ستاسې په روزلو ددې لپاره مصرفوي چې سبا ته که دوئ تېښتې ته اړ شي نو بيا به ټول هغه کارونه تاسو ته در وسپاري چې پخوا دوئ کول. بيا به همدا تاسې د اسلام د نفاذ او د اسلامي نظام د حاکمېدلو مخنيوی کوئ، لکه چې نن يې په ټوله اسلامي نړۍ کې د دوئ په لاس روزل شوي پوځونه کوي.
عسکرجانه! همدا نن لا ستا هر څه د دوئ په واک کې دي. ستا تنخواه، ستا لباس، ستا خوراک، ستا وسله، ستا مهمات، ستا تشکيلات، ستا روزنه، ستا قومانده او تا ته د اهدافو تعيينول هر څه د دوئ په واک کې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوئ له لوري دي. خپل ملت درباندې وژني، خو بیا یې هم په تاسو باندې د (ملي اردو) نوم اینبی دی.

عسکرجانه! که زما خبرې درته بیځایه ښکاري، نو راځه په خپله یوه تجربه وکړه چې ته او ستا ملي اردو څومره خپل واک او خپله اراده لري؟ تجربه داسې وکړه چې ته او ستا څو ملګري چې کومه ورځ له کفارو سره یوځای په کوم (مشترک) عملیات کې ساحې ته ووتلئ او کفارو غوښتل چې کوم کلی او یا کور تلاشي کړي، نو تاسې ورته ووایاست چې تاسو ته ضرورت نشته، تاسو همدلته ودرېږئ او مونږ یي خپله تالاشي کوو، ځکه چې دا زمونږ خپلې خویندې او میندې دي، او که هغوئ خامخا غوښتل چې د مسلمانانو کورته ورننوځي نو په زور یې منع کړئ، ځکه چې له تاسو سره هم وسلې شته. هلته به بیا درمعلومه شي چې تاسو د کوم ملت (ملي اردو) یاست! او هلته بیا درته زما د خبرو ریښتینولي در معلومه شي چې ته او ستا اردو یې د اسلام او وطن د حریتد ساتلو او دفاع لپاره تربیه کړي یاست او که د مطلقې غلامۍ او بې واکه مزدورۍ لپاره؟

عسکرجانه! یوې بلې خبرې ته دې پام را اړوم، او هغه دا چې ته چې د چا په خلاف جنګېږې هغوئ خو یا د قرآن حافظان دي، یا د مسجد او محراب عالمان دي چې له مسجد او محراب څخه د دفاع لپاره یې ټوپک پورته کړی دی. او یا د مدرسو طالبان او د هېواد او اسلامي نړۍ هغه مخلص بچیان دي چې د دین د ساتنې او د مسلمانانو د هېوادونو د آزادولو لپاره یې د کافرو امریکایانو او اروپایانو په خلاف مقاومت شروع کړی دی. ته خو په حقیقت کې د هغوئ ورور یې، ته یې باید ترڅنګ ولاړ وای، خو افسوس چې ته لاړې د کفارو د ټانګ پر سر کښیناستې، او د کفارو له صفه په هغه ټوپک د اسلام په مدافعانو ډزې کوې چې همدغو کفارو درکړی دی.

عسکرجانه! که دوئ طالب او ملا نه پیژني نو ته خو یې ښه پېژنې! ته چې پیدا شوې همدې ملا دې په غوږ کې د توحید نعره در واوروله، چې لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی شوې همدې ملا په جومات کې دین در وښود او په لمانځه یې ودرولې، هره جمعه دې همدا ملا د دین په احکامو خبروي. همدا ملا دې له پردۍ لور سره نکاح درتړي. په همدې ملا پسې د لمانځه اقتدا کوې، په رکوع یې رکوع کوې، او په سجده یې سجدې ته ځې. او کله چې ته او یا دې کوم بچی له درد او مرضه وځوریږي، او له ډاکټره نا امیده شې، نو بیا همدې ملا او طالب ته ورځې چې دم درباندې ووایي.
له زندانونو څخه راخوشی شوي ملایان او طالبان وایې چې په زندان کې به له یوې خوا ظالمانو دومره وهلو چې هډوکې به یې را مات کړل، خو کله به یې چې ښځې ناروغې شوې نو بیا به یې اوبه هم په موړ ورته دمولې. او چې کله به مو پوښتنه ترې وکړه چې که ښه او مبارک خلک درته ښکارو نو بیا مو ولې تړۍ او ډبوئ؟ هغوئ به ویل: ستاسو وهل زمونږ مجبوریت دی، خو په تاسې اوبه دمول زمونږ قناعت.
ښه عسکرجانه! چې دا دومره هر څه د ملا منې! نو د اسلامي نظام راوستل او د کفارو په خلاف جنګ ولې ورسره نه منې؟ او یا یې ولې د دښمن په صف کې دریږې؟ همدا نن به دې هم (کور ودانې) او یا (مورجانې) ستا بچیان سهار وختي د سبق لپاره ملا ته لیږلي وي، خو افسوس چې تا د بل چا لاره نیولې، او د بل چا لپاره دې په ملا او طالب پسې ټوپک راپورته کړی دی.
عسکرجانه! آیا پدې دې فکر کړی چې که ته مړ شې تر هغې به دې څوک نه ښخوي چې تر څو دې بیا هم د ملاصاحب په مخکې د جنازې لپاره کښینږدي!
عسکرجانه! چې پیدا شوې او دې دنیا ته دې نوې سترګې وغړولې، نو هم همدې ملا ته یې په مخکې کښېښودې، او اوس چې له دنیا سترګې پټوې بیا دې هم د همدې ملا او طالب مخې ته ږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکرجانه! ستا خو د تګ او راتګ معاملې دواړه ستا د دين په حکم په ملا پورې تړلې دي، نو دا څه درباندې وشول چې له کفارو سره يو ځای او د هغوئ په وينا په خپل ملا او طالب پسې راپورته شوی يې؟

عسکرجانه! آيا کله دې پدې غور کړی چې که پدې لاره کې مړ شې دنيا او آخرت به دې دواړه خرابيږي؟ دواړه به ځکه خرابيږي چې نه به د الله تعالی په لاره کې مجاهد شهيد شوی يې چې عمل دې قبول شي، ښنه درته وکړی او په آخرت کې دې له انبياؤ او صديقينو سره ملګري کړي. او نه به له کفارو څخه د وطن د آزادولو او د خپل ملت د حريت د ګټلو په لاره کې مړ شوی يې چې خلک درباندې فخر وکړي، نوم دې په اتلانو کې راشي، او د پلار، ورونو او قوم شمله دې درباندې هسکه شي.

عسکرجانه! کېدی شي چې يرغلګر کفار او د هغوئ ګوډاګی حکومت دې د يو څو لحظو لپاره وستايې، او په کوم حکومتې امبولانس کې دې مړی هم کورته راوړي او پلار ته دې ستا د وينې د قيمت (يولک) افغانۍ هم ورکړي، خو مونږ او خپلوان به دې په يادولو شرميږو! خلک به په مړي پسې يوازې غمجن کيږي، خو مونږ به هم ستا په مرګ شرميږو، او هم به غمجن يو. نور خلک به هم وايې چې: مه يې يادوئ ! په دولس زره افغانيو يې ايمان خرڅ کړ او بې ايمانه له دنيا لاړ.

عسکرجانه! خلک به په فاتحې کولو راته شرميږي، بچيان به دې څوک د شهيد يتيمان نه بولي، او ښځه به دې څوک د شهيد کونډه نه بولي. او خلک به لا نور پيغورونه هم راکوي چې: د کفارو نوکري به يې نه کوله، ولې يې په ډالرو پسې ځان مړ کاوه!

عسکرجانه! د دين او عقيدې خبره درته کوم! ته چې د چا په ضد جنګيږې ته ځان له هغوئ سره يو شی هم بولې! ځکه چې ته هم په يوه الله د ايمان دعوی لرې، او هغوئ هم په يوه الله ايمان لري. ته هم محمد صلي الله عليه وسلم خپل پيغمبر ګڼې که څه هم چې پر لاره يې نه ځې! او هغوئ هم د همدې پيغمبر امتيان دي، او د همدي پيغمبر د شريعت د نافذولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګېږي. ته هم چې کله نا کله لمونځ کوې نو هماغې قبلې ته مخ کوې چې دوئ ورته درېږي! ته هم هماغه د (لا إله إلا الله محمد رسول الله) کلیمه وایې که څه هم چې په معنی او مقتضا یې نه پوهېږې او نه عمل پرې کوې! او دوئ هم د همدې کلیمې د لوړوالي لپاره خپلې ځوانۍ قربانوي. ته هم په همغې عربي ژبې عبادت کوې چې دوئ یې وربانديې کوي، نو بیا یې ولې پردي بولې؟ او ولې ورسره په جګړه اخته یې؟ او ولې دې د هغوئ له دښمن سره لاس یو کړی دی؟

خوعسکرجانه! د دې هر څه په خلاف ته چې د چا په صف کې ولاړ یې او د چا په ټانګ سپور یې، هغوئ له تا سره هېڅ ډول شریکې نقطې نه لري. هغوئ نه ستا رب مني او نه ستا دین، ځکه چې ستا رب یو دی، او دوئ خپل رب له دریو شریکانو جوړ ګڼي. ستا دین ستا د دین او دنیا دواړو لپاره تا ته لارښوونې او قوانین لري، خو دوئ وایي چې زمونږ دین (نصرانیت) دې چې زمونږ د دنیا په چارو کې هېڅ مداخله نه کوي. ته خپل پیغمبر محمد صلي الله علیه وسلم د الله تعالی بنده او د هغه استازی ګڼې، خو دوئ عیسی علیه السلام ته _نعوذ بالله – د الله زوی وایي. ته په لمانځه کې کعبې مخامخ ته درېږې! خو دوئ د هماغه (ابرهه) په دین دي چې د کعبې د ورانولو لپاره یې د فیلانو لښکر راوستلي وو. نو بیا ولې په غړېدلو سترګو واقعیتونو او حقایقو ته نه ګورې؟ او ولې په رڼا ورځ د حق لار درڅخه ورکه ده؟

عسکرجانه! تر اوسه لا فرصت لرې ! د کفارو سینې ته د خپل ټوپك د شپېلۍ په وربرابرولو او په هغوئ د خپل زړه په یخولو دا ثابته کړه چې رښتیا هم مسلمان او افغان یې. او رښتیا هم ته د دې ملت بچی یې! که ژوندی راووتې نو د وزیر اکبرخان غوندې به دې بیا د (مکناټن) د وژلو حماسه تکرار کړې وي، او که شهید شوې نو په دنیا به دې له افتخاره ډك تاریخ پرې ایښی وي، او په آخرت کې به جنت او د پیغمبرانو، صالحینو او شهداوو ملګرتیا درپه برخه شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکرجانه! امریکایان او ملګري خو یې تا د دې لپاره تیاروي او مسلح کوي دي چې ته په خپل وطن کې د (تروریزم) په خلاف وجنګیږې. آیا پدې پوهیږې چې (تروریزم) څه ته وایي او تروستان څوک دي؟ تروریزم خو د سیاسي مقصدونو د حاصلولو لپاره د تاوتریخوالي له لارې د خلکو ویرولو او په مرګ تهدیدولو ته وایي. اوس نو تا ته په الله قسم درکوم چې ته په خپله ووایه چې زموږ خلک، کلي، کورونه، واړه، زاړه ، سپین ږیري او تور سرې د چا له لاسه شپه او ورځ په ویره کې تیروي؟
آیا پدې پوهیږې چې څوک یې کلي او کورونه ور بمباروي؟ څوک یې په نیمه شپه پر کور چاپې غورځوي، سړي یې وژني، ښځې یې بې ستره کوي او په سپیو یې داړي، ماشومان یې ویروي او ځوانان یې لاس تړلي او سترګې تړلې نامعلوم ځای ته بیایې؟
عسکرجانه! خپل و جدان ته رجوع وکړه او راته ووایه چې څوک د دې ولس پوره پوره کلي د دې لپاره په میزایلو او هوایي بمبار له منځه وړي چې دوئ هلته ورتلی نشي؟ که د خپلو خلکو په چیغو، فریادونو او ګواهیو دې باور نه راځي نو هغه خو خامخا ومنه چې هغه بله ورځ د دوئ خپلو رسنیو رپورټ ورکړ او عکسونه خپاره کړل چې امریکایي ځواکونو د قندهار په ارغنداب کې یو کلی د زمکې له مخه لرې کړ.
عسکرجانه! که د دوئ د ویرې اچونې، تروریزم او ورانې په هکله د بل چا خبرې نه منې نو د کابل د غلامې ادارې له ارګ څخه خپور شوی خبر خو باید ومنې چې امریکایانو په قندهار کې دومره کلي، باغونه، کشمش خانې، او کورونه وران کړي چې تاوان یې سل میلیونو ډالرو ته رسیږي. عسکرجانه دا د دوئ هغه ټول تاوان نه دي چې زمونږ خلکو ته یې ور رسولی دی، بلکه دا یوازې د یوه ولایت په څلورو ولسوالیو کې د یوه عملیات اټکل شوی تاوان دی. دوئ په ټول افغانستان کې هر وخت په هر عملیات کې همدې ته ورته مالي تاوانونه ستا مظلوم ولس ته ور اړوي. دا خو یې یوازې د مال تاوان دی. د سر د تاوان، او د روحي فشارونو، او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو څخه د راولاړو شويو روحي ناروغيو خبره خو يې لا تر اوسه چا مطرح کړې نه ده.

عسکرجانه! ته خويې وينې همدوئ دلته افغانان ذليلوي، دوئ هم کرزی ذليلوي او خپلې فيصلې ورباندې په زور مني، هم سياف ذليلوي او په کور بې اجازې د تلاشۍ لپاره ورننوځي، هم ستا ملي اردو ذليلوي او پرته له خبرولو يې په سيمه کې پوځي عمليات ترسره کوي.

عسکرجانه! امريکايان ستا حکومت هم ذليلوي. دوئ د همدې حکومت په نامه يې له دنيا څخه پيسې اخلي، خو د مصرفولو صلاحيت او واک يې نه ورکوي. دوئ په خپله هم د افغانانو په نامه ډالر راوړي خو ورکوي يې نه. يوازې شل فيصده يې دلته په هغو کارونو مصرفوي چې د دوئ په ګټه دي، او پاتې اتيا فيصده بېرته په بېلابېلو نومونو په خپلو جيبونو کې اچوي خو حساب يې ټول په موږ پسې ليکي.

عسکرجانه! امريکايانو ستا ټول ولس يرغمال کړی دی. پوځ ددوئ په يرغمال کې دی، پوليس د دوئ په يرغمال کې دي، کابينه د دوئ په يرغمال کې ده، د کرزي د خپل دفتر مامورين د همدوئ مامورين دي او د همدوئ د استخباراتو لپاره کار کوي. پارلمان د همدوئ په يرغمال کې دي او د دوئ د خوښې خلاف نه کومه فيصله کولی شي او نه هم د غور او بحث لپاره کومه موضوع وړاندې کولی شي. وزارتونه د همدوئ په يرغمال کې دي او هر وخت يې خوارکې ژورنالستان نيولي او ډبولي وي چې ولې يې د ځينو واقعيتونو خبر تېر کړی دی؟ مکتب او نصاب د همدوئ په يرغمال کې دی او د دوئ د مشاورينو له موافقې پرته يو مضمون څه چې يوه موضوع هم په تعليمي نصاب کې نشي داخلېدلی. داخلي او خارجي مؤسسات د همدوئ په يرغمال کې دي او هر څه چې دوئ غواړي هماغه ورباندي کوي. نو ته ووايه چې که دوئ وېره اچوونکي او تروريستان نه وي نو څوک به تروريستان وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکرجانه! تا ته به نه دریادیږي چې کله دوئ پر افغانستان حمله وکړه نو په هماغه وخت کې د رمضان میاشت هم راورسیده. د ټولې نړۍ مسلمانانو ورڅخه هیله وکړه چې لږ تر لږه د رمضان په میاشت کې خو دې د افغانانو پر کور، کلي، او ښارونو بمبارۍ ودروي. خو ته پوهیږي چې دوئ یې په ځواب کې څه وکړل؟ ته به ځکه ناخبره یې چې نه سواد لرې، نه مطالعه کوې، نه کمپیوټر لرې، او نه هم انټرنیټ ګورې چې د دوئ حقیقت در معلوم شي. دوئ د مسلمانانو دې غوښتنې ته دا ځواب ووایه چې عسکرو یې پر هغو بمبونو چې زما او ستا پر کلي یې اورول په خپلو لاسونو په غټ خط ولیکل: (gift of Ramadan) یعنې د رمضان تحفه. هغوئ ستا پر اولس د رمضان په میاشت کې د بمونو تحفې واورولې او پدې ډول یې د خپلې کینې او خپل (نصراني) تروریزم اظهار وکړ.
عسکرجانه! امریکایان یوازې ستا د طالب، ستا د ملا، ستا د مسجد محراب، او مدرسې دښمنان نه دي، بلکه دوئ ستا د ولس د پت او عزت دښمنان هم دي. دوئ پدې پوهیږي چې دلته تر هر څه د پت او ناموس قدر او عزت ډیر دی، نو ځکه یې په شعوري ډول د دې هستۍ د لوټولو اقدامات وکړل، او لانور یې هم کوي. آیا همدوئ په کابل او نورو ښارونو کې د (ګیست هاوسونو) په نامه د فحشاوو مراکز جوړ نه کړل؟ آیا همدوئ ستاسو له (ډګر والانو) (ترجمانانو) او په ارزګان کې له اتیا کلن سپین ږیري سره لواطت ونه کړ؟ او همدوئ یې په قصدي ډ ول جریان مېډیا ته ونه سپاره؟
عسکرجانه! دې ولس ته دامریکایانو دغه سپکاوي اوسنی ندی. تر دوئ دمخه چې کله انګریزانو افغانستان اشغال کړی وو په هغه وخت کې هم د دوئ پوځي مشرانو همدا چارې کولې. او کله چې شاه شجاع مکناټن ته د انګریز پوځیانو له دې کارونو شکایت وکړ نو ددې پر ځای چې هغه یې شکایت واوري او خپل پوځیان افغانانو ته له سپکاوي منع کړي هغه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چې: که زموږ پوځیان دا کارونه ونه کړي هغوئ په ډول ډول مرضونو اخته کیږي.
عسکرجانه! دا خبرې درته زه له خپله ځانه نه کووم، بلکه همدغه حقیقت د افغانستان د تاریخ په مشهور کتاب (سراج التواریخ) کې چې فیض محمد کاتب د امیر حبیب الله خان په غوښتنه لیکلی پدې الفاظو راغلی دی: (شاه این ماجرا را بزبان کنایه و ایما به (سرولیم مکناتن جې) بگفت که سپاه انگلیس را ازین کار باز دارد، و او که از عاقبت کار و حمیت و شجاعت مردم این دیار آگاه نبود در جواب گفت که: هر گاه سپاهیان از مباشرت با زنان باز داشته شوند گرفتار چندین امراض خواهند شد. و شاه گفت که همچنین است، ولیکن شیوع و رواج این کار در حوصلهٔ ناموس پرستان افغان گنجیدن بغایت دشوار است، پس میباید که بچوب سیاست منع خریداران این بازار نموده آید، ورنه این شجرهٔ خبیثه فتنه بار خواهد آورد، سر (ولیم مکناتن) گوش به سخنان شاه نداده در زاویهٔ نیسان نهاد).
(سراج التواریح صفحه (۱۵۶) .
عسکرجانه! غربي پوځیان ستا د ولس د خلکو سپکاوی د انفرادي جنایاتو په حیث نه کوي، بلکه همدغه یې ورته د جنرالانو توصیه او تګلاره ده. که د هغې زمانې شاه شجاع د هغې زمانې له مکناټن څخه لدې امله د دې کار د بندېدلو غوښتنه کوله چې خلک به ورپسې راپورته شي نه ددې لپاره چې دا د مسلمانانو پر ناموس تېری دی، خوستا د وخت شاه شجاع (حامد کرزی) د دې زمانې له مکناټنانو څخه دغه ډول غوښتنه هم نشي کولی. تا خو به هم په بګرام کې هغه کېسې اورېدلې وي چې خلک یې د یرغلګرو پوځیانو او د یو شمیر بې غیرته او غرب ځپلو افغانو ښځو په اړه کوي. دا ته نو د کوم ملت د (ملي اردو) عسکر یې چې ټوپک دې په لاس کې دی او په ځای د دې چې په هغه د خپل ملت د ناموس ساتنه وکړې ته په سره وینه ولاړ یې په خپل ټوپک د یرغلګرو پیره او حفاظت کوې؟ عزت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې څه شو؟ افغانيت دې څه شو؟ مسلماني دې څه شوه؟ آيا دا هر څه دې په دوه سوه ډالرو پر يرغلګرو خرڅ کړل؟

عسکرجانه! دومره خو به تاته هم در معلومه وي چې د افغانستان د تير تاريخ په خلکو کې چې څوک تر ټولو ډېر يادېږي او افغانان ورباندې افتخار کوي هغه وزير اکبر خان دی. وزيران خو نور هم ډېر تېر شوي دي خو وزير اکبرخان ځکه د افتخار وړ دی چې مکناټن انګريز يې وژلی دی. او د هغه په ملګرو کې تر ټولو (محمدشاه خان) ځکه ښه يادېږي چې هغه ورسره د انګريز په وژلو کې مرسته کړې ده. که ته هم کوم امريکايې يا انګريز او يا هم کوم بل يرغلګر ووژنې همداسې به ته هم د راتلونکو نسلونو لپاره د افتخار وړ يې.

عسکرجانه! تا ته خوبه دې يرغلګر روزونکي دا هم وايې چې مونږ دلته ځکه راغلي يو چې دا هېواد تروريستانو نيولی وو او موږ ورڅخه آزاد کړ. خو ګوره عسکرجانه! چې په دروغو يې تېر نه ووځې. دا هېواد نه چا نيولی وو او نه دلته د بل چا واکمني چلېده. نه دلته د پرديو په لکونو پوځونه وو او نه يې په لسګونو زره ټانګونه او پوځي وسائل. نه دلته چا عسکري بېسونه درلودل اونه هم چا د افغانانو پر کليو او کورونو چاپې غورځولې. نه دلته د چا زندانونه وو، او نه چا لدې ځايه بنديان بل ځای ته وړل. نه دلته د شپې تلاشۍ وې او نه هم چا د خلکو د موټرو او کاروانونو مخه نيوله. نه دلته چا په وزارتونو کې رسمي او غير رسمي حاکم مشاورين ليدلي ول او نه هم چا پرېښودل. نه دلته چا شخصي توقيف ځايونه درلودل او نه دلته د چا شخصي امنيتي استخباراتي کمپنۍ، کمپاينونه، مليشې او اربکيان موجود ول. نه دلته چا جمهور رئيس ته د پيسو کڅوړې ورکولې او نه هم دلته د چا فرمايشي وزيران مقرر وو. نه دلته چا د چا په خلاف خپل سري عمليات کول او نه چا د چا پر ودونو، وراګانو، جنازو، کاروانونو، مساجدو، مدرسو، او مکاتبو بمبارۍ کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو په پنځه کاله حاکميت کې هيچا دا ونه ويل چې کوم اجنبي جهت دې د چا کور، کلی، ښار او بازار محاصره کړی وي. دلته نه هېچا د خپلو شخصي استخباراتي، تبليغاتي، استعماري او نورو مؤسساتو د امنيت د ساتلو لپاره سړکونه بندکړي ول او نه دلته چا دګشت او ګذر ممنوعه سيمې درلودلې. نه دلته پرديو خپلې شتمنۍ درلودې، او نه دلته چا د افغانانو اقتصادي منابع تر خپل کنترول او انحصار لاندې راوستلي ول.

عسکرجانه! غربي يرغلګر او او دهغوئ د دې ځای ملګري به تاته د هغو ځو تنو مسلمانو مجاهدينو شتون د تروريزم د واکمنۍ په حيث در يادوي چې خپل کور، کلی، تجارت، تحصيل، کورنۍ، اولادونه او هوسا ژوند يې پرې ايښی وو او د خپل اسلامي مسؤليت د احساس پر بنا ستا د دين او د وطن د دښمنانو په خلاف ستا د ورونړو تر قوماندې لاندې د افرادو په حيث دلته د روسانو او کمونستانو په ضد د همدغو رهبرانو په بلنه چې اوس په پارلمان او حکومت کې ناست دي د جهاد لپاره راغلي ول او کله چې دښمن ماتې وخوړه نو ځينو يې دا غوره وبلله چې د خپلو هېوادونو د ظالمو او مستبدو حکامو له ظلم او وحشت څخه ستا د ملت د مهربانۍ او غيرت غېږ ې ته پناه راوړې وه او خپلې ښځې او بچيان د تا په کور کې د تا د ښځو او بچيانو تر څنګ ستا د ايماني غيرت او افغاني حميت سيوري ته کښينوي. او دلته د مهاجرينو په څېر يو څو د آرام شپې تېرې کړي. ښځه يې ستا د ښځې خور او بچيان يې ستا د بچيانو ورونړه او خويندې شي او دوئ ستا د اسلامي انصاريت او افغاني عاطفې احسانمن وي.

عسکرجانه! ته پوښتنه وکړه چې آيا دلته په هغه وخت کې چا د افغانانو زمکه ، تجارت، لاره، کلی ، ولايت، ولسوالۍ ، دفتر، پوځي قرارګاه، د دخول او خروج لارې او نورڅه ورڅخه نيولي ول؟

عسکرجانه! ګوره چې دا در څخه هېره نشي چې موږ مسلمانان يو او مسلمانان چې هر چېرې او هر څوک وي ټول سره ورونړه او يوملت دي. الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالي فرمايي: (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ). الحجرات ۱۰. (بيشکه چې مؤمنان په خپلو کې سره وروڼه دي). الله تعالی فرمايي (وَ إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً) سورة المؤمنون /۵. (دغه ستاسې يو امت دی).

عسکرجانه! د شرق مسلمان د غرب د مسلمان ورور دی او د هغه په اړه مسؤليت لري. هر هغه څوك چې زموږ د دين منونکی دی هغه زمونږ ورور دی که څه هم چې زمونږ د ژبې ويونکی نه وي او يا زموږ د قوم مربوط نه وي. خو کافران، نصرانيان، امريکايان، انګريزان، پرنګيان (فرانسويان) نور يرغلګر اروپايان او دلته دهغوئ غلامان ، کمونستان، ديموکراتان، بې دينه (سيکولر) خلك، او دخپل ملت په خلاف د پرديو په صف کې ولاړ مزدوران نه زمونږ وروڼه دي ، نه له مونږ سره خواخوږي لري، نه زمونږ د ننګ ، ناموس، او شرافت پروا لري، او نه هم زمونږ د دين منونکي دي. دغه ډلې يوه يې هم زمونږ له (ملت) څخه نه ګڼل کېږي، ځکه چې موږ خو د ابراهيم عليه السلام پر ملت يو، او د ابراهيم عليه السلام په هکله الله تعالي فرمايي : (مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلاَ نَصْرَانِيًّا وَلَكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا). آل عمران ۶۷ . (ابراهيم عليه السلام نه يهودی وو او نه نصرانی، بلکه د حق منونکی مسلمان وو). او دوئ خو ځيني يې يهوديان، ځيني يې نصرانيان، او ځينې نور يې ملحدان او له حق دين څخه سرغړوونکي او د هغه په خلاف جنګېدونکي دي.

عسکرجانه! دا دې هم په پام کې ونيسه چې غربي اشغالګر خو اوس تا د خپل ملت په خلاف جنګوي، د خپل دين او وطن وروڼه دربانديې شهيدانوي، ستا خپلې خويندې او ميندې درباندې کونډوي، خپل وربرونه دې درباندې يتيمانوي، او خپلې تور سرې درباندې بې ستره کوي، او د دې هر څه په مقابل کې يوازې يو څو افغانۍ در کوي او بس، خو بله ورځ به دوئ هم د روسانو په څېر خپلو هېوادونو ته روان وي، دوئ به هلته د روم، پاريس ، نيويارك، لندن او فرانکفورت په ښارونو کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو کورنيو او اولادونو سره د عيش او عشرت شپې تېروي، خو تا به دلته دې وران، کنډواله شوي او سوځېدلي وطن کې د کونډو، بورو او يتيمانو فريادونو، آهونو، او ښېراوو ته پرېږدي. نه يوازې ښېراوې، بلکه دلته به بيا خلك له تا سره حساب هم کوي. هغه خلك به ټول له تا سره د خپلو حسابونو تصفيه غواړي چې ته يې د پرديو پر ټانګ سپور کور ته ورغلي وې، او له يرغلګرو سره په شريکه دې د هغوئ پر کور چاپه غورځولې وه، او تورسرې دې ورته بې ستره کړې وې.
عسکرجانه! په پای کې کې دا درته وايم چې ما پر خپل ځان ستا د پوهولو حق پور ګاڼه، او هيله ده چې پدې خبرو به مې ستا يو څه پور پرېکړی وي. او دا څو خبرې مې ځکه درته وکړې چې ته خو زما ورور يې! څه د امريکايي او د انګرېز ورور خو نه يې! ستا خو مړی او ژوندی دواړه ما ته راپاتې کېږي. غربيان او د هغوی بې دينه سيکولر ملګري خو به له ماتې وروسته غرب ته وتښتي، خو ستا د غلامۍ، له کفارو سره د ملګرتيا، د خپل دين او ولس په خلاف د جنګېدلو، له ملا، طالب، مسجد، محراب او مدرسې سره د دښمنۍ تورې کارنامې به زما د ولس او هېواد په تاريخ کې ثبتېږي! نو عسکرجانه! له الله تعالیووېرېږه! او نور له دې پردي صفه او له دې شرمېدلي ناروا کاره راووځه! راځه يا د الله تعالی د دين په ملاتړ وسله پورته کړه، او يا لاړ شه خپلو اولادونو ته حلاله نفقه پيدا کړه چې ته د سبا له شرمه خلاص شې، او زه د خلکو له پيغوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنتونونو ځوانان دهېواد د اسلامي اصالت شعوري سپاهيان

د اسلام لپاره مبارزه له اسلامي عقيدې راپورته شوي شعور، سياسي بصيرت، ناتمامه صبر او سرشارې ځوانۍ ته ضرروت لري. او هر کله چې دغه څلور ګوني عناصر د يوه با عزيمته صالح قيادت تر سيوري لاندې د اسلامي مبارزې په ټولي کې موجود شي الله تعالی د هغه ټولي په کار کې برکت او په حرکت کې يې توفيق او عزيمت پيداکوي، که څه هم چې دغه ډله ډېره وړوکې هم وي.

په قرآن کريم کې د الکهف مبارك سورت هم د همدغسې يوې ډلې ځوانانو حال او سرنوشت بيانوي. پدې سورت کې الله جل جلاله د هغو ځوانانو کيسه بيان کړې چې د حق د سپيڅلي شعور په لرلو يې د کفر په خلاف خپله کرکه او مخالفت اعلان کړ، او د خپل ايماني او سياسي بصيرت په رڼا کې يې د وخت د طاغوتي نظام کړنلارې تشخيص کړې. هغوئ نه طاغوتي حاکميت ته تسليم شول، او نه يې ورسره روغه وکړه. بلکې په صبر او استقامت يې د ايمان لاره غوره کړه، او خپلې ځوانۍ يې پر حق دين د ټينګ پاتې کېدلو په لاره کې وقف کړې، او الله ﷻ د هغوئ په دغه قيام د هغوئ قدمونه او زړونه ټينګ کړل.

د کهف ځوانانو هم پرته لدې چې د قيام عواقب ورمعلوم وي د ايمان د ساتلو په منظور يې د غرونو او کږاوونو ناهمواره لاره ونيوله. هغوی چې د دنيايي ژوند ټول مادي وسائل يې پرې ايښي ول او د معنويت د لارې قربانيو ته يې ځان تيار کړي وو نو الله ﷻ هم ورته د پايښت داسې وسيله برابره کړه چې ماديت ته ورکې هېڅ ضرورت نه وو.

د کهف د ځوانانو دغه د بې وسۍ قيام الله ﷻ ته دومره قدرمن وو چې هغه يې د يوه امت د ايمان او نجات ذريعه وګرځاوه. او د هغوئ ياد يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کتاب کې د یوه وړوکي مؤمن جماعت د مبارزې د ژوندي مثال په حیث آخري امت ته پر رسول الله ﷺ را نازل کړ.
د رسول الله ﷺ ملګري هم تقریبا نوي په سلو کې غښتلي ځوانان ول. هغوئ په الهي نصرت او بیا د خپلې سرشارې ځوانۍ په قوت د اسلام یو داسې عظیم دولت او نظام په پښو ودرواوه چې دهغه وخت تاریخ یې ساری نه وو لیدلی. هغوی د نبوي مدرسې هغه ممتاز شاګردان ول چې د ټول بشریت د قیادت او استاذۍ چارې یې په بې ساري ډول سمبال کړې، او انساني تمدن یې د ارتقا داسې لوړو مراحلو ته ورساوه چې د نړۍ زمانې ټول فیلسوفان ورته حیران پاتې شول.
د کمونزم په خلاف د افغانستان د ستر جهاد پیل هم د مسجد او مدرسې تر څنګ د کابل د پوهنتون له انګړ څخه شوی وو. همدغه د پوهنتون بااحساسه او متدین ځوانان ول چې تر ټولو دمخه یې د کمونیزم د سره سیلاب خطر احساس کړ، او د هغه د مخنیوي افتخار هم د پوهنتون د ځوانانو په برخه شو. هغوئ له هغه سند او شهادتنامې محروم شول چې د هغې پر اساس به یې ښایي په کومه طاغوتي یا غلامه اداره کې وظیفه ترلاسه کړې وای. خو الله ﷻ په داسې شهادتونو ونازول چې د انبیا وو، شهداوو او صالحینو ملګرتیا به یې ان شاءالله په برخه شوې وي.
د کمونیزم او روسانو په مقابل کې د جهاد د سنګرونو ساتنه هم د هېواد د نورو اقشارو ترڅنګ تر ډېره همدغه د پوهنتون د ځوانانو او یا له پوهنتون څخه د فارغو ځوانانو لخوا کېدله. که د جهاد د لومړیو کلونو د جبهو مشران او قومندانان را په یاد کړو نو وبه وینو چې ګڼ شمېر یې ډاکټران، انجینران، څارنوالان، پوځي افسران، قاضیان، استادان او نور هغه کسان ول چې د پوهنتون له اکاډیمیک او سیاسي چاپیرال سره یې تړاو درلود. دې هرڅه پدې دلالت کاوه چې زمونږ ملت په آګاهانه ډول د کمونیزم او الحاد په خلاف جهاد کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پوهنتونونو پورې اړوندو متدينو ځوانو قومندانانو د کلي او ولس بېسواده ځوانان هم داسې د کمونيزم په خلاف د مبارزې او جهاد په سنګر کې منظم کړل چې د شوروي روزل شوي زبرځواک پوځ ته يې د الله تعالی په نصرت ماتې ورکړه.

پر افغانستان د امريکا له تسلط وروسته هم د پوهنتونو ځوانانو د خپل اسلامي اصالت او اسلامي عقيدې سره د مضبوط تړاو ثبوت وړاندې کړ.

د امريکايانو لخوا قرآن کريم ته د سپکاوي په خلاف د پوهنتونونو د ځوانانو سراسري او زړورې مظاهرې او د هېواد په اسلامي اصالت ټينګار د هغوئ د پاخه اسلامي احساس ښکاره بېلګې دي.

پر هېواد د امريکايي اشغال په اوج کې چې د ننګرهار د پوهنتون ځوانانو د پوهنتون په ماحول کې د ګډا او فحشا د رواجولو په عکس العمل کې کوم زړور او له غيرت او شهامته ډک غبرګون ښکاره کړ ټول غرب ورباندې وښورېده.

کله چې اروپا د اسلام د پيغمبر محمدﷺ د سپکاوي په خاطر له عناد او غروره ډک اقدام په مکرر ډول وکړ بيا هم همدغو د پوهنتونو غيرتي ځوانانو د غرب په خلاف لويې مظاهرې په لار واچولې. دغو مظاهرو دکرزي ګوډاګۍ اداره دومره په وېره کې کړه چې د يوه سرتاسري ملي پاڅون ژوره انديښنه ورته پيدا شوه.

امريکا غواړي چې د پوهنتون ځوانان له سياسي شعور او اسلامي بصيرت څخه بې برخې‌کړي او د همجنس بازۍ، غربپالنې، موسيقۍ او شرابو په ډنډ کې يې غرق کړي. د دې کار لپاره هغوئ پراخې پروسې په کار اچولې دي چې د ځوانانو پر مخ د بې لارېتوب او لنډغرتوب د دروازو خلاصون، د غرب د(بواى فرينډ) او (ګرل فرينډ) د غربي فرهنګ رواجول، له نصاب څخه د اسلامي موادو لرې کول، د پوهنتونو له کتابخانو څخه داسلامي فکري او تحريکي کتابونو ټولول، په بازارونو کې په دغه ډول کتابونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندیزونه لګول او د ځوانانو په سمتي او ژبنیو اختلافونو مشغولول شامل دي.
یوه بله خبره چې ډېره د اهمیت وړ ده هغه دا ده چې امریکا لدې هر څه سره سره بیا هم د هېواد د پوهنتونونو له ځوانانو وېره لري. او له همدې امله خو ئې داخل د لبنان، ترکیې او مصر په څېر په کابل کې هم خالص امریکایي پوهنتون جوړ کړ، چې هر څه ورکې په امریکایي معیارونو برابر تر سره کېږي.
امریکا غواړي په افغانستان کې داسی ځوانان وروزي چې یوازې نومونه یې د افغانانو وي خو فکر، فرهنګ، عقیده، ژبه، دود او بالآخره د ژوند هر اړخ یې امریکایي وي، تر څو له زړه په پوره اخلاص د افغانستان په راتلونکي کې د امریکایانو د بېلابېلو اهدافو او اجنډاوو لپاره کار وکړي.
که داسې نه وي نو هغوئ ولې د موجودو پوهنتونو د میعار او ظرفیت د لوړولو پخاطر له دغو پوهنتونو سره اکادیمیکې مرستې نه کوي؟
د پوهنتونونو ځوانان د یرغلګرو په مقابل کې د ملي پاڅونونو او د هېواد په سیاسي ژوند کې د ملا د تیر اهمیت لري.
د پوهنتونونو مسلمانو ځوانانو له دوه زره یوولسم میلادي کال څخه راپدې خوا په ټوله عربي نړۍ کې چې د مستبدو او سیکولرو حکامو له لوري اداره کېږي داسې جهادي او اسلامي حرکتونه پیل کړل چې د ډېرو طاغوتي حکامو تختونه یې ولړځول او لانور یې هم لړځوي.
که له یوې خوا د پوهنتون ځوانان د هېواد روښانه مستقبل او ازادۍ ضامنان ګڼل کېږي نو له بلې خوا دغه ځوانان په پوهنتوني محیط کې له ډېرو ستونزو سره هم مخ دي چې څو یې په لاندې ډول یادوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پوهنتوني محيط کې د مسلمانو ځوانانو ستونزې

۱ –د سازماني انسجام نشتوالی:

وروسته له هغه چې پخواني جهادي تنظيمونه د انحرافونو او بېلابېلو عواملو په نتيجه کې د قيات له صحنې ووتل او اکثره يې د روسانو او يا د امريکا په غلامۍ او خدمت اخته شول په ځوانانو کې تحريکي انسجام او سازماني بهترۍ هم خپل ځای له غربه راواردو شوو او سرچينه اخيستونکيو ارګانونو او ټولنو ته پرېښود چې د Westernization (غربي کولو) په کار کې په پوره زور او شور په کار اخته دي.

مسلمان ځوانان هر يو د اسلام او هېواد د خدمت لپاره په زړه کې پخه اراده او ارمان لري خو د دغه ارمان له چا سره د شريکولو منظم مواقع په لاس نه ورځي. او که کله نا کله يوه نيمه غونډه او يا مجلس له چا سره وکړي نو د تېپل شوې اداري لخوا په يوه او بل نامه تورن کېږي، او د فعاليت مخنيوی يې کېږي. او دا پداسې حال کې چې په ټوله نړۍ کې د محصلينو اتحاديې د سياسي او فکري فعاليتونو قانوني حق لري.

۲ - د غرب د فرهنګي يرغل په مقابل کې د اسلامي نشراتو او مطبوعاتو نشتوالی:

په افغاني ژبو کې هسې هم د اسلامي، فکري او اخلاقي کتابونو، مجلو او نشراتو کموالی ليدل کېده. او هغه يوه برخه مطبوعات چې د جهاد او هجرت په کلونو کې د ځينې تنظيمونو او فرهنګي جهتونو له لوري ليکل شوي او يا چاپ شوي وو هغو ته هم د هغو د ليکونکو او مؤلفينو د منفي دريځونو له امله لويه صدمه ورسېده چې اوس يې هر ځوک ليکوال د امريکايانو او يا نورو يرغلګرو په خدمت کېويني نو د هغه پر کتاب يې هم هېڅ باور نه کېږي. د مثال په ډول د شهراني، رباني، سياف او لسګونو نورو ليکوالانو کتابونه د هغوئ د نااسلامي مواقفو له امله مسلمانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانانو او د جهاد او آزادۍ د لارې لارويانو ته نور هغه پيغام نشي ورکولای چې يو وخت يې ورکاوه.
له بل لوري دکابل د ادارې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په ټولو هغو کتابونو چې د غرب د لوېدلي او الحاد ځپلي فرهنګ عيبونه يې مسلمانانو ته څرګند کړي دي بنديز لګولی دی ترڅو ځوانان د اسلامي نړۍ د اسلامي تحريکونو د مثبتو تجربو له نتائجو څخه بې خبره وساتي.
خو په مقابل کې يې د مطبوعاتو، راډيوګانو، تلوېزونونو او د سلګونو انټرنټي وېبپاڼو له لارې د غرب د مبتذل فرهنګ داسې يو خطرناک سيلاب د افغاني ټولنې پر ځوانانو راخوشې کړی دی چې که د اسلام د سپېڅلي فرهنګ په خپراوي يې مخه ونه نيول شي نو په نږدې راتلونکي کې به افغاني ځوانان له خپل هر څه پردي شي.
خو ځوانان کولای شي دغه تشه په ديني حلقاتو، لکچرونو، نوټونو، د قرآن او حديث په اونيزو درسونو او د انټرنېټ له اسلامي ويب سايټونو څخه په استفادې ډکه کړي.
له بل لوري د پوهنتونونو مسلمان ځوانان د ډېر څه ليکلو او خپرولو توان لري چه لاس په لاس يې مشران کشرانو ته رسولای شي. دغه ډول تجربه يو ځل په ترکيه کې هغه وخت تکرار شوه چې کله (کمال اتاترک) او ورپسې (عصمت اينونو) د سيکولر ترکيې جمهورو رئيسانو د ترکيې خلک له اسلام څخه محروم کړل. خو هغه وخت د پوهنتونو او مکاتبو ځوانانو او پيغلو په ميليونونو نسخې د (بديع الزمان سعيد نورسي) د (رسائل النور) ايمان پالونکې رسالې په لاس ليکلې او لاس په لاس يې سره يو بل ته رسولې.

۳ – نشنلزم او نشنلست حرکتونه:

غربيان د خپلې زړې استعماري سياسي حربې چې وايي: (بيل يې کړه ايل يې کړه) په عملي کولو غواړي د هېواد په پوهنتوني ماحول کې يو ځل بيا ځوانان د نشنلزم او توکم پالنې خوا ته سوق کړي. هغوئ پدې کار کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستميانو، پرچميانو، افغان ملتيانو او نورو نشنلستو ډلو څخه كار اخلي او د هغوئ په وسيله ځوانانو ته د نشنلزم (توكم پالنې) نظريه وركوي تر څو په آسانه د هېواد د پوهنتونو ځوانان د اسلام او هېواد له عليا مصالحو غافل او په خپلمنځي اختلافاتو يې اخته كړي.

د ژبو، سمتونو او قومونو پراساس د خلكو وېشل د اشغالگرو او يرغلگرو كار دى. اسلام په قطعي ډول د دې نظريې مخالف دى. په اسلام كې تر ټولو غوره هغه څوک دى چې د ډېرې تقوا لرونكى او الله ﷻ ته نږدې وي.

د هېواد د پوهنتونونو او مسلكي زده كړو ځوانان چې د سبا چارواكي او حاكمان دي بايد د دښمنانو د دغه ډول فتنو ښكار نه شي، او پرېنږدي چې دښمن يې په يوه او بل نامه سره و ويشي. ځكه افغانانو په تېرو كلونو كې د دغه ډول وېشونو ترخې پايلې وليدلې چې هېواد يې وران او واک يې پردى شو. نور بايد مسلمان ځوانان دې موضوع ته په جدي ډول متوجه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي امت د ذلت له اسبابو او عواملو څخه

له ډېرې مودې راهیسې په نړۍ کې اسلامي امت د ذلت او کمزورتیا لوري ته روان دی او دا پداسې حال کې چې الله تعالی دې امت ته غوره امت ویلی دي.
اسلامي امت په پیل کې یو پرمختلونکی، فاتح او د خپل واک او حاکمیت لرونکی امت وو، خو اوس یې بچیان کله د یوه زبرځواک تر تسلط لاندې د ذلت شپې تیروي او کله د بل. د دې لپاره چې د ذلت او ببرته پاتې والي په علتونو پوه شو او د هغو د لیرې کولو هڅه وکړو د امت د ذلت او ضعف ځینې اسباب او عوامل د اسلامي امت د مفکرینو د لیکنو له مطالعې څخه په استفادې په لاندې څو نقطو کې په مختصر ډول تشخیصوو:
د امت د بیرته پاتې والي او ذلت عوامل :
۱- **د خلافت سقوط**: د رسول الله ﷺ له وفات راهیسې اسلامي امت د خلافت ترسیوري لاندې ژوند کاوه، او همدغه سلسله تر ۱۹۲۴م کال پورې په بېلابېلو شکلونو کې په امت کې روانه وه.
د خلافت نظام مسلمانان په سیاسي لحاظ سره یو کړي او په دفاعي لحاظ یې ټول امت د دښمن په مقابل متحد ساتلی وو. د خلافت تر سیوري لاندې د ټولې اسلامي نړۍ مسلمانانو ځانونه د یوې امت غړي ګڼل. د وطنونو، ژبو، رنګونو، مذاهبو او قومونو جلا والي ځکه دوئ یو له بله نه ووجلا کړي چې ټولو ځانونه تر ډېره وخته د یوه سیاسي نظام اتباع ګڼل، او د سیاسي تصامیمو مرجعیت یې یو وو. دښمن به چې له مراکش څخه تر اندونیزیا پورې مسلمانانو ته د یوه امت په حیث کتل نو له هغوئ څخه به یې سترګه سوځېده او مسلمانانو په خلاف به یې د څه اقدام جرأت نشو کولی. نو هماغه وو چې فیصله یې وکړه چې د خلافت نظام باید په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي امت کې له منځه يوړل شي ترڅو مسلمانان له داسې قوته محروم کړي چې اوږده موده يې امت د کفارو په مقابل کې ځواکمن ساتلی وو.
دښمن د خلافت د له منځه وړلو لپاره په بېلابېلو مرحلو کې له بېلابېلو دسيسو او توطيو څخه کار واخيست، تر دې چې په ۱۹۲۴م کال کې د مسلمانانو وروستی خلافت د يوه يهودي الاصله مسلمان ډوله پوځي حاکم (کمال اتاتورک) لخوا لغوه اعلان شو.
د خلافت د له منځه وړلو چارې په حقيقت کې برتانيې د ټولې اروپا په ملاتړ تر سره کړې، او د اسلامي امت ځينې خاينو او غدارو حکامو هم مرسته ورسره وکړه. نامسلمانه اقليتونو او له اروپايانو څخه متأثره نشنلستو رهبرانو او مفکرينو هم په دغه ستر جنايت کې ونډه واخيسته او هغه په پداسې شکل چې د اسلامي امت په نوي نسل کې يې د قوميت، وطنيت او ژبنيو بېلتونونو شعارونه پورته کړل، تر دې چې ستر مسلمان امت يې په همدغو شعارونو او معيارونو ټوټه ټوټه کړ، او هره ټوټه يې يو بېل اروپايي هېواد لاندې کړه، او پر هغې يې يا خپله مستقيمه واکمني ټينګه کړه، او يا يې خپل هغه فکري غلامان ورباندې حاکم کړل چې د همدې کار لپاره يې روزلي ول.
اروپايي استعماري دولتونو په اسلامي نړۍ کې خپل فکري غلامان د (سيکولريزم) په نظريه روزلي دي، او سيکولريزم هغه نظريه ده چې نه غواړي د انسانانو د ژوند چارې د الهي وحي پر اساس تنظيم شي.

۲- (سيکولريزم) يا د دين او د دولت بېلتون:

د مسلمانانو په فکري او عملي ژوند کې د (سيکولريزم) حاکم کېدل د اسلامي امت د ذلت او ببرته پاتې والي يو بل عامل دی، او هغه ځکه چې انسانان او نړۍ د الله تعالی مخلوق دي، او الله تعالی تل د خپلو بندګانو د چارو د تنظيم او د هغوئ د لارښوونې لپاره انبياء او اسماني کتابونه رالېږلي دي چې د هغو په ذريعه يې بشريت ته د انساني ژوند د چارو د پرمخ بيولو اصول او قوانين ورښودلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هر کله چې بشریت د انبیاؤ او اسماني کتابونو د تعلیماتو په رڼا کې خپلې چارې تنظیم کړې دي نو هم د الله تعالی د رحم او کرم مستحق ګرځېدلي، او هم یې پر زمکه بشري ژوند په عافیت او خیر کې تېر شوی دی. خو کله یې چې له هغو څخه سرغړونه کړې ده، نو په ډول ډول اسماني او زمکنیو مصیبتونو او عذابونو اخته شوي دي.

د دې امت مسلمانانو هم چې تر کومه وخته د خپل انفرادي، اجتماعي، سیاسي، اقتصادي او پوځي ژوند چارې د شریعت پر اساس تنظیمولې نو دوئ هم په نړۍ کې د یو فاتح، پرمختللي او عزتمند امت په توګه اوسېدل. خو له کومې ورځې یې چې لدې تګلارې انحراف کړی له هماغې ورځې له ذلت او ضعف سره مخ شوي، او د ژوند د چارو واګې یې هم د پردیو لاس ته ورغلي دي.

ډېر دردونکی حالت خو لا دا دی چې په ملیونونو مسلمانان هم د غربي ډوله تعلیم د تأثیر له امله د (سیکولریزم) د کفري نظریې پلوی کوي، او د اسلامي شریعت پر ځای یې د حاکمولو لپاره کوښښونه او عملي کار هم کوي.

دغه ډله خلک د ناپوهۍ او یا هم له اسلام سره د عناد له امله دا استدلال کوي چې غرب هغه وخت مادي ترقي وکړه چې د انساني ژوند چارې یې د دین له تسلط څخه آزادې کړې، او د دین او دولت تر منځ یې د بیلتون نظریه حاکمه کړه. خو هغوئ یا لدې خبرې غافل دي او یا نه غواړي دا حقیقت ومني چې په غرب کې چې د (دین) په نامه د انسانانو په ژوند کې چې څه مسلط ول هغه په حقیقت کې (الهي دین) نه ؤ، بلکې هغه د تحریف شوي مسیحیت د منحرفو (پاپانو) شخصي نظریات ول چې د خپل استبداد د حاکولو په مقصد یې پر غربي ټولنې مسلط کړي وو. نو ځکه خو هلته غربیانو حق درلود چې د(کلیسا)له منحرفو نظریاتو او د (پاپانو) له استبداده ځان خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د دې پر ځای چې غربي مفکرين خپله ټولنه د اسلام د حق دين ښېګڼو او حقانيت ته وروبولي له خپلو مطلقو مادي او شهواني غوښتنو او له الله ﷻ څخه د بغاوت پر اساس له را ولاړو شويو نظرياتو يې هغوئ ته د (سيکولريزم) نوی (دين) ورجوړ کړ، او پدې ډول يې د غربي ټولنې افراد د (کليسا) له استبداده خلاص کړل، خو په عين وخت کې يې د حق دين (اسلام) له منلو څخه هم محروم کړل.

په اسلامي نړۍ کې سيکولريزم په ټوله معنی يوه (پردۍ نظريه)ده چې د مسلمانو له خپل وياړلي او ځلاند تاريخ څخه د پردي کولو يوه توطيه ده.

ځکه چې د (سيکولريزم) معنی په اسلامي ټولنه کې يوازې او يوازې دا کېدلی شي چې مسلمانان دې د الله ﷻ د کتاب او د رسول الله ﷺ د احاديثو احکام د خپل ژوند په چارو کې له پامه وغورځوي، او په هغه څه دې فيصله کوي چې د دوئ نفسونه يې غواړي، چې د دې نظريې منل په حقيقت کې له اسلامه د وتلو او مرتد کېدلو په معني دي.

اسلام يو مکمل دين دی چې د ژوند ټولې چارې په ښه ډول تنظيموي، او په هېڅ صورت کې يو مسلمان ته دا اجازه نه ورکوي چې له (اکراه) او (اضطرار) پرته دې د اسلام کوم حکم پرېږدي.

خو اوس چې ټول مسلمان هېوادونه په يوه او بل ډول د غرب تر تأثير او يا هم حاکميت لاندې دي، او غربيان غواړي چې مسلمانان دې تل همداسې د دوئ تر حاکميت لاندې پاتې وي، نو ځکه خو نه پرېږدي چې د مسلمانانو په ژوند کې دې بېرته اسلام حاکم شي. له همدې امله خو غرب د خپلو فکري غلامانو او سيکولر پوځونو په زور د (سيکولريزم نظريه) پر مسلمانانو ورتپلې ده.

غرب پدې پوه دی چې هرکله چې اسلام د مسلمانانو په ژوند کې بېرته حاکم شي نو په هماغه ورځ به مسلمانان بيا قوي کېږي، او د غرب له تأثير او تسلط څخه به ځان خلاصوي چې دا بيا هېڅکله غرب ته د ملنو نه ده. نو پر همدې بنا ويلی شو چې د(سيکولريزم نظريه) د مسلمانانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تسخیرولو لپاره د غرب هغه ناپوځي وسیله ده چې ټوله اسلامي نړۍ یې د ژوند په هره ساحه کې د غرب تر تسلط لاندې راوستلې ده، او یوه ډېره برخه اسلام ته منسوب خلک یې د هغې له لارې له زړه پدې قانع کړي دي چې شریعت باید په اسلامي ټولنه کې نافذېدلو ته پرېښبودل شي، او هر خیر باید د غرب له لوري په وضع شوو قوانینو او معیارونو کې ولټول شي. او پدې ډول دغې نظریې د امت بچیان له یوې رواني (روحي) ماتې سره مخ کړي دي.

۳- روحي شکست او د کمترۍ احساس :

د اسلامي امت د ذلت او کمزورۍ یو بل عامل د دښمنانو په مقابل کې د رواني (روحي) ماتې او د هغوئ پر وړاندې د کمترۍ احساس یا د (اقبال) په اصطلاح د (خودۍ د احساس) له منځه تلل دي.

په اسلامي امت کې د دښمن په مقابل کې د روحي قوت احساس او له دښمن څخه نه مرعوب کېدل هغه قوت وو چې تل یې د الله ﷻ په فضل د هغه په لرلو په لږو مجاهدینو هم د ډېرو لویو لښکرو او سترو سترو دولتونو مقابله کړې او برې یې حاصل کړی دی.

د اسلام دښمنان پدې خبره پوه شوي دي چې په مسلمانانو کې تر مادي قوته د روحي د برلاسۍ احساس ډېر مهم دی. نو له همدې امله یې په اسلامي نړۍ کې د ګوډاګیو حکومتونو او د غرب په لارښوونه د چلېدونکو احزابو او اجتماعي او مدني بنسټونو له لارې په تعلیمي نصابونو، مطبوعاتو، قوانینو او ادبیاتو کې دې خبرې ته زور ورکړی چې مسلمانان د غرب په مقابل کې کمزوري دي، او که غواړي چې له کمزورتیا ووځي نو باید غرب په استاذۍ ومني، او د هغه پر برلاسۍ باور ولري.

دغو پردي پالو جهتونو د غرب مادي او پوځي پرمختګ اسلامي امت ته له حده زیات لوی معرفي کړ، او دا خبره یې مسلمانانو ته ورتلقین کړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ هېڅکله هم د اروپايي او امريکايي قوتونو د مقاومت توان نه لري، ځکه چې هغوئ په هر لحاظ تر مسلمانانو زور ور دي.

دغه ډول نظرياتو او تبليغاتو د اسلامي امت په هغو نسلونو کې چې د اروپايي استعمار او يا د هغو تر تأثير لاندې د چلېدونکو حکومتونو په وختونو کې را لوی شول د دښمن په مقابل کې د «روحي ماتې» احساس پيداکړ، او مخکې تر دې چې له دښمن سره په جګړه کې ښکېل شي هغه ته ورتسليم شول. نه يوازې دا چې ورتسليم شول، بلکې د دښمن په صف کې درېدل يې د ځان لپاره افتخار وګاڼه، او له خپلې فاتحانه ماضي څخه انکار يې د تمدن او پرمختګ لپاره ضروري وګڼل. او بالاخره له دښمن څخه د وېرې او رعب په هغه مرض اخته شول چې مخکې د اسلام دښمنان ورباندې اخته ول، هغه چې رسول الله ﷺ فرمايلي چې دښمن له مونږ څخه د يوې مياشتې مسافې په ليرې والي هم رعب احساسوي.

۴- ناپوهي او په اسلامي او تجربوي علومو کې بېرته پاتې والی :

جهل او په شرعي او دنياوي علومو کې د مسلمانانو کمزورتيا هم د اسلامي امت د ذلت له عواملو څخه يو عامل دی. دغه عامل هغه وخت رامنځته شو چې د شرعي مدارسو له نصاب څخه سياسي او تجربوي علوم او د تجربوي مدارسوله نصاب څخه شرعي علوم وويستل شول، چې په نتيجه کې يې د شرعي علومو په درلودونکو کې د دنياوي علومو او سياسي پوهې صلاحيتونه رامنځه نشول، او دغه ډګر داسې خلکو ته ورپاتې شو چې نه يې په زړونو کې له الله ﷻ څخه وېره وه، او نه يې هم پر بشريت ترحم درلود. هر څه يې د خپلې خېټې او شهوت لپاره زده او بيا استعمال کړل، بلکې تر ډېره يې خپل علم او تجربه د اسلام د دښمنانو په ګټه وکاروله.

او هغو چې په دنياوي مکاتبو کې تجربوي او سياسي علوم حاصل کړل، هغوئ بيا له خپلو ديني، شرعي، اخلاقي، اجتماعي او ملي مسؤليتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې خبره پاتې شول، او د دينی او ملي احساس د نه درلودلو له امله د دښمن د ماشين د پرزو په حيث استعمال شول.

د اسلامي علومو نصابونه هم له خالصو شرعي علومو لکه قرآن، تفسر، حديث، اسلامي عقيدې، مقارنې اسلامی فقهې، سيرت النبي، اسلامي تاريخ، اسلامي سياسي علومو او په هره زمانه کې د دښمن په اړه له معلوماتو خالي شول او ځای يې بېرته پاتې منطقو، خيالي ادبياتو، بې ضرورته ګرامري او لغوي ابحاثو، د تصوف په نامه له نورو دينونو او نظرياتو څخه راواردو شويو فلسفو او حتی چې کله نا کله حرفوي تعويذ ګرۍ، فالبينتوب او د خلکو د اموالو د تروړلو لپاره (تجارتي روحانيت) ونيو.

د دغه مسخ شوي ديني تعليمي نصاب په نتيجه کې د ملايانو او ديني علومو ته د منسوبې طبقې داسې يو نسل رامنځته شو چې د دين له حقيقې روح څخه ناخبره، او له خپل ديني مسؤليت څخه چې د بشريت لارښوونه او د فساد مخنيوی دی غافل وو. او د دې پر ځای چې دغه خلك په ټولنه کې د فساد مخنيوی وکړي، او د مفسدو او واردو شويو بې لارې نظرياتو په خلاف مقاومت وکړی، دوئ هم د ټولنې د مفسدينو مزاج او له دين څخه د ناخبره اکثريت رواجونو ته ورتسليم شول.

د روحانيت او ديني علماوو دغه ډول مسخ شوي شکل نه يوازې په ټولنه کې د فساد مخنيوی ونه کړای شو، بلکې په خپلو غلطو کړنو، بې بنسټه نظرياتو او کاږه فهم يې اسلام او شريعت هم بدنام کړ، او د دين دښمنانو ته يې پر دين د اعتراض فرصت هم ور برابرکړ.

له بلې خوا مفسدو او مستبدو حکومتونو هم هڅه وکړه چې دغه ډول مسخ شوي نظريات خلکو ته د اسلام په نامه ورمعرفي کړي، چې پدې کار سره يې دوه فائدې تر لاسه کړې: يوه دا چې پدې کار يې د حقيقې اسلام د نافذېدلو مخنيوي وکړ، او بله دا چې هر هغه څوک چې د ريښتيني اسلام لپاره يې دعوت کاوه او د هغه د نافذولو هڅه يې کوله هغه يې خلکو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

توندلارو، افراطي، د ټولنې له اجتماعي فرهنګ څخه دوتلیو علماؤ په حیث ورمعرفي کړل، او خلک یې د هغوئ په خلاف راوپارول، او هغوئ یې په بېلابېلو نومونو له ټولنې څخه تجرید کړل، او د هغوئ پر ځای یې هغه خلک ټولنې ته د علماؤ په حیث وړاندې کړل چې د غرب له پوهنتونو او یا هم په شرق کې له هغو پوهنتونونو فارغ شوي چې نصابونه یې د غربیانو په خوښه جوړ شوي دي.
په مجموعي ډول په امت کې د نافع علم او رغوونکو نظریاتو کموالی او ضعف د اسلامي امت د ذلت له خطرناکو عواملو څخه شمېرلی شو.

۵- نشنلزم او وطنیت:

د اسلام تر راتګ د مخه بشریت د بېلابېلو اختلافونو له امله د تفرق، جګړو او د بېلابېلو قومونو ترمنځ د کشمکشونو له مصیبت سره مخ وو. د نړۍ قومونو په خپل منځ کې د سره یوځای کېدلو او یو امت کېدلو لپاره مشترک مفاهیم نه درلودل. په ډېرو وړو وړو سببونو به د قومونو او حکومتونو ترمنځ جګړې پېښېدلې، او بیا به یې په لسګونو او یا هم سلګونو کلونو دوام کاوه. ځینې قومونو به پر ځینو نورو د تفوق دعوی درلوده، او مخالف لوري ته به یې د غلامانو په سترګه کتل، چې باید په هر حالت کې د دوئ طاعت وکړي.
په همدغه ډول حالاتوکې الله ﷻ پر محمدﷺ د اسلام مبارک دین نازل کړ، چې ټولو انسانانو ته یې د انسان په سترګه وکتل، او د هغوئ ترمنځ د تفاضل او برترۍ معیار یې یوازې (تقوی) وټاکله.
اسلام ټول مسلمانان سره وروڼه کړل. د تور، سپین، سره او زیړ رنګ لرونکو انسانانو تر منځ یې تفاوت له منځه یووړ. عرب، ترک، تتار، آسیایي، اروپایي او د بل هر ځای مسلمانان یې د یوه امت بچیان کړل. له (تقوی) پرته پر بل هر څه فخر کول او د هغه پر اساس ځان له نورو غوره ګڼلو ته یې (جاهلیت) وواېه. هماغه وو چې ټول مسلمان قومونه چې هغه که د هرې سیمې او ژبې مربوط ول په یوه امت تبدیل شول، چې دین یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو، د عبادت ژبه يې يوه، رسول يې يو، قبله يې يوه، سياسي او اجتماعي ارزښتونه يې يو او د حاكميت ممثل او سياسي قيادت يې يو شو.
دغه يو والى تر ډېره حده د اسلام داخلي او خارجي دښمنانو ونشو زغملى، نو د بېلابېلو توطيو په ذريعه او د رنګارنګ فتنو په راولاړولو يې ببرته د اسلامي نړۍ مسلمانان پر قومونو، سيمو او سياسي تشکّلاتو وويشل. تر دې چې په شلمه ميلادي پېړۍ کې اروپايانو د خپل استعمار په دور کې اسلامي نړۍ ته د (معاصر نشنلزم) خطرناک سرطان هم راصادر کړ.
معاصر نشنلزم لومړى مسلمانان پر عرب او ترک باندې سره وويشل. او بيا وروسته په اسلامي نړۍ کې بېلابېل نشنلست حرکتونه لکه عربي نشنلزم، ترکي نشنلزم، هندي نشنلزم، فارسي نشنلزم، کردي نشنلزم، پښتني نشنلزم ، مغلي او هزاره ګي نشنلزم او نور نشنلزمونه رامنځته شول. دغه ټول نشنلزمونه لاندې مشترک مشخصات لري:
١ – ټول نشنلست حرکتونه او پيروان يې له اروپايي افکارو لکه کمونيزم، سيکولريزم او ليبراليزم څخه متأثره دي.
٢ – ټول نشنلست حرکتونه او اتباع يې له اسلام سره دښمني لري، او نه غواړي چې په هېوادونو کې يې دې اسلامي شريعت حاکم شي. ځکه چې د شريعت د حاکميت په صورت کې بيا نشنلزم په خپله له منځه ځي.
٣ – ټول نشنلست حرکتونه د اروپايانو په لمسون له خپلو مرکزي دولتونو سره په اختلاف او جګړه کې دي، او هر يو يې له مرکز څخه د تجزيې غوښتونکي دى.
۴ – ټول نشنلست حرکتونه ا و د هغو اتباع په تاو تريخوالي باور لري. او هڅه کوي چې د زور او تشدد له لارې خپل خصم او مقابل لورى له منځه يوسي. ځکه چې په نشنلستانو کې له نورو قومونو سره د مشترک ژوند ظرفيت نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – ټول نشنلست حرکتونه دخارجي دښمن د يرغل په وخت د دښمن په صف کې درېږي. او خپل ټول وسائل د يرغلگر دښمن په خدمت کې استعمالوي. ځکه چې نشنلستان پدې فکر وي چې د بهرني دښمن د شتون او د هغه د حاکميت په صورت کې له مرکز څخه خپله آزادي او د دوئ په اصطلاح خپل حقوق ښه حاصلولی شي. نو بايد د دښمن په قوت ځان تقويه کړي، او هغوئ ته په خدمت کولو، تجسس او نورو ذليلو کارونو هغوئ ته ځای ورنږدې او باوري کړي.

خارجي دښمن هم هڅه کوي چې همدغه متعصب اقليتونه او نشنلست حرکتونه په غېږ کې ونيسي، ويې پالي، او تقويه يې کړي، تر څو د همدوئ له لارې پر قوي اکثريت او مرکزي دولتونو غلبه حاصله کړي.

د پورتنيو مشخصاتو مصداقونه په څو څو ځله په اسلامي نړۍ کې په عربي، فارسي، ترکي، کردي، هندي، ازبکي، هزاره گې، بلوچي او پښتني نشنلستانو کې وليدل شول. او همدا اوس هم په سيمه کې ټول نشنلست احزاب او حرکتونه د يرغلگرو امريکايانو ترڅنگ ولاړ دي، او د اسلام د مجاهدينو په خلاف د هغوئ مرسته کوي.

اروپايانو د نشنلستانو پاللو ته ځکه زړه ښه کړ چې هغوئ د اروپايانو ډېر پخوانی ارمان چې د اسلامي امت ټوټه ټوټه کول وو ور پوره کړ.

د معاصر نشنلزم له راټوکېدلو مخکې به چې هر ځل اروپايانو پر کوم اسلامي هېواد يرغل وکړ نو د نورو هېوادونو مسلمانانو به هرو مرو د هغه هېواد د اوسيدونکو مرسته کوله، ځکه چې هغه به يې خپل ورونه گڼل، او د هغوئ پر وړاندې به يې د دفاع او نصرت مشترک مسؤليت احساساوه.

خو اوس چې نشنلستانو اسلامي نړۍ د قومونو، ژبو، جغرافيوي موقعيتونو او نورو معيارونو پر اساساتو وېشلې ده، د مسلمانانو تر منځ يې د اسلامي اخوت د احساس پر ځای د (نشنلزم) زهرجن فکر ته وده ورکړې ده او هغه يې تر هر څه مقدس گڼلی، او د اسلام د دين او د مسلمانانو د ديني مقدساتو پر ځای يې ورته د جاهليت د زمانې پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوني تاريخي آثار او د و (طنيت) تصور تر هر بل تصوره ارزښتمن معرفي کړي دي، نو ځکه خو اوس کفار هر هېواد په آسانۍ لاندې کولی او ایل کولی شي. او د دې کار علت یې هم دا دی چې د هر هېواد اوسېدونکي اوس یوازې د خپلې خاورې په اړه ځان مسؤول ګڼي نه د ټول امت او ټولې اسلامي نړۍ په اړه. او دا د اروپایانو هغه تاریخي ارمان وو چې د پوره کېدلو لپاره یې هغوئ په سلګونه کلونه هڅې کړې وې، خو اوس دا دی نشنلستانو او د (وطنیت) بنده ګانو په مفته ورته تر سره کړ.

په شلمې او یوویشتمې میلادي پېړۍ کې ښایې نشنلستان او د (وطنیت) د عقیدې لرونکي د امت په حق کې تر ټولو لوی مجرمین وي، ځکه چې همدوئ په لږه موده کې امت دومره کمزوري او ټوټه ټوټه کړ چې اروپایانو په سلګونو کلونو کې هم دومره نه وو کمزورۍ کړی او تقسیم کړی.

نشنلستان په اسلامي امت کې د دښمن د داخلي پوځیانو حیثیت لري، او په هېڅ صورت د اسلامي امت د تقویې، پرمختګ، سرلوړۍ او په نړیواله سطحه له نورو قوتونو سره دسیال کېدلو اجنډا او نظریه نه لري.

۶ - **مادیت، له دنیا سره بې حده مینه، او له مرګ څخه وېره:**

د اسلامي امت د ذلت او خوارۍ له عواملو څخه یو هم د ډېرو مسلمانانو له لوري د خالصو مادي تصوراتو خپلول او له مرګ څخه وېره ده. په تېرو پېړیو کې اسلامي امت خپل پرمختګ، برلاسی او نړیوال منلی حیثیت د خپلو معنوي ارزښتونو د لرلو له امله حاصل کړی وو، که داسې نه وي نو په مادي لحاظ خو مسلمانان اوس تر پخوا څو برابره ډېر پرمختللي دي، خو نه خپل واک او آزادي لري، او نه یې هم څوك په نړیوالو تصامیمو کې رأیه پوښتي. او که څه خبره و هم کوي نو څوک یې خبرې ته غوږ نه نږدي.

مسلمانانو په ورستیو دوو پېړیو کې معنوي ارزښتونو او میعارونو ته خپله توجه کمه کړه، ګټې او تاوان ته یې یا د (مادي کمونیزم) او یا یې هم ورته د (مادي کپټالیزم) له لیدلوري وکتل. نتیجه یې دا راووته چې پخوا به چې مسلمانانو کوم څه ته ګټه ویله نن یې هغه تاوان وباله، او کوم شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به يې چې تاوان وايه هغه يې نن خپله ګټه و بلله. د ګټې او تاوان د پېژندلو او سنجولو معيارونه يې پردي شول، نو ځکه خو يې ډېر د حقيقي ګټې کارونه لکه جهاد ، صدقه، احسان، ديناداري، عفت، تقوى، غيرت او نور د خير کارونه پرېښودل، او د هغو پر ځاي يې د سرمايې ټولولو، د غلامۍ قبلولو، بخل، سود، سيکولريزم (بې دينۍ) فيشن (لنډغرتوب) ټګۍ او د شخصي آزاديو په نامه د بې غيرتۍ کارونو ته توجه وکړه.

د جهاد او قربانۍ احساس چې د مسلمان امت امتياز وو او د همدغه امتياز په لرلو يې ځان د نړۍ په ملتونو کې سر لوړی ساتلی وو، هغه هم په مسلمانانو کې کمزوری شو. د قربانۍ ميدان ته د ورتللو د جرأت پر ځای يې په نفسونو کې له مرګه وېرې ځای ونيو، هماغه وو چې په خپله يې د خپلې دفاع سنګرونه خالي کړل، او له ماديا تو او د خوندونو له ژوند سره يې کچې مينې د عزت او سرلوړۍ له ټولو امتيازاتو بې برخې کړل.

حکامو هم د دې پر ځاي چې د امت بچيان په پوځونو او امنيتي جوړښتونو کې د جهاد او قربانۍ په روحيه له دين او وطن څخه د دفاع لپاره سمبال کړي واى، هغوئ د مسلمانانو په ميليونونه پوځونه او پوځيان د دښمن په نصاب او نظرياتو وروزل، او له کفارو سره يې په مشترکو پوځي ترړونونو کې شامل کړل ، چې دا دی اوس يې وينو چې په لکونو د مسلمانانو زامن ځوان پوځيان د غرب د ګټو لپاره د خپلو ولسونو او آزادي غوښتونکو اسلامي نهضتونو په خلاف جنګېږي. له موږه يې خوري او اغوندي، خو د بل چا لپاره جنګېږي، او د بل چا لپاره مري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او اسلام په خلاف د غرب مشترک جنایات

د انبیاؤ په تاریخ کې تل لیدل شوي چې هر کله چې د باطل لوری د دلیل او منطق په میدان کې پاتې راغلی نو بیا یې د انبیاوو علیهم السلام په شخصیتونو پورې ملنډې وهلي او په هغوی پورې یې په دې نیت مسخرې کړې چې که د هغوئ له حقانیت څخه د څه مودې لپاره د خلکو پام واړوي.
خو د دې کار نتیجه تل د باطل د توقع په خلاف د انبیاؤ علیهم السلام په ګټه راوتلې ده، او په انبیاؤ پورې مسخره کوونکي خلك او قوتونه هلاك شوي او ذلیل شوي دي.
کله چې د رسول الله ﷺ د زمانې کفارو د هغه په شخصیت پورې په همدې نیت مسخرې شروع کړې، نو الله تعالی ورته د تسلۍ پخاطر دا آیت نازل کړ: (و لقداستهزئ برُسل من قبلك فحاق بالذین سَخِروا منهم ما کانوا به یستهزؤون) سورة الأنعام آیت۹.
ترجمه :(ترتا د مخه په نورو پیغمبرانو پورې هم مسخرې شوې وې، بیا نازل شو په مسخره کوونکو عذاب د دوئ د مسخرو د عاقبت او پایلو په ډول).
الله تعالی کټ مټ همدغه آیت په سورة الأنبیاء کې بیا هم نازل کړی.
کېدای شي چې د انبیاؤ په حق کې دغه بې ادبه خلك سمدستي په کوم عذاب اخته نشي، خو دا پدې معنی نه ده چې الله تعالی به هغوئ ته هیڅ نه وایي، بلکې الله تعالی فرمایي: (و لقداستهزئ بِرُسُل من قبلك فأمليتُ للذین کفروا ثُمَّ أخذتُهم فکیف کان عقاب). سورةالرعد /۳۲.
ترجمه: (تر تا د مخه په نورو انبیاؤ پورې هم ملنډې وهل شوې وې، ما مهلت ورکړ ملنډو وهونکو کفارو ته، او بیا مې ونیول په عذاب، بیا نو زما عذاب څنګه ؤ!؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انبياؤ عليهم السلام د سپکاوي مرتکبين په دنيا کې له ذليل کېدلو علاوه په آخرت کې يقيناً جهنميان دي. الله تعالی په سورت الکهف کې فرمايي: (ذلك جزاؤهم جهنم بما كفروا واتخذوا آياتي ورسلي هزوا).
ترجمه: (په انبياؤ پورې د ملنډو وهونکو جزا جهنم ده د دوئ د کفر او د الله په آياتونو او انبياوو پورې د مسخروله امله).
په اوسنۍ وخت کې چې په (ډنمارك) او نورې اروپا کې څو څو ځله پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته منسوب له سپکاوي ډك کارتونونه جوړ او خپاره شول دا هم د اسلام په مقابل کې د دليل او منطق په ډګر کې د غرب د ماتې او ناتوانۍ عکاسي کوي.
په غرب کې منحرف مسيحيت او مادي الحادي فکر په دليل او منطق سره د اسلام له مقابلې پاتې راغلی. غربيان اوس خپله ماتې کله په خپلو پوځي يرغلونو او کله هم پر اسلامي مقدساتو په بريدنو پټول غواړي.
غرب تر دې مخکې مرتد هندوستانی (سلمان رشدي) استعمال کړ، او بيا ټول غربي هېوادونه په يوه خوله د هغه تر شا ودرېدل. بل ځل يې سپکاوی کوونکې بنګالۍ مرتدې (تسليمي نسرين) ته پناه ورکړه. بيايې د قرآن په خلاف دسيسه جوړه کړه او د (رښتيني قرآن) په نامه يې له الحاد او کفرياتو ډك کتاب رامنځته او خپور کړ.
د پورتنيو جناياتو ترڅنګ ټول غرب په يوه خوله د جهاد پر مقدسې فريضې د (تروريزم) او وحشت تور ولګاوه، او د مسلمانانو له ذهنونوڅخه يې د دغې فريضې د قدسيت د وېستلو لپاره په زرګونو طريقې او په مليااردونو ډالر په کار واچول.
دغه ډول حرکتونه ټول د دې لپاره ترسره کېږي چې په اسلامي امت کې د ديني حميت نبض معلوم کړي، او د هغه په تناسب په خپلو نورو جناياتو کې زياتوالی راولي.
د اروپا د دغه جنايت په هکله ځيني غرب پلوې حلقې او په خپله اروپايان دا هڅه کوي چې دغه جنايات د کومې جريدې د شخصي او انفرادي اقدام

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حیث معرفي کړي، خو دا خبره هغه وخت غلطه ثابتېږي چې د دې جنایاتو په هکله خپله د (ډنمارك) او اروپایې ټولنې رسمي دریځونو ته وکتل شي.
د اروپا مشرانو د هغو جرایدو له دریځ څخه چې د سپکاوي کارتونونه یې خپاره کړې ول په مکرر ډول د بیان د ازادۍ په بهانه دفاع وکړه او تر شائې ودرېدل. اوکله چې په اسلامي هېوادونو کې د دغه جنایت په مقابل کې سخت عکس العمل راڅرګند شو او په ډنمارك کې د پنځه دېرشو اسلامي هېوادونو سفیرانو وغوښتل چې د ډنمارك له صدراعظم سره وګوري هغه له غروره ډك موقف غوره کړ او له سفیرانو سره ئې هېڅ ونه لیدل، او د مسلمانو هېوادونو پر دریځ او د تقریبا یونیم ملیارد مسلمانانو پر احساساتو ځان خبرول ئې له خپل شان سره مناسب ونه بلل.
دغه موقف هغه وخت د ټولې اروپا په رسمي موقف بدل شو چې د اروپا د اتحادیې رئیس د (ډنمارك) د صدراعظم د دریځ تأیید وکړ، او د مسلمانانو مظاهرې یې د تأسف او کرکې وړ وبللې. بلکې تر دې هم ورتېر شو، او رسما یې د ډنمارك پر منافعو حمله پر ټولې اروپائې ټولنې حمله وګڼله.
د اروپایې اتحاد له دغه رسمي احمقانه او مغرور دریځ سره د همغږۍاو ولسي ملاتړ په نیت له سپکاوي ډك کارتونونه د نورې اروپا اخبارونو او جرائدو هم په مکرر ډول خپاره کړل، او د مسلمانانو غبرګون ته یې هېڅ اهمیت ورنه کړ، چې پدې کارسره اروپایانو عملا ثابته کړه چې د اسلام او مسلمانانو په خلاف د هغوئ حکومتونه او مېډیا چي د ولسونو ترجماني یې کوي سره مشترك موقف لري.
که له یوې خوا اروپا له خپلو دغو جنایاتو په دفاع کې مشترك دریځ غوره کړ، نو له بلې خوا په ټولې نړۍ کې مسلمانانو هم وښوده چي د هغوئ په زړونو کې لا تر اوسه له محمد صلی الله علیه وسلم سره مینه ژوندۍ او څپانده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانانو دا هم ثابته کړه چې د غرب بې تهذیبه فرهنګ او په اسلامي نړۍ کې غربي ډوله تبلیغاتو د هغوئ له زړونو د انسانیت د محسن محمد صلی الله علیه وسلم مینه نده وېستلې. هماغه وو چې په میلیونونو مسلمانانو په پرله پسې ډول په مظاهرو او لاریونونو کې برخه واخیسته او شهادتونه یې ومنل چې پدې لړ کې افغانانو بیا ټولې نړۍ ته له خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره په داسې حال کې د مینې ثبوت وړاندې کړ چې خاوره یې لا د همدغو یرغلګرو تر اشغال لاندې ده.

افغانانو په لویو مظاهرو او د یرغلګرو پر مرکزونو په بریدونو او د زخمونو او شهادتونو په زغملو دا وښوده چې افغاني روح او اسلامي احساسات لا تر اوسه د دوئ په زړونو کې ازاد او سرشار دي، که څه هم چې غربیانو د افغانانو د افکارو د بدلولو لپاره په میلیاردونو ډالر مصرف کړل.

کرزي او د هغه حکومتي اجیرو ملایانو خو افغانانو ته د یرغلګرو په خلاف د زغم توصیې وکړې او کرزي خو لا په خپلو ویناؤ کې خلکو ته د ډنمارکیانو د ښنلو توصیه هم وکړه. پداسې حال چې ښنه هغه وخت کېږي چې مجرم خپل جرم ومنې او د هغه له امله له مقابل لوري ښننه وغواړي.

په هغه وخت کې د اشغالګرو له لوري د افغانستان لپاره د ټاکل شوي حکومت قاضي القضات (فضل هادي شینواري) خو په ډېرې بې شرمۍ دا هم و ویل چې غربیان زمونږ دښمنان نه دي، بلکې هغوئ زمونږ دوستان دي. او دا ځکه چې هغوئ مونږ ته د لندن په کنفرانس کې د لس ملیاردو ډالرو وعده راکړې ده. فضل هادي شینواري په هغه وخت کې د غرب په خلاف مظاهرې د اسلام په خلاف کار وباله، او پدې کارسره ئې خلکو ته دا ښه واضحه کړه چې نوموړي ته د محمد صلی الله علیه وسلم تر ذات او شخصیته د امریکایانو او اروپایانو خوشحالول ډېر اهمیت درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه باید وکړو ؟

پداسي حال کې چې هېوادونه، پوځي توانائی، فرهنګ، مقدسات، وګړي او هر څه مو تر برید لاندې دي موږ باید د غرب د دې جنایاتو په اړه څه دریځ ولرو او څه وکړو؟

آیا له غرب سره ودرېږو لکه څنګه چې د اسلامي نړۍ د حکومتونو غرب پلوي واکمنان او د غرب نور فکري او فرهنګي ملګري راته توصیه کوي؟

که بې تفاوته پاتې شو او د دغه ډول یرغلونو په خلاف هېڅ موقف ونه نیسو؟

آیا یرغلګر به زموږ پدې ډول دریځ نور هم زړور نه شي؟

او که پکار ده چې د فطري او اسلامي تقاضا پر اساس د یرغلګرو په خلاف ودرېږو او له خپل هر ډول دیني، ملي او اخلاقي ارزښتونوڅخه د دفاع په صف کې ودرېږو او پدې لاره کې ځان قربانۍ ته تیار کړو؟

د سلیم عقل، ازاد فطرت، اسلامي او افغاني حمیت تقاضا خو داده چې باید نه له یرغلګرو سره ودرېږو، او نه غلي پاتې شو. بلکې د خپل ایماني مسؤولیت پر بنا په مېړانه د هرډول پوځي او فکري یرغل مقابله وکړو.

خو دا چې دا مقابله څنګه وکړو؟ دا کار منظمې ستراتېژۍ او د حالاتو له تقاضاسره سمو تدبیرونو ته اړتیا لري. او که داسې ونشي نو بیا به مو ډېر څه د بې نظمیواو بې هدفیو په سیند لاهو شي.

موږ باید د غرب د کلیساځواب له مسجده او د پوځي یرغلونو ځواب له سنګره ووایو، او د خطرناکو پلانونو دمخنیوي لپاره یې ستراتېژیك تفکیر ولرو. زموږ مسجد، سنګر، اداره او ستراتېژیك تفکیر باید په هر لحاظ دومره غښتلي کړو چې د غرب دمجهزې کلیسا، سیستماتیکې جګړې او د غربیانو د هر اړخیزو ستراتېژیکو پلانونو مقابله ورباندې وکولی شو.

ترڅو چې زموږ په سنګرونو کې په اسلامي عقیده او پوځي وسایلو سمبال ځوانان ناست وي نو د غرب په آیسکریم او شرابو لوی شوي یرغلګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځيان دلته وخت نشي تېرولی. خو که په کوم ځای کې مو سنګر خالي کېږي هلته به هرو مرو دښمن سيمې نيسي او خپل پلانونه به عملي کوی.
موږ بايد د غرب د فرهنګ مقابله د اسلامي ارزښتونو په خپرولو او د اسلامي ژونددود په خپلولو وکړو، ځکه چې د غرب الحاد ځپلی فرهنګ له لنډغرتوب پرته زموږ لپاره هېڅ نه لري.
غربيان بايد خپل يرغلونه ودروي او مسلمانانو ته د درناوي پر بنسټ دې د دليل او منطق له لارې مذاکرې او مناقشې ته کښيني.
خو دا چې غرب له يوې خوا زموږ هېوادونه لاندې کړي وي، او له بلې خوا موږ ته د ازاد ژوند په حق قائل نه وي او په اسلامي هېوادونو کې هر څه د خپل مزاج او خپلې خوښې مطابق تر سره کول غواړي، ځان حاکم او موږ دمحکوم په صفت پېژني، نو پداسې حالاتو کې اصلاً مذاکره اومفاهمه هېڅ معنا او حيثيت نه لري.
په دغه ډول حالاتو کې مسلمانان مجبوره دي چې په بالمثل عمل لاس پورې کړي. ځکه چې لدې پرته بله هېڅ لاره او وسيله ورپاتې نه ده.
اروپايانو چې د اسلام او مسلمانانو په خلاف کوم له دښمنۍ او سپکاوي ډك عزايم ښکاره کړي دي د هغو د ځواب لپاره په اوسنيو شرايطو کې تر ټولو غوره او هر اړخيزه لار د هغوئ د مصالحو په خلاف هراړخيزه جګړه او له هغوئ سره مقاطعه ده.
يوازې اقتصادي مقاطعه نه، بلکې هر ډول مقاطعه. مونږ بايد د جنايتکار غرب له زينتي توليداتو، بې لارې فرهنګ، نظامونو، مؤسسو او هر هغه څه سره مقاطعه وکړو چې شديد ضرورت ورته نه لرو.
کېدای شي د دغې مقاطعې تأثير په يوې يادوو ورځو کې څرګند نشي، خو په اوږده موده کې به د غرب د اقتصاد او تمدن لپاره د هغه زخم په څېر وي چې په کراره کراره وينه تري ځي او بالآخره يې زخمي د ژوند کولو وړتيا له لاسه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن د مسلمانانو او غرب ترمنځ د ماديت او معنويت جګړه روانه ده، او تاريخ د تل لپاره ثابته کړې چې برى تل د معنويت په برخه وي، که څه هم چې باطل به په پيل کې زورور ښکاري.
لکه څنګه د روسانو مادي فکر او تمدن زمونږ د برحق معنويت په وړاندې ماتې وخوړه همدا ډول به ان شاء الله هرومرو د مکار، مغرور او متکبر غرب سرنوشت هم وي. که څه هم چې يو څو ورځې به زمونږ څو خرڅ شوي او کرايي ليکوالان، پوچ مغزي او له اسلامي ارزښتونو پردي شوي تاريک ضميره (روښانفکران!!!؟)او طوطي ډوله شاعران پر دې ملت د غرب د لوېدلو ارزښتونو او بې لارې فرهنګ د ورتپلو په بدل کې يو څو ډالر واخلي، خو سبا به دوئ هم د کمونيست سليمان لائق په څېر اعتراف کوي چې هسې يې د کاغذ پر مخ خلکو ته د کمونيزم جنتونه جوړ کړي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له قرانکریم څخه د دفاع د افغاني پاڅون حقیقت، لاسته راوړنې، دلالتونه، دریځونه او راتلونکی

د ۱۳۹۰ هـ ش کال د حوت د میاشتي له پیله په ټول افغانستان کې یو خونړی پاڅون روان وو چې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د ټولنې د بېلابېلو اقشارو زورورو مظاهرو او توندو عکس العملونو د دې پاڅون د تکامل عوامل برابرول. دغه پاڅون تر اومې ورځې یې د اتیاو په شاوخواکې خلک ووژل شول، په سلګونو نور زخمیان شول، او نا معلوم شمېر مسلمان افغانان د کابل د اداري او د هغې د استخباراتو له لوري ونیول شول او د افغانستان او اسلامي نړۍ مسلمانان یې په فکري او عاطفي لحاظ مشغول وساتل پدې ارزي چې معقوله ارزونه یې وشي، اسباب او عوامل یې وڅېړل شي، د ښکیلو لوریو دریځونه ورکې واضح شي، معنوي، رواني او ایډیالوژیک دلالتونه یې وسپړل شي، د تداوم د ضرورت او یا نه ضرورت دلائل یې روښانه شي، مشروعیت یې کره او راتلونکې ته یې د موجودو واقعیتونو په رڼاکې وکتل شي، تر څو دغه ملي پاڅون چې د افغانانو د اسلامي مبارزې یوه لویه پېښه ده په مستدلل او هر اړخیز ډول ددې ملت د سرښندنو او مبارزو په تاریخ کې توثیق او ثبت شي.

دا هر څه باید ځکه وشي چې د اسلام دښمنان او په مسلمانانو کې دهغوئ منافق (سیکولر)ملګري تل هڅه کوي چې د اسلامي امت د ولسونو جهادونه او مبارزې غلطې توجیه کړي، بې ارزښته یې وښیي، او مثبت نتائج یې چې راتلونکو نسلونو ته د کفارو او د هغوئ د ملګرو په خلاف د جهاد او سرښندنې الهام او روحیه ورکوي له منځه یوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لپاره چې موضوع پر علمي اساس او روښانه ډول څېړل شوې وې په لاندې څو برخو یې وېشو:
۱ – د پاڅون حقیقت.
۲ – د پاڅون لاسته راوړنې.
۳ – د پاڅون په اړه دریځونه.
۴ – د پاڅون دیني، اجتماعي، فکري او رواني دلالتونه.
۵ – د پاڅون د تداوم ضرورت او د هغه د مشروعیت دلائل.
۶ – د پاڅون د راتلونکي تګلاره او متوقع تأثیرات.
د دې لپاره چې د هرې برخې محتویات مو ښه روښانه کړي وي تر هر ځانګړي عنوان لاندې موضوع پر نورو فرعي عنوانو په لاندې ډول ویشو.

د پاڅون حقیقت او عوامل:

لاندې دري ګوني عناصر د پاڅون حقیقت تشکیلوي :
۱ – د پاڅون عوامل.
۲ – د پاڅون شعارونه ، مطالبې او څومره والی.
۳ – د پاڅون ګډونوال.
دا پاڅون هم د بل هر پاڅون په څېر خپل حقیقي عوامل در لودل، که څه هم چې اشغالګرو غربیانو او د هغوئ سیکولرو ملګرو او تنخوا خورو هڅه وکړه چې خلک د پاڅون له اصلي عواملو اغفال کړي، او د پاڅون لپاره څو نور غېر واقعي، نامعقول او له خپله ځانه جوړ کړل شوي عوامل وتراشي، تر څو وکولی شي چې د محکومو خلکو پام له حقائقو بل لوري ته واړوي.
د دې پاڅون اصلي عوامل په لاندې ډول ګڼلی شو:
اول عامل : افغان ولس یو مسلمان ولس دی چې د اسلامي تاریخ په اوږدو کې یې تل له خپل دین او خپلې آزادۍ دفاع کړې ده. د چنګیزیانو، انګریزانو او روسانوپه خلاف جهادونه او مبارزې یې د دفاع هغه تاریخي شواهد دي چې نه غرب پلوې (سیکولر) عناصر ورڅخه انکار کوي، نه (پردي پال نشنلستان) چې تل د مسلمانو پر ضد د دښمن په صف کې ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي ورڅخه سترګې پټولی شي، او نه يې هم تپل شوي نظامونه د ولس له تاريخ او ټولنيزي حافظې وېستلي شي.
د افغاني ټولني د همدغه اسلامي او غيور خصوصيت د تداوم په سلسله کې بيا افغانان په هغو کفارو پسې راپورته شوي ول چې ددوئ هېواد يې اشغال کړی، د دوئ د دين سپکاوی يې کړی او د ولس بچيان يې ورته وژلي، تړلي، شړلي او ذليل کړي دي.
دويم عامل: امريکايان او غربيان په تمامه معني د افغانانو لپاره داسې پردي دي چې هېڅ ډول پيوند ورسره نه لري. نه ورسره د دين او د مذهب پيوند لري، نه يې ژبه ورسره يوه ده، نه د قوم او وينې اشترک ورسره لري، نه پخواني مشترک تاريخ ورسره لري، نه يې ګاونډيان دي، او نه هم ورسره په يوه (براعظم) کې اوسېږي. همدارنګه افغانان له امريکايانو سره نه ګډ فرهنګ لري، او نه هم ورسره متبادل اقتصادي او تجارتي روابط.
له همدغه ټول پرديتوب سره سره امريکايان او اروپايان دلته په زور راغلي، په زور يې د افغانانو هېواد نيولی او په زور په افغانانو خپل فرهنګ، اخلاق او د ژوند تېرولو اصول ورتحميلوي. يرغلګر غربيان دلته په زور د خلکو کورونو ته ورننوځي، په زور يې تورسرې بې عزته کوي او نارينه يې لاس او سترګې تړلي له ځان سره بيايې.
راغلي يرغلګر دلته په زور او تزوير زموږ له ټول ولس نه د دې اعتراف هم اخلي چې موږ بايد ووايو چې امريکايان او غربيان زموږ (دوستان) دي.
کوم ډول تعامل او ژوند چې اشغالګر غربيان له محکومو مسلمانانو غواړي حيوانات يې هم نشي زغملی.
دآزاد اوسېدلو او له ځانه د دفاع کولو حق يو فطري احساس دی چې د ځنګلي په حيواناتو، د هوا په مرغانو، دصحرا په ژوو او حشراتو کې هم وجود لري. اسان خو لا څه چې حيوانات هم (پردي) په خپله ډله او کور کې نه پرېږدي. او که په زور ورشي نو ټول ورپسې راپورته کېږي او ځان ترې خلاصوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ظالم نه د ځان خلاصولو هڅه او کوښښ يوه فطري غريزه او استعداد دی چې الله تعالی په ټولو ژونديو کې ايښی دی. افغانان هم د همدغې فطري تقاضا او دخپل دي د غوښتنو له امله غلي نه کښيني او د خپلې آزادۍ او له دين او ناموس څخه د دفاع لپاره د ير غلګرو په مقابل کې راپورته شول.

دريم عامل : افغانانو په تېرو څلورو لسيزو کې داسلامي نظام د جوړولوا د همدغه قرآن کريم دحاکمولو لپاره چې اوس يې امريکايان کله دلته او کله په امريکا کې سوځوي تر دوو ميليونو زيات شهيدان ورکړي. په ميليونونو يې مهاجرتونو ته اړ شوي. په ميليونو نور زخمي او معيوب شوي دي، هېواد يې کنډواله شوی، او بې شمېره سختۍ او ناخوالې يې ګاللي دي.

افغانانو دا هر څه د دې لپاره نه دي کړي چې رهبران، پيران، قاضيان او د جهاد قوماندانان دې يې د جهاد او اولس بيت المال خپل ملکيتونه وګڼي، د اسلام او قرآن لار دې پرېږدي، او له کمونستانو، نشنلستانو، دموکراتانو، ګمراه ډلو، مرتدانو او له غرب نه په را صادرو شويو بې دينه ليبرالانو سره د ديموکراسۍ په (وندر) ودرېږي. بلکې دا هر څه د دې لپاره کړي چې قرآن کريم دې د دوئ په ژوند او نظام کې حاکم شي.

افغان ولس وينې چې نه يوازې دا چې قرآن کريم حاکم ندی، بلکې په کورونو، جوماتونو، د نصاب په کتابونو او د زندانونو په تيارو کې د مسلمانو زندانيانو په لاسونو کې هم محفوظ ندی. افغانان وينې چې کله قرآن کريم کله د امريکايانو له لوري په ټوپکو ويشتل کېږي، کله ـ نعوذبالله ـ په ګنده ګيو کې غورځول کېږي، کله سوځول کېږي، کله له پاسه وربانده د (صليب) رسم جوړېږی، کله يې د سوځولو لپاره په امريکا کې څو مياشتي کمپاين کېږي او بيا د کليسا د مشر په لاس د مېډيا په مخکې سوځول کېږي او سپينه ماڼۍ د هغه له مخنيوي څخه هلته خپل قانوني عجز ښکاره کوي، خو دلته بيا زموږ د ټول هېواد او ولس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشغالولو لپاره د ملګرو ملتونو او د امنیت له شورى څخه قانوني جواز له ځانه سره راوړي او بیا د خپل اشغال د قانوني کولو لپاره کله له تش په نامه ولسي جرګو، کله له مشورتي جرګو او کله هم د اوږدمهالي پوځي شتون په نامه له هغه حکومته چې دوئ خپله جوړ کړی اسناد او ضمانتونه اخلي.

دغه ډول وضعیت ښایي (سیاف) (کشاف) (مجددي) (ګیلاني) د اشغال اداري ته د ورتسلیم شویو (خدام الفرقانیانو) او نورو هغو غټو او وړو (پنډتانو) ته د زغملو وي چې دین یې په دنیا خرڅ کړی، خو افغان ولس ته هېڅکله د منلو نه دی. نو ځکه خو ملت د دغه ډول پاڅون لپاره همت کوي او د قربانۍ ډګر ته راوځي.

څلورم عامل: په تېرو لسو کلونو کې هېڅ‌چا د یرغلګرو د جنایاتو مخه ونه نیولی شوه. نه حکومت، نه پارلمان، نه هغه چا چې ځانته ولسمشر وایي، نه هغو خلکو چې له کفارو ته له ورتسلیمېدلو وروسته هم ځانته (مجاهدین) وایې، نه د ملګرو ملتونو اداري، نه هغو چې ځانته د بشري حقوقو ټولنې وایي، او نه بلې کومې مرجع او جهت. او دا ځکه چې موجوده اداره همدې یرغلګرو جوړه کړې ده، او د همدوئ لپاره کار کوي. پالمان همدې اشغالګرو رامنځته کړی، او د همدوئ په ګټه فیصلې کوي او قوانین تصویبوي. کرزی دوئ ته غلامي کوي خو ولس ته یوازې د مکر اوښکې تویوي او مداریتوب کوي.

د دوئ په اصطلاح پخواني مجاهدین چې اوس له یرغلګرو سره ملګري دي لګیا دي ځانته په دنیا کې جنتونه جوړوي. د ملګرو ملتو ټول غړي هېوادونه د اسلام د حاکمیت د مخنیوي لپاره سره ملګري شوي دي. د بشري حقوقو سازمانونه او ټولنې د (بشر) له حقوقو څخه نه بلکې د (شر) له حقوقو څخه دفاع کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو چې وضعيت دغه ډول وي،او د شکايت د اورېدلو هېڅ مرجع نه وي، ملت مجبوره دی چې خپلې سينې سپر کړي، د قربانۍ ډګر ته راووځي، هم د يرغلګرو او هم د هغوئ د ملګرو په خلاف پاڅون وکړي.

پنځم عامل: لس کاله وشول چې د هېواد رښتينيو مجاهدينو د صليبي اشغالګرو په خلاف جهاد روان کړی چې دغه مجاهدين د نړيوال صليبي ائتلاف په وړاندې نه تسليم شول، نه ستومانه شول، نه کمزروي شول، نه يې له دښمن سره په نظام او حکومت کې شراکت ومانه، نه سره و ويشل شول لکه څنګه يې چې دښمن توقع کوله. نه يې له مسلمان امت څخه پرته کوم کفري دولت او بلاک ملاتړ وکړ، نه له خپلو اهدافو او تګلارې منحرف شول، نه په قومي، سمتي، ژبنيو، سياسي او نورو ناروا شخړو کې ښکيل شول، او نه هم واک ته د رسيدو لپاره له چا سره ايتلاف ته حاضر شول. بلکې په پوره صبر، مېړانه او درايت يې د دښمن په خلاف اسلامي جهاد رهبري کړ، او خپل اسلامي مصداقيت يې د ولس ټولو پرګنو ته په عمل کې وروښود. نو هماغه ؤ چې ولس غېږ ورته خلاصه کړه ، د جهاد غږ يې ورسره غبرک کړ، او د اشغالګرو په خلاف يې د عمومي پاڅون او له هغوئ څخه د قرآن او مسلمانانو د انتقام د اخيستلو اقدام وکړ.

دا سمه ده چې دغه پاڅون د مجاهدينو له لوري نه تنظيم شوی او نه هم رهبري شوی وو، خو په شعوري ډول په هماغه لاره روان شوی چې مجاهدين پرې روان دي. او هماغه اهداف تعقيبوي چې مجاهدين يې د تحقق لپاره راپورته شوي دي چې هغه د هېواد او هېوادوالو آزادي، د يرغلګرو شړل او د قرآن کريم حاکمول دي.

پاتې شوه دا خبره چې د دې لوی سرتاسري او د قربانيو د دې مبارک پاڅون تر شا دې د ايران شيعه دولت چې په خپل څنګ کې هېڅکله ديو قوي (سُنّي) نظام د ليدلو حوصله نه لري ولاړ وي، او يا دې د پاکستان سيکولر نظام چې د قرآن د حاکميت د غوښتلو په سزا کې يې د خپل ولس د يرش لکه خلک بې کوره او در په در کړل د افغانانو لپاره د قرآن نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغواړي، او د هغوئ د قرآني پاڅون تر شا دې ودرېږي هېڅ معقولیت نه لري. بلکې دا په افغانستان کې د امریکا د ملګرو تشې ډنډورې وې چې د پاڅون له اصلي عواملو د خلک پام بل لوري ته اړول غواړي.

د پاڅون شعارونه، مطالبې او څومره والی:

د پاڅونونو او مظاهرو ماهیت د هغو له شعارونو، مطالبو او د هغو له پرخوالي معلومېږي. له قرآن کریم څخه د دفاع پدې پاڅون کې د خلکو شعار دا نه وو چې یوازې هغه یو یا څو تنه امریکایان دې محاکمه شي چې قرآن کریم یې سوځولی دی، بلکې شعارونه یې په لاندې ډول وو :

مرګ پر امریکا

مرګ د امریکا پر غلامانو

امریکایان دې زموږ خاوره پرېږدي

موږ په اسلام او قرآن سر ورکوو

ژوندی دی وي اسلام

موږ خپل هر څه له قرآنه قربانوو

موږ د امریکا غلامان نه منو

د افغانستان اوسني اداره غلامه ده

افغانان به دوینو په بیه له قرآنه دفاع کوي

او دېته ورته نور شعارونه چې عمده مطالبې ورکې له اسلام او قرآن څخه دفاع کول، امریکایان له خپلې خاورې شړل ، د کابل د بې واکې ادارې له شر او شرم څخه د ولس خلاصول، د قرآن کریم حاکمول او تر هرڅه یې محترم ګڼل، دیرغلګرو په مراکز هجوم وروړل او دهغوئ شتون نه زغمل وو.

د اندازې په لحاظ مظاهرې دومره پراخې وې چې له شیعه میشتو سیمو پرته نور په ټول افغانستنان کې ترسره شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاڅون ګډونوال:

دا چې د دې پاڅون اسباب او عوامل داسې څه ول چې په ټول مسلمان ملت پوري يې اړه درلوده نو ځکه خو يې ګډونوال هم د ټولنې د ټولو اقشارو خلک ول.

د دې ترڅنګ چې پاڅون په ټول هېواد کې عام وو د ټولنې ټولو طبقاتو لکه کليوالو، ښاريانو، باسوادو، بې سوادو، د پوهنتونونو محصلينو، د مکاتبو شاګردانو، په اردو او وزارتونو کې باغيرته مسلمانو مسنوبينو او حتی ډېرو هغو خلکو چې يو وخت يې د طالبانو مخالفت کاوه او دا ځکه چې هغوئ به کيدای شي په سياسي لحاظ طالبان نه منل، خو د اسلام نه منل يې هېڅکله نه وو ويلي او نه يې په حق کې دغه خبره وارده ده. بلکې هغوئ د همدې مسلمان ولس يوه برخه ول چې يو وخت هغو د رواغجنو او مفسدو مشرانو تېرايستلي ول کوم چې اوس په خپله د امريکا په غلامۍ کې اخته او د دښمن په صف کې ولاړ دي.

د دې قرآنې پاڅون مظاهره کوونکي هغه ډول کرايې نعرې سورې وهونکي نه ول چې يا دې کوم نشنلست (والي) او يا هم کوم ناکام شوي (وکيل) د يو څو ساعتونو لپاره کوم سرک ته په کرايه شويو موټرو کې راوېستلي ول، چې د وخت په پوره کېدلو به بيا داسې غائب شول لکه د کوم ساختماني شرکت مزدوران چې له خپل ټاکلي وخت يوه لحظه هم چاته زياته نه تېروي.

د دې پاڅون ګډون کوونکي د قربانۍ په عزم راوتلي مسلمانان ول چې په تشو لاسونو خو له ايمان څخه په ډکو زړونو د يرغلګرو پر پوځي ېسونو، د هغوئ پر استخباراتي مراکزو او د هغوئ د غلامانو پر قرار ګاوو وروختل،او د ښمنانو ته يې د خپل ايمان زور وروښود. دوئ شهيدان او زخميان شول، خو په هېڅ ځاي کې پر شا نه شول، چې دا هر څه په ژوندي ډول برقي مېډيا ثبت کړي دي.نو په همدې اساس دا خبره کره او ثابته ده چې د دې پاڅون ګډون کوونکي په هېڅ ډول نه د چا لخوا لمسول شوي ول، او نه يې له بل ځايه پيغام تر لاسه کاوه، ځکه چې د بل چا د ګټو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعارونو لپاره خلک وژل کېدلو، زخميکېدلو، بندي کېدلو او په تش لاس د دښمن پرمراکزو ورخلتو ته نه حاضرېږي، بلکې دا هغه ډول قربانۍ دي چې يوازې د دين لپاره د قربانۍ ورکولو په روحيه تر سره کېږي.

د پاځون لاسته راوړنې:

له قرآن کريم څخه د دفاع دغه افغاني پاځون لاندې درې لاسته راوړنې لرلې چې په لاندي ډول دي :

١ – معنوي لاسته راوړنې

٢ – سياسي لاسته راوړنې

٣ – پوځې لاسته راوړنې

اول ـ معنوي لاسته راوړنې:

١ـ دې پاځون ټولې دنيا ته يوځل بيا وروښوده چې افغانان د نړۍ تر ټولو مسلمانو ولسونو پر خپلو ديني ارزښتونو او مقدساتو ټينګ ولاړ خلک دي، او په هر ډول حالاتو او شرايطو کې له هغو څخه دفاع کوي او د دفاع په لار کې هر ډول قربانۍ ته حاضر دي. دغه پاځون يو ځل بيا زموږ د ولس د دين دوستۍ او معنوي پوخوالي ګواهي ورکړه.

٢ـ پدې پراخ پاځون کې د ولس لويانو او ځوانانو خپل راتلونکې نوي نسل ته د ايمان او له هغه څخه د دفاع په لاره کې د قربانۍ تلقين ورکړ، او دا يې ور وښوده چې افغانان کېدای شي چې په سياسي لحاظ کله يو له بله سره اختلاف ولري، خو له دين او معنوياتو څخه د دفاع په لاره کې ټول يو موټی او متحد دي.

٣ـ دې پاځون ټول ولس ته هغه منافقان ور معرفي کړل چې د دې پر ځاي چې د قرآن په دفاع کې له خپل راپورته شوي ملت سره خپل غږ ملګری کړي او د يرغلګرو په خلاف د کرکې او نفرت نعره پورته کړي، هغوئ په ډېرې بې شرمۍ دغه مظاهرې د پرديو په لمسون وبللې، د کفارو دغه سترجنايت او قصدي اقدام يې غير قصدي او يوازې ديو څو جاهلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکرو کاروباله، او د امریکایانو په غوښتنه یې د ولس د غضب د سړلو هڅې وکړې، چې پدې کار کې تر ټولو لوی رول (سیاف) او دکابل په اداره کې نورو بې ضمیره مشرانو ولوباوه.

د دغو مظاهرو مشروعیت په یقیني ډول تر هغو خونړیو بې هدفه جګړو ډېر وو چې یو وخت (سیاف) او ملګرو یې د کابل ښار وربانديې وران کړ، او تقریباً تر شپېتو زرو انسانان یې ورکې ووژل. خو نن دا دی بیا له خپلو هماغو مخالفینو سره یو ځای د ډیموکراسۍ په صف کې ولاړ دی چې ده یې پرون سر او مال روا باله.

۴ـ امریکایانو او غربیانو ته ور معلومه شوه چې افغانانو ته قرآن کریم او د دوئ معنوي ارزښتونه تر هرڅه محترم دي.

۵ـ دې پاڅون د ټول ولس په زړونو کې له امریکایانو، د هغوئ له پوځونو، استخباراتو، جاسوسانواو د هغوئ له ګوډاګیو څخه وېره له منځه یوړه. اوس ټول خلک پدې پوه شول چې په هر ځای او هر وخت کې د خپلو دیني ارزښتونو د دفاع لپاره په خپله اقدام کولی شي، او هېڅ ضرور نده چې خپل شکایت دې د امریکایانو په لاس جوړې غلامې ادارې ته یوسي. بلکې نور باید ولس د اقدام ابتکار او واګې په خپل لاس کې ونیسي.

۶ـ همدې یوه پاڅون د عامو افغانانو، ښاري خلکو او د غربیانو تر تأثیر لاندې د ورغلیو خلکو ایمانونه دومره تازه کړل چې ښایې کلونو دعوت او موعظو به دومره نه وو تازه کړي. او همدارنګه دې پاڅون د امریکایانو او د هغوئ د فرهنګي ترجمان (مخدوم رهین) د افغانانو په زړونو کې د ایمان وژنې هغه ټولې هڅې په اوبو لاهو کړې چې تېر لس کاله یې د لسګونو ملیاردو ډالرو په مصرف د لسګونو تلویزوني، راډیویي او کلتوري فعالیتونو په مټ تر سره کړې وې، او د قرآن کریم پر ځای یې خلک په هندي سریالونو، امریکایي فلمونو، د F.M راډیوګانو په پوچو او سپکو ډیالوګونو، سندرو او موسیقۍ مشغول کړي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ـ دې پاڅون ډېر خلک دېته وهڅول چې هغه قرآن خپلو اولادونو ته ورزده کړي چې دوئ دفاع ترې کوي، او پدې ډول د نوي نسل يو ځل بيا د قرآن کريم، مسجد، ملا او مجاهد په لوري مخه شوه.

دويم ـ سياسي لاسته لاوړنې:

۱ـ د افغانانو دې قوي دريځ د تل لپاره د امريکا هغه خوب په اوبو لاهو کړ چې دلته به اوږد مهالی حضور لري، او د (استراتيژيک تړون) تر پردې لاندې به افغانستان د تل لپاره خپله يوه قانوني مستعمره ګرځوي.

پاڅون امريکايان او نور غربيان په جدي ډول پدې وپوهول چې عام افغانان هېڅکله دلته غربيان نه زغمي. او د غربيانو هم پردې سر خلاص شو چې نه يې دلته اوږد مهال حضور ممکن دی، نه په اردو کې له افغاني عسکرو سره يو ځای ګوزاره کولی شي، او نه يې تړونونه هغه بڼه خپلولی شي چې په (جاپان)،(جرمني)، ځيني عربي هېوادونو او ځيني نورو آسيايي او اروپايي هېوادونو کې يې خپله کړې ده. او دا ځکه چې هلته فيصلې سياسي، اقتصادي او کلتوري ارزښتونو ته په پام سره کېږي او (دين) ورکې هېڅ نقش نه لري. خو په افغانستان کې (دين) د ټولو سياسي، اقتصادي، اجتماعي، بين المللي او نورو فيصلو لپاره محک او معيار دی، او هره هغه فيصله او تصميم چې د دين پر بنسټ نه وي ولاړ هغه په هېڅ ډول تر انجامه نه رسېږي، چې د (امان الله خان) د سيکولريزم نخرې، د ظاهرشاه د ډيموکراسۍ او غرب پالنې پروګرامونه، د کمونستانو د (ثور نه پرشاتلونکی انقلاب !!!؟)، د تنظيمي ښکرورو ملوک الطوائفۍ، د امريکايانو اشغال او دلته د ديموکراسۍ مرګ يې ښه روښانه مثالونه دي.

دا هر څه ځکه په افغانستان کې زرغون نه شول چې نه يې تخم د افغانستان وو، او نه يې د افغانستان له آب او هوا سره توافق درلود.

۲ـ دې پاڅون د يرغلګرو قواوو لوی مشر جنرال (جان الن) له افغانانو څخه معذرت غوښتلو ته اړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ دې پاڅون د دنیا د ترټولو زورور پوځي او سیاسي طاقت د دفاع وزارت (پېنټاګان) له افغانانو څخه د ښښنې غوښتلو ته اړ کړ.
۴ـ دې پاڅون (سپینه ماڼۍ) او د (سپرپاور) مشر (اوباما) له مظلومو مؤمنو افغانانو څخه د ښښنې غوښتنې ته اړ کړ.
۵ـ دې پاڅون امریکا له ټولو مسلمانانو څخه د ښښنې غوښتلو ته اړ کړه.
۶ـ دې پاڅون دکابل د ادارې د دفاع او داخله وزیرانو امریکا ته سفر لغو کړ.
۷ـ دې پاڅون د افغانستان په اړه د امریکا او ټول غرب په پالیسۍ او ستراتیژۍ کې داسې ژور بدلون راوست چې نور د هر سیاسي او نظامي تصمیم په نیولو کې د دې پاڅون او راتلونکو پاڅونو تأثیرات په حساب کې نیسي او هېڅکله به پدې سیمه کې د(بوش) د اقدام په څېر متهورانه اقدام ته زړه ښه نه کړي.
۸ـ د دې پاڅون په نتیجه کې امریکا خپل ملکي او سیاسي مشاورین له ټولو افغاني ادارو وویستل.
۹ـ د دې پاڅون په نتیجه کې فرانسې خپل ټول سیاسي او ملکي مشاورین له افغاني ادارو وویستل.
۱۰ـ دې پاڅون جرمني هم د خپلو مشاورینو وېستلو ته اړ کړ.
۱۱ـ د برطانیې هېواد هم اړ شو چې له ډاره خپل مامورین او مشاورین له افغاني ادارو وباسي.
۱۲ـ دې پاڅون د ملل متحد اداره هم دې ته اړه کړه چې له کندز څخه کابل ته وتښتي.
دا او نوري هغه سترې سیاسي لاسته راوړنې دي چې له قرآن کریم څخه د دفاع پاڅون کوونکو او مظاهرینو په یوې هفتې کې لاسته راوړې، پداسې حال کې چې په تېرو لسو کلونو کې د مسلح جدوجهد په ترځ کې دومره نه وې حاصلې شوې. دا پدې معنی دې چې د یرغلګرو په خلاف د ولس پراخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅونونه هغوئ تر فشار لاندې راولي او د خپلو سياستونو او تصاميمو بدلولو ته يې اړباسي.

دريم ـ پوځي لاسته راوړنې:

له قرآن څخه د دفاع پاڅون د معنوي او سياسي لاسته راوړنو ترڅنګ لويې پوځي لاسته راونې هم درلودې چې په لاندې ډول يې يادوو.

۱ـ مظاهرينو او په اردو کې ځينې افغاني عسکرو د يرغلګرو پوځي مراکز تر بريد لاندې ونيول. په ننګرهار، کندز، فارياب او نورو ولاياتو کې بهرني پوځيان ووژل شول، او دا ورته ثابته شوه چې د امريکايانو او افغانانو تر منځ پوځي تعاون او په راتلونکي کې ملګرتيا په قطعي ډول ناممکنه ده. نن که څو تنه افغاني عسکر د دوئ تر څنګ ولاړ دي هغوئ د ناپوهۍ، غريبۍ او بې کارۍ له امله د دوئ د يو څو پيسو وږي دي، نه دا چې کفر دې يې له شوقه منلی وي او يا دې هم په شعوري ډول له امريکايي او اروپايي کفارو څخه ملاتړ کوي.

تر دې وروسته به هره ورځ افغاني عسکر پر يرغلګرو بريدونه کوي، اسلحې به ترې وړي، او له مجاهدينو سره به يوځاي کېږي. ځکه چې هغوئ ته ورمعلوه ده چې امريکايان او اروپايان نور افغاني قواوي نه تمويلوي، او نه يې تمويلولی شي. نو ښه به دا وي چې د خپل ملت د سبا ورځې له محاسبې څخه د خلاصون لپاره همدا نن په عزتمن ډول د امريکايانو له ملګرتيا پداسې ډول ووځي چې هم د امريکايانو د وژلو له امله اتلان شي، او هم سبا په هسکه غاړه په خپل کور او کلي کې واوسېدلی شي.

۲ـ د دې پاڅون يوه ګټه‌ون کوونکي (قاري عبدالصبور سالنګي) په داخله وزارت کې د امريکايي پوځي مشاورينو په وژلو امريکا او ټول غرب ته داسې پوځي ګوزار ورکړ چې د اوباما ټوله پوځي استراتيژي يې ورګډه وډه کړه. امريکا او ناټو مجبوره شوه چې د دغه خطرناک ګوزار په نتيجه کې له ټولو افغاني ادارو او وزراتونو خپل او د (ناټو) ټول پوځي مشاورين

(c) ketabton.com: The Digital Library

وباسي، چې پدې ډول نور د امریکایانو او افغاني ادارو ترمنځ عملي همغږي ناممکنه شوه، او د امریکا لپاره خطرناک عواقب به یې لا وروسته نور هم را څرګند یږي.

۳ـ د پاڅون په جریان کې جرمني قواوې له تخاره د پاڅون له ویرې له خپل لوی مرکز څخه د کندزولایت ته وتښتېدې، چې بېرته تخار ته هېڅ د ورستنې نه شوې.

۴ـ نور په عملي لحاظ دا امکان له منځه ولاړ چې امریکایان او نور غربیان دې له افغاني عسکرو سره یوځای په عسکري روزنځایونو کې بېغمه و اوسېږي، او هغوئ دې د خپل دین او ولس په خلاف د جګړې لپاره وروزي.

۵ـ یوه بله لویه لاسته راوړنه دا وه چې له پاڅون سمدستي وروسته برتانیې د خپلو پوځي وسائلو د وېستلو لپاره د منځې آسیا له هېوادونو سره تړونونه لاسلیک کړل ترڅو د څلور ملیاردو ډالرو په قیمت خپل جنګي وسائل مخکې تر هغې له افغانستان څخه وباسې چې د افغانانو په لاس یا وسوځول شي او یا هم غنمیت شي.

۶ـ ددې پاڅون له پوځي لاسته راوړنو څخه یوه ستره لاسته راوړنه دا وه چې نور به د هېواد د ټولو سیمو او ښارونو خلک خپله غېږه هغو مجاهدینو ته لا نوره هم خلاصوي چې له قرآن کریم څخه د دفاع او د هغه د حاکمیت لپاره جنګېږي. او دا ځکه چې نور د مجاهدینو او ولسي خلکو سیاسي او فکري شعارونه په خپله سره یوشول، او نور ولسي خلک د هېڅ داخلي او بهرني جهت په منفي تبلیغاتو نه تېر ووځي. بلکې هر هغه چاته به د دښمن په سترګه ګوري چې د امریکایانو په صف کې وي، او یا د هغوئ د مصالحو لپاره کار کوي. دې پاڅون د جهاد ساحه نوره هم ډېره پراخه کړه او د خلکو او مجاهدینو د تعاون اندازه ډېره زیاته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاڅون دلالتونه :

له قرآن کريم څخه د دفاع پاڅون د خپلو معنوي، سياسي او پوځي لاسته راوړنو ترڅنګ خپل نور پراخ او ژور دلالتونه هم لرل چې په لاندي ډول يې خلاصه کولی شو:

لومړی دلالت : پدې سرتاسري پاڅون کې د افغانستان د لکونو خلکو ګډون پدې دلالت وکړ چې غرب ونه کولی شول د تېرې څه باندې يوه لسيزه کې د سلګونو ملياردو ډالرو په مصرفولو د يوه غرب پلوي او غلام حکومت په رامنځته کولو او د زرګونو تعليمي، فکري او فرهنګي مؤسسو په رامنځته کولو، او په لوبو او فيشن د ځوان نسل د مصروف ساتلو او نورو وسيلو په کار اچولو د افغانانو په زړونو کې د ايمان ډيوه مړه کړي، د حريت احساس ترې واخلي، او د قربانۍ له ډګره يې لرې وساتي.

دې پاڅون ثابته کړه چې د امريکا او غرب فکري او فرهنګي پانګوونې دلته ورته مطلوبه فائده نده کړې. نن بيا هم د افغانانو هغه نسل چې د اشغال په کلونو کې رالوی شوی او د غرب پلوو سيکولرو چارواکو او مفکرينو تر څارنې لاندې او د هغوئ د سندرو او لوبډلو ادبياتو په چاپېريال کې ځوانۍ ته رسيدلی خو بيا يې هم د ايمان او قرآن کريم لمن نده پرې ايښې، او د دې پر ځای چې د غرب په شرابو او سندرو کې ورک شي دا دي په هسکه غړۍ او په واز کومي په ټولو ښارونو او ولسوالېو کې نعرې پورته کړې چې:

مرګ پر امريکا.

ژوندي دې وي اسلام.

موږ په خپل هېواد کې يرغلګر نه غواړو.

زموږ هر څه دې تر قرآن ځار شي.

دوهم دلالت :د دې پاڅون پيل د بګرام له ولسوالۍ وشو چې په ټول افغانستان کې د امريکا تر ټولو قوي پوځي او سياسي مرکز ورکي وجود

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري . يرغلګرو په پيل کې د کابل شمال، بګرام، کاپيسا، پنجشير او پروان هغه سيمې بللې چې ځيني اوسېدونکي يې له طالبانو سره د سياسي اختلاف له امله په جګړه کې ول.
امريکايانو دغه اختلاف ته نور هم پکی وواهه او په يادو سيمو کې يې د دې سيمو پر اوسيدونکو خپلې شيدې پدې نيت ورپريښودې چې دغه سيمې د امريکايانو د دايمي شتون د تمرکز سيمي شي. او بايد هڅه وکړي چې خلک يې خوشحاله وساتل شي. هماغه وو چې هم يې هلته د بيا ودانولو کارونو ته زور ورکړ، او هم يې خپل فرهنګي او استخباراتي فعاليتونه ورکې ډېر کړل.
خو دې پاڅون په ډاګه کړه چې نه د کابل د ښار خلک د يرغلګرو ملګري دي، او نه هم دکابل د شمال، بګرام، پنجشير، کاپيسا او پروان خلک هغه خلک چې د نظار د شورى ډلګۍ د امريکايانو ملګري معرفي کړي ول.
هغوئ په دې پاڅون کې تر نورو ټولو خلکو مخکې د امريکا د جنايت او د هغې د اشغال په خلاف خپل غږ پورته کړ.
دغه وضعيت ښه په ښکاره پدې دلالت کوي چې د دې سيمو خلک پرون هم مجاهدين ول، نن هم مجاهدين دي، او سبا به هم له قرآن کريم او اسلام څخه ځان قربانوي. دې خلکو ته دا هم ور معلومه شوه چې د شمال د ائتلاف خرڅ شوي مشران اصلاً نه د دوئ مشران دي او نه هم د اسلام او افغانستان څه غم ورسره دی. بلکې د دې مشرانو تر ټولو لويه هڅه دا ده چې څنګه امريکا ته د غلامۍ په بدل کې سرمايه ټوله کړي او بيا يې اماراتو، ترکيې، روسيې او نورو اروپايي هېوادونو ته انتقال کړي.
دريم دلايت: د دې پاڅون تر ټولو لويې مظاهرې په لويو ښارونو لکه کابل، هرات، ننګرهار، کندز، خوست، لغمان او نورو ښارونوکې وشوې. دغه ټول ښارونه دددې ترڅنګ چې د يرغلګرو تر مستقيم اشغال او څارنې لاندې دي، په هغو کې يې افغاني بې ضميره نشنلستان، غرب پلوي مفکرين، بې بندوباره شاعران، سيکولرادیبان او کرايې ژورنالستان هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتي ادارو او نورو فکري مراکزو کې ځای پر ځای کړي دي ترڅو ولس ته د امریکا د اشغال مشروعیت ورتلقین کړي، او د ولس ځوانان له جهاد او مبارزې څخه د ساعت تېرۍ په محفلونو، ګډاګانو، تیاترونو، اجتماعي او مدني ټولنو، کرکټ او د F.M راډیوګانو په مبتذلو پروګرامونو مشغول وساتي، او پدې ډول ښارونه د اشغالګرو لپاره د فعالیت یوه مصؤونه سیمه وګرځوي. خو وروستي پاڅون وښودله چې د ښارونو د ځوانانو په زړونو کې هم د ایمان جذبه هماغسې ځپانده ده لکه څنګه چې د غرونو په ځوانانو کې ده. او پر دې یې هم روښانه دلالت وکړ چې د هغو ځوانانو شعارونه چې د ښارونو په لېسو او پوهنتونو کې دي کټ مټ هماغه شعارونه دي چې مجاهدین یې د جهاد په ډګرونو کې د تکبیرونو له زمزمو او دراکټونو له کړنګهار سره یوځای پورته کوي. او دا خبره درواغ وخلته چې د غربیانو په خلاف یوازې هغه ځوانان جنګېږي چې د زده کړې له بهیره لیرې پاتې شوي دي.

پنځم دلالت: پاڅون د هېواد په شمال کې هم په هماغه اندازه زورور او ځپاند وو څومره چې د هېواد په مرکز، شرق، جنوب او غرب کې وو. دا پداسې حال کې وو چې په نږدې ماضي کې د (دوستم) په څېر ملیشه او کمونستو جنګ سالارانو د شمال د ازبک میشتو سیمو درانه خلک او ځوانان د اسلام او افغانستان په تاریخ کې تر ټولو د بدوخلکو، سرېخورو، تالاګرو او بې فرهنګه (ګلم جم ملیشو) په حیث وړاندې کړي اومعرفي کړي ول.

خو اوس نه یوازې دا چې هغوئ ملیشه او (ګلم جم) ندي، بلکې د قرآن کریم د ساتنې او حاکمیت لپاره تر ټولو لویې مظاهرې هم د همدوئ په سیمو کې ترسره شوې، او خلکو ئی په لوړ غږ نعرې پورته کړې چې (افغانستان را قبرستان امریکاییها میسازیم).

له اسلام او قرآن کریم سره د شمال د خلکو قوي پیوند دهغو خلکو غورې او هڅې هم پوچې ثابتې کړې چې غوښتل یې د فدرالي سیستم او یا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره تجزيې تر شعار لاندې په شمال کې يو داسې سيکولر (پر دين نه ولاړ) حکومت جوړ کړي چې د غرب تر حمايې لاندې افغاني بې لارې ډلې ټپلې، پردي پالي نشنلستان او له دين څخه د تښتېدونکو ليبرالانو ژوند ورکې خوندي وي.

په شمال کې د پاڅون قوت پردې دلالت کاوه چې د شمال خلک هم ښه پاخه مسلمانان دي او هېڅکله د يرغلګرو پر شتون خوښ ندي. او هم دا چې د تجزيې او په شمال کې د سيکولر حکومت د جوړولو خبرې هسې بې حقيقته دعوى ده او ولس يې تر شا ندی ولاړ.

د پاڅون په اړه دريځونه:

د پاڅون په اړه دافغانستان په داخل او خارج کې د بېلابېلو جهتونو بېلابېل دريځونه رامخته شول چې څو مهم يې په لاندې ډول خلاصه ول:

د امريکايانو دريځ:

امريکايان چې د قرآن کريم د سپکاوي او سوځولو اصلي مجرمين ول د دوئ د جنايت په عکس العمل کې له راپورته شوو مظاهرو او پاڅون دومره په وېره کې شول چې په افغانستان کې د هغوئ د پوځ مشر (جان الن) د امريکا د دفاع وزارت، سپينې ماڼۍاو په خپله د امريکا جمهور رئيس (اوباما) دغه جنايت غير قصدي وباله، او له افغانانو يې يوازې د څو ټکو په ويلو بښنه وغوښته. خو وروسته چې په امريکا کې د کانګرس د غړو او نورو صليبي حلقو تر فشار او ملامتيې لاندې راغی نو همدې ۱۳۹۰هش د حوت په نهمه يې وويل چې:(ما له افغانانو د هغوئ د غوسې د سړولو او د امريکايي عسکرو د ژوند د ژغورلو په خاطر بښنه غوښتې ده). يعنې هغه لدې امله بښنه نه وه غوښتې چې پوځيانو يې کوم بد کار تر سره کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا د راتلونکي ریاست لپاره کاندید (ریک سنتورم) وویل چې اوباما باید له افغانانو بښنه نه وای غوښتې، بلکي افغانانو باید له امریکا بښنه غوښتې واي چې امریکایې پوځیان او افسران یې وژلي دي.
د دې تر څنګ د امریکا د کانګرس ځینې غړو وویل چې دا کار د بښنې په غوښتلو نه ارزېده، ځکه چې بښنه په هغه وخت کې غوښتل کېږي چې چا کوم بد کار تر سره کړي وي.

د حامد کرزي د اداري دریځ:

د کرزي د اداري محلي چارواکو په شروع کې هڅه کړې وه چې موضوع پټه کړي، ځکه خو یې د هغو کاریګرو خبرې هم نه وې اورېدلې چې د قرآنکریم سوځیدلې نسخې یې د امریکایانو له کثافات دانیو څخه ورته وروړې وې.
کرزي د امریکایانو جنایت غیر قصدي او د یو څو تنو جاهلانو کار وباله او بس، خو د حکومت عکس العمل یې د پاڅون کوونکو په وړاندې دا وو چې تر شپېتو زیات مظاهره کوونکي یې ووژل، تر دوو سوو زیات یې زخمیان کړل، او نامعلوم شمیرخلک یې زندانونو ته ورواچول، چې تر تعذیب لاندې شپې ورځې تېرې کړي.
تر ټولو بد لا دا وو چې په همدې ورځو کې د کرزی د اداري د پوځ لوی درستیز جنرال (شیرمحمد کریمي) د ننګرهار په خوږیانیو کې له (جان الن) سره د امریکایي پوځیانو اډې ته ورغی او هغوئ ته وویل چې ستاسي قرباني به بې ځایه نه ځي.

د امریکایانو په لاس د رامنځته شویو ټولنو او تشکیلاتو (مدني ټولنې) دریځ:

ټولو هغو ادارو، د بشري حقوقو په نامه ټولنو، د ژورنالستانو اتحادیو، د ښځو د حقوقو ټولنو، د لوبو او ځوانانو په نومونو ټولنو، ادبي او فرهنګي ټولنو، محلي نادولتي رسنیو او راډیوګانو او د غرب هغو کرایې ډنډورچیانو چې د سیاسي او ټولنیزو چارو د کارپوهانو په نامه په رسنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د دښمن په ګټه تبیلغات کوي او پېښې داسې توجیه کوي چې د خپل ولس خلک ملامت او غربیان تبرئه کړي دغو ټولو امریکا پلوو جهتونو د دې پاڅون په اړه منفي موقف وښود، او هغه یې د پردیو د لمسون په نتیجه کې وباله، او د پاڅون کوونکو د حوصلو د ماتولو او د هغوئ د غضب د سړولو هڅه یې وکړه. او په دغه ډول دریځ یې ثابته کړه چې د دوئ ټول تشکیلات د یرغلګرو له لوري رامنځته شوي، د همهغوئ له لوري تمویلېږي او د همهغوئ لپاره کار کوي. د دوئ نه دافغانستان له آزادۍ سره کار شته، او نه هم په سخته ورځ د خپل ملت ترڅنګ درېږي.

دغه ټولنې به تر هغه دلته د دښمن اجنډا ته کار کوي چې تر څو یې د دښمن طیارې پر سر سیوري کوي. او کله یې چې دغه سیوري له سره لرې کېږي دوئ به هم یا بڼه بدلوي، او یا به غرب او ګاونډیو هېوادونو ته تښتي.

د منحرفو تنظیمونو او د روحانیت د دروغجنو مدعیانو دریځ:

د دې پاڅون په اړه د هغو منحرفو تنظیمونو چې یو وخت جهادي تنظیمونه بلل کېدل، او هم د هغو اشخاصو دریځونه چې په ټولنه کې چې په درواغو ځان د پیر، حضرت، قاضي، جهادي رهبر، حجة الاسلام او حجة الله په نومونو ځانونه مطرح کړي او د روحانیت د پاللو په نامه هم له خلکو او هم له راغلو یرغلګرو خپل (قلنګ) اخلي دریځ هم منفي وو. دوئ ټولوخاموشي اختیار کړې وه، او ځینې خو یې لا پدې هڅو کې ول چې څنګه دغه پاڅون سوړ کړي ترڅو د یرغلګرو په شتون کې د دوئ دربارونه، شخصي پوهنتونونه، تنظیمي تلویزونونه او تنظیمونه د پاڅون له څپو خوندي پاتې شي.

د طالبانو دریځ:

طالبانو نه یوازې دا چې پاڅون یې تأییدکړ او هغه یې د افغانستان د مؤمن ولس د غیرت او ارادې مظهر وګڼه، بلکې له پاڅون سره همزمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې خپلې حملې نورې هم د دښمن په خلاف زياتې کړې، او پر ولس يې غږ وکړ چې دې پاڅون ته تر هغه دوام ورکړي چې دښمن لدې خاوې وتلو ته اړ شي.

دګاونډيو هيوادونو دريځونه:

دګاونډيو هيوادونو نظامونو چې په خپله په يو نه يو ډول د غربي ائتلاف غړي او يا ملاتړي دي کوښښ وکړ چې مظاهري او پاڅون په افغانستان پورې ترلې وګڼي، نه دا چې قرآن کريم د ټولو مسلمانانو کتاب دی او ټول دې يې بايد په ننګ راپورته شي او د يوه امت په حيث دې د کفارو په وړاندې مشترک دريځ ونيسي.

د پاڅون د راتلوکي لپاره ځينې توصيې:

دا چې افغانانو د خپل پاڅون لوېې لاسته راوړنې او ژور تاثيرات وليدل نو پکار ده چې دغه پاڅون په يوه او بل شکل همداسې متداوم پاتې شي، ځکه چې د تداوم لپاره يې ټول هغه اسباب او علتونه پر ځای پاتې دي چې په پيل کې يې موجود ول. بلکې د تداوم د مشروعيت لپاره يې نور دلائل هم رامنځته شوي دي لکه:

۱ـ د اشغال له حکومت سره د وژل شويو مظاهر چيانو محاسبه.

۲ـ د زخميانو درملنه، پوښتنه او هغوئ له دښمن څخه په امان ساتل.

۳ـ د نيول شويو ځوانانو راخوشي کول.

۴ـ د هغو پوځي او امنيتې افسرانو تعقيب چې په خالي لاسه مظاهره چيان يې وژلي دي او داسې نور.

که چېرې دغه ډول مظاهري د ښارونو ترڅنګ ليرې پرتو ولسواليو ته هم خورې شي، او د ولس خلک د مفسدينو، مجرمينو، له يرغلګرو سره د کار کوونکو په خلاف په کليو او ولسواليو کې هم داسې راپورته شي لکه په ليبيا، تونس، يمن، سوريه او مصر کې چې راپورته شول چې ځينو يې مفسد او تپل شوي نظامونه رنګ کړل او ځينې نور يې د لړزيدو په حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دي نو ډېر ژر به په ټول افغانستان کې هم وضعیت بدل شي. مفسد چارواکي او د یرغلګرو ملګري به ښارونو او د یرغلګو مراکزو ته وتښتي، او خلک به په یومخیز ډول د یرغلګرو او د هغوئ د ملګرو له شر څخه خلاص شي.

څو ضروري کارونه:

۱ـ د دې پاڅون ټولې پېښې صحنې، شهیدان، زخمیان او بندیان باید د هېواد د اصیلو او باضمیره ځوانانو او مسلمانو فرهنګې ټولنو لخوا توثیق او راټلونکي ته وساتل شي.

۲ـ د شهیدانو بیوګرافي او د هغوئ د عکسونو البوم باید انټرنټي سایټونو ته راوویستل شي ترڅو ولس د خپلو شهیدانو قدرداني وکړي.

۳ـ د هېواد علماء، مجاهدین، مخور مشران او د مکاتبو او پوهنتونونو استادان باید ځوانان پوه کړي چې په مظاهرو کې د خلکو شخصي شتمنیو ته په هېڅ صورت ضرر رسول روا نه دي، او لدې کاره یوازې زموږ خپل ولس ته تاوان رسېږي.

۴ـ د یرغلګرو په صفونو کې دننه شوي مسلمان ځوانان باید دا خبره نوره هم ښه درک کړي چې د دوئ هر یو فرد د یوه ولس په اندازه دښمن ته تاوان رسولي شي. نو باید چې فرصت له لاسه ورنکړي او پر دښمن خپل ګوزارونه نور هم کاري او توندکړي. دا وې د افغانانو د قرآني پاڅون په اړه څو خبرې چې له خپل مسلمان ولس سره مې شرکې کړې، هیله ده چې په دې کار مې د دغه سپېڅلي پاڅون یادګار تر یوه حده د دې ولس په تاریخ کې خوندي کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د امريکا ماتې نور په کنفرانسونو نه جبيره کيږي

د تېرو لسوکلونو جګړې، وژنې، دکورونو او کليو ورانېدل، د خلکو بې کوره کېدل، زندانونه، د شتمنيو له منځه تلل، د لسګونه زره انسانانو وژل کېدل او پداسې حال کې د سلګونو ملياردو ډالرو ضائع کېدل چې هېڅوک ورڅخه خوښ ندي، دا هر څه د هغه کانفرانس نتائج دي چې په ۲۰۰۱ م کال کې امريکا د جرمني په (بن) کې په افغانستان کې د يوه تحميلي حکومت د جوړولو په نيت جوړ کړ ترڅو د هغه له لارې د افغانستان اشغال ته د قانونيت بڼه ورکړي.
خو کله چې لس کاله وروسته د (بن) د لومړي کانفرانس چارج ختم شو او نور يې د دې جګړې اوږدولو ته برق نشو ورکولی نو امريکا او ورسره ملګرو يې يو ځل بيا په (۴ / ۱۲ / ۲۰۱۱ م) تاريخ په هماغه (بن) کې پدې اراده يو بل کانفرانس جوړ کړ چې هم د هغه له لارې د خپلو تېرو لسو کلونو ناکامۍ د برياليتوبونو په بڼه کې معرفي کړي، او هم دغه جګړه په نوي شکل او نويو وسايلو تر نوي شعار او پلمې لاندې د سيمه ييزو لوبغاړو په وسيله روانه وساتي خو خپله د جګړې له ميدانه پښې سپکې کړي.
امريکا د (بن) د دوهم کنفرانس له لارې هڅه وکړه چې د لسو نورو کلونو لپاره له اروپا او نورو ملګرو څخه يې د دې جګړې د تمويل ضمانت ترلاسه کړي، او هم د کابل ادارې ته مشروط اطمينان ورکړي چې ټينګه شي، دا جګړه پر مخ بوځي، او پرې نږدي چې د امريکا د تېرو لسو کلونو لاسته راوړنې په اوبو لاهو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو حقيقت دا دي چې پدې سيمه کې د امريکا پلانونه نور له ماتې سره مخ دی، او د جهاد او مجاهدينو د بري مخه نور د شګو په بندونو نه نيوله کېږي.

په سيمه کې د امريکا درې اهداف او هغو د تحقق په کار کې د امريکا ناکامي

امريکا غوښتل پر افغانستان باندې د يرغل په ذريعه لاندې درې مهم او خطرناک هدفونو ته ورسېږي:

اول هدف ـ د طالبانو اسلامي حکومت له منځه وړل:

او دا ځکه چې طالبانو د سياست، حاکميت، ديپلوماسۍ او د بين المللي تعامل په ډګرونو کې پر ټولو هغو اصولو او قوانينو چې غرب وضع کړي،متعارف کړي او د نړۍ هېوادونه يې د هغو منلو ته اړ کړي وو اسلام او شرعي نظام ته ترجيح ورکړه.

غرب چې څو پېړۍ يې په مسلسل او هر اړخيز ډول د مسلمانانو پر فکرونو کار کړي وو او د زرګونو مليارډو ډالرو په مصرفولو يې حقيقي اسلام د سياست، قيادت او حاکميت د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې له صحنې ايستلی وو او په اسلامي نړۍ کې يې داسې يو نسل روزلی و چې د غرب سياست، مفکورې او نظام ته يې پر اسلامي شريعت او اسلامي فکر او عقيدې ترجيح ورکوله او عملاً يې په اسلامي نړۍ کې د اسلامي نظام پر ځای غربي ډوله نظامونه حاکم کړي وو خو د طالبانو د اسلامي نظام په قيام نه يوازې په افغانستان کې د غرب فکري او سياسي پانګوونه په اوبو لاهو شوه بلکې د اسلامي نړۍ نور ولسونه هم دېته وهڅېدل چې اسلام اوس هم حاکمېدلی شي او شريعت اوس هم د نافذيدلودی او د بشر د هرې زمانې د ستونزو د حل صلاحيت لري نو بايد هغوئ هم د افغانانو په څېر په خپلو هېوادونو کې د طاغوتي نظامو په خلاف مبارزه وکړي او هلته هم اسلامي نظام حاکم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو غرب ته دغه وضعيت په هېڅ صورت د منلو وړ نه وو، ځکه چې که چېرې د طالبانو اسلامي امارت يو ځل د يو کامياب ماډل په حيث تبارز کړی وای نو بيا به په ټوله اسلامي نړۍ کې غرب پلوي نظامونه يو په بل پسې پرځېدل او مسلمان ولسونه به د غرب له ډيموکراسۍ د اسلام غېږې ته راګرځېدل، چې دا به بيا په ټوله اسلامي نړۍ کې دغرب د سياستونو د ناکامۍ او دهغه دملګرو نظامونو د زوال سبب ګرځېده.

هماغه وو چې غرب له پيله د طالبانو په وړاندې د دښمنۍ موقف ونيو. له يوې خوا يې پر طالبانو بېلابېل بنديزونه ولګول، د هغوئ د نظام دکمزوري کولو ټول فرصتونه يې استعمال کړل. او له بل لوري يې د هغوئ مخالفه جبه په رسميت وپېژندله، ويې پالله، او د هغې جګړه يې تمويل کړه.

خو دا چې د طالبانو مخالفې جبهې د خپلې واکمنۍ په وخت کې د حکومت ، ادارې او سياست تر ټولو فاسد او بدرنګه تاريخ پرې اېښی وو نو عام ولس ورسره د طالبانو په مقابل کې ونه درېد چې په نتيجه کې ونشو کولای چې خپل مخالفت ولسي کړي او په ټول افغانستان کې د طالبانو په خلاف مقاومت ايجاد کړي. نو هماغه وو چې غرب په خپله لاس په کارشو او پر افغانستان يې خپل پوځي يرغل وکړ.

د دې لپاره چې غرب د طالبانو اسلامي تجربه په مکمل ډول له منځه يوسي نو د سيمې هېوادونه او خپل غربي ملګري يې له ځان سره په دې جګړه کې ورشامل کړل، او هم يې د اسلامي نړۍ مفسدو، مستبدو او غرب پلوو حاکمانو ته و ويل چې که په افغانستان کې د طالبانو د تجربې په له منځه وړلو کې له دوئ سره شريک نشي نو ډېر ژر به په خپلو هېوادونو کې هم همدې ته ورته تجربې او مثالونه و ويني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم هدف ـ په منځنۍ اسيا کې د امريکا د جيوستراتيژيکو مصالحو تامين او د سيمې د انرژۍ پر منابعو او د هغې د انتقال پر لار تسلط:

دغه هدف امريکا او ټول غرب ته ځکه اهميت لري او په جګړې ورته ارزي چې په روانه او يا راتلونکې پېړۍ کې به د منځني ختيځ (عربې نړۍ) نفتي منابع وچېږي، او يا به په عربي نړۍ کې د جهادي او پوځي بدلونو له امله له داسې يوه وضعيت سره مخ کېږي چې هلته به د امريکا برلاسي نوره نه چلېږي. خو له بل لوري بيا په (منځنۍ آسيا) او د (کسپين) د بحيرې په حوزه کې دومره نفتي ذخاير کشف شوي چې ښايي د څو پېړيو لپاره به د نړۍ د خلکو ضرورت پوره کړي.

غرب د خپل پانګه وال نظاو او امپرياليستي روحيې د درلودلو له امله غواړي چې په هر ډول چې وي بايد د دغې سيمې نفتي منابع ددوئ په ولکه کې ورشي، تر څو يې پر ټولې نړۍ نفتي کنټرول او برلاسی ثابت شي، او په بين المللي ډول د نفتو مارکيټ داسې وچلوي چې نرخونه او شرائط يې غربيان وټاکې، او په دې ډګر کې يوازې هغو لويو کمپنيو ته د فعاليت زمينه برابره کړي چې يا خو د غربيانو دي، او يا يې هم ګټې غربيانو ته رسېږي.

غرب خپل دغه هدف ته يوازې هغه وخت رسېدلی شو چې يا يې افغانستان په مستقيم ډول اشغال کړی وای، او يا يې دلته هم يو غرب پلوی حکومت تأسيس کړی وای، ځکه چې غرب نه غواړي د (کسپين) د بحيرې او د منځنۍ آسيا د نفتو او ګازو ليکه دې د روسيې له لارې (بالتيک) او يا هم د ايران له لارې د هند سمندر ته تېره شي، چې پدې کار سره به يې خپله مرۍ د روسانو او اټومي کېدونکي ايران په لاس کې ورکړې وي. له همدې امله امريکا او غربي ملګرو يې لومړی افغانستان په پوځې ډول اشغال کړ، او بيا يې دلته خپل اشغال ته د مشروعيت د ورکولو په مقصد يو تپل شوی حکومت جوړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم هدف ـ په افغانستان کې مجاهدين او د جهاد نظريه له منځه وړل:

غربيان د اوسني عصر په اسلامي نړۍ کې له هېڅ شي دومره وېره نه لري لکه له جهاد او جهادي فکر څخه يې چې لري. غربيان د اسلامي نړۍ له پوځونو نه وېرېږي، ځکه چې هغه ټول د همدوئ په خوښه او د همدوئ د مصالحو د تأمين لپاره جوړ شوي دي. هغوئ د اسلامي نړۍ له ځوانانو او نوي نسل څخه هم وېره نه لري، ځکه چې هغه يې هم په لوبو، تن پرورۍ، عشرتونو، فحاشۍ، بې حسۍ او پداسې ډول زده کړو مصروف کړي چې دين او معنويت ته ورکې هېڅ ځای نشته، يوازې مادي اهداف لري، او دنياوی مناصبوته رسول يې سترهدف دی.

غربيان د مسلمانانو له شتمنيو، معادنو، نفت او ګازو او اقتصادي فعاليتونو څخه هم په وېره کې نه دي، ځکه چې پر دې هر څه يې د خپلو قوانينو او ملټي نشنل (ګڼ ملتيزو) کمپنيو او ګوډاګيو حکومتونو له لارې کنټرول حاصل کړی، او هر څه يې په داسې شکل مهار کړي چې په هېڅ صورت د دوئ د مصالحو په خلاف نشي استعمالېدلی.

خو غربيان چې په اسلامي نړۍ کې له کوم شي وېره لري هغه د جهادي فکر او مجاهدينو شتون دی، ځکه چې جهاد او مجاهدين د مسلمانانو د خپلې عقيدې تمثيل کوي، او د اسلام د حاکميت لپاره لاره هواروي.

غربيان لدې امله هم په افغانستان کې له جهاد او د مجاهدينو له تجمع څخه په وېره کې دي چې لکه څنګه چې جهاد دکمونيزم ټغر ورټول او د هغه فلسفه يې ورباطله کړه، همداسې کولی شي د اسلامي نړۍ هېوادونه د غرب له تسلطه هم خلاص کړي.

دا هم غرب ته ور معلومه وه چې په اوس وخت کې افغانستان يوازينۍ هغه خاوره ده چې هم يې ټول ملت له جهاد سره بلد دی، او هم د اسلامي نړۍ د مظلومو او مقهورو مجاهدينو او مهاجرينو لپاره خوندي ځای دی.

د غرب د فکر تحقيقاتي مراکزو او د فيصلي د صادرولو مراجعو ته دا ورمعلومه شوې وه چې که افغانستان د طالبانو تر قيادت او حاکميت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې همداسې پاتې شي نو لرې نه ده چې افغانان به د غرب لخوا د یرغمل شوي اسلامي نړۍ د ولسونو لپاره د آزادۍ یو قوي مثال او د الهام مصدر وګرځي.

نو ځکه یې لومړی جهاد ته د (تروریزم) نوم ورکړ، او بیا یې د جهاد او مجاهدینو په خلاف په ټوله نړۍ کې نړیواله جګړه اعلان کړه.

امریکا د پورتنیو دریو لویو هدفونو ترڅنګ نور سیمه ییز اهداف هم درلودل چې د هغو له جملې څخه د سیمې په هېوادونو کې تر خپلې څارنې او پالنې لاندې د اقلیتونو لپاره د وړو (دولت ګوټیو) جوړول او بیا هغوئ د میشتو اکثریتونو په خلاف جنګول هم وو.

خو آیا امریکا د خپلې لس کلنې جګړې او سلګونو ملیارده ډالرو په مصرفولو او د خپلو زرګونو پوځیانو او د لسګونه زره افغانانو په وژلو خپلو هدفونو ته ورسېده؟

آیا د طالبانو (سیاسي، نظامی) پدیده له منځه لاړه؟

آیا د غرب ډیموکراسي په افغانستان کې حاکمه شوه؟

آیا له غربه راصادر شوي لیبرال او له خپل ملته پردي شوي افغاني الأصله غربیان د افغانستان پر کلیو، ولسوالیو او ولسونو مسلط شول؟

آیا د دېرش کلن جنګ ټغر یې ټول کړ؟ او که یې جګړه د نامعلوم وخت لپاره نوره هم وغزوله؟

آیا امریکایانو د منځنۍ آسیا او د (کسپین) د حوزې د تېلو منابعو ته لاره پیداکړه؟

آیا هغه د تېلو او ګازو نل لیکې په لنډو د افغانستان له لارې تېرې شوې چې غرب یې د خپل راتلونکی ماشیني ژوند لپاره د وینې شریان ګڼي؟

آیا امریکا په افغانستان او سیمه کې په پوځي او امنیتي لحاظ دومره مسلطه شوه چې د خپلو کمپنیو د پراخ فعالیت لپاره زمینه برابره کړي؟

آیا د انرژۍ په نړیوال مارکیټ د امریکا تسلط ټینګ شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا په افغانستان کې یې جهاد او مجاهدین له منځه یوړل؟ او که یې د یو بل داسې مجاهد نسل د راټوکېدلو حالات برابر کړل چې په هېڅ صورت له غرب سره جوړې ته نه تیاربږي، او د جنګ لپاره یې داسې لارې چارې انتخاب کړي چې د غرب پوځي او معلوماتي ټکنالوژۍ ته یې ماتې ورکړه؟

آیا جهاد او مجاهدین یوازې په افغانستان پورې محدود پاتې شول او که په ټوله سیمه کې داسې خواره شول چې په هېڅ ځای کې ورڅخه د غرب مصالح خوندي ندي؟

آیا د غرب ولسونه او حکومتونه په اقتصادي لحاظ پیاوړي شول او که یو په بل پسې د افلاس پر لوري ور روان دي؟

آیا د امریکا اقتصاد وده وکړه؟ او که یې د بودیجې کسر تر ټولو لوړې اندازې ته ورسېد؟

آیا د اروپا (یورو زون) غښتلی شو؟ او که د زوال او شړیدلو له تهدید سره مخ دی او روسان بیا ورته سترګې برګوي؟

که له حقایقو سترګې پټې نشي نو د دې ټولو پوښتنو ځواب منفي دی. او د غرب او امریکا ټول پلانونه دلته په افغانستان او سیمه کې له داسې ماتې سره مخ دي چې کنفرانسونه یې نشي جبیره کولی.

امریکا او ټول غرب پدې جګړه کې نه یوازې خپلو هدفونو ته ونه رسېدل، بلکې خپل ډېر څه یې داسې له لاسه ورکړل چې هېڅکله به یې بیا اعاده نه کړای شي.

پدې جګړه کې غرب هم خپل پوځیان له لاسه ورکړل، هم یې خپل اقتصاد زیانمن کړ، هم یې خپل نړیوال هیبت له لاسه ورکړ، او هم یې خپل د ډیموکراسۍ، بشري حقوقو، آزادۍ او نوي نړیوال نظام هغه غولوونکي شعارونه له لاسه ورکړل چې تر ډېرې مودې یې د هغو په پورته کولو خپل تفوق ساتلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا د قضیې ریښتني او واقعي حل ته نه حاضرېږي:

امریکا په خپلې روانې جګړې کې د غلبې ټولې لارې او وسائل تجربه کړل، هغې خپل پوځي قوت او د جنګي ټکنالوژي زور تجربه کړ، د پوځیانو ډېرول یې وازمایل، د خپل ځان لپاره له افغانانو جوړه کړې اردو او امنیتي قواوې یې وازمایلې، اربکیان، قومي ملیشې او د شخصي امنیتي کمپنیو بې مسؤولیته جنګیالي یې په کار واچول، تر دوو سوو د سیاسي احزابو تأسیس یې وازمایه، د قومونو پر اساس د حکومتي ونډو تقسیم یې وازمایه، د سولې لپاره تش په نامه ارګانونه او شوراګانې یې تجربه کړې، له اجیرو ملایانو او کمرشل سیکولرو پیرانو یې کار واخیست، تعلیمي نصاب یې څو څو ځله تبدیل کړ، او اسلامي او جهادي مفاهیم یې پدې نیت ورڅخه لرې کړل چې نوی نسل له جهاد سره نا آشنا شي او د آزادۍ او قربانۍ انګیزه وانخلي، د رسنیو، مطبوعاتو، تلویزیوني او راډیویې کانالونو سیلاب یې پر یوه کم سواده ولس راسپور کړ، د مقاومت د له منځه وړلو لپاره یې د ګاونډیو هېوادونو او په هغو هېوادونو کې د ځینو سیاسي او قومي احزابو مرسته حاصله کړه، پر سخت دریځو او معتدلو یې دمجاهدینو د وېشلو ډېرې هڅې وکړې، او پدې لاره کې ښه ډېر ډالر وشیندل، نړیوال کانفرانسونه یې جوړ کړل، خو نه یې مجاهدین مات کړل، او نه یې مقاومت له منځه یووړ، او نه یې هم پر ټول افغانستان خپل تسلط ټینګ کړای شو.

امریکا د قضیې د حل لپاره ټولې کړې لارې وازمایلې، خو د حل ریښتنې او واقعي لارې ته ځان نه وربرابروي. د حل یوازینۍ لار دا ده چې غرب باید خپلې قواوې له افغانستانه وباسي، خپل اشغال پای ته ورسوي، او پرېږدي چې افغانان د خپل دین، خپل فرهنګ او خپلو معتقداتو پر اساس د خپل ځان لپاره نظام جوړ کړي، او همدغه یوازینی حل دی او بس. او امریکا به آخر هم همدې حل ته رجوع کوي که څه هم چې ډېره موده وروسته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو امريکا د خپلو امپرياليستي مقاصدو د تحقق په مقصد د حل له دې واقعي لارې مخ اړوي، او پدې جګړه کې يې مثال د هغه بايلونکي قمارباز دی چې خپل اميدونه يې په خپلې وروستۍ روپۍ پورې تړلي وي او فکر کوي چې ګوندې چانس به ورسره ياري وکړي او خپل ټول بايللی به مال د همدې وروستۍ روپۍ په (دَو) کولو راګرځوي. خو چې کله هغه وروستۍ روپۍ يې هم بايلي نو بيا غمجن پورته شي او پر خپلو هغو ملګرو لعنتونه وايي چې دی يې دې تاوان ته سوق کړي وو.

د روانې جګړې يواځينی حل د اشغال ختمول دي او بس، ځکه چې پدې خاوره کې پردي بوټي نه راشنه کېږي، او که راشنه هم شي ډېر ژر بېرته وچېږي. دلته د انګرېزانو بوټي وچ شول، دلته د روسانو بوټي هم وچ شول، او دا دی له ورايه ښکاري چې د امريکايانو بوټي هم ريښې ونه غزولې. نو ښکاره خبره ده چې د(بن) په څېر کنفرانسونه يوازې د وخت او ډالرو د ضائع کولو په معنې دي او بس.

د بن دويم کنفرانس خپل اهداف ترلاسه نه کړل:

د بن دوهم کنفرانس د لاندې اهدافو د تحقق لپاره ترسره شوي وو:

١ - مجاهدين د مذاکراتو مېز ته راکاږل او د کابل له ادارې سره يې په يوه نظام کې شريکول.

٢- د دې ضمانت حاصلول چې د امريکايې پوځونو تر وتلو وروسته دې د امريکايانو او اروپايانو لاسته وروړنې لکه د دوئ اساسي قانون، ديموکراسي، اجيره اردو، د ښځو غربي ډوله آزادي، سياسي پلوراليزم، د ارتداد آزادي (ديني پلوراليزم) او د غرب نور تأثيرات له منځه نه وړل کېږي.

٣ – د ناټو هېوادونه او د امريکا نور ايتلافيان دې تر (٢٠٢۴م) پورې د افغانستان جګړه تمويل کړي.

۴ - د افغانستان ګاوندي هېوادونه دې په افغانستان کې د امريکايې پوځي اډو په شتون قانع کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو پورتني هدفونه يو هم حاصل نه شول، ځکه چې طالبانو چې د قضيې يو اړخ دی په کنفرانس کې مشارکت ونه کړ، او دا ځکه چې د کنفرانس په اجنډا کې د قضيې اساسي حل هېڅ ځای نه درلود.
امريکا د خپلو لاسته وروړنو دنه له منځه تللو ضمانت هم ځکه حاصل نه کړ چې نه په قضيه کې مخالف لوري شتون درلود، او نه ورته د امريکا مطالبې د منلو وې.
د جنګ تمويل هم په داسې شرايطو پورې وتړل شو چې پوره کول يې د کابل د ادارې له توانه وتلی کار دی. او د پوځي اډو په اړه د ګاونډيو د موافقې ارمان يې هم ځکه پوره نشو چې ټولو ګاونډيو منفي موقف وښود.
نو ويلای شو چې په افغانستان کې امريکا ماتې خوړلې، د سيمې او افغانستان لپاره يې ټول پلانونه ناکام شوي دي، او کنفرانسونه نور د امريکا مشکل نشي ورحل کولی. نو ښه به دا وي چې امريکا پر خپلې استراتيژۍ بيا له سره غور وکړي، او د قضيې پر اساسي او واقعي حل تمرکز وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستراتيژيک تړون خطرناک امريکايي اهداف

له تېرو څو کلونو راهيسې د امريکا او په افغانستان کې د هغې په لاس د جوړ شوي حکومت تر منځ د (ستراتيژيک مشارکت د تړون) خبره کېږي، او د همدغه تړون د رامنځته کولو لپاره هم امريکايي رسنۍ او هم په افغانستان کې د امريکا په لاس د جوړې شوې ادارې مطبوعات د عامه ذهنيت د تيارولو په مقصد مسلسل کار کوي.
دا چې د دې تړون حقيقت څه شی دی ؟ اهداف يې څه دي؟ او اغېزې به يې د افغانانو او افغانستان په راتلونکي کې څه وي؟ پدې هکله د خپلو مسلمانو هېوادوالو په خدمت کې دا لاندې څو کرښې ليکم :
امريکا هغه زورواکی امپريالست هېواد دی چې غواړي پر ټولې نړۍ يې واک وچلېږي. له همدې امله په ټوله نړۍ کې ښکيل دی او د ټولې نړۍ په سياسي، حقوقي، اقتصادي، کلتوري، تعليمي، پوځي او اجتماعي قضاياوو کې مستقيم او غير مستقيم دخالت لري.
امريکا ته دا دزغملو نه ده چې د نړۍ هېوادونه دې د هغې له مستقيم او يا غير مستقيم تاثيره ليرې پاتې شي. د همدې مقصد لپاره يې يوازې له امريکا څخه د باندې (۸۶۵) لويې پوځي اډې جوړې کړې دي، او په لکونو پوځيان يې ورکې ځای پر ځای کړي چې هر کال په سلګونو مليارده ډالر ورباندې مصرفوي.
امريکا نه يوازې دا چې د خپلو پوځونو، جنګي بېړيو او په فضا کې د سټيلايټونو په وسيله پر ټولې نړۍ د مسلط کېدلو هڅه کوي، بلکې په زرګونو ناپوځي دولتي او نادولتي موسسې يې هم په ټوله نړۍ کې په کار اچولي دي تر څو په هره وسيله چې کېدای شي پر ټولې نړۍ د امريکا د پوځي، اقتصادي او سياسي برلاسۍ لپاره کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې افغانستان په نړۍ کې په تېره یوه پېړۍ کې ډېره مهمه سیمه ګرځېدلې او د ټولې نړۍ په سطحه د لویو سیاسي تحولاتو پیل له همدې ځایه شوی، لکه د انګریزي امپراطورۍ د زوال پیل، د شوروي اتحاد او د هغه د نورو ملګرو د زوال پیل، په اسلامي هېوادونو کې د اسلام د حاکمیت لپاره د مسلح جهاد پیل، او د لومړي ځل لپاره د ټول غرب د پوځي ماتې او د ناټو د متلاشي کېدلو او نورو لویو حادثو پیل ټول له همدې ځایه وشو.

په (جیو ستراتیژیک) لحاظ هم افغانستان ډېر مهم دی، او دا اهمیت به یې په راتلونکې کې لا نور هم ډېرېږي. همدغو ټولو اهمیتونو ته په پام سره امریکا نه غوښتل او نه اوس غواړي چې افغانستان دې د امریکا له تاثیر او تسلط څخه لیرې پاتې شي، نو ځکه خو یې دلته خپل په لکونو پوځیان راوستل، او تر زرو ملیاردو ډېر ډالر یې مصرف کړل.

امریکا دلته د خپلو ګټو د خوندي کولو او د خپلو پروګرامونو د اوږدمهالي عملي کولو لپاره په سلګونو سیاسي او اجتماعي تشکیلات، احزاب او ټولنې رامنځته کړې، او دلته یې یوه داسې جګړه روانه کړه چې خپل مقابل لوری یې ورکې ښه نه وو درک کړی.

پدې جګړه کې که څه هم چې امریکا په پوځي لحاظ له ماتې سره مخ ده، خو هغه هڅه کوي چې د خپلو اوږدمهاله اهدافو د تحقق لپاره د جګړې شکل او شعار بدل کړي او په یوه بله مناسبه بڼه دلته خپل حضورته دوام ورکړي، او خپل دغه پوځي او ملکي شتون ته دلته د (ستراتیژیک مشارکت) د تړون په چوکاټ کې مشروعیت ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستراتیژیک تړون اصلي هدفونه

اول هدف - د منځنۍ اسیا او د کسپین د حوزې نفتي منابعو ته دلارې تامین:
په امریکا کې د ستراتیژیکو څېړنو مراکز دې نتیجې ته رسېدلي دي چې امریکا او ټول غرب باید د انرژۍ د ضرورت د پوره کولو لپاره له عربي نړۍ پرته د نورو منابعو په لټه کې شي، او له همدا اوسه باید ورته ځان ورورسوي، ځکه چې له یوې خوا د عربي نړۍ د تېلو زېرمې مخ پر وچېدلو دي، او له بلل لوري د عربي نړۍ سیاسي، پوځي، امنیتي او اجتماعي وضعیت داسې لورته روان دی چې ښایې نور به د امریکا د سیاستونو د پلي کولو لپاره یو خلاص میدان پاتې نشي.
نو له همدې امله باید غرب هڅه وکړي چې د نفتو پر عربي منابعو خپله تکیه کمه کړي، او د منځنۍ آسیا او د(کسپین) د حوزې بډایو نفتي منابعو ته چې ښایي د راتلونکو څو پېړیو لپاره کار ورکړي لاره پیدا کړي.
دغه سیمه د امریکا د پانګوونې لپاره ځکه په زړه پورې ده چې له یوه لوري یې هېوادونه غواړي د خپلو منابعو لپاره مارکیټ پیداکړي، او له بل لوري لا تر اوسه په دې سیمه کې د امریکا او غرب په خلاف هغه ډول اجتماعي کرکه او نفرت نشته لکه په نوره اسلامي او عربي نړۍ کې چې وجود لري.
خو دا چې دې سیمې ته تر ټولو لنډه او آسانه لار له افغانستانه تېرېږي، او دا لار باید دومره خوندي وي چې د غرب ډېره لویه سرمایه او د نفتي ضرورت پوره کېدل په خطر کې ونه لوېږي، نو ځکه خو امریکا او ټول غرب لومړی افغانستان اشغال کړ، او بیا یې دلته خپل اشغال ته د مشروعیت ورکولو په مقصد یو کمزوری حکومت جوړ کړ، او بیا یې له دې تپل شوي حکومت سره د خپل دایمي او یا اوږمهالي پوځي شتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبري پيل کړې، ترڅو دلته خپل پوځي حضور دومره قوي وساتي چې د خپلو اقتصادي او سياسي ګټو ساتنه وکولی شي،او د خپل پوځي حضور په قوت دلته پر هر ډول نظام دا خبره ومني چې د منځنۍ آسيا او د (کسپين) حوزې ته دې ددوئ لار په هغه کيفيت او هغو شرائطو پرانستې پاتې وي چې دوئ يې غواړي. او که هر وخت دغه مصالح له کوم خطر سره مخ کېږي نو دغه پوځي اډې بايد د دې خطر دمخنيوي توان ولري.

امريکا ته د دې لارې تأمين په دومره درنو مصاريفو او د خطرونو په زغملو ځکه ارزي چې غرب تر اوسه پورې د انرژۍ لپاره د نفتو بل بديل نه لري، او د دې لپاره چې حرکت يې په ټپه ونه درېږي نو غرب دا ګڼي چې په هره وسيله او هر قيمت چې وي بايد د انرژۍ پر منابعو خيټه واچوي، او يا ورته پراخ لاس رسی ولري. او که پدې لاره کې دي ته ضرورت پيښ شي چې پردي هېوادونه اشغال او ولسونه يې يرغمال کړي، نو هغه دې هم وکړي.

دويم هدف ـ په افغانستان کې د يوه ريښتني اسلامي حکومت د قيام مخنيوی:

ټول غرب او امريکا دې نتيجې ته رسېدلې چې په راتلونکي کې يې جګړه يوازې له اسلام سره ده. ځکه چې کمونيزم د يوې حاکمې او فعالې نظريې په حيث له منځه تللی، نور دولتونه او نظريات لدې امله له غرب سره ټکر نه غواړي چې له غرب سره ديني، فرهنګي، اجتماعي مشترکات او متبادلې ګټې لري.

خو اسلام يوازينی هغه دين دی چې نه غرب ته تابع کېږي، او نه هم له غرب سره فکري،کلتوري او اجتماعي پيوندونه لري. او د دې لپاره چې مسلمانان د غرب په خلاف د پوځي، فکري، سياسي او اقتصادي مقاومت وړتيا ولري نو بايد داسې آزاد هېواد او يا هېوادونه ولري چې ريښتنی اسلام ورکې حاکم وي. هغه اسلام چې د معاصر کفر له هېڅ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه ډیموکراسۍ، لیبرالیزم، نړیوالتوب، هیومنیزم، د دینونو تر منځ یو والي او نورو هغو نظریاتو سره چې د معاصر غربي او یا شرقي جاهلیت زېږنده دي هېڅ پیوند نه اخلي.
د دغه ډول یوه ریښتني اسلامي حکومت د رامنځته کېدلو امکان تر بل هر ځایه په افغانستان کې ډېر دی، او دا ځکه چې افغانان د غرب د معاصر جاهلیت له زهرجنو تأثیراتو تر ډېره ځایه لیرې پاتې دي، ریښتني اسلام یې د ژوند طبیعي بڼه تشکیلوي، او له دین او آزادۍ څخه د دفاع په لاره کې د جهاد، هجرت، قربانیو، شهادتونو او هر ډول تکلیفونو د ګاللوله مفاهیمو سره په عملي ډول آشنا دي.
کله چې طالبانو د ځیني مشکلاتو او نیمګرتیاوو سره سره اسلامي شریعت پلی کړ، نو پدې کار یې د اسلامي نړۍ ټولو ولسونو ته دا خبره ور تلقین کړه چې په نظام او سیاست کې د شریعت تطبیقول د مسلمانانو د ستونزو یوائیني حل دی. د نړۍ مسلمانان هم دي ته متوجه شول چې هغوئ هم باید خپل هېوادونه د غرب له سیاسي، فرهنګي او فکري تسلط څخه خلاص او اسلامي شریعت ورکې پلی کړي.
هماغه وو چې غرب په افغانستان کې دیوه ریښتني اسلامي حکومت له قیام څخه په سخته وېره کې شو، او د هغه په خلاف یې یوه بې رحمه پراخه نړیواله جګړه پیل کړه چې لا تر اوسه روانه ده، او د هرې نوې مرحلې په رارسېدلو د خپلې جګړې بڼه او شرائط بدلوي تر څو د خپلې جګړې مؤثریت وساتي، چې پدې لړ کې د امریکا او د کابل د ادارې ترمنځ د(استراتیژیک مشارکت تړون) هم د جګړې د شکل د بدلولو د سلسلې یوه نوې کړۍ ده او اصلي هدف یې دا دی چې مجاهدین باید په هېڅ ډول پرېنښودل شي چې یو داسې ریښتنی اسلامي حکومت جوړ کړي چې د غرب له تسلطه آزاد او د معاصر جاهلیت له تأثیراتو دې پاک وي.
په معاصر تاریخ کې دا خبره تجربو ثابته کړې چې د اسلامي حکومت قیام یوازې د (في سبیل الله) جهاد له لارې ممکن دی او بس. او دا هم په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې چې د باطل حکومت وپرځول شي، او پر ځای يې اسلامي حکومت راوستل شي. نه دا چې د باطل له نظام او نظرياتو سره د (پيوند کارۍ) له لارې دې وشي لکه چې ځينې ډيموکراسي پلوه اسلامي احزاب او حرکتونه يې غواړي.

تجاربو دا هم وښودله چې په ډيموکراسۍ کې د مشارکت، انتخاباتو، سياسي فعاليت او له سيکولرو احزابو سره د ايتلافونو او يوازې د دعوت له لارې اسلامي نظام هېڅکله نشي راتلای.

همدغه تجربه څو څو ځله په اسلامي نړۍ کې په ډېرو هېوادونو کې ناکامه شوه، او په قطعي ډول يې په اسلامي نړۍ کې کاميابيدل ناممکن دي. او دا ځکه چې په اسلام کې بايد دين پر مسلمانانو حاکم وي، خو سيکولر، ديموکرات، نشنلستان، ليبرالان او نور له اسلامه په تېښته احزاب او عناصر په هېڅ ډول دا نه مني چې اسلام دې د مسلمانان د ژوند په هر اړخ باندې حاکم وي.

غرب هم په خپل ټول قوت د همدغو اسلام مخالفو ډلو ټپلو او عناصرو تر شا ولاړ دی او نه پرېږدي چې افغانان دې د اسلام تر حاکميت لاندې ژوند وکړي. بلکې غرب د ريښتني اسلام پر ځای چې (وحيه) يې مصدر او مسجد او محراب يې تر شا ولاړ دی مسلمانان د هغه غربي ډوله بې حاکميته اسلام خپلولو ته تشويقوي چې سيکولر (ترکيه) او نور د غرب په لاره روان هېوادونه يې مثالونه وړاندې کوي.

درېيم هدف : د سيکولريزم، ليبراليزم او تنصيرحمايت او پالل:

امريکا له خپل يرغل سره سم په تېرو لسو کلونو کې دلته د خپلې اوږدمهالې اجنډا د عملي کولو په مقصد په لسګونو سيکولر، غرب پلوي، له دين ښخه آزاد ليبرال او نشنلست ګوندونه، ټولنې او سياسي تشکيلات ايجاد کړل. او د هغو تر څنګ يې په سلګونو دولتي او نا دولتي مؤسسې چې په سياسي، اجتماعي، تعليمي، فرهنګي او نورو ډګرونو کې فعاليت کوي په کار وګومارلې تر څو په شريکه د افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې د سیکولر (بې دینه) کولو او د غرب پر لار ه د هغې د روانولو لپاره کار وکړي.
امریکا د دغو تشکیلاتو او بنسټونو پر ایجاد او فعالولو په سلګونو ملیارده ډالر په پوځي او ملکي ساحو کې مصرف کړل، خو دا چې دغو سیکولرو احزابو، ټولنو او عناصرو لاتر اوسه په افغاني ټولنه کې خپلې ریښې ندي غځولې، او نه هم افغاني ټولنې هغو ته خپله غېږه خلاصه کړې ده، ځکه چې دغه ټول تشکیلات او بنسټونه د یرغلګرو په لاس او د هغوئ تر څارنې، پالنې او حمایت لاندې رامنځته شوي دي، نو امریکا او ملګري یې لدې ویره لري چې دغه احزاب به (شنډ) شي، او د یرغلګرو تر وتلو وروسته به له منځه ولاړ شي او هغه په سلګونو ملیارده ډالر یې چې د دوئ د ایجادولو او پاللو په لاره کې مصرف کړي دي خوشې هدر لاړ شي نو ځکه خو امریکا د (ستراتیژیک تړون) په نوې بڼه کې د خپل اشغال او پوځي وجود پر دوام اصرار کوي، تر څو د غرب په لاس د رامنځته شویو سیاسي، تعلیمی، اجتماعي او فکري بنسټونو او تشکیلاتو د قوي کېدلو او هغو ته د ودې کولو لپاره مناسب ماحول تضمین کړي، او هم خپلې ټولې هغه لاسته راوړنې له زوال څخه خوندي وساتي چې د خپلو اوږدمهالو مصالحو د تأمین لپاره یې دلته حاصلې کړې دي.
امریکا پدې پوهېږي چې په اسلامي نړۍ کې افغانان یوازینی هغه ولس دی چې د غرب (رنګ) یې ندی اخیستی، او لا تر اوسه پر خپل دین، اخلاقو او خپلو اسلامي دودونو ټینګ پاتې دي، چې دغه خصوصیت په دوئ کې د هر یرغلګر په مقابل کې د مقاومت وړتیا پیدا کوي. او همدا وجه ده چې امریکا د مذاکراتو لپاره افغانانو ته د خپل رامنځته کړي اساسي قانون او د ښځو د غربي ډوله حقوقو او وضعیت پر منل کېدلو ټېنګارکوي، او غواړي د هغو لاسته راوړنو د نه له منځه تللو تضمین دې وشي چې د اشغال په تېرو یوولسو کلونو کې رامنځه شوي دي. او دا ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اوسنی اساسي قانون چې کفر او اسلام دواړه ورکې خلط شوي دي د غرب د ټولو لنډمهالو او اوږدمهالو اهدافو د تحقق ضمانت ورکوي.

تر دې هر څه ورهاخوا امریکایانو د لومړي ځل لپاره په افغانانو کې (مسیحي اقلیت) هم ایجاد کړ، او یوه برخه پخواني کمونستان او ځیني نور اقلیتي ډلې یې مسیحیت ته ورواړولې، هغوئ ته یې د خپل نوي دین (مسیحیت) د اظهار جرأت ورکړ، په میلیونونو ډالره مصاریف یې پرې وکړل، د هغوئ د حمایت په مقصد یې د استراتیژیک تړون، په متن کې افغانستان یو (کثرت ګرا) د (ډېرو دینونو لرونکی) هېواد معرفي کړ. د هغوئ لپاره یې تبلیغاتي وسایل مهیا کړل، راډیوګانې یې ورته جوړې کړې، په خپلو پوځي اډو کې ورته ښکاره او په ښارونو کې پټې کلیساګانې جوړې کړې، او د نړۍ د کلیساګانو اتحادې او ټولنې یې د هغوئ د مرستو لپاره راوبللې، چې په بېلابېلو نومونو د غربي پوځونو تر حمایې لاندې فعالیت کوي.

پدې خاطر چې د (مسیحیت) لپاره نور هم په افغانستان کې په ډاډه زړه فعالیت وشي، امریکا د(ستراتیژیک تړون) او اوږدمهالو پوځي اډو پر شتون اصرار کوي، او د کابل بې واکه اداره د هغه پر منلو مجبوروي.

څلورم هدف ـ د داسې یوه اسلام دښمنه پوځ رامنځته کول چې د غرب ګټې وساتي:

په اسلامي نړۍ کې د ریښتني اسلام د له منځه وړلو، له ژوند او نظام څخه د شریعت د لیرې کولو، او د (بی دینه) نظامونو د رامنځته کولو په لاره کې د غرب تر ټولو کامیابه او خطرناکه پروژه د (سیکولر) او (دین دښمنو) پوځونو ایجادول، روزل، واک ته رسول او بیا هغوئ په نړیوالو پوځي تړونونو کې ورګډول ده.

په اسلامي نړۍ کې (دین دښمنو) پوځونو او په هغو کې بې رحمه او بې عاطفې پردیپالو سیکولرو جنرالانو او منسوبینو مسلمان ولسونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شريعت له حاكميته محروم كړي، او د غرب غلامۍ ته يې مجبوره كړي دي.

دا چې افغانستان پدې ورستۍ لسيزه كې د دغه ډول يو غلام او پردي پال پوځ له وجوده پاک شوي وو او ځاى يې په لكونو هغو مؤمنو مجاهدينو ډک شوی وو چې د اسلام او آزادۍ په لاره کې هر ډول قربانۍ ته حاضر دي، نو دغه وضعيت د غرب او امريكا لپاره د زغملو نه وو. نو ځكه خو يې له خپل يرغل سره سم دلته د يو اجير، غلام، بې سواده او داسې پوځ پر جوړولو چې د مجاهدينو په خلاف وجنګېږي كار پيل كړ. او د همدغه پوځ جوړولو ته يې د خپلو كارونو په اولوياتوكې ځاى وركړ، او سلګونه مليارده ډالر يې ورباندې له خپلې پوځي بوديجې څخه مصرف كړل.

امريكا دغه اجير او بې هويته پوځ ته د (ملی اردو) نوم انتخاب كړی تر څو د ولس ځوانان وركې د څو ډالرو په بدل كې د اسلام او مجاهدينو په مقابل كې ودروي.

خو پوښتنه دا ده چې هغه اردو به څنګه (ملي اردو) وي چې :

د يرغلګرو لخوا تأسيس شوې وي،

د يرغلګرو لخوا ورته افسران او منسوبين غوره كېږي،

د يرغلګرو لخوا روزل كېږي،

د يرغلګرو لخوا ورته وسله وركول كېږي،

د يرغلګرو لخوا ورته اهداف تعينېږي،

د يرغلګرو تر پوځي او هوايي حمايې لاندې د خپل ولس او هېوادالو پر ضد جنګېږي،

د يرغلګرو لخوا ورته تنخوا وركول كېږي،

له يرغلګرو سره يوځاى په پوځي اډو كې دهغوئ تر قوماندې لاندې اوسېږي،

او ديرغلګرو لخوا تل تر دې تعقيب لاندې وي چې دخپل ولس له مجاهدينو سره خو به خواخوږي او ارتباط نه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه اردو چې تر دې حده پردۍ او مزدوره وي، څنګه يې (ملي اردو) بللی شو؟ بلکې دا خو د صليبي ايتلاف افغاني برخه ده چې دغربيانو د اهدافو دتحقق پخاطر دخپل دين اوولس په خلاف جنګېږي.
دا چې دغه پوځ لاتر اوسه هغومره ندی قوي شوي چې دیرغلګرو له مرستې پرته دې هم د مؤمنو مجاهدينو او خپل ولس په خلاف وجنګېږي، نوځکه خو امريکا غواړي پر افغانانو (ستراتيژيک تړون) تحميل کړي، او دلته دهمدغې (پردۍ) اردو دتقويې لپاره دوامداره کار وکړي.

پنځم هدف ـ د سيمې د مسلمانو هېوادونو دائمي تهديد او د هغوئ ترمنځ د سياسي او پوځي نږدېوالي مخنيوی:

امريکا پدې هم پوهېږي چې د سيمې دهېوادونو اوسېدونکي ټول مسلمان ولسونه دي او تر منځ يې ددين، فرهنګ، ژبې، اقتصادي متبادلومصالحواو لهد دوئ ټولو تر منځ د (غرب دښمنۍ) مشترک د وحدت عوامل شته چې دوئ پخپلو کې سره نږدې کوي. او همدغه مسلمان ولسونه کولای شي چې داسې حکومتونه او قوانين رامنځته کړي چې ددغو اسلامي هېوادونو ترمنځ د سياسي او پوځي يووالي سبب شي، چې دمناسبو شرائطو د رامنځته کېدلو په صورت کې ورڅخه يواسلامي پوځي، سياسي او اقتصادي بلاک جوړ شي.
امريکا پدې سيمه کې ددغه ډول يو وضعيت له رامنځته کېدلو سخته وېره لري، او دغه وېره يې هغه وخت نوره هم زياته شوه چې په عربي نړۍ کې ولسونو خپل استبدادي رژيمونه او دغرب ملګري ګوډاګي مشران رانسکور کړل. له همدې امله امريکا افغانانو ته له خپل مسلمانانو ګاونډيانو څخه (بَبَو) جوړ کړی، او له غربه راغلي سرې خواره صليبي پوځيان ورته د نجات د پرېښنتو په حيث معرفي کوي، پداسې حال کې چې غربيانو زمونږ هېواد اشغال کړی، ولس مو وژني، ددين سپکاوی مو کوي، او اداره مو له خپله واکه محرومو ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ددې په مقابل کې افغانانو ته دګاونډیو له لوري هېڅ کوم واقعي خطر متوجه ندی، بلکې همدغه اشغالګر غربیان او دهغوئ خرڅ شوي غلامان دي چې زموږ مسلمان ګاونډي ولسونه او پر هغوئ حاکم نظامونه راته ددې لپاره د دښمن په حیث معرفي کوي چې دسیمې ولسونه او هېوادونه یو د بل پرضد ودرووي.

له همدي امله خو امریکا اجازه نه ورکوي چې د سیمي هېوادونه په خپلو کې سره قوي اقتصادي پروژې عملي کړي، چې ښکاره نمونه یې د امریکا له لوري د ایران او پاکستان ترمنځ دګازو د نل لیکي د عملي کېدلو مخالفت دی.

د دي ترڅنګ امریکا په دغو هېوادونو کې غرب پلوي اقلیتونه او د هغوئ کینه ګر مشران د هېوادونو تجزیه کولو او د مسلمانانو ترمنځ د یوالي له منځه وړلو ته هم هڅوي، له هغوئ سره مادي او معنوي مرستي کوي، او غوښتنې یې په نړیواله سطحه مطرح کوي.

نو د دې لپاره چې امریکا د دغو اسلامي هېوادونو تر منځ د سیاسي، پوځي او اقتصادي نړدیوالي مخه نیولي وي غواړي په افغانستان کې خپل پوځي حضور او دائمي یا اوږدمهاله پوځي اډوته د(ستراتیژیک تړون) تر نامه لاندې مشروعیت ورکړي، تر څو لدې لارې وکولی شي د هر وخت لپاره دغه هېوادونه تر مستقیم تهدید لاندې وساتي.

دا هغه څو مهم هدفونه دې چي امریکا یې د تحقق لپاره په افغانستان کې پر خپل پوځي حضور اصرار کوي، او د (ستراتیژیک تړون) په وسیله ورته د مشروعیت ورکولو هڅه کوي. خو حقیقت دا دی چې افغانان په هېڅ ډول او هېڅ صورت کې پر خپله خاوره پردي پوځونه نه مني، او د وروستي پوځي تر وتلو به یې په خلاف جنګېږي، او پر همدې خبره د دوئ تاریخ هم ګواهي ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صليبي اروپا له منارو څخه په وېره کې ده

اروپا پرون هم صليبي وه، نن هم صليبي ده، او لاتر ډېره وخته به صليبي وي. دا هغه حقيقت چې اروپا ډېره موده د (آزادۍ)،(ډيموکراسۍ)،(ديني زغم)،(بشري حقوقو) او (انسانيت) تر درواغجنو شعارونو لاندې پټ ساتلی وو، خو آخر رابرسېره شو.

داروپا (صليبيت) په تېره يوه نيمه پېړۍ کې تر هغه وخته له مسلمانانو پټ وو چې ترڅو په اسلامي نړۍ کې د غرب د عسکري او فکري استعمار په مقابل کې مسلمانانو پاڅونونه نه وو کړي، او اسلامي هېوادونه مستقيما د غربيانو په لاس او يا هم د هغوئ له لوري د مسلطو شوو حکامو په لاس اداره کېدل، خو کله چې د اروپايانو په خلاف د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې د آزادۍ غوښتنې او جهادونو حرکتونه رامنځته شول، اروپا هم خپله رويه بدله کړه او خپله اصلي صليبي څېره يې د مسلمانانو په مقال کې بيا ښکاره کړه، او د (آزادۍ)، (زغم)، (مساوات)، (ډيموکراسۍ) او (بشري حقوقو) خپل ټول معاصر غولوونکي شعارونه يې هېر کړل، او بيا يې د اسلام په خلاف د (صليب) تر بيرغ لاندې هراړخيزه جګړې پيل کړې.

اروپا په تاريخي لحاظ تل د اسلامي نړۍ په خلاف صليبي موقف لرلی. د رسول الله ﷺ په زمانه کې د(مؤته)، (تبوک) او بيا ور پسې د ابوبکر صديق ﷛ په زمانه کې د(يرموك) له تاريخي جګړو رانيولې او بيا تر ننه يې د اسلام په خلاف د جګړې لپاره لښکرې را روانې کړې دي. د اسلام او غرب په تاريخ کې څو سوه کاله مسلسلې صليبي جګړې د همدغې سلسلې سره نښتې کړۍ وې چې وروستۍ جګړه يې په (٢٠٠١م) کال کې د امريکا جمهور رئيس (جورج ډبليو بوش) هم د صليبي جګړې (crusade war) په نامه اعلان کړه چې په افغانستان کې يې تر سلو زرو زيات انسانان ووژل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صليبي جګړو ترځنګ اروپا په پرله پسې ډول د اسلامي فکر او اسلامي مفاهيمو په خلاف خپله بله جګړه د(استشراق) او (مسيحي تبليغ) په شکل کې هم روانه کړې ده چې په لکونو ختيځپوهان (مستشرقين) او (مسيحي کليسايي مبلغين) يې ورکښې په اسلامي دولتونو، اروپا او امريکا کې په کار ګومارلي دي، او په مسلسل ډول په فکري لحاظ د مسلمانانو د منحرفولو او د اسلامي مفاهيمو د تحريفولو چارې پر مخ بيايي.

صليبي غرب له مسلمانانو څخه په ويره کې نه ده، بلکه له اسلام، د شريعت له مصادرو او له اسلامي شعايرو څخه په ويره کې ده، ځکه چې مسلمانانو اوړي را اوړي، او دريځونه يې په بېلابېلو وختونو کې تبديلېږي، خو اسلام به په خپل ځای ثابت او تلپاتې وي، او د اسلام دغه ثبات هر ځل يو داسې نوی نسل رامنځته کوي چې په پوره مېړانه له اسلام څخه دفاع کوي، او د اسلامي مفاهيمو د تحريف مخه نيسي.

غرب تل هڅه کوي چې اسلامي مفاهيم تحريف او اسلامي شعائر توهين کړي، ترڅو د هغو په اړه خلك شكمن كړي، او د هغو مؤثريت د مسلمانانو په زړونو كې كم كړي، چې په دې لړ كې يې په نيږدې ماضي كې لاندې اقدامات ترسره كړي دي:

د اروپا (استشراقي) مراكزو په تېرو اتو پېړيو كې نه ستړې كېدونكې هڅې كړي چې قرآن كريم يو مشكوك كتاب وښيي، او د دې پرځای چې هغه د الله‌ﷻ له لوري نازل شوی كتاب وګڼي تل يې كوښښ كړی چې هغه د محمد ﷺ له لوري يو تأليف شوی كتاب معرفي كړي، چې په دې ترتيب قرآن كريم دالله تعالى له لوري (وحې) نه، بلكې د بشر په لاس جوړ شوی كتاب معرفي كړي.

صليبي غرب د قرآن كريم په خلاف يوازې په منفي تبليغاتو بسنه نه ده كړې، بلكې د(حقيقی قرآن) په نامه يې له كفر، فسق، ګمراهيو او شر څخه ډك كتاب هم وليكه،او په ټوله دنيا كې يې د انټرنيټ له لارې خپور كړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صليبي غرب د اسلام د ستر پيغمبرﷺ د شخصيت او رسالت په خلاف هم پراخ تأليفات او تبليغات وکړل، چې وروستۍ کړۍ يې د ډنمارک دمطبوعاتو او بيا وروسته د نورو اروپايي هېوادونو له لوري د رسول الله ﷺ په خلاف د کارټونونو د جوړولو عمل وو چې ټولې اروپايي ټولنې هغه خپله مشترك عمل وباله، او په شريکه يې له هغه څخه د بيان د آزادۍ تر عنوان لاندې دفاع وکړه. نه يې له اسلامي نړۍ ښښنه وغوښته، او نه يې له دغه ګرغېړن کار څخه لاس واخيست.

صليبي اروپا له اسلام سره د خپلې دښمنۍ په لړ کې د اسلامي حجاب د قضيې په اړه هم سخت دريځ غوره کړ، او د خپلو ټولو ډيموکراټيکو دعوو له لرلو سره سره يې په ټوله اروپا کې يوازې د مسلمانې مېرمنې پړونی (حجاب) ونه زغملی شو، بلکې له هغه څخه يې دومره وېره وښوده چې د فرانسې او جرمني په څېر دولتونو په دولتي سطحه د پړوني په خلاف موقف ونيوه، او هغه يې د اروپا د اسلامي کولو استازی وباله.

همدارنګه امريکايانو هم نه يوازې د اسلام په خلاف خپلې جګړې ته د (صليبي جګړې) نوم ورکړ، بلکې د نيويارك په ښار کې يې د (کعبې شريفې) په ډول او رنګ يوه لويه شرابخانه هم جوړه کړه، او د (مکه) نوم يې ورباندې کېښود، تر څو په دې ډول د مسلمانانو د قبلې او د زمکې پرمخ د تر ټولو سپيڅلي ځای سپکاوی هم وکړي.

د صليبي اروپا د اسلام دښمنه اقداماتو په لړ کې تر ټولو وروستی اقدام په اروپا کې د مساجدو پر (منارو) د بنديز د لګولو غوښتنه ده چې په ۲۰۰۹ / ۱۱ / ۲۹ تاريخ د (سويس) د هېواد د مسيحي ښي اړخي ګوند په غوښتنه د دغه هېواد حکومت په ټول (سويس) کې يوه ټولپوښتنه (ريفرنډم) اجرا کړه، چې په نتيجه کې يې د دغه هېواد اکثريت خلکو په مساجدو کې د (منارونو) پر جوړولو د بنديز ملاتړ وکړ. د (سويس) خلکو (منارې) د (سويس) د اسلامي کولو هڅه او د مسلمانانو د قدرت نښې وبللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په (سویس) کې د ټولپوښتنې په تعقیب یوه ورځ وروسته د(هالنډ) د هېواد د مسیحي ښي لاسي د آزادۍ د ګوند له لوري په دغه هېواد کې هم پر (منارو) د بندیز غوښتنه وشوه.

دغه اقدامات ټول د دې څرګندونه کوي چې د غرب په رګونو کې همدا اوس هم د (صلیبیت) وینه چلېږي، او د دې زغم نه لري چې په خپلو هېوادونو کې د اسلام نښي ووېني. غرب هلته له میشتو په لکونو مسخه شوو مسلمانانو وېره نه لري، ځکه چې هغوئ یې په خپل رنګ کې رنګ کړي دي، خو د مساجدو له څو (منارونو) چې د اسلام د عظمت او لوړوالي نښې دي سخته وېره لري.

صلیبي غرب که له یوې خوا له اسلامي شعایرو او نښو وېره لري او مخنیوی یې کوي نو له بلې خوا بیا هڅه کوي چې د (صلیب) او (صلیبیت) نښې په ټوله دنیا کې خپرې کړي. د (صلیب) نښې ته د معاصرې اروپا لوی درناوی له دې هم معلومېږي چې د ډېرو اروپایي هېوادونو پر ملي بیرغ د (صلیب) نښه په بېلابېلو شکلونو لګېدلې ده. په عراق او افغانستان کې غربي فوځیان په خپلو مراکزو او کمپونو د (صلیب) نښې پورته کړې،او د عراق د(فلوجه) دښار د تسخیرولو لپاره چې کوم امریکایي ټانګونه ورروان ول د ډېرو ټانګونو په میلونو پورې یې غټ غټ صلیبونه ځوړند وو.

د دې لپاره چې په اسلامي نړۍ کې هم صلیبیانو د (صلیب) نښه په پراخه پیمانه خپره کړې وي صلیبي جهتونه او صلیبي کمپنۍ د اسلامي نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د ټوکرانو د اوبدلو فابریکو ته درانه رشوتونه ورکوي چې د صلیب نښه (✝) مختلفو شکلونو کې په ټوکرانو، بنیانونو او جاکټونو کې په بېلابېل ډول ډیزاین کړي ترڅو هر مسلمان د (صلیب) له نښو ډکې جامې واغوندي. دغه کار مخکې په ځینې عربي هېوادونو کې ترسره کېده، او اوس په پاکستان کې چې افغانستان ته هم ټوکران جوړوي ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پام وړ بله خبره دا ده چې د (صلیب) نښې اکثره په هغو ټوکرانو او رنګونو کې ډیزاینوي چې ځوانان یې ډېر خوښوي،او دا کار د دې لپاره کېږي چې د ځوانانو او تنکیو زلمیانو په منځ کې د (صلیب) نښې په پراخه پیمانه خپرې شي او له لیدلو سره یې د هغوئ په زړونو کې هېڅ حساسیت پاتې نه شي.

په اروپا کې د مساجدو له (منارو) سره په لویه پیمانه د اروپایانو مخالفت او د هغو نه زغمل په اسلامي نړۍ کې د (مسلمان ډوله) سیکولرو مرتدانو پر مخ یوه بله څپېړه ده. هغه سیکولر چې په ډېرې سپین سترګۍ مسلمانان د اروپایانو پیروۍ او له هغوئ سره د ژوند لپاره د یو ډول معیارونو خپلولو ته وربولې.او دا په داسې حال کې چې اروپایان په ټوله اروپا کې د اسلامي شعایرو د لیدلو زغم نه لري خو د هغوئ (سیکولر) ملګري په اسلامي نړۍ کې مسلمانان د اروپایانو د ژوندبڼې او فلسفې خپلولو ته تشویقوي.

اوس خبره دا ده چې ریښتني مسلمانان باید د صلیبي غرب او په اسلامي نړۍ کې د غرب پلوو سیکولرو مرتدو حکامو په مقابل کې څه ډول دریځ غوره کړي؟آیا نور هم د هغوئ په مقابل کې چوپه خوله پاتې شي، او آرام کښیني؟ او که د صلیبي غرب له حاکمیت، سیاسی، فکري، اقتصادي او پوځي تأثیراتو څخه د خلاصون لپاره په ټوله اسلامي نړۍ کې د صلیبیانو او د هغوئ د ملګرو په خلاف د یوه انقلابي جهادي پاڅون لاره غوره کړي ترڅو اسلامي هېوادونه د هغوئ له ناروا او ظالمانه تسلط څخه خلاص کړي؟

له ۲۰۰۱ م کال څخه را پدیخوا په نړیواله سطحه د پېښو بهیر دا ښیي چې د اسلامي نړۍ او صلیبي غرب لارې په ټولیز ډول یو له بله په جلا کېدو دي. غربیان او په اسلامي نړۍ کې د هغوئ مرتد ملګري به یوه لاره نیسي، او مسلمان ولسونه به د انقلابي جهادي قیادتونو تر مشرۍ لاندې یوه بله لاره نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمان ولسونه نور پدې پوهېدلي دي چې غرب پلوي (سيکولر) حکّام نور نه د دوئ د قيادت حق لري او نه يې هم ورته‌يا. نور بايد هغوئ په زور د قيادت او حاکميت له منصبه لرې کړای شي، او پرځاې يې داسې ځوک د مسلمانو ولسونو د اداره کولو چارې سمبال کړي چې هم په اسلام پوهېږي، هم اسلام مني، هم ورڅخه دفاع کوي، هم يې د دښمنانو سياسي، فکري، عقيدوي او عسکري هويت پېژني، او هم په نړيواله سطحه د دې وړتيا لري چې د نړۍ له نورو ولسونو سره د بالمثل معاملې لاره خپله کړي.

مسلمانانو ته په دې لړ کې په کار ده چې په اسلامي نړۍ کې د (صليب) او (صليبيت) په خلاف هماغه ډول متقابل دريځ غوره کړي کوم چې صليبي غرب د اسلام په مقابل کې غوره کړی دی.

او که داسې نه شي نو بيا به صليبي غرب په هر ځاې کې د اسلام شعائر تر پښو لاندې کوي، خو مونږ به يې په مقابل کې هغوئ ته خپلې غېږې خلاصې کړې وي،او هغوئ به راباندې خپل افکار، نظريات او نظامونه تحميلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غولوونکي اصطلاحات

کفار د تل لپاره کوښښ کوي چې د اسلام په خلاف په جګړه کې د تورې او ټوپك تر څنګ په خپل سیاسي او فکري فرهنګ کې یو څه داسې غولوونکي اصطلاحات هم رائج کړي چې د هغو تر شا خپل د اسلام دښمنۍ اهداف پټ کړي او هغو ته په رواج ورکولو د کفارو په خلاف د مسلمانانو د کرکې او نفرت څپاند عواطف ساړه کړې، او په دغو درواغجنو او غولوونکو اصطلاحاتو مسلمانان د جهاد او مبارزې له لارې منحرف او فکري قناعتونه یې وربدل کړي.

پدې لړ کې د (نړیوالې ټولنې)(International Community) د (نړیوالو قواوو) (International Forces) او (نړیوال قانون)، (International Law) اصطلاح ګانې هم دي.

د نړیوال ټکی په لغوي لحاظ دا مفهوم افاده کوي چې هر څه او یا هر تصمیم او تړون چې نړیوال ګڼلی کېږي په هغو کې باید د نړۍ ټول ملتونه شریك وي، رأیه دې یې په هغو کې دخیله وي، حقوق دې یې ورکې په اصولي شکل مساوي وي، او د نړۍ ټول ملتونه دې په هغه کې برابر حیثیت ولري. هېڅ اقدام دې هم داسې نه کېږي چې تر څو د هغه په هلکه د ټولو هېوادونو او ملتونو نظر نه وي پوښتل شوی. د مثال په ډول د کوم تصمیم په نیولو او یا د کوم اقدام په کولو کې چې امریکا ، روسیه، چین، برتانیا او فرانسې ته کوم حق ورکول کېږی هماغه حق دې مالدیف، مالي، روندا ، یمن، لبنان، موریتانیا او افغانستان ته هم حاصل وي.

همدارنګه د قوانینو، لوائحو، او دستاتیرو په وضع کې چې څنګه د غرب لپاره د صلیبیت، صهیونیزیم، ډیموکراسۍ او لبرالیزم نظریات مراعات

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، همداسې باید د اسلامي نړۍ لپاره د اسلام دین او شریعت هم د هغو په وضع او تصویب کې مراعات شي.

خو په عمل کې دغه د (نړیوال) اصطلاح یوه درواغجنه او غولوونکې اصطلاح ده چې کفري زورو هېوادونه یې د خپلو مقاصدو د تحقق او خپلو اقداماتو ته د جواز ورکولو لپاره کاروي.

افغانستان ته راغلي بهرني یرغلگر او استعماري مؤسسې هم ځان ته (نړیواله ټولنه) وایې، او دلته یې خپل وجود چې د بمونو او مسلحو پوځونو په زور تثبیت کړی د (نړیوالې ټولنې) په وجود تعبیروي، او هم غربي صلیبي قواوو ته چې په زور، تهدید، تطمیع او کرایه یې د څو نورو کمزورو هېوادونو خلک هم له ځانه سره ملگري کړي دی د (نړیوالو قواوو) نوم ورکوي، پداسې حال کې چې د امریکا جمهور رئېس (جورج ډبلیو بوش) د افغانستان د نیولو په پیل کې ټولې نړۍ ته د تهدید دا اعلان کړ ی وو چې یا به د ده ملگرتیا کوي، او یا به یې له دښمنو سره یو ځای کېږي. دریمې نظریې او موقف ته ورکې هېڅ ځای نه لیدل کېده.

د (نړیوالو قواو) معنی خو دا ده چې په هغو کې به د نړۍ د ټولو هېوادونو قواوې د متساوي صلاحیت پر بنسټ د داسې یوې ادارې تر قیادت لاندې راټولې شوې وي چې د یو خاص هېواد تر تاثیر او کنټرول لاندې به نه وي، او دغه قواوي به د نړۍ د هېوادونو تر منځ سوله ییزې چارې پرمخ بیایې، نه دا چې کمزوري هېوادونه دې د عسکری قوت په واسطه اشغال کړي، پر هغوئ دې جنگ مسلط کړي، په لکونو خلک دې یې ور ووژني، ولسونه دې له خپل واك او اختیار څخه محروم کړي، د هیواد د سیاسي، نظامي، امنیتي، اقتصادي، فرهنگي او تعلیمي چارو واك او اختیار دې یې په خپل انحصار کې ونیسي، هېڅ قانون دې نه مني، او هېڅ جهت دې که هغه ملي وي او که بین المللي هغوئ نشي محاکمه کولی، او له دې هر څه سره دې یې بیا هم نوم (د امنیت ساتنې نړیوالې قواوې) وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه (نړيوال قانون) هم د هغو لوائحو، ضوابطو او طرزالعملونو مجموعه ده چې د نړۍ د زورورو هېوادونو د فرمايشاتو پر اساس د هغوئ د بين المللي مصالحو د تحقق لپاره جوړه شوې ده. د دغو قوانينو په وضع کې نه مسلمانان پوښتل شوي، او نه هم د اسلام دين ته ورکښې پاملرنه شوې ده. بلکې ټول احکام او لوائح يې د لبراليزم، غربي پانګه وال نظام او يا له دين څخه د منکر کمونيزم له فلسفې څخه راخيستل شوي دي، او د دنيا د نورو کمزورو هېوادونو تر څنګ په نړۍ کې تقريبا يو نيم مليارد مسلمانان د هغو پر منلو مجبور کړل شوي دي، پرته له دې چې د دوئ د دين او عقيدې څه رعايت دې ورکې شوی وي.

دا چې مخکې غربي هېوادونو او روسيې اسلامي هېوادونه په يوازې يوازې ځان اشغال کړی ول او په لسګونو کلونه بې هغه تر خپل پوځي استعمار لاندې ساتلي ول، خو بيا هم خلك د اشغالګرو په خلاف په هر ځای کې راپورته شول او هغوئ يې له اسلامي هېوادونو څخه تېښتې ته اړ کړل. دا ځل د دې پر ځای چې استعماري هېوادونه بيا په يوازې يوازې ډول بېلابېل مسلمان هېوادونه اشغال کړي او پر ملتونو يې خپله اراده په زوره ورتحميل کړي او بيا د خلکو د کرکې وړ وګرځي نو دا ځل يې په اجتماعی ډول د کمزورو هېوادونو او مسلمانانو په خلاف اقدامات پيل کړی دي، او پر هغو ادارو مؤسساتو، پوځونو او قوانينو چې دوئ يې د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ايجاد وي د (نړيوالو ادارو، نړيوالو مؤسساتو، نړيوالو قواوو، او نړيوالو قوانينو) نومونه ږدي. پداسې حال کې چې نړيوال له دغو بې رحمه او ظالمانه اقداماتو څخه بېزاره دي، او د خپلې تباهۍ اصلي عوامل يې بولي.

دې هر څه ته د (نړيوال) نوم د دې لپاره ورکول کېږی تر څو خلك تېرباسي، او دا قناعت ورکړي چې دغه ډول ادارې او اقدامات يوازې په زورواکو هېوادونو پورې اړه نه لري، بلکې دا د ټولې نړۍ د ولسونو، هېوادونو او دينونو غوښتنه ده، او خلك يې بايد په سره سينه ومني، او په مقابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هېڅ حساسيت ونه ښيي. خو حقيقت دا دی چې (نړيواله ټولنه) د کفري هېوادونو د ټولنې او (نړيوالې قواوی) د کفري اشغالګرو قواو او (نړيوال قوانين) د کفري قوانينو نومونه دي که څه هم چې دوئ يې په درواغو ټولې نړۍ ته منسوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريکا له افغانستانه وځي که د خپلې جګړې شکل بدلوي؟

پدې کې نور شک ندی پاتې چې امريکا په افغانستان کې په پوځي ډګر کې ماتې خوړلې او له دې خاورې به خپل پوځونه باسي. خو يو بل حقيقت هم د هېرولو ندی، او هغه دا چې په تېره يوه پېړۍ کې چې د غربيانو لخوا ځومره اسلامي هېوادونه اشغال شوي او بيا په ظاهره بېرته ترې آزادشوي دي د هغو په يوه کې هم بيا اسلامي نظام ندی قائم شوی. او دا ځکه چې غربيانو هلته داسې خلك پر ځای پرې ايښي وي چې هغوئ تر اصلي غربيانو ډېر (غربيان) او د اسلامي شريعت د پلي کېدلو سرسخته مخالفين وي، او په هېڅ ډول نه پرېږدي چې اسلام دې بيا په دغو هېوادونو کې حاکم شي.

د دغو هېوادونو اوسنی سياسي، اجتماعي او نظامي وضعيت دا ښيي چې غربيانو دغه هېوادونه پرې ايښي نه دي، بلکې يوازې يې هلته د خپل حضور شکل بدل کړی او لنډمهالې پوځي جګړې يې په دائمي سياسي، فکري او بالواسطه نظامي تسخير اړولې دي.

غرب په افغانستان کې هم د همدې تجربې تکرارول غواړي، او د همدې کار لپاره يې پراخه تياری نيولی دی. خو د افغاني مجاهدينو مشکل دا وي چې له دښمن سره يې په مقابله کې توجه يوازې د پوځي جګړې لوري ته وي، او له پوځي جګړې د وروسته مرحلې او د دښمن د ناپوځي جګړې د مقابلې لپاره يې تياری او تدابير نه وي. نو ځکه خو تقريبا هر ځل تر آزادۍ وروسته داسې يو دولت او نظام منځته راشي چې د جهاد اهداف او د ملت ارمانونه ورکې نه وي تمثيل شوي.

داسې ښکاري چې اوس امريکا هم د لاندې عواملو له امله له افغانستانه خپل پوځيان وباسي، خو خپله جګړه دلته په پوځي او ناپوځي دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکلونو کې دوامداره پرېښودل غواړي چې د امريکا ملګري به يې پرمخ بيايي، او قومانده او تمويل به غرب يې پر غاړه اخلي. او دا کار به ځکه کوي چې امريکا پدې سيمه کې د اوږدې مودې اهداف لري، او هغه اهداف يې د مستقيم اشغال په شکل کې حاصل نه شول.

امريکا ولې خپل پوځونه باسي؟

امريکا د لاندې دلائلو له امله خپل پوځونه د جګړې له ميدانه وباسي:

١- امريکايي پوځ دلته خپله جګړه بايللې ده، او د جګړې په ډګر کې يې نور پاتې کېدل د دې سبب ګرځي چې امريکايي پوځ او امريکايي جنګي ټکنالوژي په نړۍ کې خپل ګټلی هيبت او برلاسی له لاسه ورکړي، چې پدې کار سره به امريکا په نړۍ کې د خپل پوځي تفوق له امتياز څخه د تل لپاره محرومېږي.

٢- امريکا غوښتل د جنګ له لارې افغانستان او عراق تسخير کړي، او بيا دمنځنۍ آسيا او منځني ختيځ د نفتو پر دولت داسې صنعتي او تجارتي کنټرول حاصل کړي چې د ټولې نړۍ خلك د تېلو په اخيستلو کې امريکا ته محتاج او د هغې د شرطونو منونکي وي، او د تېلو پر منابعو د تسلط له لارې روسيه، چين، اروپا او نوره نړۍ تر خپل فشار لاندې ونيسي.

امريکا د افغانستان او عراق او بيا وروسته د ايران نيول ځکه شوني ګڼلي ول چې د امريکا په مقابل کې هېڅوك له دغو دولتونو سره نه درېدل، او نه يې د دوئ لپاره د يوازيني زبرځواك (امريکا) دښمني پرغاړه اخيسته.

خو اوس چې په افغانستان او عراق دواړو کې د امريکا دغه ستر پلان د يوې نامتوقع جګړې او د مجاهدينو د نه ستومانه کېدونکي جهاد په نتيجه کې له ماتې سره مخ شو نو امريکا نور پر دې پلان اضافي مصرف نه کوي، او همدا علت ؤ چې عراق يې پرېښود، د افغانستان د حکومت پوځ ته يې درنې وسلې، ټانګونه، هوايي قواوې او هوايي مدافع وسلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسائل ورنه کړل. بلکې د دې نظام د بقا لپاره یې هیڅ مالي تضمین ته هم زړه ښه نه کړ.

دا چې امریکا نور خپلو اقتصادي اهدافو ته د اوس لپاره د جګړې له لارې نه رسیږي نو ځکه خو نور په افغانستان کې نه پوځي او نه هم ملکي ادارې تقویه کوي.

۳ – د امریکا دواړو ګوندونو جمهوریت پلوو او دیموکراتانو دواړو په افغانستان کې د امریکا جګړه روانه وساتله او د امریکایي ولس له مالیاتو څخه یې ښه ډېر ډالر پر دې جګړه ولګول خو اوس دغه دواړه ګوندونه له دې جګړې څخه داسې څه په لاس کې نه لري چې امریکایي ولس ته یې د دیارلس کلنې جګړې د درنو مصاریفو د لاسته راوړنې په حیث وړاندې کړي.

هغه مقاصد او مبررات چې دې دواړو ګوندونو د دې جګړې لپاره لرل یو یې هم تر سره نه شول، د مثال په ډول :

نه په افغانستان کی غربي ډیموکراسي حاکمه شوه.

نه په دې وطن کې یو مستحکم غرب پلوی حکومت جوړ شو.

نه د افغانستان له لارې له منځنۍ آسیا څخه د هند سمندر ته هغه د تېلو پایپ لاین تېر شو چې ټول غرب ورته په بې صبرۍ انتظار باسي.

نه طالبان له منځه لاړل، نه یې نظریه ختمه شوه، او نه یې پوځي او بشري ځواك كمزوری شو.

القاعده هم ختمه نه شوه، بلکې د رهبر له شهادته وروسته یې په عراق، یمن، مصر، تونس، لیبیا ، الجزائر، صومال، مالي، سوریه، پاکستان او نورو هېوادونو کې نوره هم زوروره شوه، او د مجاهدینو شمېر یې له سلګونو څخه سلګونو زرو ته ورسېد، پراخې سیمې او ښه ډېر پوځي وسائل او مادي امکانیات په لاس ورغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د چین، روسیې او ایران د مهارولو ارمان یې هم ترسره نشو. نو ځکه خو اوس امریکایي رهبران خپل ولس ته د دې جګړې د دوادم لپاره هېڅ دلیل نه لري.

۴ – امریکا که په تېرې پېړۍ کې پر خپلو او د خپلو ملګرو پر جګړو درانه مصاریف کول نو په هغه وخت کې یې یوستر هدف درلود، او هغه د شوروي اتحاد د پراختیا غوښتنې مخنیوی وو چې باید په هر قیمت تر سره شوی وای. خو نن امریکا د داسې چا په مقابل کې پر جګړه درانه مصارف کوي چې اصلاً نه د پراختیا غوښتنې اجنډا لري، او نه هم د دې کار لپاره د شوروي اتحاد په څېر پوځي او مالي توانایي لري. نو ځکه خو امریکا نور نه غواړي خپل پوځ او ولس د داسې چا په خلاف په اوږدې جګړې کې مصروف وساتي چې د اروپا او امریکا لپاره کوم خطر نشي پېښولی.

۵– د افغانستان هغه اداره چې امریکا وربان‌دې مصرف کوي په فساد کې دومره غرقه ده چې په هېڅ صورت نشي کولی د اوږدې مودې لپاره خپله بقا تضمین کړي. هغه حکومت چې پخپله هره ورځ د ویجاړېدلو او داخلي اختلافاتو پر لور روان وي او خپل ځان نشي ساتلی نو امریکا ته به څه اقتصادي، سیاسي او پوځي خدمت ترسره کړي؟

د همدغو او نورو عواملو له امله امریکا غواړي خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسي، او نور پر یوې لاحاصله او بایللې جګړې د خپل هغه ولس مال ونه لګوي چې لا له وړاندې له اقتصادی رکود او مالي بحران سره مخ دی. نو ځکه خو امریکایان فکر کوي چې د دې جګړې دوام به امریکا د شوروي اتحاد له سرنوشت سره مخ کړي.

امریکا نور د دې جګړې اقتصادي توان نه لري، که طالبان جګړه وکړي او که یې ونه کړي امریکا به خپل پوځونه له دې خاورې وباسي.

خو دیوې مودې لپاره بنایي امریکا دکابل د ادارې پر اردو یو څه نور مصرف هم وکړي، خو دا چې امریکایان دې نتیجې رسېدلي چې دغه اردو یوه بیسواده، بې تخصصه، بې انګېزې او تر ډېره حده پر قومي ګرایشاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړه اردو ده، او د ملياردونو ډالرو په مصرف هم د مسلکي توب پر لاره روانه نشوه، نو ځکه خو هغوئ اوس پر دې اردو د ډېرو مصاريفو کول د خپل مال ضائع کېدل بولي، او هڅه کوي د اردو په نسبت هغو مليشو او اربکيو ته خپل پام ورواړوي چې د ډېرو لږو پيسو په بدل کې په آني ډول د دوئ د مقاصدو د تحقق لپاره د هر ډول جناياتو ترسره کولو ته زړه ښه کوي.
دغه مليشې نه باسواده کولو ته ضرورت لري، نه ټکنالوژي کاروي، نه د پوځي دسپلين په مراعات کولو مکلف دي، او نه هم د اردو په څېر درنو مصاريفو او پوځي تسهيلاتو ته ضرورت لري.
له بل لوري همدغه اربکيان په بېلابېلو ځايونو کې د سياسي، تنظيمي او قومي جهتونو له لوري د امريکايانو په اختيار کې ورکول کېږي چې هم وربانديې سمدستي د امريکايانو توجه ځانته وراړوي، او هم به له دغو ملېشو څخه د سبا ورځې لپاره د خپل محلي مسلح ځواك په حيث استفاده وکړي، او خپل مصالح به ورباندې حمايه کړي.
امريکايان ښايي د کابل په اداره کې د مطرحو جهتونو په ملاتړ د اربکيو پروژه په راتلونکي کې نوره هم د يوې مودې لپاره په تېزۍ وغځوي، ترڅو دهغوئ د وحشيانه فعاليتونو او له هغوئ څخه د مقابل لوري د انتقام اخيستونکو د عکس العملونو له لارې جنګ په افغاني ټولنه کې ښه خپور کړي، او پدې ډول له خپلو وتلو وروسته افغاني ټولنه له استقرار څخه نوره هم محرومه او په داخلي جګړو کې ښکېل پرېږدي.

امريکا ولې په افغانستان کې په محلي ډول جګړه دوامداره ساتي؟

امريکا د لاندې دلائلو له مخې په افغانستان کې د طالبانو په مقابل کې د افغانانو په لاس جګړه دوامداره ساتل غواړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – د دې لپاره چې په افغانستان کې بيا يو اسلامي حکومت جوړ او شريعت تطبيق نشي:

د طالبانو د حکومت په وخت کې افغانستان د زمکې پرمخ يوازينی دولت وو چې شريعت ورکې تطبيق شوی وو، او په سياسي او تقنيني لحاظ د غرب پر معيارونو روان نه وو.

همدا اوس هم په ټوله دنيا کې يو دولت او نظام داسې نشته چې په سياسي، نظامي، اقتصادي او تقنيني لحاظ دې د غرب پر معيارونو نه چلېږي.

طالبان چې خپل سياست، نظام، اقتصاد، قوانين او د ټولنې د تنظيمولو لپاره هر څه د اسلام مطابق غواړي، او پدې لاره کې له چا سره جوړ جاړی نه کوي، نو طبيعي ده چې غرب به يې په خلاف جګړه روانه ساتي، تر څو ونه کولی شي استقرار پيدا کړي، او داسې يو نظام جوړ کړي چې د نړيوالو پر کفري معيارونو نه بلکې د اسلام پر معيارونو ولاړ وي.

که چېري دغه ډول يو نظام رامنځته کېږي، نو هغه به په اسلامي نړۍ کې د نورو مسلمانانو لپاره چې همدا اوس هم له خپلو سيکولرو حکومتونو په تنګ دي د يوې نمونې او ماډل حيثيت ولري، او دا به هم خلکو ته ورتلقين کړي چې د ريښتني بدلون يوازينۍ لار رښتيا هم يوازې جهاد دی او بس. غرب په هېڅ ډول نه پرېږدي چې دغه ډول يو مثال او ماډل دې په نړۍ کې قائم شي.

۲ – د دې لپاره چې د امريکا لخوا رامنځته شوی وضعيت او د هغې لاسته راوړنې دلته دوام وکړي:

امريکا په تېرو دريو لسيزيو کې او په خاص ډول د افغانستان تر اشغالولو وروسته پر ځينې افغانانو ډېر مصاريف کړي چې په نتيجه کې اوسنی سياسي، نظامي او فکري وضعيت رامنځته شوی دی. امريکا او ملګرو يې دلته په لسګونو سياسي احزاب جوړ کړي او داسي يو اساسي قانون يې جوړ کړی چې د غرب لپاره تر هر څه مهم دی، او د هر ډول مذاکراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره د هغه منل او په هغه کې تغيير نه راوستل اساسي شرط ګڼي، ځکه چې په هغه کې د غرب ټولې غوښتنې او ارمانونه نغښتل شوي دي.
امريکا دلته سياسي او پوځي جوړښتونه جوړ کړي دي او په زرګونو خپل پلويان يې په هغو کې ځای پرځای کړي دي. همدارنګه يې په سلګونو سياسي او مدني ټولنې، مؤسسې او تشکيلات رامنځته کړي دي. په لسګونو راډيويي او تلويزوني سټېشنونه يې جوړ کړي، او په سلګونو چاپي مطبوعات يې رامنځته کړي دي چې د غرب او د هغه د ملګرو په ګټه د خلکو ذهن سازی او د غرب د لنډمهالو او اوږدمهالو پلانو د تطبيق لپاره زمينه سازی کوي.
همدارنګه امريکا دلته داسې تعليمي نصاب او نظام جوړ کړی چې راتلونکی نسل په هغه ډول تربيه کړي چې غرب يې غواړي.
امريکا او نورو غربي هېوادونو دلته د پوځي، مسلکي او عمومي زده کړو لپاره په لسګونو د لوړو زده کړو مؤسسې، پوهنتونونه، اکاډمۍ او نورې ادارې جوړې کړې دي چې دوئ يې فارغان په افغانستان کې خپل ملګري ګڼي.
امريکاپه تېرو ديارلسو کلونو کې د زرګونو مؤسسو له لارې هڅه وکړه د افغاني ټولنې ديني، فکري، اخلاقي او اجتماعي جوړښتونه تبديل کړي، او افغاني ټولنه د غربي اجتماعي او اخلاقي معيارونو مطابق تنظيم کړي.
امريکا د افغانستان د اقتصادي چارو يوه زياته برخه د خصوصي سکتور په نامه داسې اشخاصو او کمپنيو ته ورسپارلې چې هغوئ د غربيانو خپل خلك دي، اوغواړي چې افغانستان په داسې يو اقتصادي حالت کې وساتي چې په هرڅه کې غرب ته محتاج او د هغه په بانکي او تجارتي لومو کې راګير وي.
۳ – د دې لپاره چې افغانستان له غرب سره په امنيتي، استراتيژيکو، سياسي، تعليمي او فرهنګي تړونونو پورې تړلی وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په راتلونکي کې يې له هر چا سره هر ډول تعامل د دوئ ترکنټرول لاندې پاتې شي.

۴ـ د دې لپاره چې طالبان له نامنظمو چريکي مجاهدينو څخه په يو منظم ايډيالوژيك عسکري ځواك بدل نشي.

چې بيا به دغرب مصالحو ته په سيمه کې لوى تهديد وي.

امريکا په افغانستان کې د خپلې جګړې شکل ته تغيير ورکوي

که له يوې خوا امريکايان په خپله له افغانستانه وځي او جګړه افغاني کوي نو له بلې خوا له افغانستانه د دوئ د پوځونو وتل قطعاً پدې معنى ندي چې امريکا به د افغانانو او مجاهدينو په خلاف خپله جګړه دروي. بلکې امريکا په افغانستان کې د خپلې عسکري جګړې د نامؤثريت له امله له هغې تېرېږي او د افغانستان او افغانانو د تسخيرولو لپاره به له سياسي، استخباراتي، اقتصادي فکري، فرهنګي او تعليمي وسائلو څخه د کار په اخيستلو بلې اوږدمهالې جګړې ته دوام ورکوي ترڅو خپل پوځي شکست له ناپوځي لارو جبيره کړي او خپلو هغو اهدافو ته په لږو مصارفو ور ورسېږي چې په پوځي جګړه کې د سلګونو ملياردو ډالرو په مصرف ور ونه رسېدلى شول.

د دې لپاره چې امريکا په راتلونکي کې افغانستان هم د نورو اسلامي هېوادو په څېر په ځان پسې روان کړي، او پدې سيمه کې خپلو سياسي، عسکري او اقتصادي اهدافو ته د بې مقاومته رسېدلو لپاره زمينه سازي وکړي امريکا د پوځي جنګ پر ځاى سياسي فکري، رواني او اقتصادي جنګ ته دوام ورکوي، چې پدې لاره له لاندې وسائلو او اساليبو کار اخلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناپوځي جګړې شکل او وسائل

۱– د غرب ملګري په واک کې ساتل:

امریکا داسې خلك، سیاسي جهتونه، احزاب او ټولنې واك ته رسوي چې امریکا ته به د اوسني حاکم وضعیت د نه بدلولو ضمانت ورکوي، سیکولرزم به د فکر او (عقیدې) او ډیموکراسي به د نظام په حیث مني، او واك ته د رسېدلو یوازینۍ لار به د امریکا په خوښه انتخابات او سیاسي جوړ جاړی ګڼي.

دغه خلك به د (ډیموکرات اسلام) یا(امریکایي اسلام) پلویان وي، د جهاد، ولاء او براء او د امت د عملي وحدت پر مفاهیمو او نظریاتو به باور نه لري. په سیاسي پلورالیزم، وطنیت او د نړۍ له کفارو سره د یوه مشترك نړیوال نظام په چوکاټ کې ګوزاره کوي. د اسلام د اقتصادي نظام پر ځای به د کاپیټالیزم پر اقتصادي نظام چلېږي، او د (ګلوبلایزیشن) په نامه د امریکا د نړیوال برلاسي په مقابل کې به د اسلام پر فکر او عقیده ولاړ موقف نه لري.

دغه خلك به غرب ته دا ضمانت ورکوي چې اسلامي شریعت به نه تطبیقوي، بلکې یوازې په یو څو ظاهري شکلیاتو به د خلکو د تېر اېستلو هڅې کوي. له امریکا، ملګرو ملتو، ناټو، نړیوال بانك او په مجموع کې د دوئ په اصطلاح له نړیوالې ټولنې سره به خپلو التزاماتو ته وفادار وي، ترڅو یې هغوئ په رسمیت وپېژني او ملاتړ او مرسته یې وکړي.

امریکا به هڅه وکړی دغو خلکو ته د چارو واګې د دې لپاره وروسپاري چې دلته د امریکا د خوښې مطابق حکمرانې وکړي، له امریکا سره امنیتي تړون امضاء کړي، د مجاهدینو په خلاف جګړې ته ژمن پاتې شي، د امریکا د اشغال د تېرو دیارلسو کلونو سیاسي او فکري لاسته راوړنې لکه ډیموکراسي، سیکولریزم، د ښځو لپاره غربي ډوله آزادي، غربي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشري حقوق، د شریعت پر ځای د وضعي قوانینو تنفیذ او د غرب لپاره د افغانستان تابعیت وساتي.
دغه خلك باید دیته هم ذهني او عملي تیاری ولري چې که د افغانستان غرب، جنوب او شرق په اوله مرحله کې د مجاهدینو په لاس سقوط وکړي نو دوئ باید دافغانستان په شمال کې د غرب تر حمایې لاندې بله داسې یوه اداره جوړه کړي چې تر ډېره حده به د نشنلزم او سیکولریزم پر بنسټ ولاړه وي، او په منځنۍ اسیا کې به حکومتونه پدې وېروي چې که د دوئ حمایت ونه کړي نو د افغانستان لخوا به هغوئ ته د اسلامي فعالیت د ورغځېدلو خطر ورپېښ شي.

٢- له ناپوځي لارو د طالبانو د کمزوري کولو هڅې:

امریکا له سیاسي او استخباراتي لارو نوره هم هڅه کوي چې هغه خلك او کړۍ د منځلارو طالبانو په حیث رامنځته کړي چې یو وخت یې د خپلو شخصي او یا تنظیمي مصالحو د خوندي کولو لپاره د طالبانو په تحریك کې ځان ځای کړی وو خو وروسته چې د طالبانو قیادت په ټینګه د جهاد او د اسلامي شریعت پر سر له چا سره د نه جوړجاړي لاره ونیوه نو دغو په طالبانو کې ورننوتلو فرصت طلبه سیاسي لوبغاړو خپلې لارې بېلې کړې، او په یوه او بل نامه یې دیرغلګرو تر وزرو لاندې ځانته ځالې جوړې کړې، او یو په بل پسې یې د پردیو له ګریوانونو سرونه راووتل.
امریکا، متحدین یې، د سیمې هېوادونه او ګاونډیان هېڅکله نه غواړي چې په افغانستان کې یو واقعي اسلامي حکومت قائم او په رښتنې معنی شریعت ورکې پلی شي، ځکه چې دا به بیادسیمې د نورو مسلمانانو لپاره چې د غربي ډوله فاسدو سیکولرو نظامونو له فساد او استبداد څخه کړېدلي دي یو ماډل جوړ شي، چې هغوئ به یې هم په خپلو هېوادونو کې د پلي کولو مطالبې او هڅې شروع کړي. نو دوئ ټول به هڅې کوي چې یا رېښتني طالبان د اسلامي حکومت او د شریعت د نافذولو له دعوی څخه تېر او په داسې یوه نظام یې قانع کړي چې یوازې نوم یې اسلامي وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور هر څه ورکې د غرب په خوښه ترسره کېږي. او که رېښتني طالبان پر خپلې تګلارې او (جهادي حل) ټينګار کوي نو په مقابل کې به يې له ښوېېدلو او خرڅو شويو اشخاصو د معتدلو طالبانو په نامه بله سياسي جبهه تشکيلوي چې پخواني (جهادي) او نني (ديموکرات) تنظيمونه، د روحانيت درواغجن مدّعيان، يو څه معتدل سيکولران او د نړۍ او سيمې استخباراتي کړۍ به يې تر څنګ درېږي، او د اوږدې مودې لپاره به هڅه کوي چې رېښتني طالبان او د(جهادی حل) پلويان کمزوري، بدنامه کړي او د جهادي مقاومت په افاديت باندې يې شکمن کړي، ترڅو له دې لارې په افغانستان کې د غربپالنې، سيکولريزم او نيمه مسلمانۍ په مقابل کې مقاوم ځواک کمزوري کړي او له غرب سره يې جوړجاړي ته اړ کړي.

۳– د جهادي فکر او عقيدې په خلاف منفي تبليغات:

امريکا او ملګرو يې په افغانستان کې خپلو پلويانو ته وظيفه ورکړې چې د جهاد او مقاوم فکر په خلاف دومره ډېرې ليکنې او تبليغات وکړي چې د اسلام ستره فريضه (جهاد) خلکو ته د وحشت، جنايت، وراني، اقتصادي ببرته پاتې والي او د تمدن د نه خپلولو په معنی ور معرفی کړي.

د همدې مقصد د حاصلولو لپاره امريکا او ملګري يې په افغانستان کې هغه فکري او فرهنګي اشخاص او جهتونه تمويلوي او وسائل په لاس ورکوي چې په فکري او عملي لحاظ د فساد د مخنيوي په منظور د مسلح جهاد مخالفت کوي.

امريکا د دغو خلکو پراخ مالي او تخنيکي ملاتړ کوي، هغوئ ته مطبوعاتي ادارې، مؤسسات، پوهنتونونه او نورې تعليمي ادارې ورجوړوي ترڅو په پراخه پيمانه په ټولنه کې د غربي افکارو او مفاهيمو د خپرولو لپاره کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴– په افغانانو کې د مقاومت روحيه له منځه وړل:

امريکا او محلي ملګري يې هڅه کوي په افغانانو کې د مقاومت روحيه له منځه يوسي، ځکه چې ترڅو د مقاومت روحيه په افغانانو کې موجوده وي نو د پرديو په مقابل کې به مقاومت هم موجود وي. د مقاومت د روحيې د له منځه وړلوڅپاره امريکايان، اروپايان او د هغوئ محلي ملګري له هرې لارې کوښښ کوي چې ځوان نسل په لوبو، فيشن، موسيقۍ، اخلاقي فساد او د غربي افکارو پر خپلولو مصروف کړي. همدا اوس يې لوبو ته دومره زورور کړی چې د(کرکټ) او (فوټبال) د مسابقو په ورځو کې يې تقريباً ټول افغانستان د ميډيا له لارې د هغو په کتلو مشغول کړی وي. او که په کومه لوبه کې يو څو بيسواده لنډغر، له زده کړو تښتېدلي کوڅه ډبي چې دوئ ورته د ملي اتلانو نوم ورکوي له کومې بلې ډلې لوبه وګټي نو په هغه ورځ يې بيا نيم افغانستان په ګډاوو، ډول او سورنيو، بې بندوباريو او مسرفانه لمانځنو مصروف کړی وي، او ولس ته داسې روحيه ورکوي لکه افغانانو چې له دين او وطن څخه د دفاع کومه ستره معرکه ګټلې وي.

دا هر څه د دې لپاره تر سره کېږي چې ځوانان او نوی نسل له تعليم، جهاد، کار او د اولوياتو له پېژندلو او مراعاتولو څخه په داسې څه مصروف وساتي چې ګټه يې يوازې دښمن ته رسېږي.

د لوبو، موسيقۍاو د ځوانانو او پيغلو ترمنځ د فساد د خپرولو ترڅنګ امريکايان او په افغانستان کې د هغوئ ملګرو مليونونو ځوانانو ته په مخدراتو(شرابو، چرسو، پوډرو) د اخته کېدلو زمينه هم برابره کړې ده. او دا هرڅه داسې په سيستماتيك ډول تر سره کېږي چې په نتيجه کې يې په مليونونو ځوانان د کار او جهاد لپاره د فکري استعداد د له لاسه ورکولو ترڅنګ بدني توانايي هم له لاسه ورکوي.

د افغانانو د تاريخ په هېڅ دور کې دومره ځوانان او نجونې په مخدراتو او له اخلاقي فساد او فحشاوو څخه په راپيدا شويو جسمي او رواني

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرضونو نه ؤ اخته شوي لکه څومره چې د امریکایانو د اشغال په تېرو دیارلسو کلونو کې اخته شول.

د کابل ښار په خپل ټول تاریخ کې دومره پوډریان نه وو لیدلي لکه اوس چې یوازې د کابل د سیند پر غاړو هر چېري پراته وي.

د غرب پلوې مېډیا له لارې د موډ او فیشن خپلولو ته د خلکو او نوي نسل تشویقول د جهاد او مقاومت د روحیي د له منځه وړلو بله وسیله ده چې د رواني لالهاندۍ ترڅنګ یې افغاني ټولنې ته خورا درووند اقتصادي تاوان هم وراړولی دی، او په لکونو خلك یی پدې کار کې یو له بل سره په سیالۍ اچولي دي.

د موډ او فیشن دغه مصرف که په تعلیم او د تخنیك په زده کړه کېدای نو اوس به نوي نسل ډېر څه زده کړي وای.

۵- د تعلیم نظام او نصاب د ټولنې د غربي کولو لپاره د وسیلې په ډول استعمالول:

د هغو ناپوځي وسائلو له جملې څخه چې امریکایې د جګړې په راتلونکې مرحلې کې کاروي یوه هم تعلیم ده. امریکا د افغانانو او افغانستان د تسخیر لپاره په لاندې شکلونو کې له تعلیم څخه کار اخلي:

(**الف**) امریکا په تېرو دیارلسو کلونو کې درې ځلې د افغانستان په تعلیمي نصاب کې بدلون راووست او له نصاب څخه یې د جهاد، دفاع، شهادت، غیرت، ازادۍ، اسلامي نظام، له کفارو څخه د کرکې، د اسلامي امت د یووالي او د دیني تعلیماتو او ساینسي اکتشافاتو تر منځ د ارتباط مفاهیم حذف کړل او پر ځای یې د سولې، دېموکراسۍ، د غربیانو له نظره د بشر د حقوقو، د ښځو د آزادۍ، د ښځو او نارینه وو ترمنځ اختلاط، موسیقۍ، ګډا، د فرهنګ په نامه د زړو افغاني خرافاتي انګیرنو او رواجونو د راژوندي کولو، د غربي ډوله مدني ټولنو د معرفي کولو او رائجولو، د هیومنیزم د فلسفې له مخې ټولو انسانانو ته په یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګه د کتلو، له کفارو سره ديو ډول سياسي، فرهنګي، اخلاقي او ټولنيزو ارزښتونو د خپلولو او د غربي او يا غرب پلوو شخصيتونو د معرفي کولو مفاهيم او مضامين ورځای کړل.
د تأسف ځای لا دا دی چې دا هرڅه يې د داسې خلکو په لاس وکړل چې ځانونه يې د اسلامي فکر مدافعين بلل، او د جهاد او هجرت په محيط کې يې د مهاجرينو او مجاهدينو په خيراتي پيسو ماسټرۍ او دوکتوراوې واخيستې خو په آخر کې له خپل ټول علم او تجربې سره د اشغال د حکومت په ادارو کې د يرغلګرو تر څنګ ودرېدل.
امريکايانو د خپلې خوښې مفاهيم اکثره په ادبي، اجتماعي، تاريخي، فرهنګي او د مدني زده کړو په مضامينو کې ځای پرځای کړي دي، ترڅو په پراخه پيمانه د نوي نسل په ذهن کې ځای ونيسي.
(ب) د امريکايانو له راتللو سره د افغانستان د تعليمي حريم دروازه د هر چا پر مخ خلاصه شوه او هر چا دلته د خپلې خوښې تعليمي ادارې، شخصي مکتبونه، پوهنتونونه، لنډمهالي او اوږدمهالي کورسونه جوړ کړل، او په هغه کې يې خپل خپل نصابونه عملي کړل.
غربي هېوادونه او مؤسسات چې د دغو تعليمي ادارو تر شا ولاړ ول له يوې خوا يې د افغانستان تعليمي نصاب له اسلامي ارزښتونو محروم کړ، او لکه چې د اشغال د ادارې د پوهنې وزير (فاروق وردګ) وايي په نصاب کې يې د شاملو ديني کتابونو د چاپ لپاره پيسې هم ورنه کړې، تر څو نوی نسل د مکتب په نصاب کې هم د ديني کتابونو له شتون څخه محروم شي. او له بلې خوا يې د ټولنې د شتمنې طبقې اولادونه د خپلو افغاني ملګرو په توسط په شخصي تعلميي ادارو کې احتوا کړل، او هلته يې په واردو شويو پرديو نصابونو روزي.
دغه په پرديو نصابونو روزل شوی نسل به هماغه ډول افغانستان هم په راتلونکي کې د پرديو پر لار روانوي لکه څنګه يې چې د اسلامي نړۍ نور هېوادونه روان کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ج) امريکايانو د يوې سنجول شوې توطيې په ترڅ کې د افغانستان په خلکو داسې يو تعليمي نصاب ور تحميل کړ چې د اسلوب، تعليمي مېتود او د معلوماتو د سويې په لحاظ د افغانستان د اوسني جنګ ځپلي معارف د معليمنو او متعلمينو له سويې او وضعيت سره مطابقت نه لري. د دې کار نتيجه دا شوه چې نه موجوده معلمين دغه د پرديو له لوري فرمايشي نصاب په سم ډول تدريسولی شي، او نه هم زده کوونکي له هغه څخه سمه استفاده کولی شي چې پدې ډول يې معارف، معلم، شاګرد او د هغوئ د سرپرستان ټول له يوه ذهني اضطراب سره مخ کړل. او چې د لوړو زده کړو په وزارتونو او نظام کې اداري او اخلاقي فساد هم وسره ملګري شي نو نتيجه يې د(تعليم) پر ځای (تجهيل) راوځي، چې همدغه د غرب اوږد مهاله هدف هم دی. ځکه چې غرب او د اسلام نور دښمنان نه غواړي چې افغانان دې پرمختګ وکړي، بلکې هڅه کوي چې د تل لپاره افغانان ځانته محتاج او له لاس لاندې وساتي.

۶- د معتدل اسلام او منحرف روحانيت له پيروانو کار اخيستل:

معتدل اسلام او غرب پلوي روحانيت دوه نورې هغه خطرناکې وسيلې دي چې امريکا او د هغې متحدين يې په افغانستان کې د رښتنيو مسلمانانو او د غرب په خلاف د جنګېدونکو مجاهدينو په خلاف په سيستماتيك ډول په لاندې شکلونو کاروي:

(الف) غرب د خپلو تحقيقاتي مراکز د څېړنو او د خپلې زوروري مېډيا له لارې هڅه کوي مسلمانان هغه اسلام ته ور وبولي چې غربيانو په خپله ډيزاين کړی او (معتدل اسلام) يې بولي.

غرب د خپل معتدل اسلام لپاره د ځيني سيکولرو هېوادونو لکه (ترکيې)، (اردن)، (مصر)، (تونس) او ځينې نورو غرب پلوه او له حقيقي اسلام څخه د پرديو شويو هېوادونو او تعليمي مراکزو مثالونه وړاندې کوي چې د (الازهر) پوهنتون يې په سرکې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا همدا اوس په افغانستان کې د بېلابېلو سیاسي او دیني مؤسسو له لارې د یوه (بې جهاده)، (بې وسلې)، (بې ځانګړې هویته) او (بې شریعته) اسلام د خپرولو لپاره کار کوي، او د همدې مقصد لپاره یې پدې وروستیو کې د اوقافو وزارت د ۲۰۰۰۰ ملایانو روزنه او په کابل کې د (اعتدال) په نامه د دیني مرکز افتتاح تر سره کړل.

امریکا د دغه ډول لنډمهالو او اوږد مهالو پروژو له لارې غواړي په افغانستان کې د اسلام هغه فهم له منځه یوسي چې د هغه پر اساس افغانان په افغانستان کې د اسلامي نظام قائمول او د غرب په خلاف مقاومت کول غواړي.

(ب) امریکا او نور غربي هېوادونه او مشهور اشخاص په افغانستان کې له هغو تنظیمونو، دیني مراکزو، اصلاحي ټولنو، اسلامي ډوله راډیوګانو او ملایانو سره مرستې کوي چې د جهادي فکر مخالف دي، د(ولاء او براء) پر عقیده باور نه لري، او په افغاني ټولنه کې د (ارجائي فکر) د خپرولو لپاره کار کوي. غرب دغه جهتونه دېته هڅوي چې د غرب په خلاف جنګېدونکو مجاهدینو ته (خوارج)او(تکفیریان) ووایي، او په ډول ډول نورو هغو نومونو یې یاد کړي چې دافغاني ټولنې خلك ورڅخه کرکه کوي.

همدغه خلك چې مجاهدینو ته (تکفیریان) او (خوارج) وایي دوئ بیا له غرب څخه د راواردو شویو فکري فتنو لکه ډیموکراسۍ، سیکولریزم، لبرالیزم، هیومنیزم، نشنلزم، وضعي قوانیونو او فکري ارتداد په هکله نه څه لیکي او نه یې وایي. او دا ځکه چې دوئ په بېلابېلو مجالاتو کې له غرب سره فکري او عملي مشترکات او متبادل مصالح لري. امریکا غواړي د همدوئ په واسطه د افغانانو له زړونو او ذهنونو د (جهاد) او (ولاء او براء) د عقیدې مفاهیم وباسي، او کرار کرار یې د سیاسي پلورالیزم ترڅنګ د دیني پلورالیزم پر لار هم روان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحانيت، معنويت ته توجه، زهد، حسن خلق او ديني ارشاد ټول په اسلام کې مطلوب او مرغوب کارونه دي چې د اسلام علماؤ او مصلحينو تل ترسره کړي دي، او بايد ترسره يې کړي، خو يو څه خلکو بيا دغه صفات او حيثيتونه د اسلامي تاريخ په اوږدو کې په درواغو او په ټولنه کی د دنياوي وجاهت د ترلاسه کولو پخاطر کارولي دي، او پدې ډول يې پر (بې علمه) او (ساده لوحه) سپين زړو خلکو خپل تسلط ساتلی، او د هغوئ شتمنۍ يې د نذرونو، شکرانو او قلنګونو په نامه ورڅخه تروړلي دي، او خپله يې ورباندې مست شاهانه ژوند تېرکړی دی.

دا چې دغه ډول خلکو تل د خوندونو ژوند تېرکړی، نو د خوندونو د نور تداوم لپاره يې له مشبوهو جهتونو، ګمراه حکومتونو، غربي استعمارګرو او په اسلامي هېوادونو کې له سيکولرو احزابو سره هم روابط او ايتلافونه جوړ کړي دي، او استعماري قوتونو هم د بېلابېلو سياسي او مالي هداياوو او رشوتونو په ورکولو د دوئ خدمات حاصل کړي، او د دوئ له نفوذ څخه يې د مسلمانانو په تسخيرولو او له جهاده د هغوئ په منصرف کولو کې کار اخيستی چې مثالونه يې په عربي هېوادونو، شمالي افريقا، سوډان، د هند نيمې وچې او افغانستان کی ډېر ډېر وليدل شول.

همدا اوس چې امريکا د اسلام او مسلمانانو په خلاف يوه لويه جګړه روانه کړې ده، او د مسلمانو هېوادونو رښتيني روحانيين، مجاهدين، علماء، طالبان او با احساسه مسلمان ځوانان د غربي يرغلګرو په خلاف په ټوله اسلامي نړۍ کې په جهاد بوخت دي، په همدغه ډول حالت کې دغه د (کمرشل روحانيت) مدعيان او (سيکولر ډوله پيران) د غرب له صليبي ايتلاف سره ملګري دي، او د غربي لښکرو د صليبي جګړې په تبليغاتي او معنوي ډګر کې د مجاهدينو په خلاف د ديني مليشو په رول کې لوبېږي.

امريکا په تېرو دېرشو کلونو کې ډېر دغه ډول درواغجن او سيکولر روحانيين په افغانستان او سيمه کې د خپلو توطيو د عملي کولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېالل او وېې کارول، او لا نور يې هم د رښتينيو علماؤ، طالبانو مصلحينو او مسلحو مجاهدينو په خلاف کاروي.
په راتلونکې کې د طالبانو تحريك او د دوئ جهادي فکر ته ريښتنی خطر هم د همدغو دوه مخو خلکو له لوري متوجه دی. همدوئ به خلك د طالب پر جهادي مصداقيت شکمن کوي. همدوئ به امريکا او غرب ته د طالب د نرمولو او سولې ته د آماده کولو تمې ورکوي، همدوئ به د نوئ نسل ځوانان د جهاد او جدّيت له افکارو او ژوند څخه خرافاتي عقائدو او له غرب سره پيوند اخيستلو ته تشويقوي، او همدوئ به د جهاد نظريه تحريفوي او ځوانان به د جهاد له جبهاتو او د علم له مدارسو څخه خپلو خرافاتي مراکزو ته وربولي.
که د غربي تحقيقاتي مراکزو لکه د (رنډکارپورېشن) او نور توصيو ته چې امريکا او غرب يې کړي وکتل شي نو وبه ليدل شي چې غربي يرغلګر دغو خلکو ته د خپلو دوستانو او ستراتيژيکو ملګرو په سترګه ګوري، او کوښښ کوي چې د دوئ په وسيله د ريښتيني روحانيت او جهاد د لارې لارويان له خپلې حقې لارې منصرف او منحرف کړي.
دغه خلك په هېڅ وخت کې د طالبانو د تحريك ريښتيني ملګري او خيرخواهان ندي. دوئ پرون هم د خوندونو او منصبونو پخاطر له طالبانو سره ولاړ ول، خو کله چې خوندونه او منصبونه له لاسه و وتل نو سمدستي يې په بېلابېلو نومونو او حيثيتونو د دښمن صف ته ورټوپ کړل. امريکا غواړي يو ځل بيا له همدغې دروازې د طالب په جهادي صف کې رخنه وکړي او له خپلې تګلارې يې واړوي.

۷– د ميډيا له لارې د فکرونو تسخيرول:

امريکا پدې پوهېږي چې د خپلو پوځي وسائلو او جنګي لښکرو له لارې د هر افغان کور ته نشي ورسېدلی چې هلته د هغوئ په فکرونو، عقائدو او د ژوند په بڼه کې تبديلي راولي، او هغه فطري کرکه او کينه يې له زړونو وباسي چې د غرب په خلاف يې لري. خو دغه کار بيا په ډېرې اسانۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېډيا له لارې کولی شي، ځکه چې تقريبا ټول خلك راډيو اوري، تلويزونونه ګوري، د موبايل ټلفونو په واسطه فلمونه او نور تصويري معلومات ويني، او يوه زياته برخه خلك کمپيوټر او انټرنټ هم استعمالوي، او په راتلونکي کې به د دغو وسائلو استعمال نور هم ډېر شي.

همدې اهميت ته په پام سره امريکا او ټول غرب کوښښ کوي چې خپل افکار او نظريات افغانانو ته د برقي وسائلو له لارې ور ورسوي. که د نوري فايبر (کېبلي انټرنټ) پروژه رښتيا هم په ټول افغانستان کې تطبيق شي نو امريکا به له يوې خوا ټول افغانستان په ډېرې آسانۍ تر خپل فکري او فرهنګي تهاجم لاندې ونيسي او نوی نسل به له ديني ارزښتونو څخه پردی کړي، او له بلې خوا به د ټول افغانستان معلومات د همدې نوري فايبر (کيبل) له لارې د دوئ لاس ته ورلوېږي چې دا بيا د لوی خطر خبره ده، ځکه چې افغانستنان دا ظرفيت او ټکنالوژي نه لري چې خپله سايبر سيکورټي (انټرنټي امنيت) تأمين کړي.

امريکا همدا اوس د ۸۱ تلوېزوني او ۱۷۰ راډيويي سټېشنونو په ذريعه د افغاني ټولنې په اجتماعي او اخلاقي ژوند کې دومره منفي بدلون راوستلی چې په تېره يوه پېړۍ کې يې ساری نه ليدل کېږي.

۸ – **د اقليتونو پالل او نشنلستي افکار تقويه کول:**

امريکا د خپل ديارلس کلن اشغال په دور کې په افغانستان کې شيعه او اسماعيلي اقليتونو ته ډېره توجه وکړه، هغوئ يې منظم کړل، مؤسسات او د ښه ژوند وسائل يې ورته مهيا کړل، د افغانستان په اقتصادي او دولتي ادارو يې مسلط کړل، په سياست کې يې د هغوئ تر اصلي حجم زياته برخه او ځای ورته ورکړ، او په فکري لحاظ يې د سيکولريزم او غربپالنې په فکر او په لوړو تحصيلاتو وروزل. امريکا دا هرڅه د دې په بدل کې ورته وکړل چې هغوئ په مطلق ډول د يرغلګرو ترڅنګ ودرېدل، او په قطعي ډول يې د اشغالګرو په خلاف مقاومت ونه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه امريکايانو په افغاني ټولنه کې نشنلستي افکارو ته وده ورکړه، او په تيوريك لحاظ يې د افغانستان د بېلابېلو قومونو باسواده ځوانان او د فکر او قلم خاوندان پدې مصروف کړل چې تر هرڅه زيات بايد نشنلزم (قوم پرستۍ) ته ارزښت ورکړي، که څه هم چې د اسلامي عقيدې او احکامو سره په تصادم کې هم واقع شي.

دا چې نشنلزم يوه غربي مفکوره او نشنلستان په شعوري ډول غرب پلوي خلك دي نو امريکا همدوئ د مجاهدينو په خلاف استعمالوي، او د همدوئ په توسط د اسلامي نظام د قائميدلو مخنيوی کوي. او همدا اوس هم ټول نشنلستان چې په هر قوم پورې اړه لري د يرغلګرو په صف کې ولاړ دي.

٩- **حکومتي نقش ناحکومتي مؤسساتو ته سپارل:**

د امريکا او غرب حکومتونه د افغانستان په اشغالولو کې د مستقيمې ښکېلتيا له امله د مجاهدينو لپاره مشروع اهداف ګرځېدلي دي. د هغوئ پوځيان، جاسوسان، د هغوئ محلي ملګري، د هغوئ دفاتر او هر ډول پرسونل يې په افغانستان کې په خلاص مټ فعاليت نشي کولی. ځينې هېوادونو يې خپل پوځيان وېستلي، خو ناپوځي سياسي، استخباراتي، روزنيز او د فکرونو د بدلولو ادارې يې لاتر اوسه پټ او ښکاره فعاليت کوي چې هره ورځ يې د تأثير او فعاليت ساحه نوره هم تنګېږي. په ولسواليو، ولاياتو او لويو ښارونو کې د مجاهدينو پراخ او مؤثر حضور د غربي او غرب پلوو ادارو لاسونه وتړلي دي او کارکوونکي يې د سر د ساتلو په هڅه کې دي. دې وضعيت غرب دېته اړکړی چې د افغانستان د لاندې کولو او دلته د خپل تأثير د ساتلو لپاره د خپله ښکاره حضور استراتيژي د پټ او بالواسطه حضور په استراتيژۍ بدله کړي.

امريکا او ملګرويې په تېرو ديارلسو کلونوکې په افغانستان کې تر ۴۰۰۰ زياتې نادولتي مؤسسې ايجاد کړې وې. دغه مؤسسې دومره ډېرې او خپلسرې وې چې د کرزي د پخوانۍ کابينې د پلان وزير رمضان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشردوست ورڅخه تقريباً دوه زره مؤسسې په يوه ورځ لغوه کړې. خو دا چې افغانستان د غرب لخوا اشغال شوی، او د غرب لخوا افغانستان ته تخصيص شوې ۸۰٪ فيصده پيسې د همدې مؤسساتو له لارې د هغو اهدافو د حاصلولو لپاره مصرفېدلې چې غرب يې غواړي، نو ځکه خو د دې پر ځای چې د وزير په امر مؤسسې له فعاليته منع شي، بالعکس وزير د مؤسساتو په امر له وزارته برطرف کړای شو.

غربي نادولتي مؤسسې په حقيقت کې د غرب هغه لښکر دی چې پرته له جګړې د غرب لپاره د اسلامي نړۍ حکومتونه او ولسونه تسخيروي، او په سړه سينه او دوامدار فعاليت ټول هغه مقاصد حاصلوي چې پوځونه يې له حاصلولو عاجز پاتې کېږي. او دا ځکه چې پوځي فعاليت او اشغال خاوره نيسي، خو د مؤسساتو فعاليت ولسونه، عقلونه، فکرونه او اقتصادونه اشغالوي. نو ځکه خو همدې اهميت ته په پام سره غرب په افغانستان کې د خپل پوځي عقب نشينۍ تشه په نادولتي مؤسساتو ډکول غواړي.

د مؤسساتو د پټ او خطرناک رول د وضاحت لپاره يوازې دا مثال هم کافي دی چې کله طالبانو د خپل حکومت په وخت کې په کابل کې له ميشتو مؤسساتو وغوښتل چې د ښار له ګڼې ګوڼې او د خلکو له منځه دې د کابل د ښار په غرب کې د قرغې پر سړک ښکلې سياحتي او د تازه هوا لرونکې ساحې ته ټول په يو ځای کې راجمع شي، او د دې کار هدف دا وو چې له يوې خوا ښار د دوئ له فشار څخه خلاص شي، او له بل لوري يې طالبانو ته نظارت آسانه شي، خو مؤسساتو د خپلو دفاترو بندولو ته پر هغه ځای ته په ورمنتقل کېدلو ترجيح ورکړه، ځکه چې هلته يې بيا پټ رازونه او پټ ملګري رسوا کېدل.

په افغاني ټولنه کې د غربي نادولتي مؤسساتو د خطرناک تأثير تر ټولو لويه نمونه همدا د اوسني نظام منځته راتلل دي، ځکه چې د اوسني حکومت ډېرو وزيرانو، رئيسانو، سفيرانو، لوړپوړو چارواکو، واليانو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویاندانو، د مطبوعاتو او میډیا چلوونکو، د سنا او ولسي جرګې استازو، د تعلیمي ادارو مشرانو او د سیاسي احزابو رهبرانو او مشهورو څېرو د غرب په پرونیو نادولتي مؤسساتو کې کارونه کول، او همدغو غربي نادولتي مؤسساتو په تېرو څلورو لسیزو کې په افغاني ټولنه کې دومره کار او تأثیر کذاري کړې وه چې کله امریکا پر افغانستان د یرغل اردہ وکړه نو په سلګونه زره افغانانو ورته په یوه او بل شکل د راتلو لاره هواره کړه. چا ورته د پیاده عسکرو وظیفه اجراء کړه، چا ورته جاسوسي وکړه، چا ورته د مېډیا له لارې د هغوئ په ګټه ذهن سازي وکړه، چا ورته دولتي او نا دولتي ادارې وچلولې، او چا ورته د هغوئ لپاره جنګېدونکی پوځ، پولیس، استخبارات، ملیشې او اربکیان جوړ کړل، او ښه په خوند یې د غربي یرغلګرو خدمت وکړ.

غربي نادولتي مؤسساتو د کمونستانو اوروسانو په خلاف د افغانانو له جهاد سره هم یوه خطرناکه لوبه وکړه، او هغه لوبه داسې چې غربي مؤسساتو په ډېر مهارت د مجاهدینو او مهاجرین له منځه پوه، باتجربه، د لوړوتحصیلاتو لرونکي، د قومونو مخور او با نفوذه خلك، مشهور قومندانان، لیکوالان، فرهنګي او تأثیر ګذاره خلك، د پوهنتونونو استادان او نور هغه با استعداده خلك چې باید د جهاد صف وربانديې قوي شوی وای یو یو ټول کړل، او په خپلو ادارو کې یې په کار وګومارل. دې کار د جهاد او هجرت صف ته دوه ستر نه جبیره کېدونکي زیانونه ور واړول، او هغه دا وو چې یو خو یې د جهاد صفوف او مهاجرین د کار او سرپرستۍ له خلکو محروم کړل، چې د دوئ ځای بیاپه جبهاتو کې نا اهلو خلکو، چرسیانو، لوچکانو، بې هدفه او خرڅېدونکو جنګیالیو او پاټکیانو ونیوه چې هم یې جهاد بدنام کړ او هم یې ولس وکړاوه. او بل زیان یې دا وو چې دکار خلك مو څه په آګاهانه او څه هم په نا آګاهانه ډول دغرب په خدمت کې واقع شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا اوس بیا غواړي خپل نا تکمیل شوی پوځي اشغال د همدغو نادولتي مؤسساتو په لاس تکمل کړي، که څه هم چې دا کار به لس پنځه لس کاله نور هم واخلي. او په همدې مقصد خو امریکا د ۲۰۱۵م کال لپاره په افغانستان کې د جنګ بودیجه یوازې ۷۹ ملیونه ډالره ټاکلې، خو د ناپوځي فعالیتو د جارې ساتلو لپاره یې دوه ملیارده او شپږ سوه میلیونه ډالره تخصیص کړې او کانګرس ته یې د منظورولو په مقصد ورلېږلې ده.

په افغانستان کې د غربي نادولتي مؤسساتو په اړه به دا یو ډېر ساده تصور وي چې یوازې هغه مؤسسې دې تر څارنې لاندې ونیول شي (نصرانیت، یهودیت او نورو باطلو نظریو ته خلك وربولي). او دا ځکه چې غرب اوس دینونو ته پر دعوت ترکیز نه کوي، هغوئ اوس په خپله عملاً نصرانیت پرې ایښی دی، یهودیت یوازې د یهودانو دین دی، او هغوئ نه غواړي چې بل څوك دې ورکې داخل شي، او نورو باطلو عقائدو ته هم غربیان په ښکاره مسلمانان نه وربولي.

نن د غرب لپاره تر ټولو مقدس دین او مقدس ارزښتونه چې تر نصرانیته هم ورته ډېر ارزښتمن دي هغه(**ډیموکراسي، د بشر حقوق، د ښځو آزادي او له نارینه وو سره په هر څه کې د هغوئ مساوات، د وضعي قوانینو حاکمیت، سیکولریزم، لیبرال تعلیم او د کاپیټالزم اقتصادي نظام**) دي.

او په اسلامي نړۍ کې یې خپل ټول مؤسسات او د مدني ټولنو منظومه هم د همدغو اهدافو د تحقق لپاره په کار اچولي دي، او دا ځکه چې هغوئ د همدغو ارزښتونو له لارې پر اسلامي نړۍ خپل تسلط ټینګ کړی دی. نو هره هغه مؤسسه چې په هر پټ اوښکاره ډول د دغو اهدافو لپاره کار او فعالیت کوي هغه خطرناکې مؤسسې دي چې مسلمانان باید د دښمن په سترګه ورته وګوري، او پداسې ډول استفاده ورڅخه وکړي لکه له اور څخه چې څوك استفاده کوي.

امریکا له تېرو دوو کلونو راهیسې د داسې پلانونو پر جوړولو کارکوي چې څنګه خپلې پروژې او پروګرامونه دمحلي قراردادیانو، ملکانو، روحاني ډوله مشرانو او د خصوصي تعلیمي ادارو د چلوونکو له لارې عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غربي هېوادونو او امریکا پټو او ښکاره توطیو او د اسلامي نړۍ د هېوادونو د ما بعد الاستعمار پېچلي او په غرب پورې تړلي وضعیت ته په کتلو او په افغانستان او سیمه کې د امریکا اقتصادي او ستراتېژیکو اهدافو ته په پام سره سرې په زغرده دا ویلی شي چې امریکا په آسانه د افغانستان په یو مخیز ډول پرېښودلو ته زړه نه ښه کوي، او له افغانستانه د قواوو وېستل یې په پوځي جګړه کې د شکست حقیقت ته د تسلیمېدلو او د خپل جګړه ځپلي اقتصاد له رګونو د نورې وینې د درولو د عملي هڅې په معنی دي.

پدې کار سره امریکا یوازې د جګړې له له اور او ستومانۍ ځان هوسا کوي، خو له افغانانو څخه د خپلې ماتې د انتقام د اخیستلولپاره به خپلې ناپوځي جګړې او په افغانستان کې د اسلامي نظام د مخنیوي هڅو ته نور هم زور ورکوي.

غرب د اسلامي هېوادونو د نیولو او د مسلمانانو د تسخیرولو اوږده تجربه لري چې له صلیبي جګړو شروع شوې او د اندلس د سقوط، استعماري جګړو، استشراقي څېړنو، پر اسلامي نړۍ د سیکولرو او مستبدو نظامونو د تحمیل، د نوي نړیوال نظام د تسلیط، او د نړۍ د نیونې په مقصد دګلوبلایزشن د نظریې د جبري تنفیذ په څېر مراحل یې طې کړي دي، او لانور هم د غرب فکري او څېړنیز مراکز د مسلمانانو د تسخیرولو په مقصد د پلانونو او دسیسو په جوړولو شپه او ورځ کار کوي.

د غرب په اړه زموږ درک ډېر ساده دی، موږ مقابله او بری یوازې د جګړې په ډګر کې ګڼو، او لدې ناخبره یو چې غرب څنګه په خپل سیاسي او اسخباراتي استعداد او مهارت زموږ د پخواني جهاد تنظیمونه، په لکونو مسلح مقاومت کوونکي، جهادي رهبران او د تېر جهاد قهرمانان په خپل صف کې ودرول، خپل ټوپك یې د هغوئ پر اوږه کښېښود، او د غرب په خلاف جنګېدونکي رېښتیني مجاهدین یې هدف وګرځول؟

د اوسني روان جهاد رهبرانو ته په کار ده چې د غربي یرغلګرو او د هغوئ د پالیسیو په اړه کافي مطالعه ولري، او ټولې هغه لارې وپېژني چې دښمن له هغو څخه راداخلېږي. ترڅو داسې نشي چې دښمن د دروازې له لارې ووځي خو دکړکۍ له لارې بېرته راننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي وحدت د چا له لید لوري؟

د ټولنو اصلاح او فساد د افکارو زیږنده ده، که د ټولنې فکر فاسد شو نو ټولنه ورسره فاسدیږي، او که د ټولنې فکر سالم وو نو بیا ټولنه، د ټولنې افراد، راکړه ورکړه او معاملات یې ورسره سمیږي. د ټولنې اصلاح او فساد په فکرونو پورې تړاو لري، او فکرونه داسې ندی چې په کوم ځای کې را وټوکیږي نو په همدغه ځای کې دې منحصر پاتې شي.
کله په یوه ځای کې کوم د خیر فکر را وټوکیږي هغه بیا نورو ټولنو ته ور خپور شي نو د ډېرو نورو ځایونو خلك ورسره سم شي، او کله بیا د خیر فکر بل چېرته راپیدا شي او هغه دلته راورسیږي او زموږ ټولنه ورسره سمه او افراد مو صالح شي، او کله بیا - الله دې نه کړي- زموږ په ټولنه کې بد او خراب مفاهیم راپیدا شي او بیا نورو خلکو او ټولنو ته خپاره شي ، او کله د نورو خلکو فاسد او خراب افکار زموږ ټولنې ته راشي او زموږ خلك او ټولنه ورسره مفسده شي. نو د ټولنو اصلاح او فساد د فکرونو په اصلاح او فساد پورې اړه لري.
افکار او مفاهیم راوارد یږي او صادریږي، زموږ ټولنې ته په تېرو سلو کلونو کې ډېر پردي افکار او مفاهیم راصادر شول، او یا د دې ځای پردي پالو راورد کړل، او د هغو لپاره یې په مېډیا ، پوهنتونونو، تعلیم او تربیه، نصاب او د ټولنې په عمومي ذهنیت کې دومره کار وکړ چې پردي مفاهیم موږ ته خپل ښکاره شول، او د هغو پر بنا مو پالیسۍ جوړې کړې او لوی تصامیم مو ونیول.
حکومتونو او سیاسي اشخاصو او احزابو افغانستان ته پردي مفاهیم، پردي عقاید او حتی پردي دینونه را وارد کړل، پرافغانانو یې وروتپل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ نويو نسلونو ته يې ورتلقين کړل او په قوانينو او نصاب کې يې ور داخل کړل، چې په دې کار يې ټولنه د فساد او پردي پالنې خواته بوتله.

د مفاهيمو جګړه:

کفار د تل لپاره کوشش کوي چې په مختلفو بڼو او قالبونو کې خپل افکار اسلامي ټولنې ته ورداخل کړي، او بيا دومره د هغو لپاره تبليغات کوي چې بالآخره مسلمانی ټولنې دغه وارد شوی افکار خپل ګڼي، له هغو څخه دفاع کوي، او د هغو پر بنا خپله ټولنه تنظيموي، په تقاضا يې له خلکو سره تعامل کوي، او وګړو ته د هغو له مخې مجازات او مکافات ورکوي، چې د دې ټولې سلسلې شروع له فکرونو کېږي.

که نن په نړۍ کې جګړو ته وګورو نو وينو چې اتيا فيصده جنګ فکري او يوازې شل فيصده يې د توپ، ټانګ او بم جنګ دی. نړيوال پر فکري جګړو په ملياردونو ډالرمصرفوي.

کله چې امريکا افغانستان اشغال کړ نو دلته يې تر اتيا زيات تلويزوني چېنلونه او تر يو سل او پنځه اويا پورې راډيو يې ستېشنونه پداسې يو هېواد کې چې يوائې لس فيصده خلك يې برېښنا لري جوړ کړل. افغانان تر هرڅه زيات ډوډۍ، پله، مکتب، سړك، معلم او کتاب ته ضرورت لري، خو دوئ ورته راډيويي او تلوېزوني ستېشنونه جوړ کړل، دا څه معنا لري؟ د دې معنا دا ده چې کافران وايي چې زه به خپل افکار، نظريات او پروګرامونه په هره وسيله باندې چې وي هر کور او هر فرد ته رسوم.

افغانانو وليدل چې د امريکا له راتګه مخکې د بي بي سي راډيو خپروونه نيم ساعت وه، خو وروسته يې بيا شپه او ورځ خپرونې شروع کړې. همداسې د امريکا غږ راډيو نيم ساعت سهار، نيم ساعت ماښام، او پنځلس دقيقې په غرمه کې خپرونې لرلې، خو اوس شپه او ورځ خپرونې لري. د دې مقصد دا دی چې غرب غواړي خپل نظريات،افکار او د خپل ژوند بڼه زموږ ټولنې ته د تبصرې، خبر، مضمون، ډرامې، سندرې، بحث او مرکې په اشکالو ورتلقين کړي، تر څو يې د ټولنې هر فرد واوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غربي راډیو ګانې د خپلو مفاهیمو د بیان او رسولو لپاره ډمان، ملایان، د پوهنتون استادان، سیاست پوهان، لوبغاړي، او د ټولنې د ټولو طبقو خلك د دې لپاره ورغواړي او په لسګونه ساعته وخت په اختیار کې ورکوي چې د بیلابیلو خلکو په ژبه خپل افکار خلکو ته ور ورسوي.

د مفاهیمو جګړه خطرناکه جګړه ده، او موږ د تل لپاره د توري جګړه ګټلې، خو د مفاهیمو په جګړه کې پاتې راغلی یو. او پاتې ځکه راغلی یو چې موږ د فکر جګړې تیاری نه لرو.

که نن وګورو نو وینو چې د اوه پنځوسو په شاوخوا کې اسلامي مملکتونه په دنیا کې وجود لري چې تقریبا یو نیم ملیارد مسلمانان ورکې اوسیږي، خو په دوئ کې نوي فیصده یې په غرب پسې روان دي. پدی معنا چې چا د دوئ قانون منلی، چا یې نظام منلی ، چا یې مکتب منلی، چا یې یونیفارم او موډ او فیشن منلی، چا یې عسکري نظام منلی، چا یې نصاب منلی، چا یې ادبیات او موسیقي منلې، چا یې رسم او رواج منلی، او چا یې د ژوند بڼه منلې ده او ټول په دوئ پسې روان دي. او که څوك پدی پاتې خلکو کې په اسلام باندې په عمل کې کلك ولاړ دي نو هغوئ بیا وروسته پاتې، ناپوه، تنګ نظري او ترهګر ګڼل کیږي.

موږ به تر هغه د مفاهیمو په جګړه کې له ماتې سره مخ یو چې تر څو مو د مفاهیمو په جګړه کې بریا ثابته کړې نه وي.

ملي وحدت یوه پردۍ اصطلاح

د هغو پردیو مفاهیمو له جملې څخه چې د افغانانو په سیاسي ادبیاتو کې ډېر کارول کیږي یو هم د (ملي وحدت)اصطلاح ده. ډېر ځله موږ اورو چې باید (ملي وحدت) ټینګ کړو، له (ملي وحدته) دفاع وکړو...د (ملي وحدت) لپاره دا کار وکړو.. او یا داسې او هغسې باید ونه وایو او یا ونه کړو چې (ملي وحدت) مو پرې خرابیږي. ډېر ځلې ځینې خلك نو خلك لدې امله دځینې اسلامي مفاهیمو له بیانولو منع کوي چې ملي وحدت پرې خرابیږي، او یا له جهاده خلك منع کوي چې ملي وحدت ورباندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرابيږي. راځئ پدې ځان پوه کړو چې (ملي وحدت) څه ته ويل کيږي او څه مفهوم افاده کوي؟

راځئ چې د ملي وحدت مفهوم لږ تجزيه کړو چې له څه شي جوړ دی، څه معنا لري؟ اسلام پدې اړه څه نظر لري؟ او موږ د مسلمانانو په حيث او بيا د يو داسې ولس په حيث چې جهاد يې کړی، د اسلام په لاره کې يې تر دوه ميليونه زيات شهيدان ورکړي او هجرتونه يې منلي دي ددغه مفهوم په تړاو څه موقف ولرو؟ آيا ملي وحدت ومنو که يې ونه منو؟ و يې ستايو او که و يې غندو؟ دفاع ترې وکړو او که يې ردکړو؟

د ملي وحدت تعريف:

د (ملي وحدت) اصطلاح له دوو لفظونو جوړه شوې ده چې يو يې (ملي)، او بل يې (وحدت) دی. د (ملي) کلمه له ملت نه اشتقاق شوې ده، او يا يې ملت ته نسبت شوی دی، او د (وحدت) معنی يووالی دی، چې د دواړو ترکيبي معنې هغه وحدت دی چې اساس يې ملت دی. يعنې هغه شی چې خلك يې سره يو کړي دي هغه ملت دی. پدې معنی چې دا اقتصادي يا نظرياتي ديني وحدت نه دی، بلکې هغه وحدت دی چې بنياد يې ملت دی.

ملت څه ته وايي؟

دا چې ملت څه ته ويل کيږي؟ اصلي خبره هم په همدې کې ده، ځکه چې کله موږ ملت وپيژنو نو بيا (ملي وحدت) هم پيژنو. خو د ملت د پيژندلو لپاره بايد دا خبره واضح کړو چې د ملت تعريف د چا له ليدلوري وکوو؟ ځکه چې ملت په اسلام کې يو مفهوم لري، او په نورو نظامونو يا په اروپايي تعريفونو کې بل مفهوم لري. نو مونږ د کوم تعريف پر اساس ملت جوړوو؟ د اروپايي تعريف مطابق ملت منو او پر اساس يې وحدت راولو، او که د اسلام د تعريف مطابق ملت جوړوو او پر اساس يې وحدت راولو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملت لغوي معنی:

ملت يو عربي لفظ دي او لغوي معنا يې طريقه ، قانون او لاره ده. په عربي کې وايي:(طريق ممل) يعني هغه لاره چې خلك وربانديې ډېر تللي راغلي وي. د انبياوو عليهم السلام ملت ته به هم ځکه ملت ويل کېدل چې انبياء عليهم السلام په عين تګلاره ډېر ډېر تللي راغلي دي. نو د ملت لغوي معنې طريقه او قانون ده.

د ملت شرعي معنی:

په شريعت کې ملت (دين) ته ويل کېږي، هغه دين چې الله را ليږلی دی او انبياوو عليهم السلام خپلو امتونو ته رسولی دی.امام قرطبي د ملت په اړه داسې وايي: (اسم لما شرعه الله فی کتبه علی ألسنة رسله) يعنې ملت هغه څه ته ويلی کېږي چې الله تعالی د شريعت په توګه د خپلو پيغمبرانو په ژبه رالېږلي وي.

راځئ چې د ښه وضاحت لپاره د قران کريم څو آيتونو ته ځير شو:

١- الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥ ﴾البقرة: ١٣٠

(څوك به وي چې د ابراهيم له ملته مخ اړوي مګر هغه چې خپل ځان يې بېعقل کړی وي).

دلته د ابراهيم عليه السلام له طريقې، منهج او دين نه په (ملة) سره تعبير شوی دی. امام ابن کثير رحمه الله د دې أيت په تفسير کې وايي:(عن ملة إبراهيم أي عن طريقته و منهجه) يعنې د ابراهيم عليه السلام له ملت نه د هغه عليه السلام تګلاره او منهج مطلب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په بل آيت کې الله تعالی د ملت او دين کلمې سره مترادفې ګڼلي، لکه چې فرمايي: ﴿قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾الأنعام: ۱۶۱.

په قرآن کريم کې ملت يوازې د اسلام دين ته نه دی ويل شوی، بلکې د کفر دين هم د ملت په نوم ياد شوی لکه چې الله تعالی د يوسف عليه السلام په ژبه د هغې زمانې د کفارو دين د ملت په نامه يادوي: ﴿إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ﴾يوسف: ۳۷.

(بې شکه ما د هغو خلکو (ملت) پرې اېښی چې پر الله ايمان نه راوړي او همدوی له آخرت نه هم منکر دي).

دلته يې د کافرانو له دين څخه په (ملت) سره تعبير کړی.

همدارنګه الله تعالی د مشرکانو د قول حکايت کوي چې هغوئ هم دين ته ملت ويل، الله تعالی فرمايي: ﴿مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَٰذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ﴾ص: ۷.

د قريشو مشرکانو به رسول الله صلی الله عليه والسلام ته ويل چې:(دا ستا خبرې او طريقه خو په بل دين کې موږ نه وه اورېدلې، دا خو تا له ځانه جوړه کړې).

لوی مفسر امام مجاهد او امام قتاده وايي چې له(الملةالآخرة) څخه يې مقصدد قريشو شرکي دين وو، او ځينې نورو علماوو ويلې چې مراد يې ورڅخه (نصرانيت) وو. يعنی ای محمده!(صلی الله عليه والسلام) دا کومې خبرې چې ته کوې دا خو د قريشو په پخواني ملت يا دين کې نه وې،او نه د نصرانيت په دين کې موجودې وې، دا خو تا له ځانه جوړې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه الله تعالی د یهودو او نصاراوو دینونو ته هم ملت ویلي دي، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴾البقرة: ١٢٠.

(او یهود او نصاری به پهڅکله هم له تا نه راضي نشي تر هغه چې د دوئ ملت ونه مني). یعنی د دوی تګلاره، نظریات او دین ونه منې.

د اصحاب کهف په کیسه کې چې الله تعالی بیان کړې ده د هغوئ له خولې هم حکایت کوي چې هغه یو بې نورو ته وايي چې کفار به مو خپل دین ته ور وګرځوي:﴿ إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُواْ عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِى مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدًا ﴾الكهف: ٢٠.

(که دغه خلك په تاسو باندې خبر شي نو تاسې به سنګسار کړي او یا به تاسو بېرته ور وګرځوي خپل دین ته، بیا به نو کله هم کامیاب نشئ).

د شعیب علیه السلام مشرك قوم به هم خپل شرکي دین ته (ملت) وایه لکـه چـې الله تعـالی فرمـايي :﴿ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِۦ لَنُخْرِجَنَّكَ يَـٰشُعَيْبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ﴾ الأعراف: ٨٨

(دوئ شعیب (علیه السلام) ته وویل چې یا به تا او ستا ملګري له دې کلي شړو او یا به بېرته زمونږ ملت ته راګرځئ).

نو په دې ټولو آیتونوکې د (ملت) اطلاق په دین باندې شوی دی، او دا مفوم ورکې په صراحت سره ښکاري چې د (اسلام دین) د مسلمانانو (ملت) دی، او د (کافرانو دینونه) د کافرانو (ملتونه) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (ملي وحدت) مفهوم د شريعت له نظره:

دا چې د ملت معنی هم د لغت په لحاظ او هم د قرآن کريم او احاديثو په رڼا کې (دين)ده، نو پر همدې اساس د (ملي وحدت) معنی هم (ديني وحدت) دی. نو له همدې امله د (ملي وحدت) شرعي معنی داده چې ټول هغه خلك چې د يوه دين پيروان وي هغوئ په خپلو کې سره (ملي وحدت) لري.

نو د دې اسلامي تعريف له مخې هر مسلمان شخص که هغه پښتون دی، که تاجك، که امريکايی، که چينايی او يا که له کوم بل قوم څخه وي او د نړۍ په هر ګوټ کې وي خو چې (لا إله إلا الله، محمد رسول الله) وايي، باور ور باندې لري، او شرائط يې پر ځای کوي، هغه د دې ملت جزء دی او موږ له هغه سره (ملي وحدت) لرو، او هر مسلمان د دې (ملت) فرد دی.

خو پوښتنه دا ده چې آيا موجود سيکولر نظامونه او اشخاص دغه ډول د (ملي وحدت) تعريف او حکم له مسلمانانو سره مني؟ معلومه خبره ده چې هغوئ کله هم د (ملت) لپاره دغه اسلامي تعريف او مصداق نه مني.

د (ملي وحدت) پورتنی تعريف د کوم شخص د فکر زېږنګنده نه دی، بلکې د قرآن کريم واضح مفهوم دی، خو د سيکولريزم (بې دينۍ) پيروان يې ځکه نه مني چې هغوئ د ملت تعريف د اسلام له نظره نه بلکې د معاصرو سيکولرو اروپايانو له ليدلوري کوي چې په لاندې ډول دی:

(ملي وحدت) د سيکولرانو له نظره:

سيکولران د (ملت) لپاره د اسلامي تعريف پر ځای د اروپايانو تعريف مني او دهمغه تعريف له مخې له خلکو او ټولنو سره تعامل کوي.

اروپايان (ملت) داسې تعريفوي:

د اکسفورډ قاموس چې په ټول غرب کې يو منل شوی او معتمد قاموس دی ملت په دې ډول تعريفوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nation: a large community of people usually sharing a common history, culture, and language and living in a particular territory and under one government.

د دې تعريف حاصل دادی چې : (ملت د خلکو له هغې لويې ټولنې څخه عبارت دی چې په يوه محدوده سيمه کې تر يوه سياسي نظام لاندې اوسيږي او په خپلو منځونو کې مشترکه ژبه، مشترك تاريخ او مشترك فرهنګ لري).

په پورتني تعريف کې په قطعي ډول د (دين) ذکر نشته. که د پورتني تعريف لپاره په افغاني ټولنه کې مصداق جوړوو نو: د افغانستان مسلمان، هندو، مرتد شوی نصراني، کمونست او نور نا مسلمان اقليتونه بايد ټول يو (ملت)وګڼو. او دا هغه څه دي چې په ښکاره له اسلام سره ټکر کې دي.

قران خو کمونيستان، سيکولران، مرتدين، او نور کافران د مسلمانانو دښمنان ګڼي. نو موږ ولې بايد له هغوئ سره (ملي وحدت) ولرو؟

خو پورتني تعريف ته په کتلو سره هر کافر چې د افغانستان تبعه دی زموږ د ملت فرد کڼل کيږي. او نه شو کولی چې د افغانستان يو کافر تبعه ته ووايو چې ته زما د ملت فرد نه يې.

يو امريکايي مسلمان چې په امريکا کې اوسيږي، او بل مسلمان چې په افغانستان کې اوسيږي د قرآن کريم له مخې دواړه د يوه (ملت) غړي دي، او په خپلو کې سره (ملي وحدت) لري، خو د اروپايي تعريف له مخې دوئ دواړه د جلا جلا ملتونو غړي دي.

د تأسف ځای دا دی چې په افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې نظامونو او فکري جهتونو مسلمانانو ته (ملت) او (ملي وحدت) د غربي سيکولر تعريف له مخې ور تلقين کړی او تعريف کړی دی، او د (ملت) او (ملي وحدت) تعريف يې له هغه تصوره وېستلی دی چې لغت او اسلامي شريعت يې وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیکولرانو دا هر څه د دې لپاره کړي چې د کافر او مسلمان تر منځ د فرق کولو نظریه له منځه یوسي، او ټول د داسې یوه ملت افراد وګڼي چې عقیده ورکې د پېژندګلوۍ معیار نه وي، بلکې کافر او مسلمان دواړه ورکې مساوي حیثیت لري. له همدې امله خو نظامونه دلته د هر هغه فکر او نظریې مخنیوی او مخالفت کوي چې خلك د کفر او اسلام پر اساساتو سره وېشي.

د (ملي وحدت) د اروپایي تعریف پلویان او له هغوئ څخه متأثره او له دین څخه ناخبره اسلام ته منسوب خلك هم خلکو ته تو صیې کوي چې په مسلمانو هېوادونو کې به د کمونستانو، لبرالانو،نشنلستانو او د نورو کفري او غلطو نظریاتو د پیروانو په خلاف به د دښمنۍ دریځ نه نیول کېږي او د منحرفو عقایدو مخنیوی به یې ځکه نه کېږي چې له دې کارونو (ملي وحدت) ته صدمه رسېږي.

په پورتنۍ معنی (ملي وحدت) یو طاغوت دی چې تر هرڅه محترم او مقدس ګڼل کېږي. او دا نظریه یو داسې بوت ګرځېدلې چې د هغې پیروان یې عبادت کوي او تر الله، رسول، قرآن، عقېدې، اخلاقو او ټولو دینې ارزښتونو یې لوړه ګڼي!

موږ د مسلمانانو په حیث د (ملي وحدت) کوم تعریف اختیار کړو؟

د اروپایانو پورتنی تعریف به ښایي هغو خلکو ته د منلو وي چې (دین) ته هېڅ اعتنا نه لري، ځکه چې د هغوئ له نظره د هر چا معبود د هغه خپل هوی او هوس دی، او د هغوئ په عرف کې د دین منل او نه منل یو شخصي کار دی. خو د اسلامي شریعت له مخې د (ملي وحدت) اروپایي تعریف مردود او یوه کفري نظریه ده. که موږ ځانونو ته مسلمانان وایو او اسلام خپل دین ګڼو نوباید د(ملت) تعریف هم له اسلامه واخلو.

اسلامي شریعت ملت (دین) او (تګلارې) ته وایي او هر څوك چې له موږ سره په دین کې شریك وي موږ له هغو سره (ملي وحدت) لرو. نو پر دې اساس مسلمانان ټول یو (ملت) دي، او کافران نور ملتونه دي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

واحدې جغرافيې، واحد سياسي نظام او د مشترکو ژبو او مصالحو يو والى موږ له هغوئ او هغوئ له موږ سره يو ملت نشي ګرځولى، او نه د مسلمانانو او هغوئ تر منځ (ملي وحدت) راوستلى شي.

نو پر همدې بنسټ موږ مسلمانان که هر چېرى يو ټول سره يو ملت يو، او مسلمان ماليزيايي، مسلمان روسي، مسلمان امريکايي مسلمان افغان ټول د يو ملت افراد دي. هر څوك مو چې سره بېلوي هغه له اسلامه ناخبره او يا زموږ دښمن دى. موږ يو امت او يو ملت يو، ځکه الله تعالى موږ ته فرمايلي دي چې: ﴿ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ ﴾الحج: ٧٨.

(ستاسو د پلار ابراهيم ملت دا وو، او هغه تاسو مسلمانان نوملي ياست).

موږ هغه خلك څنګه په خپل ملت کې شريك وبولو چې زموږ دين او عقيده نه مني، زموږ ازادي نه مني، زموږ د دښمن د بيرغ تر سيوري لاندې درېږي او زموږ د دښمن ټوپك په موږ پسې را اخلي، خو موږ يې بيا هم يوازې د دې لپاره په خپل ملت کې وګڼو چې د وينې او خاورې شراکت راسره لري؟! او يا د دې لپاره چې زموږ په ژبه غږېږي؟!

آيا موږ د خپلې ژبې لپاره خپل قرآني مفاهيم پايمال کړو؟! آيا د (ولاء اوبراء) عقيده چې په حقيقت کې د ايمان (محك) دى پرېږدو چې ملي وحدت پرې خرابېږي؟! آيا د اروپايي تعريف لپاره د اسلامي لارښوونو مخالفت وکړو؟!

د پرديو مفاهيمو او نظرياتو رائجېدل په اسلامي ټولنوکې خطرناك حدته رسېدلي دي. او مسلمانان يې تر ډېره حده بې لارى کړي او له خپلو عقايدو اواصيلو اسلامي مفاهيمو لري کړي هم دي.

ملي وحدت که سياسي وحدت؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اروپايي تعريف مطابق پورتني وحدت ته که د (ملي وحدت) پر ځای (سياسی وحدت) وويل شي نو بې ځايه به نه وي، ځکه چې په سياسي وحدت کې کافر هم له مسلمانانو سره په يو هېواد کې يو ځای اوسېدی شي، خو د هر چا حکم او حيثيت به خپل خپل وي . رسول الله صلی الله عليه وسلم هم له کفارو سره يو سياسي تړون کړی وو، او د اسلامي شريعت له مخې (اهل الذمه) هم د مسلمانانو د سياسي نظام په دائره کې ژوند کولی شي، او خپل حقوق ، وجايب او مسؤوليتونه لري .

د پای خبرې:

دښمن غواړي د مسلمانانو په منځ کې د (ولاء او براء) يا د اسلام پخاطر د دوستۍ او دښمنۍ مفاهيم د مسلمانانو له ذهنونو وباسي. او د همدې لپاره يې اکثره اصطلاحات داسې جوړ کړي چې د مسلمان او کافر تفاوتونه له مينځه وباسي، لکه نړيوال قوانين، نړيواله ټولنه، نړيواله محکمه چې د (ګلوبلائزيشن) مفهوم يې د ټولو خلاصه ده، او هغه په دې معنی چې د ټولی نړۍ خلك دې يوه عقيده، يوه نظريه، يو نظام او يو ډول معيارونه ولري.

همدا رنګه لکه چې په پيل کې مو يادونه وکړه، دښمن د خپلو افکارو او مفاهيمو د راصادرولو لړۍ دومره په قوت سره پيل کړې او مسلمانو ټولنو ته يې تر هغه وخته ورتلقين کوي چې دغه پردې مفاهيم ورته بيا پردي نه بلکې خپل ښکاره شي، او مخالفت يې ونه کوي.او که بل څوك يې هم په وړاندې راپورته شي نو دوئ ته دې بد ښکاره شي.

موږ ته د مسلمانانو په حيث ضروري ده چې د نظرياتو په منلو او او د اصطلاحاتو په کارولو کې ډېر دقيق او ډېر محتاط و اوسو،ځکه چې الله تعالی پدې هکله په قرآن کريم کې مسمانان د کفارو د اصطلاتو له کارولو منع کړي دي، او ورته يې فرمايلي چې د (راعنا) د کلمې پر ځای د (انظرنا) کلمه ووایاست، ځکه چې لومړۍ کلمه د يهودو (اصطلاح) وه او بد مقصد يې درلود ، که څه هم چې په ظاهره يې له دوهمې سره په معنی کې فرق نه درلود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (مورچل) مجله په افغانستان کې د غرب د ماتې عیني شاهد او د روان جهادي تاریخ امین

د صلیبی غرب د یرغل په مقابل کې د جهاد بېلابېل عسکري، فرهنګي، فکري او سیاسی مورچلونه خپل نقش لري چې د هر مورچل ساتونکي د دښمن په مقابل کې په پوره صبر، استقامت او درایت آګاهانه مقابله کوي، او د غرب په لاس د افغانستان د مستعمره کېدلو د مخنیوي او په هغه کې د اسلامي نظام د قائمولو لپاره د دې هېواد مسلمان بچیان د جهاد او قربانۍ په میدان کې د دښمن مقابلې ته تیاروي.

که له یوه لوري مجاهدینو دښمن په پوځي ډګر کې له ماتې سره مخ کړ او دا دی اوس یې تېښتې ته اړ کړی، نو له بل لوري د جهاد په صف کې د قلم او فرهنګ د سنګر خاوندانو د جهاد د فکري، فرهنګي، مطبوعاتي او د رواني (روحي) جګړې مورچلونه داسې وپالل او د مقابلې لپاره یې تاوده وساتل چې دښمن یې د سلګونو راډیوګانو، تلویزونونو، انټرنټي ویبسایټونو او د زرګونو کرایي او پردي پالو لیکوالانو، شاعرانو، مسلکي او نامسلکي ژورنالیستانو او په سلګونو د فکري، فرهنګي او تحقیقاتي مراکزو په لرلو مقابله ونه کړای شوه.

د جهاد د مطبوعاتو فکري او فرهنګي فعالیتونو د الله تعالی په فضل او بیا د دې فعالیتونو د ترسره کوونکو او منظموونکو مجاهدینو په مټ وکولی شول چې د یوه داسې نړیوال کفري ائتلاف په مقابل کی د ملت ځوانان د مقابلې لپاره ودروي چې په ملیاردونو ډالره یې زمونږ د مسلمان ولس د تسخیرولو په لاره کی مصرف کړل.

معاصرو جهادي مطبوعاتو هم د جګړې مشروعیت او حقانیت ثابت کړ، او هم یې د مقابلې لپاره د یو بادرکه ځوان نسل روزنه وکړه. هم یې د دښمن توطیې رسوا کړې، او هم یې خپل ولس او خپلو مجاهدینو ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراخه پیمانه د اسلام فکري ادبیات وړاندې کړل، او پداسې حال کې یې دکفري نړۍ له مطبوعاتي جریانونو سره سیالي وکړه چې وسائل، مادي امکانات، مسلکي تجربه او دکار لپاره د اطمینان او استقرار فضا یې د دښمن له وسائلو او مجهز وضعیت سره د مقایسې وړ نه وو.

د جهادي مطبوعاتو په کتار کې چې په خاص ډول د (مورچل) جهادي مجلې کوم ستر مسؤولیت تر سره کړ هغه یو بې مثاله مسؤلیت دی چې تر پېړیو پېړیو به یې اثر پدې خاوره او ولس کې پاتې وي، او د راتلونکو نسلونو مجاهدین، مبارزین او مؤرّخین به یې د احسان پوروړي وي.

د (مورچل مجلې) د دې تر څنګ چې خپل ولس او خپلو مجاهدینو ته یې دینې، جهادي او اجتماعي مفید مضامین وړاندې کړل تر ټولو مهم او ستر کار یې دا وکړ چې د غرب په خلاف د وران جهاد په جریان کې یې د ټولو جهادي علمیاتو تفصیلات په مستند ډول په خپله غېږه کې داسې خوندي کړل چې د هر عملیات ځای، وخت، حجم، دښمن ته ور اووښتي تلفات او په عملیاتو پورې اړوند نور جزئیات ورکې په دقیق ډول توثیق شوي دي.

(مورچل مجلې) د روان جهاد د پېښو او پوځي جریانونو د عیني شاهد په توګه د راتلونکو نسلونو تاریخ لیکونکو، فرهنګیانو، څېړونکو او مؤلفینو ته داسې یو باعتباره او مستند آرشیف پرېښود چې د امریکا د جنایاتو او د دې ولس د اسلامي مقاومت هر اړخیز تصویر ورکې په راتلونکو ډول داسې خوندي شوی چې هېڅ معاند به ورڅخه انکار ونه کړای شي.

د مورچل جهادي مجلې په حقیقت کې د یوه ستر مجهز تحقیقاتي مرکز کار تر سره کړی، او د هېواد له ګوټ ګوټ څخه یې د دې لویې جګړې د عملیاتو ټول جزئیات یوازې د یو څو تنو قلمي او مطبوعاتي سنګر دارانو په لاس په دومره لویه پیمانه راټول کړي او توثیق کړي دي چې که دا کار کومې غربې تحقیقاتي اداري کولای نو باید په سلګونو مامورین، بنه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتصالاتي او ترانسپورتي وسائل او د هر کال لپاره په لسګونو میلیونه ډالره بودیجه یې لرلی.

د دې لوی او ستومانوونکي کار په دقیق او منظم ډول ترسره کول پدې دلالت کوي چې د دې (مورچل) ساتلونکي د خپل کار په جهادي، علمي او تاریخي اهمیت پوه دي، او پدې لار کې یې هرې سختۍ او ابتلا ته خپله د صبر او استقامت اوږه ورکړې ده.

د دې (مورچل) ساتونکي که له یوې خوا ډېر ډېر د تقدیر وړ او د دعاوو مستحق دي نو له بلې خوا د دوستانو له مشورو مستغني او د ناقدانو له نیوکو پورته هم ندي. نو په همدې اساس زه هم د داسې یو چا په حیث چې د جهاد جریانات او د هغو مطبوعاتي بهیر څارم چې پدې لړ کې د(مورچل) مجله هم په دقت سره لولم او کله ناکله یو نیمه لیکنه هم ورته کووم دې (مورچل) او د هغه ساتونکو ته لاندې څو یادونې او سپارښتنې وړاندې کووم :

١ – سره لدې چې د (مورچل) مجله د روان جهاد د پېښو او جریانونو د تاریخ په توثیق او تدوین کې ستر مسؤولیت ادا کوي، خو بیاهم (مورچل) هسې لکه چې له نامه یې ښکاري یوه (عسکري) مجله نه بریښي. او دا ځکه چې د مجلې د مضامینو په برخه کې پوځي مضامین یا نشته او یا هم ورکې کله ناکله په ډېر سطحي ډول یو څه راغلي وي.

د مجلې د مضامینو په برخه کې زیاته برخه فقهي، عمومي دیني، تاریخي او سیاسي مضامین وي، او دا پداسې حال کې چې د اسلامي امارت فرهنګي کمیسیون د همدغه ډول مضامینو لپاره درې نورې د(څرک)، (شهامت) او (حقیقت) په نومونو مجلې هم لري.

ښه به دا وي چې د (مورچل) مجله لکه چې له نامه یې ښکاري یوه پوځي تعلیمي مجله وي، او ډېر اهتمام یې د اسلام پر پوځي تاریخ، د اسلام د پوځي فاتحینو او د هغوئ پر جنګي کارنامو، پر پوځي، امنیتي او استخباراتي علومو او فعالیتونو، پوځي استحکام، د عسکري پېښو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګي عملياتو پر پوځي تحليل، په ولس کې د مقاومت د فرصتونو او وړتياوو پر پيدا کولو او غښتلي کولو، مجاهدينو ته د جنګي تکتيك او تخنيکي مهارتونو په ورښودلو، د دښمن پر هراړخيزې پېژندګلوۍ، د دښمن د جنګي او ستراتيژيکو انګيزو او مقاصدو پر تشخيص، په هېواد کې د دښمن د داخلي ملګرو پر معرفۍ او د هغوئ د هويت او د هغوئ د مقاصدو د ماهيت پر تشريح، مجاهدينو ته يې د خپل قوت او د دښمن د ضعف د نقطو پر ورښودلو، د رواني (روحي) جګړې پر اساليبو او د تبليغاتي او فکري جګړې لپاره په مجاهدينو کې د وړتيا وو پر پيدا کولو او پاللو وي.

د دغه ډول مضامينو او موادو د برابرولو لپاره بايد له پوځي ماهرينو، پوځي اروا پوهانو، د عسکري علومو له استادانو او د حربي پوهنتونو له تعليمي نصابونو څخه استفاده وشي.

دا چې مجاهدين اوس پداسې وضعيت کې ندي چې د پوځي روزنې لپاره دې حربي پوهنتونونه، پوځي اکاډمۍ او تعليمي غونډونه ولري، نو په کار ده چې د پوځي روزنې دغه تشه تر يوه حده که څه هم چې په تيوريك شکل هم وي د (مورچل) مجلې له لارې ډکه شي. پدې کار سره به له يوې خوا په پراخه پيمانه په مجاهدينو او د ولس په ځوانانو کې د دښمن په مقابل کې پوځي وړتيا پيدا شي، او له بل لوري به (مورچل) يوازې د جهاد د تاريخ د توثيق يوه مجله نه وي، بلکې په رښتيا به هم يو (عسکري مورچل) او روزنيز ه مجله وي.

۲ – همدا اوس د اسلامي نړۍ له بېلابېلو سيمو مجاهدين په انټرنيټ کې ډېرې قوې عسکري خپرونې او مجلې لري، که د مورچل د مجلې مسؤولين د همدغو جهادي عسکري مجلو له چلوونکو سره خپلې تعليمي او مطبوعاتي هڅې همغږې کړي او د هغو له ليکوالانو څخه د پوځي علومو او مضامينو په ډګر کې استفاده وکړي نو مورچل به په لږ وخت کې دغه تشه هم په ښه ډول ډکه کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امت علماء او د هغوئ پوځي ليکنې او نظريات د امت مشترکه هستي ده چې بايد په هر هېواد کې له هغو څخه د هماغه هېواد د حالاتو او تقاضاوو مطابق کار واخيستل شي. همدغه کار په طب، صنعت ، تخنيګ او نورو ټولو ډګرونو کې په نړۍ کې دود دی.

۳ – دا چې د (مورچل) مجلې د امريکايي او نورو غربي يرغلګرو په خلاف د مجاهدينو په لسګونو زره عمليات په دقيق ډول په خپله غېږه کې خوندي کړي دي نو د دغو معلوماتو د لا ډېر مؤثريت او خونديتوب لپاره مې د دې مورچل سنګردارانو ته دا وړانديز دی چې د مورچل د مجلې د ټولو ګڼو د جهادي عملياتو د خبرونو د برخې محتوی چې تيار په کمپيوټر کې ورسره شته په يوه منظم او علمي شکل چې د هر ولايت برخه ورکې جلا را ټوله شوې او د تاريخونو تسلسل يې د کلونو او مياشتو پر اساس رعايت شوی وي په يوه يا څو جلدونو کې هم چاپ کړي او هم يې د کمپيوټري برقي کتاب E book په ډول ترتيب کړي، او کېدای شي دې کتاب ته (د يرغل او مورچل) او يا کوم بل مناسب نوم ورکړ شي، نوېدې کار سره به د دې ستر جهاد د مورچل ټولې لاسته راوړنې په کتابي شکل خوندي شي، او دغه کتاب به ديو لوی علمي او تاريخي سنداو مأخذ په ډول د افغانانو د جهاد او د غرب د ماتې عيني شاهد وي. کتاب به کتابخانو او علمي مجامعو ته لاره پيدا کړي، او د راتلونکو ډېرو نسلونو لپاره به د پرديو په مقابل کې د مقابلې يو سرمشق او الهام ښښونکی مرجع وي.

موږ که پرون هم د بېلابېلو تنظيمي سياسي مجلو ترځنګ دغه ډول يو د جهاد د سترو پېښنو واحد مورچل درلودلای نو نن به مو د ولس له حافظې څخه د روسانو او کمونستانو په مقابل د ستر جهاد د سلګونو زره سترو کارنامو تاريخونه نه وتل، او نه به هم د امريکا په لاس د جوړې ادارې د تعليمي نصاب او اساسي قانون په مقدموکې هغه ستر جهاد د يوه (ناورين) او (تېرو ناخوالو) په نامه نه يادېدل. او نه به هم نن غرب پلوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيکولرو د دې ولس د دېرشو کلونو جهادونه او قربانۍ د تعليمي نصاب له تاريخه په آسانه حذفولی شوای.
د پرونۍ جهاد د تاريخونو او سترو کارونامو د خوندي کولو لپاره د هغه جهاد په پای کې ډېرو (استادانو!!؟)، (فرهنگيانو!!؟) او مشهورو تنظيمي ليکوالانو له اسلامي مؤسسو څخه (د جهادي دائرة المعارف) د جوړولو په نامه ښې ډېرې پيسې (نوش جان) کړې، خو په عمل کې يې نه يوازې دا چې څه ونه کړل، بلکې لاړل له يوې مخې د غربيانو لخوا په جوړو شويو مؤسساتو، تحقيقاتي مراکزو او نشراتي ادارو کې منسجم شول، او اوس د هغوئ لپاره په کار اخته دي.
نو د دې لپاره چې دغه ترخه تجربه يو ځل بيا تکرار نشي ښه به داوي چې د دې ستر جهاد سترې کارنامې په خپل لاس په داسې حال کې په خپله خوندي کړو چې لا تر اوسه د غرب او نورو مغرضو کړيو د تحريف او تبديل گوتې ندې ور اوږدې شوي.
د اسلامي امارت فرهنگي کميسون او د (مورچل) سنگرداران که دغه کار هم همداسې په امانت او متانت وکړي لکه چې دغه تاريخونه او پېښې يې راټولې کړې او توثيق کړې دي نو د دې جهاد له عظيم تاريخ سره به يې ستر احسان کړی وي.
۴- دا چې د (مورچل) مجلې لا له پخوا څخه په خپله غېږ کې د (انځوريز مورچل) په نامه د مجاهدينو د برياوو او د دښمن دماتې واقعي صحنې خوندي کړې دي نو په کار ده چې د مورچل اداره او يا هم فرهنگي کميسيون له همدغو عکسونو سره د دښمن د ماتې او د هغه د تلفاتو د صحنو په زرگونو نور عکسونه ملگري کړي، او هم د هرې صحنې د وضاحت لپاره د هغې د اړوندو معلوماتو مختصر نوټ ورسره وليکي او بيا يې پر ښه کاغذ په رنگين او مجلد ډول په څو ژبو کې چاپ کړي او هم يې په انټرنټ کې خپور کړي نو دا به د جهاد د برياوو او د دښمن د ماتې يو داسې تاريخي او مستند شاهد وي چې هېڅوک به انکار ورڅخه نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی. دا کار د دې ترڅنګ چې خپل خاص معنوي او فرهنګي ارزښت لري په افغانستان، سیمه او نړۍ کې د خرڅلاو ښه مارکېټ هم لرلی شي.
په پای کې د دې مورچل پالونکو، ساتونکو او ټولو سنګردارانو ته له الله تعالی څخه د مزید توفیق غوښتونکی یم، الله تعالی دې نور هم د دوئ په نیتونو کې اخلاص، په عزم کې رسوخ، په کار کې برکت او په قلم کې زور او تاثیر پیدا کړي. آمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جهادي خپرونو پر مفاهيمو د نوي غور ضرورت

پر افغانستان د امريکا تر بيرغ لاندې د غرب يرغل يوازې د افغانانو پر خاوره او سياسي استقلال يرغل ندی، بلکې دا يو هر اړخيز يرغل دی چې د خاورې د نيولو او د افغانانو د سياسي استقلال د سلبولو تر څنګ د افغانانو دين، فکر، اخلاق، ټولنيز جوړښت، ټولنيز ارزښتونه او د آزادۍ غوښتنې او آزادۍ پالنې روحيه يې هم تر ګوزار لاندې نيولې ده، ځکه چې يرغلګر پوهېږي چې همدغه ديني، اخلاقي او ټوليز ارزښتونه دي چې تل يې افغانان د دښمن په خلاف د مقابلې په صف کې درولي دي.
پدې جګړه کې چې د خاورې آزادول او د سياسي استقلال بېرته ګټل له افغانانو څومره هلې ځلې او قربانۍ غواړي له دين، فرهنګ او ټولنيزو ارزښتونو څخه دفاع له افغانانو څخه تر هغو ډېرې علمي، فکري، فرهنګي او نورې لاربنوونکې او څېړنيزې هلې ځلې او سترياوې غواړي. ځکه چې زموږ جګړه د کوم شډل او بې فرهنګه دښمن په خلاف نه ده، بلکې موږ د داسې دښمن په خلاف په جګړه اخته يو چې د خپل علم، فکر، فرهنګ، ټکنالوژۍ او پراخو او دقيقو پلانونو او سياستونو په زور يې تقريباً ټوله نړۍ لاندې کړې ده. له همدې امله بايد زموږ جهادي مطبوعات او زموږ فکري ادبيات زموږ د جهاد او مبارزې د لارې په لارويانو کې دا وړتيا پيدا کړي چې هم د جګړې په ډګر کې په مېړانه او شعوري ډول د دښمن مقابله وکړای شي، او هم په پوهه، مهربانۍ او حکمت خپل ولس په ځان پسې روان کړای شي.
زموږ مطبوعات او خپرونې بايد د اسلامي نړۍ په خلاف د روانې هر اړخيزې صليبي جګړې په تر ټولو خطرناکې مرحلې کې د جهاد بهير لا څپاندکړي، او د مجاهدينو د لاربنوونې په مقصد هغوئ ته داسې خپرونې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولري چې د هغوئ ارمانونه، تګلاره او اهداف ورته روښانه کړي، او له دښمن سره د تعامل لپاره داسې لارښود ورته وړاندې کړي چې د (ولاء او براء) ټولې غوښتنې او احکام ورکې په راڼه ډول بيان شوې وي.
دغه ډول خپرونې له انحراف څخه د جهاد او مجاهدينو د ژغورلو وسيله او د جهاد د لارويانو او مؤمن ولس شديد ضرورت دی، ځکه چې په ټوله نړۍ کې د دښمن مېډيا او مطبوعاتو د امريکا او نړيوال صهيونيزم د طرحه شوو پلانونو پر اساس د اسلام او جهاد د مفاهيمو په تحريف پسې راخيستې ده.
غربي او په اسلامي هېوادونو کې په غرب پورې تړلې مېډيا او مطبوعات ټول هڅه کوي چې د اسلام مفاهيم داسې تحريف، تفسير او تعبير کړي چې له مسيحيت، ماديت، ليبراليزم او ډيموکراسيۍ سره يې هېڅ توپير پاتې نشي. او جهاد چې په اسلام کې تر ټولو لوړ عبادت (ذورة سنام الإسلام) دی په (تروريزم) او (ورانکارۍ) بدنام کړي، تر څو د اسلامي امت ځوانان پر دغه عبادت بې باوره او له خپل امت څخه د دفاع کولو د مسؤوليت له احساس څخه يې د انحرافونو، ماديات او شهوتونو په لور بې لارې کړي.
غرب د مسلمانانو په خلاف په فکري جګړې او د اسلام او جهاد د شرعي مفاهيمو په تحريف کې يوازې نه دی، بلکې ډېر شرعي علم ته منسوب د اسلام له روح څخه ناخبره ملايان، مفتيان، پيران، د مدارسو مسؤولين او تش په نامه د اسلامي تنظيمونو منسوبين يې هم له ځان سره ملګري کړي دي، او د هغوئ په وسيله د امت ځوانان او عام ولس د مجاهدينو له مرستې او ملاتړ څخه ايساروي، تر څو د يرغلګرو کفارو په مقابل کې جنګېدونکي مجاهدين د مسلمان امت له ملاتړ څخه محروم کړي.
د دښمنانو له طرفه د اسلامي او جهادي مفاهيمو د تحريف د مخنيوي ترځنګ دېته هم شديد ضرورت ليدل کېږي چې پخپله مجاهدين او د اسلامي نظام د قائمولو لپاره مبارزين د اسلام په حقيقت ځانونه ښه پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، مجاهدينو ته د جهاد شرعي حيثيت واضح کړای شي، او د جهاد او فکري مبارزې د هرې مرحلې اهداف او تګلارې ورته تشخيص او بيان کړای شي، ترڅو په پوره بصيرت او درايت د دښمن هر اړخيزه مقابله وکړي، او د حالاتو لوړ او ځوړ هغوئ د جهاد له دوام څخه ستومانه نه کړي.

زموږ جهادي خپرونې بايد له سطحيت څخه ووځي او د لاندې اهدافو او مقاصدو لپاره ښه پراخه او ژور کار وکړي:

۱ – جهادي خپرونې بايدکوښښ وکړي چې افغان مجاهد ملت د اسلام او جهاد له حقيقي مفاهيمو او مقاصدو نور هم ښه باخبره وساتي، او پدې هکله د اسلام د دښمنانو لخوا د اسلامي شريعت او جهاد په خلاف راولاړو شوو شکوکو او شبهاتو ته شرعي علمي او منطقي ځواب ووايي. ځکه چې دښمنان هڅه کوي د ډول ډول وسوسو او شبهاتو په مطرح کولو نوی نسل د اسلامي شريعت د تطبيق او د جهاد د فريضې په اړه شکمن کړي، او بالعکس يې له دښمن سره (سولې)، (د جهاد پرېښودو)، (ډيموکراسۍ) او نورو غربي افکارو او نظرياتو د وربللو له لارې د اسلام په مخالفت کې يې په خپل صف کې ودروي.

۲ – جهادي خپرونې بايد نوي نسل ته د دې حقيقت وضاحت وکړي چې جهاد د الله ﷻ له لوري يوه لويه فريضه ده چې مسلمانان شرعاً د هغې په ترسره کولو مکلف دي. او هم بايد دا حقيقت خلکو ته څرګند کړي چې مسلمانان ټول يو امت دي او اسلامي نړۍ د هغوئ مشترک کور دی چې له هغه څخه دفاع او په هغه کې د اسلام د نظام حاکمول د ټولو مسلمانانو مشترک مسؤوليت دی، او پر همدې اساس د ټولې نړۍ رېښتني مجاهدين په خپلو کې سره وروڼه، د يوه هدف خاوندان او د يوې لارې لارويان دي.

ټولې هغه هڅې چې مسلمانان يو له بله سره بېلوي، او ټول هغه استعماري پلانونه چې اسلامي نړۍ يې وېشلې او ټوټه ټوټه کړې ده په حقيقت کې د اسلام او مسلمانانو د له منځه وړلو اساسي عوامل دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانانو ته د هېڅ اعتبار وړ نه دي، او د هغو دله منځه وړلو لپاره هم آهنګ کوښښونه يو شرعي ضرورت او د وخت مبرمه تقاضا ده.

د اسلامي نړۍ مجاهدين شرعاً پدې مکلف دي چې د نړۍ په هر ګوټ کې د خپلو مظلومو او مستضعفو مسلمانو ورونو مرستې ته د امکان تر حده ځان ور ورسوي او د سيمې مجاهدين هم بايد ورغلي مجاهدين د حالاتو او امکاناتو په پام کې نيولو سره سم په خپلو صفونو کې تنظيم کړي. دا داسې يو شرعي حکم دی چې تر ټولو سياسي او سيمه ييزو مصالحو بايد لوړ وګڼل شي، الله ﷻ د مسلمانانو د دغه شرعي مسؤوليت په اړه فرمايي:﴿وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞۗ﴾الأنفال: ۷۲.

ژباړه: (او که چېرې مؤمنان له تاسې څخه په دين کې مرسته وغواړي نو پر تاسو د هغوئ مرسته کول فرض دي، خو د هغه قوم په مقابل کې نه چې ستاسې او د هغوئ تر منځ کوم د جګړې نه کولو تړون موجود وي).

رسول اللهﷺ هم فرمايي:

(المسلم أخو المسلم، لايخونه، ولايكذبه، ولايخذله، ولايظلمه، ولايُسلمه، كل المسلم على المسلم حرام، عِرضه، وماله، ودمه، التقوى هاهنا – وأشار إلى القلب – بحسب امرىء من الشر أن يحقر أخاه المسلم) رواه مسلم.

ژباړه: (مسلمان د مسلمان ورور دی، نه به خيانت ورسره کوي، نه به درواغ ورته وايي، نه به يې دښمن ته يوازې پرېږدي، نه به ظلم ورباندې کوي او نه به يې دښمن ته ورسپاري. د مسلمان هر څه پر بل مسلمان حرام دي، ناموس يې، مال يې او وينه يې. تقوی دلته ده – او بيا يې زړه ته اشاره وکړه – د يو چا لپاره همدا شر بس دی چې خپل مسلمان ورور سپک وګڼي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمنان غواړي مجاهدين د قومونو، سيمو، فقهي مذاهبو او د فکر پر بنسټ پر بېلابېلو ډلو ووېشي، اهداف او توجهات يې يو له بل څخه بېل معرفي کړي، پداسې حال کې چې غربيان بيا په خپله د يو ځای کېدلو او په خپلو منځونو کې د سرحدونو د له منځه وړلو په لور ور روان دي. شرقي او غربي اروپا چې يو وخت يوه له بلې سره په اوږدې جګړې کې اخته وې اوس يې تقريباً ټول اروپايي هېوادونه په يوه (اروپايي اتحاد) کې سره يوځای شوي چې مشترك پارلمان، مشترکه سکه، مشترك پوځي تړون او د اسلام په خلاف مشترك موقف لري، او په مشترك ډول په ټوله اسلامي نړۍ کې د حقيقي مسلمانانو په خلاف جنګېږي.

۳ - جهادي خپرونې بايد مسلمانان وهڅوي چې په ټولې نړۍ کې د مسلمانانوله ملي او نړيوالو قضاياؤ څخه دفاع وکړي، او هم په افغانستان او سيمه کې د ټولو هغو سياسي، فکري، اجتماعي، اقتصادي، ادبي، فرهنګي او نورو تشکيلاتو په اړه چې د اسلام دښمنو ځواکونو او هېوادونو له لوري رامنځته شوي خپلو لوستونکو ته کره معلومات وړاندې کړي، او د هغوئ له هغو پروګرامونو، توطيو او فعاليتونو خپل مسلمان ولس خبر کړي چې له اسلام او اسلامي نظام سره يې د مخالفت لپاره دلته په کار اچولي دي، ترڅو د پرديو لخوا دغه ګومارل شوي (سيکولر) عناصر مسلمانانو ته رسوا شي، او د تباه کوونکو فعاليتونو مخه يې ونيول شي.او دا ځکه چې نن کفارو ټوله اسلامي نړۍ د هغو اشخاصو، مؤسساتو، حکومتونو او فکري جهتونو په مټ د ځان لپاره تسخير کړې چې ځانونه مسلمان او د اسلامې امت برخه بولي خو کار د کفارو لپاره کوي.

۴- جهادي خپرونې بايد اسلامي ادب ته د ودې ورکولو او د ځوانو ليکوالو، شاعرانو، اديبانو او مفکرينو د استعدادونو د غوړېدا لپاره د زمينې د برابرولو په مقصد په پراخ ډول کار کول له خپلو مهمو اهدافو څخه وګڼي، او د ځوانو استعدادونو پر مخ د مسلمان ولس د احساساتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمانونو د اظهاراو بيان جرأتمن منبرونه رامنځته کړي، ترڅو وکولای شي د منحرفو، پردي پالو، خرڅو شويو، کرايي، مبتذلواو د غرب لخوا د توظيف شويو شاعرانو او ليکوالو د زهر شيندلو مخه ونيسي، او مسلمانه ټولنه د هغوئ د ترجمه شويو، وارداتي او زهرجنو ليکنو له منفي تأثيره وژغوري.

۵- د مسلمانو ټولنو پر فکري حريم د غرب د فرهنګي يرغل مقابله هم بايد د جهادي خپرونو له مهمو اهدافو څخه وګڼله شي، او پدې ډګر کې بايد د اسلامي فکر بډايه او اصيل فکري ادبيات د ځوان نسل مخې ته کېښودل شي ترڅو د غرب د سيکولرو او الحاد ځپليو وارداتي افکارو او نظرياتو مقابله وکړای شي.

همدا اوس په افغانستان کې د اشغالګر صليبي اتحاد هر شريك هېواد خپلو اهدافو ته د رسېدلو او افغانانو ته د خپل فرهنګ د راصادرولو په مقصد په مرکز او بېلابېلو ولاياتو کې په لسګونو مطبوعاتي ادارې، راډيوګانې او تلويزونونه جوړ کړي، او په زرګونو ليکوالان، خبريالان او د قلم خاوندان يې ورکې په کار ګومارلي دي، ترڅو د افغانستان په فکري او فرهنګي اشغال کې د يرغلګرو مرسته وکړي. دغه خرڅ شوي ليکوالان او د رسنيواو مطبوعاتو خاوندان پداسې يو لوی خيانت او ملي جرم کې اخته دي چې ضرر يې په افغانستان کې اسلام او مسلمانانو ته د صليبيانو تر پوځي جګړې ډېر خطرناك دی.

جهادي خپرونې بايد هڅه وکړي چې په خپل فکري او مطبوعاتي جهاد د هېواد مطبوعاتي ډګر چې د پرديو لخوا اشغال شوی بېرته ازاد کړي، او ملت ته هغه مفاهيم او معلومات وړاندې کړي چې د مؤمن ملت د آزادۍ روحيه تمثيل کړي، ديني، ملي، تاريخي او اجتماعي ارزښتونه يې خوندي کړي، او د راتلونکي لپاره د اسلامي نظام تر سيوري لاندې د آزادۍ، خپلواکۍ، پرمختګ او سالمې پوهې په لوري د هېواد د بچيانو لارښوونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جهادي خپرونو په صف کې باید ټولو هغو پوهو، دردمنو با احساسه لیکوالو، مطبوعاتیانو، ناشرانو، د اسلام د خپرولو په لاړ کې پانګوونکو او د فکر او شرعي علم خاوندانو ته ځای ورکړ شي چې مسلمانان ټول یو امت او اسلامي نړۍ د هغوي مشترك كور ګڼي، او له هغه څخه دفاع او په هغه کې د اسلامي نظام حاکمول د ټولو مسلمانانو مشترکه وظیفه بولي، او په ټولې نړۍ کې د اسلام له ارزښتونوڅخه دفاع د خپل شرعي مسؤولیت په حیث مني.

پرون چې د کمونیزم په مقابل کې مسلمانانو یو جهادي موقف درلود او له منطقوي، ژبنیو او مذهبي توپیرونو پرته یې د یوه امت په څېر د دښمن په خلاف جهاد کاوو ځنګه یې هم افغانستان او هم نړۍ د کمونیزم له شر څخه خلاصه کړه! که نن هم د نړیوال صلیبي یرغل په مقابل کې په ټوله نړۍ کې یو جهادي دریځ ولرو او په همغږۍ د دښمن مقابله وکړو، له تېرو ترخو تجربو درس واخلو او د راتلونکي لپاره داسې روښانه تګلاره ولرو چې مسلمانان هیله من او پر ځان باوري کړي نو لیرې نده چې اسلامي نړۍ به د غرب له شر څخه هم خلاصه شي.

۶- جهادي خپرونې باید د ورځنیو خبرونو، تبصرو، مضامینو او سیاسي تحلیلونو ترڅنګ د کفر او ګمراهۍ د معاصرو شکلونو لکه (ډیموکراسۍ)، (لیبرالیزم)، (وضعیقوانینو)، (نشنلیزم)، (وطنیت)، (هیومنیزم)، (ګلوبلایزیشن)، (د ښځو غربي ډوله آزادي)، (غربي ډوله بشري حقوق)، (سیکولریزم) او د نورو کفري نظریاتو څېړنې او نقد ته هم پوره توجه وکړي، ځکه چې غرب په اسلامي نړۍ کې د همدغو نظریاتو د خپرولو له لارې پر اسلام د ملیونونو مسلمانانو باور کمزوری کړی، او هغوئ یې په خپل ملاتړ د ریښتیني اسلام په خلاف د جګړې په ډګر کې درولي دي، او د همدوئ په لاس یې د اسلامي شریعت د پلي کېدو مخنیوی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- د جګړې له ډګره د غربي قواوو تېښته باید په موږ کې دا کاذبه خوشباوري او غرور پیدا نه کړي چې جګړه مو وګټله او نور به نو خیر او خیریت وي او د سترګو په رپ کې به موږ اسلامي نظام قائم کړای شو. د تېرو دیارلسو کلونو جګړه چې په نتیجه یې موږ دښمن تېښتې ته اړ کړ یوازې د جهاد یوه مرحله وه. تر دې وروسته د جهاد نورې مهمې مرحلې پاتې دي، دلته دښمن دومره چورګوړې وېستلي او دومره هګۍ یې اچولې دي چې راتلونکي څو نسله به یې د اسلامي نظام د قائمېدلو د مخنیوي هڅو ته په بېلابېلو شکلونو ادامه ورکوي. غرب به په فکري، سیاسي، اقتصادي او تبلیغاتي ډګرونو کې د هغوئ تر شا درېږي او دوئ به په ولس کې د خپلو ریښو د غځولو او خپلو نظراتو د خپرولو لپاره په پراخه پیمانه کار ته دوام ورکوي.

د اسلامي نظام د قائمولو او چلولو لپاره د شخصیتونو روزل، د اسلام حقیقي مفاهیم خلکو ته رسول، په فکري او تعلیمي لحاظ د وطن بیا ودانول، په بېلابېلو ډولونو سره وېشل شوی ولس بېرته سره یو کول، ښه حکومتداري رامنځته کول، هېواد په اقتصادي لحاظ پر خپلو پښو درول، د ژوند د ټولو چارو او ابعادو لپاره په معاصره بڼه د اسلامي قوانینو برابرول او بیا د هغو پلي کول، د بې دینۍ، سیکولریزم، غربپالنې، بدعتونو، خرافاتو او وضعي قوانینو له منځه وړل او په زرګونو نور لوی لوی کارونه ټول زموږ د راتلونکې مرحلې د جهاد پړاوونه دي چې باید د ترسره کولو لپاره یې په ځان کې وړتیا پیداکړو.

که د یادو شویو کارونو د ترسره کولو لپاره په ځان کې واقعي وړتیا پیدا نه کړو او یوازې په شعارونو او دعوو اکتفا وکړو، نو پدې کې هېڅ شک نشته چې د روان جهاد لاسته راوړنې به مو بېرته له لاسه ځي، ځکه چې دښمن مو تر جګړې د وروسته مرحلې لپاره پوره تیاری لري. نو په کار ده چې جهادي مطبوعات مو دغو ټولو مفاهیمو ته پوره پام وکړي، او په پراخه پیماته یې مجاهدینو ته په مسلسل ډول ورتلقین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعداد يو شرعي مسؤوليت او جهادي ضرورت

په اسلام کې چې د جهاد عبادت ته (ذورة سنام الاسلام) ويل شوي او د لوړې مرتبې عبادت ګڼل شوی دا له دې امله ده چې په جهاد د اسلام ساتنه کېږی، د جهاد په وسيله هغه خنډونه ليرې کېږي چې د الله تعالی بنده ګانو ته د حق د دعوت د ورسېدلو مخنيوی کوي، د هغه په وسيله د ظالمانو او مفسدينو د ظلم او فساد مخه نيول کېږی ، او د همدی جهاد په وسيله د اسلامي امت معنوي ارزښتونه او زمکني سرحدونه خوندي کېږي.

خو جهاد په هغه وخت کې خپل پوره افاديت ښيي چې په شرعي ډول ترسره شي، او په پوځي، معنوي او روحي لحاظ د هغه لپاره پوره تياری ونيول شي.

که له يوې خوا الله تعالی مسلمانانو ته د کفر او فتنې په مقابل کې د جهاد د کولو امر کړی او فرمايلي دي: (**وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ**)الأنفال/٣٩.(تر هغه د کافرانو په خلاف وجنګېږئ چې فتنه (شرك) له منځه ولاړ شي او يوازې د الله دين حاکم شي). نو له بل لوري يې مسلمانانو ته د جهاد لپاره د تياري د نيولو او د اعداد دفريضې د ادا کولوامر هم کړی او فرمايلي يې دي:(وأعدوا لهم مااستطعتم من قوة و من رباط الخيل ترهبون به عدوالله وعدوكم وآخرين من دونهم لاتعلمونهم الله يعلمهم) الأنفال/٦٠.

ترجمه:(څومره چې کولی شئ د کافرانو د مقابلې لپاره قوت او زين کړي اسونه تيار کړئ چې د الله دښمنان، خپل دښمنان او او نور هغه دښمنان پرې ووېروئ چې تاسې يې نه پېژنئ الله يې پېژني).

دا چې د اسلام دين د الله تعالی ورستی حق دين دی او مسلمانان يې د نړۍ خلکو ته پر رسولو او د هغه د رسولو پر لاره د پرتو خنډونو پر ليرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو مکلف دي نو ځکه خو باید دا امت د تل لپاره یو قوي، مستعد، او متحرك امت وي، او د دین د رسولو او له هغه څخه د دفاع په لاره کې باید د هر ډول مادي او معنوي وړتیاوو درلودونکی او د هغه لپاره د قربانۍ ورکولو ته تیار وي.

که له یوې خوا مسلمانان انسانانو ته د الله تعالی د دین په ور رسولو مکلف دي او د دی کار لپاره له تېرو څه باندې څوارلس سوه کلونو په مسلسل جدوجهد کې راروان او له ډېرو لوړو او ژورو راتېر شوي او د عروج او تنزل پړاونه یې وهلي دي نو له بل لوري د شیطان پلویانو او له الله تعالی سره په دښمنۍ اخته خلکو هم د تل لپاره د اسلام د خپرېدو د مخنیوي او د مسلمانانو د له منځه وړلو او یا کمزوري کولو لپاره خپلې هر ډول هڅې کړې او په هره زمانه کې یې خپلې ټولې مادي او معنوي وړتیاوې او وسایل په کار اچولي او د حق په مقابل کې د قوي جبهې د جوړولو په مقصد یې یو بل ته سره په خپلو کې لاسونه ورکړي دي، او د مسلمانانو په خلاف یې لوېې او اوږدې جګړې کړې دي چې د فارسیانو، رومیانو، د اروپا صلیبي او استعماري جګړې، د کمونیزم د خپراوي لپاره د شوروي اتحاد جګړې او بالآخره د دیموکراسۍ د کفري نظریې او نظام د خپرولو لپاره د امریکا او ټول غرب اوسنۍ روانه جګړه یې واضح مثالونه دي.

د رسول الله صلی لله علیه وسلم اصحابانو او د هغوئ تابعینو هم د اسلام د خپرولو په لاره کې جهاد او اعداد ته دومره لویه توجه کړې وه چې د مادي وسائلو او د حمل او نقل د قوي او لویو ذرائعو له نه شتون سره سره یې بیا هم د اسلام پیغام له جزیرة العرب څخه د اروپا تر غربه او د هند، چین، روسي او قوقاز ترهېوادونو ورساوه. هغوئ د خپلې زماني بهترین توره وهونکي، غره ختونکي، صحراپیمایان، اسپ سواره، نښه ویشتونکي،لامبو وهونکي او د نورو رزمي استعدادونو لرونکی ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ په اعداد او تمرین کې داسې رالوی شوي ول چې عسکریت او د رزمي وړتیاوو درلودل یې نور د ژوند بنه ګرځېدلي وو.
صحابه کرامو رضي الله عنهم به له جهاد او اعداد څخه کښیناستل هلاکت ګاڼه، ځکه چې الله تعالی په قران کریم کې دې کښیناستلو ته (تهلکه) ویلي وو او هغوئ یې ورڅخه منع کړی وو:(ولاتلقوا بأیدیکم إلی التهلکة) یعنې (د جهاد اعداد او رباط په پرېښودلو او د دنیا په کارونو د پوره مصروفېدلو له امله ځان په هلاکت کې مه غورځوئ). ابو ایوب انصاري رضي الله عنه هم صحابوؤ او تابعینو ته د دې آیت همدغه تفسیر کړی وو.

د اعداد شرعي دلائل:

الله تعالی په سورة الأنفال کې مسلمانانو ته له دښمن سره د مقابلې لپاره د هر ډول اعداد او د مطلوب قوت د برابرولو امر کړی دی، الله تعالی فرمایلي :(وأعدوا لهم مااستطعتم من قوة و من رباط الخیل ترهبون به عدولله و عدوکم وآخرین من دونهم لاتعلمونهم الله یعلمهم) الأنفال/ ۶۰.
ترجمه:(څومره چې کولی شئ د کافرانو د مقابلې لپاره قوت او زین کړي آسونه تیار کړئ چې د الله دښمنان، خپل دښمنان او نور هغه دښمنان پرې وویروئ چې تاسې یې نه پېژنئ الله یې پېژني).
د تفسیر علماء وایي چې پدې آیت کې د (قوة) لفظ نکره دی، او نکره عام وي او دلته هم دا لفظ په هر ډول قوت باندې دلالت کوي.
د جهاد لپاره اعداد نه کول په قرآن کریم کی د منافقانو له صفاتو څخه ګڼل شوي دی، الله تعالی د جهاد لپاره د منافقینو د اعداد د نه کولو په اړه فرمایي:(**وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ**)التوبة/ ۴۶.
ترجمه:(که هغوئ (منافقانو جهاد) ته د وتلو اراده درلودی نو تیاری به یې ورته نیولی وو، خو د هغوئ راپورته کېدل د الله خوښ نه وو، نو ځکه یې سست کړل، او ورته وویل شول چې له کښېناستونکو سره کښېنئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو احادیثو کې مسلمانان د جهادي اعداد بېلابېلو ډولونو ته تشویق کړي دي او هغوئ یې اسپ سوارۍ، نښنه ویشتلو، لامبو زده کولو او د پوځي وسائلو جوړولو ته هڅولي دي.

نن چې په نړۍ کې کافران د جنګ، سیاست ، تعلیم او اقتصاد په ډګرونو کې برلاسي شوي او هره خوا یې په اسلامي نړۍ کې پر مسلمانانو او نورو ولسونو او مجاهدینو حملې دي سبب یې دا ندی چې هغوئ پرحقه دي، او یا دا چې د الله توفیق او نصرت یې په برخه دی. بلکه اصلي سبب یې دا دي چې هغوئ د جګړو لپاره پوره اعداد او منظم پلانونه لري، او د جګړه ییزو مهارتو او پوځي صنعت په ډګرونو کې یې پوره کار کړی دی، او لوی زمکني، هوايي او سمندري پوځونه او پوځي وسائل یې جوړ کړي دي، او هم هغوئ په رواني او فکري لحاظ خپلو پوځیانو ته پوره روزنه ورکوي.

کفار نه یوازې دا چې د بدني او فکري اعداد او د پوځي وسائلو او وسلو په جوړولو کې د خپلې برلاسۍ لپاره مسلسلې او په خپلو منځونو کې سره همغږې هلې ځلې کوي، بلکې په ټول توان او د هر ډول توطیو او فشارونو په استعمال د دې لپاره هم په سیمه ییزه او هم په نړیواله سطحه کوښښ کوي چې مسلمانان له عسکري وړتیاوو او د پوځي صنعت له درلودلو محروم کړي، ترڅو یا د خپلې کمزورۍ له امله له منځه ولاړ شي، او یا هم د کفارو قوت او د هغوئ شرطونو ته غاړه کېږدي.

د اسلام دښمنان او له مسلمانانو سره په جګړه کې اخته اوسنی نړیوال صلیبي ایتلاف او د هغه فکري او اقتصادي ملګري او پر اسلامي نړۍ د هغوئ له لوري تپل شوي حکومتونه او سیاسي احزاب ټول له یوې مخې د خپلې زوروري مېډیا ، تعلیمي نصابونو، فرهنګ او ادبیاتو، ټولنیزو رسنیو او نورو اجتماعي او فکري سازمانونو له لارې کوښښ کوي چې د اسلامي امت ځوانان او راتلونکي نسلونه له جهادي اعداد او د وسلې له استعمال څخه متنفر کړي، او د هنر، د عدم تشدد د مبارزې، نړیوالتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نورو واردو شویو فکري ګمراهیو له لارې یې د ذلت او بې غیرتۍ په ژوند او د کفارو د اهدافو لپاره په کار کولو قانع او مصروف کړي.

د دې لپاره چې له اسلام سره په جګړه کې اخته اوسنی نړیوال صلیبي ایتلاف او د هغه محلي ملګري د اسلامي نړۍ ځوانان د جهاد او دفاع له میدانونو لیرې وساتي او په بېهوده مصروفیتونو یې مصروف کړي، نو په منظم شکل یې هغوئ د جنون تر حده په بېلابېلو سپورټونو لکه کرکټ، فوټبال، د میراتون په منډو، د بادۍ د ښکلا په کلپونو، موسیقۍ، ګډاوو، د ښځو او نرو په اختلاط، په رومانتیکې شاعرۍ، عشق او عاشقۍ، غربي ډوله فیشنونو او نورو بیهوده مصروفیتونو اخته کړي دي، او غربي دولتونه او موسسې د هغوئ لپاره د ځوانانو کلپونه، د لوبو میدانونه، تیاترونه، خارجي سفرونه، تش په نامه د ځوانانو پارلمانونه او کنفرانسونه، ادبي بهیرونه، د خوشګذرانۍ بنډارونه او د ماډلنګ نندارتونونه جوړوي، او په ملیونونو ډالر وربانديې پدې مقصد مصرفوي چې د امت ځوانان له علم، دعوت، جهاد، صنعت، زراعت، مسؤولیت پېژندنې او له دین او وطن څخه د دفاع له کاره راوګرځوي، او د ریښتنې اتلولۍ له ګټلو څخه یې د کرکټ، ګډاوو، سندرو، او فلمونو په اتلولۍ تېرباسي.

د دې لپاره چې د پردیو لخوا تپل شویو حکومتونو له یوې خوا نور ځوانان هم د جهاد او دفاع له سنګرونو لیرې ساتلي وي، او د پردیو فرهنګونو په خپلولو یې مصروف کړي وي، او له بلې خوا یې له لویو ستونزو د ولسونو پام بل لوري ته اړولی وي په لویه پیمانه بېهوده مصروفیتونو ته د ځوانانو د ورتشویقولو پر پروګرامونو درانه مصرفونه کوي او د داسې لوبغاړو او سندرغاړو استقبال ته ساده ولسي خلك له ډولونو او سورنیو سره لویو لارو او بازارونو ته راوباسي چې له لهو او لعب پرته یې بل څه نه وي تر سره کړي، خو د غرب پلوې مېډیا له لوري اتلان بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جهادی اعداد ډولونه:

لکه څنګه چې جهاد يو ايماني،عسکري، سياسي او اجتماعي عمل دی او نتائج يې هم د اسلامي ټولنې پر ايمان، پوځي غلبې او شکست او د ټولنې په سياسي او اجتماعي وضعيت مرتبيږي، نو همدارنګه بايد اعداد هم ورته پدې ټولو ډګرونو کې ونيول شي. او که چېرې په دې ټولو ډګرونو کې د جهاد لپاره اعداد ونه نيول شي نو هر وخت د دې وېره شته چې يا دې جهاد او مجاهدين د دښمن په مقابل کې مغلوب شي، يا دې جهاد په فساد او طغيان بدل شي، او په نتيجه کې دې يې يو فاسد او مستبد نظام رامنځته شي، او يا دې هم دښمن په دې وتوانيږي چې د جهاد د لارې لارويان د خپلو پټو او ښکاره دسيسو او توطيو په نتيجه کې په خپل صف کې ودروي، چې په تاسف سره دا ټول حالتونه زمونږ په جهادي بهيرونوکي وليدل شول.

نو د دي لپاره چې منفي تجربې بيا بيا تکرار نشي، د جهادي اعداد لپاره بايد په لاندي ډګرونو کې ډېر کار وشي.

١ - ايماني او شرعي اعداد:

مخکې تر دې چې مجاهد ته ټوپك په لاس ورکړ شي هغه بايد د ايماني اعداد له مرحلې تېر شي. په ايماني اعداد کې بايد مجاهدين پدې معتقد شي چې :

الف: جهاد يوشرعي عبادت دی چې د الله له لوري پر مسلمانانوفرض شوی دی:(كتب عليكم القتال وهو كره لكم وعسى أن تكرهوا شيئا وهو خير لكم وعسى أن تحبوا شيئا وهو شر لكم والله يعلم وأنتم لا تعلمون)البقرة/٢١٦.

ترجمه:(پر تاسې جنګ فرض کړای شوی دی که څه هم تاسې يې نه خوښوئ، شايد تاسې يو شی بد وګڼئ خو هغه به ستاسې لپاره غوره وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او شاید تاسې به یو شی ښه وګڼئ خو هغه به ستاسې لپاره شر وي، الله ښه پوهېږي او تاسې نه پوهېږئ).

جهاد نه کومه سیاسي مبارزه ده، نه یوازې د آزادۍ لپاره جګړه ده، نه کوم ولسي پاڅون دی، او نه هم د مال، تنخوا او یا نورو امتیازاتو په مقابل کې جنګېدل دي. بلکې جهاد یوازې د دې لپاره جنګېدل دي چې د الله تعالی کلمه دې لوړه شي، شریعت دې نافذ شي، مسلمانان دې نورو خلکو ته د اسلام پیغام او دعوت ور ورسولی شي، او د ظالمانو او کافرانو له ظلم او تجاوز څخه دې خوندي وي.

ب: لکه څنګه چې په اسلام کې نورعبادتونه خپل شروط، آداب، او احکام لري همدارنګه جهاد هم خپل شروط، آداب، احکام او خپلې تقاضاوې لري چې باید وپېژندل شي او مراعات شي. که چېرې په جهاد کې د جهاد خپل شروط، آداب، احکام، او د هغه تقاضاوې پوره نشي نو بیا جهاد یو شرعي عبادت نه پاتې کېږي، بلکې د یوې ورانوونکې جګړې حیثیت او شکل غوره کوي چې د الله تعالی د رضاکولو لپاره نه بلکې د نورو سیاسي، قومي او یا اقتصادي مقاصدو لپاره تر سره کېږي.

نو په کار ده چې مجاهدین د جهاد پر فقه وپوهول شي، او د جهاد د مشروعیت او فرضیت له دلائلو خبر کړی شي، د قتال، فرار، غنیمت، شهادت، طاعت، رازساتنې او ولاء او براء احکام ور معلوم شي. همدارنګه د نیت او عمل اصلاح ته متوجه کړای شي، له الله تعالی، د هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د اسلام له مبارك دین سره مینه یې په زړه کې ځای کړای شي، د دنیا او دنیاوي خوندونو په اړه د زهد او بې رغبتۍ او د آخرت د نعمتونوپه اړه تلقین او ترغیب ورته وشي. د ذکر، تلاوت، تزکیة النفس، توکل علی الله، نېکو اخلاقو، د مسؤولیت د پېژندنې صفات ورکې پیدا کړل شي، او د امت د علیا مصالحو په خاطر له خپلو شخصي مصالحو د تېرېدنې احساس ورکې راوستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدينو ته د دې ورښوول هم ضروري دي چې د جهاد د ډګر کې له حلالو او حرامو خبر شي، د دعوت، امر بالمعروف او نهي عن المنكر او د الله تعالى د حدودو د ساتلو استعدادونه ورکې وروزل شي. که مجاهدينو ته دغه ډول ايماني اعداد ورکړ شي نو په هغه وخت کې به بيا يو مجاهد په حقيقي معنى مجاهد وي، او هغه صفات به ورکې راځي چې الله يې د مجاهدينو په هکله يادونه کړې ده چې فرمايي:(التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدونَ الآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ)التوبة ١١٢.

ترجمه:(هغوئ توبه کوونکي، عبادت کوونکي، ثنا ويونکي، د الله په لار کې وتونکي، رکوع او سجده کوونکي، پر نېکيو امر کوونکي او له بديو منع کوونکي او د الله د حدودو ساتونکي دي، او (اى پيغمبره) مؤمنانو ته د خوښۍ زېرى ورکړه).

ج: د ايماني اعداد په لړکې دا هم ضروري ده چې مجاهدين د خپلې قضيې پر حقانيت وپوهول شي، د دښمنانواو مرجفينوله لوري پر راپورته کړل شويو شبهاتو وپوهول شي او د هغو پر شرعي او معقولو ځوابونو آګاه کړل شي. ځکه چې شبهې، وسوسې او تشويشونه هغه څه دي چې د مجاهد عزم سستوي، د خپلې قضيې په حقانيت يې شکمن کوي، او بالآخره يې له جهاده منصرف کوي چې په عسکري اصطلاح کې همدې ته رواني (روحي) جګړه ويل کېږي.

همدارنګه بايد مجاهدين د جهاد په خلاف له پټو او ښکاره توطيو خبرکړل شي، د دښمن داخلي او خارجي ملګري او له هغه سره متعاون حکومتونه، ارګانونه او مؤسسات ور وپيژندل شي، او هغه مطبوعاتي او اقتصادي مؤسسې، مفکرين، ليکوالان، رسنۍ او نور مؤثر جهتونه هم ورته معرفي شي چې د جهاد او مجاهدينو په خلاف منفي تبليغات کوي او د دښمن تله درنوي. د دغو جهتونو پېژندل او د هغو په اړه مناسب اقدامات ځکه ضروري دي چې نن ورځ د اسلام دښمنان خپله اتيا فيصده جګړه د همدغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهتونو له لارې كوي، او يوازې شل فيصده جګړه د پوځي وسائلو په استعمال كوي.

د ايماني اعداد په لړكې د هغو مطبوعاتي وسائلو او نشراتو درلودل هم ضروري دي چې له جهادي قضاياوو دفاع كوي، مجاهدينو ته حقائق روښانه كوي، خلكو ته د جهادي پرمختګونو او د مجاهدينو د برياوو خبرونه رسوي، د دښمنانو د تبليغاتو او دسيسو ځواب وايي، په جهادي صف كې ايماني احساسات پالي او ځپاند يې ساتي، او د حق غږ پورته كوي.

د ايماني اعداد په لړ كې پدې خبرې د مجاهدينو پوهول هم ضروري دي چې جهاد كومه سياسي يا وطني جګړه نه ده چې په سولې، متاركې، سياسي جوړجاړي او يا دې له دښمن سره په كوم ډول پخلاينې پاى ته ورسيږي. بلكې جهاد هغه جګړه ده چې د كفر تر زوال او د الله تعالى د كلمې تر پوره لوړوالي،د ژوند په ټولو چارو كې د دين د حاكم كېدلو او پر زمكه د كفر او شرك تر نه پاتې كېدلو به دوام لري.

په جهادي نظريه كې له دښمن سره په جګړه كې تكتيكې اوربند او موقته هدنه شته، خو دائمي سوله او د نړۍ له كفري هېوادونو سره د سوله ييز ګډ ژوند نظريه وجود نه لري.

په ايماني اعداد كې د مجاهدينو فكر پر دې خبره هم جوړول ضروري دي چې جهاد په كومې سياسي جغرافيې پورې نه محدوديږي، او نه هم سياسي سرحدونه په امت كې د جهاد د فرضيت مانع ګرځي. بلكه د جهاد عيني او كفايي فرضيت د مسلمانانو په ضعف او قوت پورې اړه لري.

بدني او عسكري اعداد:

په جهادي اعداد كې د شرعي او ايماني اعداد تر څنګ اصلي او مهم اعداد بدني او پوځي اعداد دى. بدني اعداد دا دى چې مجاهدين بايد جسماً داسې تمرين شي چې په هر ډول حالاتو اوهر ډول اراضي كې د تحرك او مانور وړتيا ولري، او له هر ډول جوي حالاتو سره تعامل وكولي شي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې تر څنګ باید د امکان تر حده رزمي هنرونه لکه کراټې، جمناستك، اسپ سواري او نور هنرونه هم حاصل کړي.

عسکري اعداد لاندې دوه عمده برخې لري چې د وسلو او وسائلو صحیح استعمال او عسکري صنعت دي.

۱ـ د وسلو او وسائلو صحیح استعمال:

په عسکري اعداد کې د وسلو استعمال او په خاص ډول د هدف ویشتل ډېر اهمیت لري، او په اسلام کې هم همدې کار ته (قوت) ویل شوی دی. د الأنفال په سورت کې چې الله د اعداد امر کړی او فرمایلي یې دي: (وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ)الأنفال/ ۶۰.

ترجمه:(څومره چې کولی شئ د کافرانو د مقابلې لپاره قوت او زین کړي اسونه تیار کړئ چې د الله دښمنان، خپل دښمنان او او نور هغه دښمنان پرې ووېروئ چې تاسې یې نه پېژنئ الله یې پېژني).رسول الله صلی الله علیه وسلمپه دې آیت کې د (قوت) تفسیر په (رمیې) یعنې ویشلو سره کړی، او پر دې موضوع یې د تأکید له امله په تکرار سره فرمایلي:(ألاإنّ القوةالرمي،ألاإنّ القوة الرمي، ألاإنّ القوة الرمي). مسلم، ترمذی، ابوداود، ابن ماجه، احمد). خبر اوسئ چې قوت (ویشتل) دي، خبر اوسئ چې قوت (ویشتل) دي، خبر اوسئ چې قوت (ویشتل) دی).

په احادیثو کې د هغه چا په هکله وعید راغلي چې نښه ویشتل یې زده کړي وي او بیا یې ېرته هېر کړي وي:(من علم الرمي ثم ترکه فلیس منا، ـ أو ـ قدعصی). مسلم.

ترجمه:(څوك چې نښه ویشتل زده کړي او بیا یې پرېږدي هغه زموږ له ډلې نه دی) او یا دا چې(ګناه یې وکړه).

د هدف ویشتلو لپاره د هرې زمانې خپلې وسلې او وسائل وي. که په پخوا زمانه کې ویشتل په غشو، نېزو، منجنیقونو او نورو ابتدایي وسائلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدل نو پدې زمانه کې په ټوپکو، توپونو، ميزائلو، بمونو او نورو پرمختللو وسلو او وسائلو ترسره کېږي.

په اوسنۍ زمانه کې د کفارو د پوځي قوت برلاسۍ او پر اسلامي نړۍ او نورو ولسونو د هغوئ د غلبې اسبابو ته که وکتل شي نو وينو چې همدغه (ويشتل) د هغوئ د قوت راز دی. هغوئ د ويشتونکو وسلو او وسائلو په جوړولو کې دې حد ته رسېدلي چې له زمکې څخه په فضا کې، له فضا څخه په زمکه کې، له وچې څخه په سمندر کې، او له سمندر څخه په وچه کې، او له يوه براعظم څخه په بل براعظم کې خپل اهداف په نښه کوي او ولي يې. داسې ښکاري لکه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم پر دې حديث چې فرمايي: (ألا إنّ القوة الرمي) ددې زمانې تر مسلمانانو کافران ښه پوه شوي وي.

په جهادي اعداد کې په بېلابېلو وسلو د رسا ويشتلو تمرين د پوځي تمرينونو تر ټولومهمه برخه ده، خو په تأسف سره بايد ووايو چې په افغانستان کې مجاهدين پدې ډګر کې مطلوب تمرين نه حاصلوي، او تر ډېره ځايه وسلې د مسلکي استعمال پر ځای په غير مسلکي او اټکلي ډول استعمالوي چې د دې کار نتيجه له يوه لوري د مرميو د بې حده زيات مصرف او له بل لوري دښمن ته د لږ زيان د راووښتلو په شکل کې راووځي.

۲ـ پوځي صنعت:

په جهادي اعداد کې پوځي صنعت دا‌عداد تر ټولو مهمه برخه ده، او هرهغه جهت چې د جګړې د پرمخ بيولو لپاره خپل پوځي صنعت ولري او پر خپلو وسائلو متکي وي هغه په پوره ډاډ او کفايت د اوږدې مودې لپاره د دښمن په خلاف جنګېدلی شي او د چا تر فشار لاندې نه راځي.

د افغانستان د جهاد په اوسني جهادي اعداد کې دا ضروري نده چې مجاهدين دې ارومرو د ټانګونو، طيارو، کشتيو، او درنو توپونو او ميزائلو صنعت ولري، او دا ځکه چې مجاهدين نه د دغه ډول صنعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړتیا لري، او نه یې هم حالات ورته برابر دي، خو یو لړ نور واړه صنعتونه او د ضروري وسائلو تولید هم م ورته مکن او هم ضروري دي چې له هغو پرته بناییي په پوره استقلالیت او اطمینان خپل جهاد ته دوام ورنه کړای شي، دغه ضروري کارونه په لاندې ډول دي:

١ ـ د بارودو بېلابېل ډولونه جوړول.

٢ـ د بمونو او ماینونو بېلابېل ډولونه جوړول.

٣ـ د لنډې مسافې د ویشتلولپاره د میزائلو جوړول.

۴ـ د بېلابېلو وسلو د ترمیم لپاره محلي ورکشاپونه جوړول.

۵ـ د ځینې ساده بیولوژیکي وسلو او سمومو جوړول.

۶ـ بېلابېل نقلیه وسائط لکه موټر، موټرسایکلونه، او نور وسائط پداسې ډول عیارول چې د پوځي مقاصدو لپاره ورڅخه کار واخستل شي، او د دې کارونو لپاره د خرادۍ او ویلډنګکارۍ په مسلکونو کې د ځینې مجاهدینو ښه روزل.

٧ـ له بېلابېلو برقي سامان آلاتو څخه د تعلیمي، دعوتي او پوځي وسائلو په حیث د کار اخستلو هنر زده کول.

دا او دې ته ورته نور ډېر کارونه دي چې په افغانستان کې یې مجاهدین ترسره کولی شي، خو په هغه صورت کې که د جهادي قیادت له لوري دې ډول کارونو ته توجه وشي.

دتعجب ځای دی چې که په عراق، شام، او فلسطین کې مجاهدین ټوپک، میزایل، راکټ لانچرونه او حتی داسې بې پیلوټه طیارې جوړوي چې د اسرائیلو پر سر کامیاب پروازونه کوي، نو موږ چې له څلوېښتو کلونو راهیسې له لویو قدرتونو سره په جګړه اخته یو ولې دغه ډول کارونو ته په مسلکي ډول توجه نه کوو؟ په کار خو دا وه چې په دې ډګر کې د افغانستان د مجاهدینو تجربه تر نورو مجاهدینو زیاته وای، خو داسې ښکاري چې زموږ جهادي قیادتونه په هر وخت کې په دې مجال کې د غفلت او بې توجهۍ ښکار شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځي صنعت که هر څومره وړوکي او ساده هم وي بیا هم د پوځي وسائلو په خود کفایۍ او د دښمن په خلاف کې د مقابلې په کار کې مهم رول لري.
پر افغانستان د امریکا او اروپا د اوسني یرغل په مقابل چې مجاهدینو یوازې د بارودو اوپه خپلو لاسونو د بمونو د جوړولو صنعت درلود نو دې صنعت د جهاد صف دومره قوي کړ چې د هغه په وسیله مجاهدینو وکولی شول چې د نړیوال صلیبي ایتلاف قواوو ته داسې ضربې ورکړي چې په نتیجه کې یې د تقریبا پنځوس هېوادونو پوځیانو د مجاهدینو په مقابل ماتې وخوړه.
د صلیبي ایتلاف د غړو د خپلو احصائیو له مخې د هغوئ پوځیانواو پوځي وسائلو ته تر ټولو لوی زیان هغو بمونو وراړولی چې مجاهدینو په خپل لاس له هغو بارودو جوړ کړي چې دوئ په خپله جوړ کړي وو.
د مجاهدینو په یوه ساده ماین چې یوازې سل یا دوه سوه ډالره مصرف به ورباندې کېده د امریکایانو او د هغوئ د ملګرو هېوادونو داسې ټانګونه او پوځي وسائل له منځه تلل چې د هر یوه قیمت به یې تقریباً یو ملیون ډالره وو.
په جهادي اعداد کې د پوځي صنعت شتون د جهاد د تداوم او د مجاهدینو د پوره استقلالیت د ضمانت په معنی ده، او که چېرې مجاهدین پدې ډګر کې اعداد ونه لري نو طبیعي ده چې د بارودو او مرمیو په لاسته راوړلوکې به له ډېروستونزو اوسختو شرائطو سره مخ کیږي.
د پوځي صنعت د برکت او اهمیت په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې دا هم راغلي چې د غشي جوړونکی به د هغه له ویشتونکي او ویشتونکي ته له ورکوونکي سره درې واړه جنت ته ځي: (إنّ الله لیدخل بالسهم الواحدثلاثة الجنة، صانعه یحتسب في صنعته الخیر، والرامي به والممد به). المستدرك علی الصحیحین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: (په یقیني ډول الله به په یوه غشي درې تنه جنت ته داخلوي: د هغه جوړوونکي چې په جوړولو کې یې د ثواب اراده لري، د هغه ویشتونکی، او ویشتونکي ته د هغه ورکوونکی).

پدې حدیث شریف کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د غشي جوړونکی د هغه له ویشتونکي سره په اجر کې یو ډول ګڼلی دی.

پوځي صنعت په قرآن کریم کې هم یاد شوی دی، الله تعالی فرمایي (وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ) الحدید: ۲۵.

ترجمه :(او هم مو وسپنه پیدا کړې ده، په هغې سره سخت جنګ کېدی شي، او خلکو ته ورکې ډېرې ګټې دي، تر څو الله ښکاره کړي هغه خلك چې د الله له لیدلو پرته د هغه او د هغه د رسولانو مرسته کوي، بې شکه الله قوي او پر هرڅه غالب دی).

امام ابن کثیر د پورتني آیت په تفسیر کې وایي:له (بأس شدید) څخه د تورو، برچو، نېزو او زغرو په څېر وسلې مراد دي). که پرون له وسپنې مخکنۍ یادې شوې وسلې جوړېدې نو نن ورڅخه تر ټولو پرمختللې وسلې او وسائل جوړیږي.

الله تعالی پر خپل ګران پیغمبر داود علیه السلام باندې یوه لورینه دا هم کړې وه چې وسپنه یې ورته نرمه کړې وه او د وسلو او وسائلو د جوړولو هنر یې ورزده کړی وو:(وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّن بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنتُمْ شَاكِرُونَ) الأنبیاء/ ۸۰.

ترجمه : (او د زغرو جوړول مو ورښوولي وو تر څو تاسې یو د بل له ګوزار نه وساتي، نو آیا تاسې شکر کوونکي یاست؟).

د مجاهدینو لپاره د ایماني او پوځي اعداد ترڅنګ یو بل ډول اعداد هم ډېر ضروري دی چې د هغه په نه شتون کې کېدی شي ډېر مجاهدین خپل ژوند له لاسه ورکړي، او یا له ډېرو روغتیایي ستونزو سره مخ شي. دغه ضروري اعداد (طبي اعداد) دی. په طبي اعداد کې هم دا ناممکنه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر مجاهد دې ډاکټر شي او د طبابت په ټولو چارو دې پوه شي، خو دا ډېره ضروري ده چې مجاهدينو ته د دوئ په تمرين ځايونو او يا يې د اوسېدلو په ځايونوکې د (لومړنيو طبي مرستو) مختصر تعليمات ورکړل شي، تر څو دعمومي حفظ الصحې، له زخمي سره د عاجلې مرستې، د زخميانو د مناسب انتقال، د وينې د درولو، د ځينې ضروري درملو د استعمال او د طبابت د ځينې ضروري وسائلو د ساتلو درسونه او عملي تمرين ورکړای شي.

مجاهدينو ته د ابتدايي طبي تعليماتو ورښوول ځکه ضروري دي چې هغوئ اکثراً په داسې سيمو کې اوسېږي چې هلته طبيب، درمل او د درملنې آسانتياوې نه وي، او ياهم د جګړې په محل کې ورته د طبيب وررسېدل مشکل وي. د همدغه ډول حالاتو له امله په ډېرو وختونو مجاهدين يا دوينې د ضايع کېدلو او يا هم د هغوئ د زخمونو د شديد مکروبي کېدلو له امله له ډېرو ستونزوسره مخ کېږي.

په اوس وخت کې چې اکثره مجاهدين طالبان،عالمان، د مکاتبواو پوهنتونو لوستي ځوانان دي په ډېرې اسانۍ سره کولی شي په لنډه موده کې ابتدايي طبي اعداد حاصل کړي. نو په کار ده چې جهادي قيادتونه په هر ځای کې او په خاص ډول په افغانستان کې طبي اعداد ته ډېره پاملرنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان علماء، د ليکوالۍ ستونزه او د اسلامي معلوماتو فقر

په افغاني ټولنه کې د مسلك له مخې د دين علماء تر ډاکترانو، انجينيرانو، ژورنالستانو، پوځي افسرانو، اديبانو، شاعرانو، سياسي او حقوقي کارپوهانو او بالآخره د بل هر مسلك تر درلودونکو ډېر دي. نه يوازې دا چې شمېر يې ډېر دی، بلکې په ټولنه کې منلي، محترم، مطرح او د نفوذ خاوندان هم همدوئ دي، ځکه چې افغاني ټولنه تر ډېره حده متدينه ټولنه ده، د ژوند په ډېرو چارو کې د دين علماؤ ته رجوع کوي، لارښوونه ترې غواړي او په خبره يې باور او عمل کوي.

د کمپيوټر او انټرنيټ پدې زمانه کې ټول بشري او ديني علوم کمپيوټر او انټرنيټ ته ورلوېدلي دي، په هره موضوع کې په مليونونو پاڼې معلومات په ډېرې آسانۍ پيداکېږي او د هر مسلك خلك ورڅخه خپل ضرورتونه پوره کوي، او هغه علمي او تخنيکي کارونه چې ترسره کولو به يې پخوا کلونه غوښتل اوس يوازې يو څو دقيقې غواړي.

مثلاً که پخوا به چا غوښتل چې يوه کتابخانه ولري، نو هغه بايد ښې ډېرې پيسې لرلای، په ښو ډېرو کتابونو پسې بايد ګرځېدلی وای، ډېرې کتابخانې يې بايد چاڼ کړې وای، او بيا يې په ډېر تکليف خپل مطلوب کتابونه اخيستي وای، او د ډېرو مشکلاتو په زغملو يې هغه خپل کورته راوړي وای، او د هغو د سمبالولو لپاره يې مناسب ځای او ډېرې الماري جوړې کړې وای، او بيايې په کلونو وزګار وخت درلودلی چې دا ټول کتابونه يې يوځل کتلي وای تر څو يې محتوی ځان ته معلومه کړې وای او بيا يې د ضرورت په وخت کې مراجعه ورته کړې وای.

خو اوس دا ټول کارونه پرته لدې چې مال ورباندې مصرف کړي، سفرونه وکړي او ستونزې وګالي او يا هم وخت ورته فارغ کړي يوازې په يو څو لحظو کې ترسره کېږي. او هغه داسې چې په خپل کمپيوټر کې يوازې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کومې (مکتبې) سي ډي چې په زرګونو کتابونه ورکې موجود دي داخله کړي او بيا يې د خپلې مطلوبې موضوع لپاره د (سرچ) بټن ووهي نو و به ويني چې د ده مطلوب معلومات چې په هر کتاب کې وي فوراً به يې مخې ته راووځي.

او که وغواړي چې د نړۍ له بل هر ځايه خپل مطلوب معلومات په فوري شکل حاصل کړي، نو انټرنيټ ته به خپل مطلوب عنوان ور داخل کړي او په څو ثانيو کې به يې ټول مطلوب معلومات له مراجعو سره په خدمت کې حاضر وي.

خو د دې ټولو امکاناتو او وسائلو له شته والي سره سره بيا هم د افغاني ټولنې علماؤ ليکوالې او انټرنيټ ته شاکړې ده چې نه ورڅخه په خپله استفاده کوي او نه ورته خپلې ليکنې ورپورته کوي چې خلك ديني استفاده ترې وکړي. له همدې امله خو زموږ د ملت نوی نسل په انټرنيټ کې د ديني معلوماتو له فقر سره مخ دی.

د ديني معلوماتو حاصلول او د معنويت د غريزې پوره کول په انسانانو کې يو فطري ضرورت دی نو خلك هڅه کوي چې له هرې لارې چې وي خپل ضرورت پوره کړي.

خو دا چې افغانانو ته د خپلې ټولنې علماء څه نه ليکي، او يا يې که ليکي هم نو کمپيوټر او انټرنيټ ته يې نه ورپورته کوي، نو ځکه خو د نوي نسل ځوانان پرديو افکارو او نظرياتو ته رجوع کوي، او خپلې ټولنې ته داسې افکار، نظريات، عقائد او فلسفې راواردوي چې په ټولنه کې د اختلاف، انقسام، تشنج او تاوتريخوالي اسباب رامنځته کوي او په نتيجه کې يې د دې پرځای چې د ټولنې خلك خپله ديني تنده خړوبه کړي د فکري او مذهبي کشمکش په جنجالونو اخته کېږي.

په اوس وخت کې افغانانو ته له اسلامه په تېښته نشنلستان، غرب ځپلې ديموکراتان، بې بندوباره ډمان، سندرغاړي، نڅاګر، د فحشاؤ خپرونکي او د غرب له بې لارې فرهنګ څخه متأثر خلك خپلې هر ډول ليکنې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل فکري ادبيات د انټرنټ له لارې مخې ته ږدي. خو هغه څوك چې ونډه يې په انټرنټ کې تر ټولو لږ او فکري تأثير يې په ځوانانو کې کمزوری دی هغه افغان ديني علماء دي.

عجيبه معادله:

په اوسني وخت کې موږ په افغاني ټولنه کې تر دوو لکو زيات علماء او د ديني مدارسو د لوړو درجو زده کوونکي لرو.که داسې وګڼو چې هر عالم او د لوړې درجې طالب دې په مياشت کې يوازې يو مضمون په يوې ديني، اخلاقي او يا کومې اجتماعي موضوع کې وليکي، نو بايد موږ په مياشت کې دوه سوه زره نوي مضامين ولرو.

او که داسې وګڼو چې په هرو سلو تنو ديني علماؤ کې يوازې يو تن يې د ليکوالۍ استعداد لري نو بايد لږ تر لږه په مياشت کې دوه زره نوي مضامين او موضوعات د ټولنې افرادو ته وړاندې کړای شي.

خو که د عمل او واقعيت په ميدان کې وګورو نو يوازې يو څو تنه ديني علماء داسې لرو چې دين او ټولنې ته د ليکوالۍ له لارې خدمت کوي، او په ډېرو محدودو معاصرو موضوع ګانو يو څه سطحي ليکنې کوي. او هغه علماء چې ليکنې يې انټرنيټ ته راووځي هغوئ بيا د ګوتو په شمېر دي. اوس پوښتنه دا ده چې زموږ په لسګونو او ياهم په سلګونو زره علماء ولې ليکل نه کوي؟

آيا شرعي علوم يې ندي لوستلي؟

آيا ليکل يې ندي زده؟

آيا د ټولنې ضرورت نه درک کوي؟

آيا په ټولنه کې د واردو شويو معاصرو جاهليتونو او بې لارې نظرياتو او افکارو تأثيرات نه احساسوي؟

آيا د ادب او ليکوالۍ د فن اړوند د صرف، نحوې، بديع، بيان، معاني او د منطقو علوم يې ندي لوستي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که په تدریس، امامت، دعوت او جهاد کې دومره مصروف دي چې په میاشت کې هم د یوې صفحې مضمون د لیکلو لپاره وخت نه پیداکوي؟
نن چې انټرنیټ پاڼې ګورو نو وینو چې ډېر داسې خلک چې په اصل کې د نورو مسلکونو خاوندان دي خو د خپل ذوق، استعداد او مطالعې له مخې په اجتماعي، اخلاقي او ان په عقیدوي او شرعي موضوعاتو کې کتابونه او مضامین لیکي. خو په مقابل کې یې ډېر داسې دیني عالمان شته چې په ټول عمر کې یې یومضمون هم ندی لیکلی.
زه په لسګونو داسې عالمان پېژنم چې ښه مشهوراستاذان دي، خو تر اوسه یې په هېڅ موضوع کې نه یو مضمون لیکلي، او نه یې هم کومه وینا او یا درس او موعظه ثبت کړې او خلکو ته یې د خپل دیني مسؤولیت د ادا کولو په مقصد وړاندې کړې ده.
آیا دا به ډېر د تاسف ځای نه وي چې په سلګونو زره علماء د همدې ملت په مصاریفو علوم زده کوي، خو له زرګونو صفحو علومو څخه چې حاصلوي یې لس صفحي هم بېرته په اسانه ژبه د خپل ملت د پوهولو پخاطر د هغه مخې ته نه ږدي؟
زموږ ګیله دا نده چې علماء د خلکو لارښوونه نه کوي، بلکې ګیله دا ده چې هر څه په شفاهي ډول تر سره کېږي او تأثیر یې هم تقریباًپه هماغه یوه مجلس او یوه ځای کې محدود پاتې کېږي.
زموږ علماؤ به په سلګونو زره موعظې، ویناوې او درسونه ورکړي وي، خو له هغو ټولو څخه یې یو فیصد همصوتي او یا لیکلې بڼه په لاس کې نه لرو. خو که د دې هر څه یوه لږه برخه هم لیکل شوې او یاهم په آواز ضبط شوې وای او بیا انټرنیټ ته پورته شوې وای نو اوس به مونږ د عربي نړۍ د علماؤ په څېر د خپلو علماؤ په لسګونو زره مضامین او ویناوې درلودلې.

د لیکوالۍ پراخه ساحه او بې شمېره موضوعات:

ډېر دیني علماء چې د لیکوالۍ استعداد لري خو عملاً د لیکلو ډګر ته ندې ور داخل شوي هر وخت چې د څه لیکلو غوښتنه ورڅخه وشي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب یې دا وي چې زه نو څه ولیکم؟ په کومه موضوع کې یې ولیکم؟ څنګه یې ولیکم؟ او داسې نور. خو حقیقت دا دی چې دیني علماء تر بل هر چا زیات د لیکلو لپاره موضوعات لري. دیني علماء باید خلکو ته قرآني علوم لکه ترجمه، تفسیر، تجوید، قراني قصص او حکایات، شرعي احکام، د قرآن کریم علمي اعجاز، په هره زمانه کې د قراني آیتونو لپاره د مصداقونو جوتول او د انساني ټولنې بېلابېلې طبقې له قرآن کریم سره اشنا کول او نور ډېرموضوعات شته چې باید علماء یې خلکو ته بیان کړی او پدې موضوعاتو کې ښې ډېرې لیکنې وکړي.

همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زرګونو احادیثو ترجمه کول، معناوې او مصداقونه یې د خلکو په ژبه په آسانه بیانول، او د هغو په رڼا کې د خلکو د ژوند مسائلو او ستونزو ته د حل د لارو چارو لټول، او ټولنې ته د صحیحو او موضوعي احادیثو ورپېژندل، د فقهي احکامو لپاره د احادیثو دلیلونه راوېستل، د احادیثو په اړه د مغرضو مستشرقینو (هغه کافر علماء چې اسلام یې زده کړی) او د نورو بې لارې ډلو او طائفوله طرفه د راپورته کړل شویو شکوکو او شبهاتو په علمي بنسټونو ردول، او په احادیثو پورې په لسګونو اړوند نور ټول هغه موضوعات دي چې افغان علماء یې باید په پښتو، فارسي او نورو محلي ژبو ولیکي او انټرنیټ ته یې ور پورته کړي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زرګونو اصحابو د ژوند په زرګونو واقعات چې ټول په عربي ژبه کې ساتل شوي دي هم د علماؤ لپاره د لیکنې پراخ موضوعات دي چې باید په پښتو، فارسي او نورو افغاني ژبو کې یې خلکو ته وړاندې کړي. ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابان د دې امت لپاره د هدایت ستوري دي، او د هغوئ ایمان زموږ لپاره د ایمان معیار دی لکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿فَإِنۡ ءَامَنُواْ بِمِثۡلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ﴾ البقرة: ۱۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه سیرت النبي بل هغه مبارک علم دی چې په عربي او نورو اسلامي ژبو کې په زرګونو کتابونه ورکې لیکل شوي او په رڼا کې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند ټول تشریعي، اخلاقي، سیاسي، حربي، سفارتي، اجتماعي، اقتصادي، تربیوي او نور اړخونه بیان شوي دي. خو زموږ په افغاني ژبو کې تر ټولو بې پانګې مضمون همدغه د (سیرت النبي) علم دی.

په پښتو او فارسي کې ښايي د سیرت ټول لیکل شوي او ژباړل شوي کتابونه د ګوتو په شمېر وي. زموږ په زرګونو علماء که د سیرت د موضوعاتو په اړه یو یو مضمون هم په مفصل شکل ولیکي ښايي په ډېر لنډ وخت به دغه تشه ډکه شي او د ټولني افرادو ته به مو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ژوند ټول اړخونه ورمعلوم شي ترڅو په هر څه کې د خپل ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر پله پل کېښېږدي.

د افغانانو د دیني علومو طالبان او عالمان ترهر څه ډېر وخت د فقهې شریفې د کتابونو په لوستلو، تدریس او مطالعه کې تېروي. د دې کار نتیجه باید دا وای چې افغان علماوو باید تر بل هر چا په اسلامي او حنفي فقهې کې ډېر معاصر فقهي کتابونه لیکلي وای. خو په عملي میدان کې وینو چې ډېر لږ نوي فقهي کتابونه په پښتو او فارسي کې لیکل شوي او یا ترجمه شوي دي.

د فقهې شریفې علم خو په حقیقت کې د هرې زمانې د خلکو د ژوند مشکلاتو او مسائلو ته د شریعت په رڼاکې ځواب ویل او هغو ته د حل لټول دي. دا چې د هرې زمانې د خلکو د ژوند بڼه بېله او مسائل یې سره جلا وي، او د هرې زمانې اجتماعي، حقوقي، تقنیني، تجارتي، سیاسي، زراعتي، صنعتي او بین المللي مسائل د زمان، مکان، حالاتو او نویو واقعاتو په نظر کې نیولو سره له نورو زمانو سره فرق پیدا کوي، نو باید د فقهې علماء په هره زمانه کې د موجودو معاصرو مشکلاتو د حل او ځواب لپاره د شریعت د نصوصو او د فقهې شریفې د اصولو په رڼا کې نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوابونه بيان کړي چې دا کار د نويو څېړنو، مطالعاتو او تأليفاتو د رامنځته کېدلو تقاضا کوي.

خو د تأسف ځاى دى چې په افغاني ټولنه کې ډېر لږ علماء داسې شته چې د نويو ضرورتونو لپاره نوې فقهي ليکنې کوي. نور ټول يې هماغه کتابونه تدريسوي چې اته سوه يا زر کاله د مخه د هماغې زمانې د حالاتو، شرايطو، عرفونو، وزنونو، پيمانو، مصالحو او اصطلاحاتو په نظر کې نيولو سره د هماغې زمانې د خلکو لپاره ليکل شوي ول.د دې خبرې مقصد دا ندى چې د پخوانيو علماوو تأليفات دې د درسي متنونو په حيث نه تدريسېږي، بلکه مقصد يې دا دى چې علماء دې د دې زمانې خلکو ته په ساده او عام فهمه ژبه فقهي کتابونه رامنځته کړي تر څو په خلکو کې په پراخه پيمانه د دين د احکامو علم خپور شي.

دا هر څه په داسې حال کې روان دي چې د عربي هېوادونو، هند، پاکستان، بنګله ديش او افريقايي اسلامي هېوادونو علماء په خپلو خپلو فقهي مذاهبو کې په لسګونه زره نوي فقهي تأليفات او مقالې لري. په کار ده چې افغان علماء هم په اسلامي او حنفي فقه کې نوي تحقيقات او څېړنې ولري. ځکه چې زموږ په ژوند کې هم په زرګونو داسې فقهي مسائل او بدلونونه راغلي دي چې ښايي ځواب ورته د فقهې شريفې په پخوانۍ بڼه کې په مناسب شکل پيدا نشي.

له نېکه مرغه د اسلامي فقهې د اصولو جوړښت هم داسې دى چې د هرې زمانې لپاره تازه ګي او د انکشاف صلاحيت لري. دا به نو اوس زموږ د خپلې تمبلۍ لپاره يوازې بهانه لټول وي چې موږ يوازې پر پخوانيو کتابونو د دې لپاره اکتفا کوو چې هغه په تاريخي لحاظ منل شوي کتابونه دي. دا سمه ده چې موږ له هغو کتابونو په هېڅ صورت مستغني کېدلى نه شو، ځکه چې هغه د اسلامي امت د علماوو له لوري د شرعي نصوصو د اجتهادي فهم يوه بې مثاله تشريح او قيمتي ذخيره ده. خو ښه خبره دا ده چې هغه دې هم ولوستل شي او د هغو د اصولو او قواعدو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا کې دې د نويو مسائلو لپاره نوي کتابونه په پښتو او فارسي کې هم وليکل شي، ځکه چې زموږ د ولس يوازې يو يا دوه فيصده وګړي په علمي عربۍ ژبې پوهېږي.
نو ويلاي شو چې د اسلامي فقهې ابحاث او بابونه د افغانو علماؤ لپاره د ليکوالۍ تر ټولو ښه مناسب او پراخه مجال دی چې ليکنې ورکې وکړي او دا بهانه نوره پرېږدي چې مونږ نو څه وليکو؟ څنګه يې وليکو؟ چاته يې وليکو؟ او داسې نور.
پر پورتنيو موضوعاتو او ډګرونو علاوه زموږ د ملت د تېر او اوسني ستر جهاد چې د روسانو، کمونستانو، امريکا او نورو غربي يرغلګرو هېوادونو په مقابل کې يې وکړ او کوي يې په اړه هم په لسګونو زره موضوعات او حادثې داسې شته چې خورا ډېر ديني، تاريخي، فرهنګي، علمي، عاطفي، ملي، اقتصادي، اخلاقي او وجداني اهميت لري چې بايد ليکنې ورباندې وشي، توثيق شي او د قربانيو د دغې لوېې ملحمې چې درې نيمي لسيزې يې ونيولې ژوندی تاريخ راتلونکو نسلونو ته وساتل شي.
زموږ ملت په تېرو درې نيمو لسيزو کې په زرګونو د جګړو، قربانيو، شهادتونو، شجاعتونو، هجرتونو، بمباريو، زندانونو، جناياتو، تجسسونو، وفاګانو او جفاګانو صحنې وليدلې چې پر هرې يوې يې يو يو کتاب ليکل کېدلی شي خو افسوس چې ډېرې لږې دغه صحنې په ليکلې بڼه ساتل شوې دي او ډېرې يې د خلکو له ذهنونو څخه وتلې دي او يا يې خاوندان او اتلان نور په دې دنيا کې نشته، نو ځکه خو زموږ د ملت په لکونو د پند او عبرت واقعي کيسې او صحنې زموږ د ټولنې اجتماعي حافظې ته ور ونه سپارل شوې.
دا چې د علم طالبان او علماء د خلکو د دين، ايمان، اخلاقو او معنوي ارزښتونو د ساتلو او پاللو مسؤوليت پر غاړه لري او د نسلونو روزل د هغوئ اصلي وظيفه ده، نو دوئ بايد تر بل هر چا ډېر د خپل ملت د ديني

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اجتماعي ارزښتونو په خوندي کولو او پاللو کې مخکې وي. او تر بل هر څه باید پدې موضوعاتو کې ډېرې لیکنې وکړي.
افغان علماء باید دې ته هم وګوري چې که پرونیو علماؤ په هرې موضوع کې لیکنې نه وای کړې نو اوس به دوئ موجود په سلګونه زره دیني او اجتماعي کتابونه په عربي او نورو ژبو کې له کومه کول؟ همدارنګه باید دوئ هم د خپلې زمانې علمي او فرهنګي لاسته راونې د سبا د نسلونو لپاره په لیکلې بڼه پرېږدي. او که داسې و نه شي نو د هر عالم له مرګ سره به د هغه علم هم ومري.
د کمپیوټر او انټرنیټ په دې زمانه کې چې یو بله ډېر مهمه آسانتیا رامنځته شوې ده هغه پر چاپ او نشر د انحصار او محدودیت له منځه تلل دي. پخوا به د چاپ او نشر وسائل هم د حکومتونو په لاس کې ول او د خپرولو واک او اجازه به یې هم د حکومت په انحصار کې وه.اول خو به چا په آسانه د کتاب د چاپولو اجازه نه شوه اخستلی، او که به یې په ډېر تکلیف اجازه حاصله هم کړه نو بیا به یې د چاپ او نشر مصارف نه شول پوره کولی. او که به بالفرض کتاب یا مضمون چاپ هم شو، نو بیا به له یوې محدودې ساحې د باندې نه شو وتلای.
خو اوس کمپیوټر د چاپ چارې دومره آسانې کړې دي چې هر څوک چې په هر ځای کې هر څه وغواړي په ډېرې آسانۍ یې په ښه کیفیت، رنګینه بڼه او ښکلي ډیزاین د هرچا تر ځارنې لیرې په خپله ترتیبولی شي، او تر ترتیب وروسته یې چې انټرنټ ته ور پورته کړي نو په یوه لحظه کې یې ټولې دنیا ته رسولی هم شي چې همدغه چاره اوس د اسلامی نړۍ په ټولو علمي مراجعو او فرهنګي مراکزو کې دود ده، خو افسوس چې زموږ ډېری علماء لاتر اوسه ورڅخه خبر هم ندي.
په عربي نړۍ کې خو تقریباً هر لوی عالم خپله وېبپاڼه لري چې په خپله او یا د هغوئ شاګردان او معاونین د هغوئ ټول تألیفات، مضامین، صوتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ويډيويي مواعظ او درسونه ورکې خوندي کوي، او ټولې دنياته يې په ډېرې آسانۍ وړاندې کوي.

يو ارمان او يو مهم وړانديز:

کاشکې يوه ډله ځوان علماء چې له کمپيوټراو انټرنټي خدماتو سره آشنايي ولري د ځينې شتمنو خلکو په مالي مرسته افغاني ټولنې ته د اسلامي علومو د رسولو په مقصد يوه انټرنټي علمي ټولنه جوړه کړي، چې لاندې ياد شوي او يا هغو ته ورته علمي او فني کارونه تر سره کړي:

١ - دغه علمي انټرنيټي ټولنه بايد د قرآن کريم ټول په پښتو او فارسي ليکل شوي تفسيرونه، ترجمې او په قراني موضوعاتو پورې اړوند کتابونه راجمع کړي، کمپوز يې کړي او بيا يې په منظم ډول په کمپيوټري آرشيف کې خوندي کړي او خلکو ته يې د خپلې ويبپاڼې له لارې وړاندې کړي.

٢ - ټولنه بايدهڅه وکړي چې قرآن کريم د پښتو او فارسي ترڅنګ نورو هغو افغاني ژبو ته هم چې ليکلې بڼه لري ترجمه کړي او په هغو ژبو غږېدونکو ته يې تقديم کړي.

٣ - ټولنه بايد ښه تکړه او ماهر علماء توظيف کړي چې له عربۍ او نورو ژبو مشهور او مهم تفاسير ترجمه کړي او افغانانو ته يې عرضه کړي، که څه هم چې داکار به يو څه وخت ونيسي.

۴ - ټولنه بايد هڅه وکړي چې د رمضان د مياشتي د قرآني دورو د مشهورو او معتمدو علماؤ مکمل تفسيرونه او ترجمې په آډيو (آواز) او ويډيو(تصويري) شکل ثبت کړي او د خپلې ويبپاڼې له لارې يې ټول کال خلکو ته وړاندې کړي. دا کار به يو څه محدود مصاريف وغواړي خو زموږ په ټولنه کې ډېر اهل خير او دين پالونکي تاجران او شتمن خلك شته چې دغه ډول مصاريف په خوشحالۍ پر غاړه اخلي، خو چې څوک يې يو ځل پر اهميت او افاديت وپوهوي.

۵ - ټولنه بايد منلي او معتبر علماء توظيف کړي چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم د احاديثو کتابونه لکه مشکوة المصابيح، صحاح ستٰه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

طحاوي، د امام مالک مؤطأ او د امام احمد مسند او نور مهم د احاديثو، رجالو او تراجمو کتابونه پښتو او فارسۍ ته ترجمه کړي. دا کارونه افغاني علماء همدا اوس هم په مدارسو او حجرو کې په نيمګړي ډول هر کال تر سره کوي، خو دا هر څه په درسي او شفاهي شکل کې دي چې تدوين او توثيق ته ضرورت لري. که يو يو کتاب په پنځو شپږو کلونو کې هم په علمي ډول ښه ترجمه شي، بيا به هم ګو کاله وروسته ټول احاديث له عربي متن سره په خپلو ژبو کې ولرو.

د احاديثو د علم، او له هغو څخه د دفاع په اړه هم په سلګونو کتابونه ليکل شوي دي، چې ټولنه يې بايد ځينې ډېر مهم ورڅخه ترجمه کړي او ياعلماؤ ته وظيفه ورکړل شي چې د دې موضوعاتو په اړه هم کره ليکنې وکړي.

۶ – ټولنه بايد د پرليکه (آنلاين) استفتاء او فتوي په اړه هم له منل شويو علماؤ سره په تماس کې يوه آسانتيا برابره کړي، ترڅو خلک د خپلو ورځنيو چارو په اړه له علماؤ څخه پوښتنې وکولای شي او خپل ژوند دشريعت مطابق برابر کړي.

۷ – په وروستيو ديرشو کلونو کې چې افغاني ټولنه د جګړو او اجتماعي اضطراب له امله بې سرپوښه او بې قيادته شوه نوله ډېرو فکري او عقيدوي فتنو سره يې هم مخه شوه، او ډېرو کفري فرقو او منحرفو نظرياتو لکه کمونيزم، ډيموکراسۍ، ليبراليزم، مسيحيت، بهائيت، قاديانيت، رافضيت، الحادي عقلانيت (Rationalism)، پر آحاديثو بې باوري، نړيوالتوب (globalization)، هندويزم او نورو فکري مذاهبو خپل افکار افغاني ټولنې ته د بېلابېلو فرهنګي ټولنو، مؤسساتو، راډيوګانو، تلويزيونونو، انټرنيټ او کتابونو له لارې راصادر کړل، چې دلته يې تر يوه حده منونکي هم پيدا کړل.

خو د دې معاصرو واردو شويو فتنو د ردولو، مخنيوي او د هغو د ماهيت د توضيح لپاره زموږ علماؤ ياخو هېڅ ليکلی کار ندی کړی، او يا يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار دومره کمزوری دی چې هېڅ تأثير يې نه ښکاري، او د انټرنټ ساحه خو يو مخ ورڅخه خالي ده.

په پورتني يادشوي مجال کې په مؤثر ډول کار کول پر علماوو د وجوب حد ته رسېدلي دي، ځکه چې په لکونو خلک کله د کمونيزم په لومه کې له دين څخه وتلي وي، او کله د ديموکراسۍ او ليبراليزم په شوق کې د الله د دين د تطبيق او حاکمېدلو په خلاف ولاړ وي، او کله يې هم په ښکاره خپل دين پرې ايښی وي او کوم بل کفري دين او يانظريات يې منلي وي. که علماء پدې ډګر کې په جديت او موثريت کار ونه کړي نو کېدای شي چې ولس به مو په راتلونکي کې له ډېرو فتنو سره مخ شي.

ياده شوي انټرنيټي ټولنه بايد پدې ډګر کې کار کول له خپلو اولوياتو څخه وګڼي او ښه ډېرکار ورکې وکړي.

انټرنيټي کتابتون:

يوبل مهم کار چې د افغاني ټولنې او علماؤ ورته ډېره اړتيا ده هغه د يوه انټرنيټي اسلامي کتابتون رامنځته کېدل دي چې ټول هغه ديني کتابونه چې په افغاني ژبو کې تر اوسه ليکل شوي او چاپ شوي دي او په انفرادي شکل له ځينو خلکو سره په کورونو او يا کتابخانو کې موجود دي بايد ټول بيا له سره په کمپيوټر وليکل شي او له هغو څخه يو داسې انټرنيټي کتابتون جوړ شي چې هر څوک ورته په مجاني ډول لاس رسی ولري.

دا کار به له يوې خوا کتابونه د له منځه تللو له خطر څخه وساتي، او له بل لوري به د کتابونو د تشهير او معرفۍ يو ښه فرصت برابر کړي، چې پدې ډول به په سلګونو ديني کتابونه او په زرګونو ديني موضوعات پوهنتونونو، مکاتبو، تعليمي او څېړنيزو مراکزو او اشخاصو ته په يو ځای ډول لاسته ورشي، په ټولنه کې به اسلامي علوم په آسانه او پراخه پيمانه خپاره شي، تياري به رڼا شي، او تر ډېره ځايه به د کفارو او بې لارې ډلو د فکري او فرهنګي يرغل مخه ونيول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدغه کتابتون بله برخه ښایي له صوتې او ویډیویي موادو تشکیل شي، چې په زرګونو صوتي درسونه، مواعظ، اشعار، ترانې، کیسې، تاریخي ویناوي، د ماشومانو ادبیات او همدارنګه په سلګونو او زرګونو اسلامي ویډیویي البومونه او کلپونه چې زموږ د هېواد د مؤمنو پرګنو ویرنې او ویاړنې ورکې عکاسي شوې دي خوندي شي، او معاصر تاریخ به مو په ژوندي او مأمون شکل راتلونکو نسلونو ته ور وسپېري.
که چېرې زموږ د ولس څو با احساسه او متدین شتمن او ملي تاجران د دغه ډول یوې پروژې د تمویل ترشا ودرېږي نو په ډېرو لږو مصاریفو به افغانې ټولنې ته ستر علمي او دیني خدمتونه تر سره کړي، او د هېواد د مستقبل ځوانان به له بې لارېتوب، شډلتوب، بې هدفۍ او بی علمۍ څخه وژغوري. البته دا کار کوم ناشونی کار نه دی، بلکې په غربي او عربي نړۍ کې ډېرو ټولنو او حتي اشخاصو تر سره کړی دی چې زموږ لپاره د کار ښه مثالونه کېدلی شي.
ما ته خواوس د دې کار ترسره کېدل یو ارمان ښکاري چې د نوي نسل له علماؤ یې د پوره کېدلو هیله لرم، خو لیرې نده چې څو د عزم، حوصلې او هدف خاوندان به یې په علمي ډول په پراخه پیمانه تر سره کړي، چې د دې کار ځینې نښې لا له همدا اوسه په ځینې افغانې ویپاڼو کې تر سترګو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخيل په دنيا کې له ازادۍ سره مرکه

کله کله د ځينې موضوعاتو د يادولو او پر هغو د نيوکو لپاره د تخيل اسلوب تر نور اساليبو ډېر غوره وي، ځکه چې په دغه اسلوب کې د تعبير او د واقعيتونو د تمثيل پراخ ظرفيت موجود وي او ليکوال کولی شي د ترخو واقعيتونو په اړه خپل احساس او پيغام د رمز په لطيفي او عاطفي ژبې لوستونکو ته ور نقل کړي او په اسانه هغو مفاهيمو او وضعيتونو ته د هغوئ پام ورواړوي چې کېدی شي په نورو اساليبو کې د هغو بيان ورڅخه يو څه ستغ شي.

دا چې افغانان د نړۍ يو آزادي خوښوونکی ولس دی او د پېړيو په اوږدو کې تل د آزادۍ د ګټلو او پاللو په مبارزو کې له ځينې نيمګړتياوو سره سره په پرله پسې ډول مصروف پاتې شوي دي او خپل ډېر څه يې د دغه ارزښت په خوندي ساتلو کې په پوره شهامت مصرف کړي دي، نو په کار ده چې دغه ارزښت يې په فکري او واقعي ژوند کې نور هم ښه وپالل شي، او ټولو هغو خطرونو ته د دې ولس د بچيانو پام ورواړول شي چې د دوئ آزادي تهديدوي او يا يې په اړه د دوئ شعور کمزوری کوي.

د دې لپاره چې د دغه ستر معنوي او اجتماعي ارزښت په پاللو کې ما هم ځان ورګډ کړی وی نو د تخيل په دنيا کې مې د آزادۍ له مفهوم سره د يو څو موجودو واقعيتونو په اړه دغه لاندې مرکه ترتيب کړې ده، هيله ده چې د هغې له لارې به مې مهمو مفاهيمو ته د خلکو پام وراړولی وي.

ازادي هغه ارزښتناك او بې مثاله نعمت دی چې د خپلواك او سرلوړي ژوند ټول دارومدار د همدې نعمت تر شتون او نه شتون پوري تړلی دی. که ازادي وي نو په ژوندکې خوندهم وي، او که ازادي نه وي نو بيا ژوند د عذاب يو بل نوم دی.

کله کله اشخاص د ازادۍ له برکته د قومونو او ولسونو حيثيت تر لاسه کړي، او کله بيا هم پوره پوره ولسونه د هغې د نشتوالي له امله په ولسونو کې هيڅ اهميت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادي هغه ښکلې قدرمن حالت او معنی ده چې سرلوړي ولسونه خپل ټول مادیات تر هغې قربانوي.

ازادي هغه ښکلې او پتمنه لیلا ده چې د ویښو او خپلواکو ولسونو مېړونه د هغې د ساتنې او پالنې په لاره کې له خپلو سرونو تېرېږي.

آزاد خبریال (غازي) له مودو مودو راهیسې په آزادۍ پسې لالهانده ګرځېده ترڅو هغه و ویني او مرکه ورسره وکړي. په هغې پسې یې ډېر ښارونه، غرونه، هېوادونه او نظامونه ولټول، ډېر ورپسې ستومانه شو، خو دا دی په پای کې وتوانېد چې له هغې سره په یو داسې ځای کې وګوري چې نوم یې د امنیتي شرائطو له امله نشي ښرګندولی، خو له هغې سره یې یوه په زړه پورې مرکه کړې چې د لوستونکو مخې ته یې ږدو:

غازي: په پیل کې که مهرباني وکړئ او لوستونکو ته خپل ځان ورمعرفي کړئ.

آزادي: مننه! د ځان د معرفۍ خبره دې ښه وکړه، ځکه چې زه اوس په مسلمانه ټولنه کې یو ناپېژندل شوی او مجهول مفهوم ګرځېدلې یم. ډېره موده وشوه چې چا ډېره نه یم لیدلې. له خلکو هېره شوې یم، ځکه خو مې اوس څوك ډېره نه پېژني، که څه هم چې پخوا زه د مسلمانو ولسونو تر ټولو مشهوره پېژندګلوي وم.

زمانوم **آزادي** ده. زه په اصل کې یوه معنی یم، خو کله کله په ژوندون کې مادي بڼه هم غوره کوم. زه او آدم علیه السلام دواړه په یوه کال پیداشوي وو. وطن مې د زمکي پر مخ کوم خاص هېواد او سیمه نه ده، بلکې زه هر چېرې اوسېږم، خو له ویښواو مېړنیو ولسونو سره. او چې په هر ځای کې زمکه راباندې تنګه شي، او خپل راته پردي شي، نو بیا له هغه ځایه کډه وکړم او بل چېرې ولاړه شم.

زما او د انسان ترمنځ فرق دا دی چې هغه په خوراك او څښاك پایي، خو زه په غیرت، سرښندنې او قربانۍ. هغه مري، خو زه مرم نه بلکې کمزورې کېږم او بیا خپل شکل بدلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غازي: د شکل له بدلولو مو مطلب څه دی؟
آزادي: یعني که لویه یم نو وړوکې شم. که په ژوندکې په یوې مادي بڼې بدله شوې یم، نو بیا بېرته معنی شم. که مې حکومتونه وشړي، او یا مې د تړلوکوښښ وکړي نو بیا زه د کوم دردمن با احساسه او عظیم انسان په مغزو کې ترې د یو څه مودې لپاره پټه شم او هماغلته د هغه د فکر په دنیا کې خپله پاچاهي کوم. زه بیا هغه دردمن با احساسه او عظیم انسان دومره مست اوسرشاره کړم چې د ټولې دنیا زورور ورته کمزوري ښکاري. هغه دومره مست او پیاوړی شي چې نه یې زولنې ایسارولی شي، او نه یې زندانونه عزم ورسستولی شي.
غازي: خلك خو تا په ښارونو کې لټوي، خو ته دلته په غرنوکې اوسېږې! موږ د دې مرکې لپاره په تاپسې ډېر ښارونه او ډېرې ماڼۍ ولټولې، خو هلته مو ونه لیدې، که لوستونکو ته پدې هکله څه و وایاست؟
آزادي: ډېره موده وشوه چې ما ښارونه او قصرونه پرې ایښي دي، ځکه چې زه هلته د مسلطو خلکو نه خوښېدم، هغوئ هلته زما د له منځه وړلولپاره ظالمانه قوانین جوړکړي ول، او چې قوانینو یې هم زه ورکه نه کړای شوم، نو بیا یې زما د له منځه وړلولپاره پردۍ لښکرې راوغوښتې، ناتارونه او تاړاکونه یې جوړکړل، زما ډېر پلویان یې ووژل، او ډېر نور یې د تورو تمبو شاته بندکړل. ما هم نور د ښارونو ژوند پرېښود او له ماڼیو راووتم، ځکه چې دا مې نشو زغملی چې لکه د دربار د وینځې په څېر په ماڼیو کې د جابرانو او مستکبرانو په خدمت کې و اوسم، او د هغوئ د توطیو قرباني شم. نو دا مې ښه وګڼله چې غرونو ته پنا یوسم.
غازي: پوښتنې خو مې نورې هم ډېرې دي چې وروسته به یې درڅخه وکړم، خو ته اوس دا راته ووایه چې ته خو ماشاءالله ډېره ښه پښتو وایې! دا دې چېرته زده کړې ده؟ او بله دا چې نورې دې کومې ژبې زده دي؟
آزادي: پښتو خو مې په افغانستان کې زده کړې ده، زه ډېره موده په افغانستان کې اوسېدلې یم، په سلګونو کلونه مې له افغانانوسره تېرکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. زه د افغانانو دومره خوښه وم چې خپلې په لکونو ککرۍ به يې زما د ساتنې او پالنې په لاره کې قربانولې. ما د هغوئ ټولې ژبې زده کړې دي، خو پښتو مې ځکه ښه زده کړې چې پښتنو به له ماسره بې سارې مينه درلوده. خو پدې وروستيو وختونوکې په دوئ کې هم ځينې خلك را پيدا شول چې (سيکولر) يې بولي، دوئ ډېر بې غيرته او بې دينه خلك دي، او له ما سره يې سخته دښمني ده. زه تر دې ځو کلونو د مخه هم په افغانستان کې له افغانانو سره اوسېدم خو...

غازي: نو بياڅه درپېښ شول؟

آزادي: آه، خپلواکو مجاهدو افغانو زه د خپلو وينو په بيه ساتلې وم، خو په دوئ کې يو څو نا اهله او غلام صفته خلك چې له ماسره يې فطري دښمني درلوده او زه يې په افغانستان کې نه شوم زغملی، لاړل او له غرب څخه يې زما تاريخي دښمنان (د صليبي جګړو يرغلګر) راوبلل. هغوئ ټولو زما په خلاف نړيوال ايتلاف جوړ کړ، او زما په ضديې يوه بې رحمه جګړه پيل کړه.

د دښمن لښکرې، وسلې اوجنګي وسائل دومره ډېر ول چې زما پلويانو د سختو جګړو کولو او بې د ساريو قربانيو په ورکولو بيا هم د يرغل مخه ونه نيولی شوه. د سختوجګړو او د زرګونو ککريو تر قربانېدلو وروسته زه بيا له خپلو څو محدودو پلويانو سره هماغو غرونو ته وختم چې څوکاله د مخه ورڅخه راکښته شوې وم. يو څه پلويان مې خائنان او غداران هم وختل، هغوئ چې يو وخت يې ځانونه زما د پلويانو مشران او رهبران ګڼل، او د (مولوي)، (مجاهد) او (روحاني) نومونه يې هم پر ځانونو ايښي وو، خو د غيرت او وفا د امتحان پر ورځ په ډېرې بې شرمۍ د دښمن په صف کې ودرېدل.

د نورو ژبو په هکله به درته ووايم چې زه په عربي، چيچنيايې، کشميري، ازبکستاني او د قوقاز په ځينو ژبو هم پوهېږم، خو ترټولو زياته مې عربي ژبه خوښه ده، هغه چې ما له محمدصلی الله عليه وسلم، ابوبکر الصديق،

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمربن الخطاب، خالد بن الولید او نورو اصحابانو رضي الله عنهم څخه زده کړې وه، او لاتر اوسه عربان وربانديې خبري کوي.
په عربۍ کې مې بیا د فلسطین، عراق، یمن او د سوریې د خلکو لهجې ډېرې خوښې دي. خو د خلیج او مصر د هېوادونو لهجې هېڅ خوند نه راکوي، ځکه چې هغوئ عربي له حده زیاته خرابه کړې ده، او انګریزي او عبري (د یهودو ژبه) یې دومره ډېره پرې ورګډه کړې ده چې نور د عربۍ خوند ورکې نه دی پاتې.
غازي :تا خو د نړۍ ډېر ولسونه او قومونه لیدلي او ورسره پاتې شوې یې، او ډېرو ولسونو ستا تر سیوري لاندې د سرلوړۍ ژوند هم تېرکړی دی، که دا راته و وایې چې ته څنګه حاصلېدای شې؟ اویا په بل عبارت ستا او د ولسونو ترمنځ په کوموشرایطو دیووالي او یو له بل څخه د دفاع تړون رامنځته کېږي؟
آزادي: دادې ډېره ښه ا ضروري پوښتنه وکړه، ځکه چې له مسلمانو ولسونو اوس زما لاره ورکه شوې ده، او له ماسره د تعامل طریقه هم ورڅخه هېره شوې ده. دوئ ته زما د ورتلو لاره یوه وي، خو دوئ پر بله زما د ورتلو انتظارباسي. پدې هکله باید درته و وایم چې لومړۍ خبره خو دا ده چې زه چاته په خپله نه ورځم. زه هغه وخت ورځم چې دوئ مې وغواړي. او هغه ملت ته خو له سره ورځم نه چې تر مایې غلامي خوښه وي.
دویمه خبره داده چې زه هغه وخت یوه ملت ته ورځم چې په زرګونو او لکونو ځوانان یې له تورو او ټوپکو سره د جهاد او قربانۍ په څپاندو ولولو زما د ورتلو پرلارې په استقبال راته ولاړوي، او دي ته تیار وي چې د هغو خلکو سرونه ورغوڅ کړي چې دوئ ته مې له ورتللو ایساروي.
او دریمه خبره دا ده چې زه ولسونو ته په یوه شرط ورځم، او هغه دا چې زما د ساتنې او پالنې په لاره کې به له ټولو مادي ګټو تېرېږي. زه باید ورته تر ټولو مادي مصلحتونو ګرانه او محترمه و اوسم. هغه خلك چې تر ما ورته خپل ځانونه، مالونه او دنیا ګرانه وي، هغوئ کله هم مانشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتلای، او کېدای شي چې په ډېره ارزانه بيه مې خرڅه کړي، او يا مې لاس تړلې دښمن ته ور وسپاري. او که په لنډو يې درته ووايم نو زما د حاصلولو وسيله هم جهاد او قرباني ده، او د ساتلو ضامن مې هم جهاد او قرباني ده او بس. او هر هغه ولس چې د جهاد او قربانۍ عزم او روحيه نه لري، زه له هغه سره هېڅ تړون او تعامل نه کووم.

غازي: ځيني خلك خو کوښښ کوي چې تا د ډيموکراسۍ، انتخاباتو، فرهنګي مبارزې، دعوت او دې ته ورته نورو وسيلو له لارې حاصله کړي، که دا راته و وايې چې ته له دې لارو هم ورځې؟

آزادي: لکه مخکې مې چې درته وويل زما د حاصلولو يوازينۍ لار جهاد او قرباني ده او بس. البته دغه نورې ټولې لارې څوکۍ، منصب، شهرت، ډلې ټپلې جوړولو او سياسي مصالحو ته د رسېدو لارې دي، خو هېڅکله له دغو لارو ما نشي حاصلولی. دغه لارې ټولې د ځان او خلکو د تېر اېستلو لارې دي، بلکې دا ټولې هغه لارې دي چې غلو، ټګانو، په مسلمانانو کې د غرب ملګرو، سست عنصره او خېټه ورو سياسي مشرانو، د دين په نامه تجارت کوونکو او د (امريکايي اسلام) پلويانو خپلو اهدافو او خوندونو ته د رسېدلو لپاره جوړې کړې دي.

غازي صيب! ددې لارو په هکله به زه خپلې څو ترخې تجربې درته تېرې کړم، کېدای شي له هغوڅخه د دغوو لارو د افاديت څومره والی درته معلوم شي.

زه به خپل د سترګو ليدلی حال درته ووايم او هغه دا چې پدې نږدې ماضي کې يو ځل د شمالي افريقا د يوه هېواد خلکو چې عربان يې (الجزاير) او کافران يې (الجېريا) بولي زه د انتخاباتو او ډيموکراسۍ له لارې ور دعوت کړم. هغوئ په ډېره مينه، اخلاص او ولولو په مليونونو خلك زما استقبال ته راوېستلي وو، زما د راتګ يې په لسګونو کلونو انتظار هم وېستلی وو، په سلګونو مليونه پيسې يې هم زما د راتلو لپاره مصرف کړي وې. ښځې، نارينه، ځوانان او زاړه ټول زما د راتلو پر لاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استقبال لپاره راته ولاړ ول، خو افسوس چې دغه ټول خلك په تشو لاسونو او له وسلې پرته هسې د رنګینو بوتانو په څېر ولاړول.
کله چې زه چې د دوئ د استقبالیې قطارونو ته په ور رسېدو شوم، ناڅاپه یو قیامت جوړ شو، له هرې خوا وسله وال سړي چې خبري یې د وطن د خلکو په ژبه کولې خو دریشۍ یې پردۍ وې او نشانونه یې هم پردي ټومبلي ول، له موږ راتاو شول او دا په ملیونونو خلك یې ټول یوه خوا او بله خوا پسې واخیستل، ځینې یې ووژل، او ځینې یې وتړل. ځینې نور یې تر پښو لاندې له خارو سره خاورې کړل، او ځینې یې لاس تړلي زندانونو ته بوتلل. یوازې یو څو تنه ترې په تېښته خلاص شول.
غازي صیب! ډېر بد حالت وو، هره خوا چیغې او کوکارې پورته کېدې، نارینه له خپلو ښځو ورك شول، او ښځې له خپلو سړیو او اولادونو. مسلحو غدۍ والو زما د استقبالیې لپاره ټولې ښایسته کړل شوې او رنګینې دروازې ونړولې، او بیرغونو ته یې اور وراچاوه. هېڅا ورته څه نشو ویلای، ځکه چې له خلکوسره وسله او د دفاع هېڅ وسیله نه وه. که به چا د څه ویلو جرأت وکړ نو سمدستي به یې سترګې ور وتړل شوې او په ډبولو او ښکنځلو به نامعلوم لوري ته روان کړی شو. دریشۍ والاټوپکوالو زما استقبال ته د راوتلیو خلکو مشران د بغاوت په جرم په زندانونوکې واچول. کشران یې لکه یتیمان د بل در ته محتاج او حیران کړل، او اولادونه یې ترې واخیستل او ټول یې په هغو مکتبونو کې شامل کړل چې همدې غدۍ والو د فرانسې په مرسته او فرمایش جوړ کړي وو چې څو ورځې وروسته بیا هماغه ټول ماشومان د کودتایي جنرالانو په مخکې په داسې حال کې په نمایشي مارش کې تېرېدل چې هلکانو یې (پتلونونه) او نجونو یې (میني ژوپ) اغوستې وو، او جنرالانو ورته له عسکري موزیك لاسونه پړقول.
غازي صیب! که د الجزائر خلك مسلح وای، او د مقاومت توان یې لرلی، نو هېڅکله به هغو څو لنډغرو دغه قیامت ورباندې نه وای جوړ کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غازي: ښه! نو تا ته بيا څه درپېښ شول؟
آزادي: ما مخکې هم درته و ويل چې ما څوك وژلی نشي.ما په همهغه ځای کې فوراً خپل شکل بدل کړ او غرونو ته مې مخه کړه.
څه موده وروسته بيا د ترکيې خلکو د (نجم الدين اربکان) په مشرۍ دعوت راکړ، هغه ډېر اخلاصمن انسان وو، ما دهغه له ملګرو څخه د دفاع او مقاومت د وسائلو پو ښتنه وکړه، هغوئ راته و ويل چې اوس دې شيانو ته ضرورت نشته، موږ اوس د شلم قرن په پای کې اوسېږو، او د اروپايانو ګاونډيان يو، له هغوئ مو د ديموکراسۍ، عدالت او تمدن اصول او اخلاق زده کړي دي. دلته نور د وسلې استعمال او جګړې ته ضرورت نشته، او زموږ پوځيان هم نور هغه د (کمال اتاترك) او (عصمت اينونو) لنډغر بې دينه بدمعاشان نه دي چې له دين سره يې دښمني درلوده، هغوئ اوس زموږ ډېر احترام کوي، او تا ته هم ډېر ډېر په درنښت ګوري.
غازي صيب ! (اربکانخېلو) د تخيل په دنياکې له الفاظو داسې رنګين جنت راته جوړ کړ چې تا به فکر کاوه چې د کوم ريښتيني واقعيت حکايت درته کوي.
ما چې د هغوئ دا منظمې او خوږې خبرې واورېدې نو يقين مې راغی چې دوئ لکه چې رښتيا هم په دعوت باندې ترکيه فتح کړې ده.
خو غازي صيب ! کله چې ورغلم هماغه د (الجزاير) ناورين بيا تکرارشو. دا چې وروسته بيا دې خلکو ما ته د غړولو سترګې نه درلودې، نو له بدې ورځې دوئ هم لاړل په اروپا ورننوتل، او دا دی اوس د (ناټو) په صف کې د مسلمانانو په خلاف ولاړ دي.
غازي صيب! زه نه پوهېږم چې د دې زمانې خلك ولې زماپه اصولو ځان نه پوهوي او د ورتګ بلنې راکوي؟!
د درېيم ځل لپاره د مصر خلك په څه خبره د خپل بوډا فرعون (حسني مبارك) په خلاف راپورته شول، څه واضحه دعوی او آجنډا يې هم معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وه، خو ښځې او نارينه ټول سړکونو ته راوتلي ول، چا به ګډاوې کولې او سندرې به يې ويلې، چا به ګډوډ شعارونه پورته کول، چا به الله اکبر او نور اذکار او تسبيحات زمزمه کول، چا به ډيموکراسي ډيموکراسي چيغې وهلې، خو چې د لمانځه وخت به راورسېد نو کوم (ډېره خريلي پتلون پوش) به يې مخکې کړ، او ټول به ښځې او نر په چوکونو او سړکونو کې ورپسې ودرېدل.

عجيبه حالت وو، هېڅ نه معلومېده چې دوئ اسلامي حکومت غوښت او که يې ډيموکراسي غوښته، ټولو به (آزادي آزادي) نعرې وهلې، خو معلومه نه وه چې له (چا) او (څه شي) يې آزادېدل غوښتل؟ او دا ځکه چې هغوئ يوازې د (بوډا فرعون) مخالفت کاوه، نه د (ډيموکراتيك فرعونيت).

هغوئ به د فرعون ټول لښکر خپل لښکر ګاڼه، او د مسلمانانو او کفارو تر منځ يو والي ته به يې د (الوحدة الوطنية) يعنې ملي وحدت تر نامه لاندې خلك وربلل.

د مصريانو پدې ګډوله پاڅون کې يو ډول خلك راپورته شول چې ځانونه يې (نړيوال اسلامي حرکت)بلل، دې خلکو په همدې غوغا کې زما په نامه د (آزادۍ او عدالت) ګوندجوړ کړ. دوئ هم د اسلام او اسلامي حکومت خبره چندان په زغرده نه کوله، خو د (ډيموکراسۍ) او (قانوني دولت) چيغې به يې په واز کومي وهلې.

غازي صيب! دې خلکو زه مصر ته ور دعوت کړم، ما هم چې د دوئ مسلسلې مظاهرې، ګرمې ولولې او د آزادۍ په نامه ګوند وليد نو ورغلم، خو دا چې د الجزائر او ترکيې ترخې تجربې مې په ياد وې نو د(نړيوال اسلامي حرکت) له مشرانو مې جهاد ته د تياري او د دفاع د وسائلو په هکله وپوښتل، هغوئ راته وويل: دا خبرې نورې مه کوه چې خلك به د (طالب) او (القاعدې) ټاپه را باندې ولګوي، او بيا به مو د غرب هېوادونه، نړيوالې مؤسسې او بانکونه تأييد نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چې هر څو ورته و ویل چې ماته دا بې رحمه پردي پالونکي جنرالان او بې دینه سیکولر او غرب پلوي سیاستمداران رامعلوم دي، هغوئ مې له تاسې سره نه پرېږدي.خو دوئ به هرځل د وسلې له ضرورته انکار او په ډیموکراسۍ ټینګار کاوه، او ویل به یې چې موږ به د منبر، راډیو، تلویزون او فرهنګي مبارزې له لارې د فرعون له ملګرو جنرالانو داسې مجاهدین جوړ کړو چې هم به مصر آزاد وساتي، هم به فلسطین آزاد کړي، او هم به دوئ زموږ د (ډیموکراتیك اسلامي حکومت) داسې مجاهدین شي چې د افغانستان، عراق، سوریې او صومال له (سخت دریزو ترهګرو) به ډېر غوره وي.

غازي صیب! ما که هر څو ورته و ویل چې دفرعونانو پوځونه چې د غرب ابلیسانو روزلي دي ټول سره یو دي، او زما او د اسلام دښمنان دي، خو دوئ به راته ویل چې دا خبرې مه کوه چې پدې خبرو زموږ (ملي وحدت) ته صدمه رسېږي.

حقیقت دا وو چې دوئ به خپله هم د فرعون له پاتې شونو جنرالانو وېریدل، خو ماته به یې په درواغو اطمینان راکاوه. بالآخره یوه ورځ هماغه فرعوني جنرالان چې دوئ د اسلام او وطن سپاهیان بلل په همدوئ پسې راپورته شول، د دوئ مشران یې ټول په زندانونوکې واچول، او کشران یې ورته د سړکونو پر سر تر بلډوزرونو لاندې کړل او په مسجدونو کې په زرګونو ووژل، او بیا یې د هغوئ مړي هم په بلډوزرونو را ټول کړل او اور یې ور واچاوه.

په هغه ورځ د رابعې په میدان کې او د سړکونو پر سر چې کوم څه تر ټولو ډېر پراته وو او تر پښو لاندې لیدل کېدل هغه د قرآن کریم مبارکې نسخې وې چې دې خلکو په شعارونو کې د پورته کولو او د تلاوت لپاره له ځانونو سره وړې وې، او هره خوا د مصري پوځیانو تر پښو لاندې لیدل کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې غولېدلیو هم ځان تېرویست او هم یې زه تېر وېستم. اوس مې نو پوخ تصمیم نیولی چې نور به نه د دغه ډول خلکو په دعوو او ویناوو باور کووم، او نه به هم کله د دوئ وطنونو ته سر وربنکاره کړم. دوئ خو هسې هم د زولنو او زندانونو معتادان دي او په غرونوکې د آزادۍ تر ژونده په زندانونو کې ریاضتونه خوند ورکوي خو زه یې په شرمونو وشرمولم.

غازي: محترمې ازادۍ! راځم یوې بلې مهمې پوښتنې ته او هغه دا چې موږ خو ډېر ځلې له خلکو دا هم اورو چې په غرب کې ډېره آزادي ده، او حتی چې غربي مشران ځانونه د آزادۍ اتلان بولي، او هر وخت دا دعوه هم کوي چې هغوئ به د نړۍ نورو ولسونوته هم آزادي وربښي، خو پدې نه پوهېږو چې ته اوس رښتیا هم په غرب کې له غربیانو سره یې؟ او که د هغوئ په مقابل کې د ولاړو مظلومو ولسونوپه طرف کې یې چې د دوئ له ظلمونو او استبداده ځانونه خلاصول غواړي؟ که په دې هکله لوستونکو ته یوڅه وضاحت وکړې؟

آزادي: غازي صیب! دا پوښتنه دې رښتیاهم ډېره مهمه ده، ځکه چې نن ورځ خو د غرب مېډیا تقریبا د ټولونړیوالو ذهنونه یرغمال کړي دي، او چې هرڅه وغواړي هغه ته درښتیا او حقیقت بڼه ورکوي او په دومره پراخه پیمانه یې تبلیغوي چې له چاسره یې د تکذیب اراده هم پاته نشي.

غربي مېډیا دا خبره رښتیا هم د ډېرو خلکو تر غوږو رسولې ده چې په غرب کې ډېره آزادي ده، خو مسلمانان باید پوه شي چې هغه زه (آزادي) نه بلکې هغه یوه بله ازادي ده. هغه له (دین) او (دینداری) څخه آزادي ده، هغه له اخلاقو او معنوي ارزښتونو څخه آزادي ده. هغه له شرف او حیاء څخه آزادي ده، هغه له انساني ترحم او عاطفې څخه آزادي ده. هغه له اصولو قوانینو، عادلو تړونونو او میثاقونو څخه ازادي ده. هلته لور له پلارڅخه ازاده ده. ښځه له خپل خاوند څخه ازاده ده. فحشاء، اخلاقي فساد ، همجنس بازي او قمار له محاسبې او پوښتنې څخه آزاد دي. هلته انسان ته مطلقه آزادي ورکړل شوې چې په هر ډول چې غواړي له انسانیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه ووځي وتلی شي، او هېڅوك يې د انسانيت په ضوابطو کې بند نشي ساتلی. او ان تر دې چې هلته دا آزادي هم شته چې د برطانيې د وليعهد ميرمن دې له بل چاسره د خپلو جنسي اړيکوخبرې د ملت په واړندې په تلويزيون کې هم وکړي.

تر دې ورتېره دا آزادي هم شته چې نارينه دې له بل نارينه سره واده وکړي، او قانون دې د هغوئ د حقوقو دفاع او ساتنه وکړي، او د مسيحي کليسا (پادري) دې څه اعتراض هم پرې ونه لري، ځکه چې هغه په خپله هم ډېر هغه واړه ماشومان د خپل هوس ښکار کړي وي چې کورنيو يې د ديني زده کړې او د برکت د حاصلولو لپاره (مقدسې کليسا!!!؟) ته ورلېږلي وي.

او دا خبره چې هغوئ غواړي نورو ولسونو ته آزادي ور وبښي، دا هسې يوه د درواغو دعوی ده، ځکه چې همدغو غربيانو يو وخت تقريباً د نړۍ د نيمو اوسېدونکو (ريښتني) آزادي سلب کړې وه، د هغوئ هېوادونه يې استعمارکړي وو، او د خلکو هر څه يې د خپل ځان ګرځولي وو. خو کله چې ولسونو د خپلې تورې په زور هغوئ تېښتې ته اړ کړل، او له خپلو هېوادونو يې وشړل، نو بيا يې د ولسونو د بيا غلام ګرځولو لپاره دا ډنډورې وغږولې چې موږ نور ولسونه ازادوو.

د هغوئ د ازادۍ ښښلو مثالونه خو تاسې خپله په خپل هېواد افغانستان او هم په عراق کې وليدل چې څو مره خلك يې د ژوند له قيده آزاد کړل؟ څومره يې بې کوره کړل؟ څومره مېندې يې بورې کړې؟ څومره ماشومان يې يتيمان کړل؟

غربيان په حقيقت کې هېوادونه له خپلو اصلي اوسېدونکو آزادوي، د هغوئ له خپل حاکميت څخه يې آزادوي او بيايې يا عملاً په خپله اداره کوي، او يا يې خپلو روزل شويو غلامانو ته ورسپاري. نو زما او د غربي آزادۍ تر منځ بايد فرق وپېژنئ! زه د سعات سرچينه يم، او هغه د بدبختۍ کنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غازي: تاسو مخکې و ویل چې ډېر وخت له افغانانو سره پاتې شوې یاست، له افغانانو سره ستاسو د تجربې حاصل څه دی؟

آزادي: اکثره افغانان ډېر مېړني خلك دي، خو په افسوس باید و وایم چې پر ما مین دي خو قدر مې نشي کولی. کورته مې ور بولي خو پالللی مې نشي. زما لپاره له ډېرو شیانو تېرېږي، خو له مشرۍ او زعامته په خپلو منځونو کې یو بل ته نه تېرېږي. د راتلو انتظار مې ډېرکوي، خو چې ورته ورشم نو بیا راځخه په نورو شیانو مشغول شي. ملایان یې سبقونه ډېر وایي خو خلکو ته دین لږ ور رسوي.

او په افغانانوکې ځیني داسې خلك هم شته چې ته به وایې د دوئ ختېه د غلامۍ په اوبو لمده شوې ده. که انګریز ورشي هم دوئ به یې غلامان وي، که روسان ورشي هم دوئ به یې غلامان وي، که امریکایان ورشي هم دوئ به یې غلامان وي. دغه ډول خلك په افغانانوکې لږ دي خو ډېر زرنګ او چالاکه خلك دي او له هرې زمانې سره ځان برابروي. دوئ کله د (مقاومت سنګرداران) شي او کله بیا د (ډیموکراسۍ قهرمانان). خو دا خلك بیا ډېر ژر له منځه ځي.

یو کار چې افغانان په مجموعي ډول ورکې تر نورو ولسونو غښتلي دي، هغه دا دی چې زما د حاصولو په لاره کې له قربانۍ او سرښندنې نه ستړي کېږي. هر نسل یې تر پخواني نسله د لویو حماسو زېږونکی او د بدلونونو راوړونکی وي.

غازي : ستا په اړه مې یوه بله تاریخي پوښتنه په ذهن کې وه چې ما ویل په خپله به یې تاځخه کووم، او هغه دا چې ځیني (سیکولر) افغانان دعوی کوي چې هغه مخکې ځل افغانستان ته (امان الله خان) راوستلې وې، او ستا د راوستلو افتخار هم د هغه په نصیب شوی وو. تا خو به هغه وخت هر څه په خپلو سترګو لیدلي وي، که دا راته ووایې دا خبره څومره حقیقت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزادي: د ی‌یکولرو په خبره کله هم باور مه کوئ! هغوئ ډېر مکار او درواغجن خلك دي او دا خبره يې هم سپين درواغ دي. د امان الله خان چې خپل ذهن او فکر د انګرېز د افکارو او نظرياتو له غلامۍ آزاد نه وو نو افغانستان به يې له هغوئ څه آزاداوه؟ او زه به يې څنګه افغانستان ته وروستلم؟

حقيقت دا وو چې زه ملي غازيانو او د انګريز په خلاف راپورته شويو مجاهدينو وروغوښتلم. خو کله چې ورغلم د امان الله خان راسره ورانه شوه، ځکه چې هغه غوښتل افغانستان د غرب پر لاره روان کړي، خو ما او غازيانو ورسره نه منله، نو يې له خپل خسر (محمود طرزي) سره چې په افغانستان کې د سيکولريزم پلار ګڼلی کېږي او په شام او ترکيه کې د ترکيې له (سيکولرانو) او د شام له (عربي مسيحي نشنلستانو) د سيکولريزم او نشنلزم مرض ورنقل شوی وو زما د له منځه وړلو مشوره وکړه. امان الله خان او طرزي دواړه د شاهي کورنۍ له ډېرو ښځو سره پدې نيت اروپا ته ولاړل چې له اروپايانو سره پر هغوئ زما د خرڅولو خبره وکړي، هلته يې تقريبا اوه مستې مياشتې تېرې کړې، خپله (نيم لنډغره) ښځه يې چې د محمود طرزي لور وه هم د اروپا پاچايانو ته پدې مقصد وروښوده چې هغوئ په دې قانع کړي چې دی نور هغه افغان نه دی چې خپله ښځه له خلکو په پرده کې ساتي، او د افغانو ښځو د پردې د ساتلو پخاطر د اروپايانو په خلاف جنګېږي.

غازي صيب! کله چې امان الله خان د اروپا له اوه مياشتينۍ مستې دورې وطن ته ستون شو، نو سمدستي يې زما او زما د پلويانو په خلاف په پغمان کې د جنګ اعلان وکړ. زما ملګري يې بنديان کړل، او زما طرف ته بلونکي عالمان يې په ډېرو بدو نومونو ياد کړل، او ان تر دې چې هغوئ يې د انګريزانو ملګري وبلل پداسې حال کې چې د انګرېز له کوره دی تازه راستون شوی وو، او د هغوئ قوانين يې له ځانه سره افغانستان ته د عملي کولو لپاره راوړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هسې د (سیکولرانو) لخوا د امان الله خان د اسلام دښمنۍ د کرغیړن تاریخ د ښایسته کولو هڅه ده چې په سپین سترګۍ یې ترسره کوي. همدا اوس تاسې نه ګورئ چې د ده د فکر او تګلارې پلویان ټول له اشغالګرو امریکایانو، انګریزانو او نورو درغلیو کفارو سره ولاړ دي. او نه ګورئ چې د امان الله خان عکسونه همدا اوس د انګریزانو او امریکایانو په لاس د جوړې ادارې پر دفترونو لګېدلي، که د مجاهدینو او غازیانو پر سنګرونو؟

غازي : ښه نو بیا ستا او دامان الله خان په جګړه کې څوك بریالي شول؟

آزادي: هغه ماتې وخوړه، ما او زما ملګرو هغه ته داسې ګوزار ورکړ چې په یوه ګوزار مو ایټالیا ته ورساوه، چې بیا یې کله هم افغانستان ونه لید، او له هماغه ګوزاره یې د (پاپ) د کلي ترڅنګ سا وختله.

غازي: په افغانستان کې ستا په نامه پورې د تړلي یو بل څه پوښتنه هم درڅخه کووم او هغه د (آزادۍ راډیو) ده. که دا راته ووایې چې دارښتیا هم ستا راډیوده او که ستا په نامه د بل چا راډیو ده؟

آزادي: دا راډیو په ما پورې هېڅ اړه نه لري. دا نه د آزادۍ راډیو ده، او نه هم خلکو ته د آزادۍ تلقین ورکوي، بلکې دا د امریکا راډیو ده چې د امریکا د کانګرس لخوا تمویلېږي او اداره کېږي. د دغې راډیو اصلي نوم د(فري یورپ ریډیو) یعنې د آزادې اروپا راډیو ده. یعنې دا د هغې آزادۍ راډیو ده چې په اروپا کې وجود لري، او د هغې په هکله خو مې مخکې درته وویل چې هغه څه ډول آزادي ده. دغه راډیو په اسلامی نړۍ کې د غربي نظریاتو او مفاهیمو د خپرولو په مقصد د عراق او عربي نړۍ لپاره د (العراق الحر)، د ایران لپاره د (رادیو فردا)، د پاکستان لپاره د (مشال راډیو) او د افغانستان او تاجکستان لپاره د (آزادۍ راډیو) په نامه خپرونې کوي، او تر ټولو غلام صفته خلك یې ورکې راټول کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په حقيقت کې د(غلامۍ) راډيو ده، خو نوم يې وربانديې د (آزادۍ) راډيو ايښی دی. د دې مثال داسې دی لکه د(بدلمنې) ښځې چې نوم (طاهره) وي.

غازي: که دا راته و وياست چې بيا به افغانستان ته راځې او که نه؟

آزادي :ولې نه، افغانستان ته به ان شاء الله حتماً درځم، که د بل چا پخاطر نه وي نو د هغو فدايانو پخاطر خو به هرومرو درځم خپلې د ګل په څېر ځوانۍ يې د الله د دين د حاکمولو لپاره لوګی کړې. خو بيا هم يو دوه شرطونه لرم او هغه دا چې:

۱ـ له درغلو يرغلګرو او د هغوئ لخوا له جوړې شوې ادارې سره به هېڅ ډول جوړجاړی نه کوئ، بلکې په جهاد به يې له منځه وړئ.

۲ـ په خپل وطن کې به (سيکولرو) او (نشنلستانو) ته د هېڅ ډول فعاليت اجازه نه ورکوئ، او نه به يې مشران په وطن کې پرېږدئ، ځکه چې دوئ له ماسره سخته دښمني لري، او تل زما په خلاف له کفارو سره شريکې توطيې جوړوي.

غازي :ښه، نو افغانستان ته به کله راځې؟

ازادي: په دې ورځوکې خو ما ته ډېر بلنليکونه له بېلابېلو هېوادونو لکه له افغانستان، عراق، سوريې، فلسطين، چيچنيا، ارتيريا، صوماليا، کشمير، ازبکستان ، د فلپاين له مندناو او نورو هېوادونو څخه رارسېدلي دي. ما هم خپل د ورتللوشرطونه دې ټولو ته بيان کړي، و به ګورو چې دکوم هېواد خلك زما شرائط تر نورو مخکې پرځای کوي. هر چا چې زما شرائط مخکې پوره کړل نو لومړی به هم هغوئ ته ورځم، او بيا ورپسې نورو ته. خو مخکې له مخکې له هېچاسره وعده نه کووم، ځکه چې نور د خلکو په تشو وعدو نه غولېږم. ترڅو يې چې زما شرطونه په عملي ډول پوره کړي نه وي، او زما دښمنان يې له منځه وړي نه وي د هېچا وطن ته نه ورځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غازي: که د وروستۍ پوښتنې په ځواب کې دا راته و واياست چې نور خبريالان او ژورناليستان چې غواړي له تاسو سره تماس ونيسي، نو څنګه کولای شي له تاسو سره رابطه وکړي، ځکه له ماسره ډېر نور مسلمان ژورناليستان هم ول چې له تاسو سره يې ليدل غوښتل ، خو ځيني په ښارونو او ځيني نور يې راځخه د لارې په کږليچونو کې پاتې شول؟

آزادي :نن سبا خو زه د اسلامي نړۍ په غرونو او ځنګلونوکې اوسم ، خو کله کله خپلو پلويانو ته په ښارونو کې هم سر ورښکاره کووم. له ما سره تر ټولو اسانه د تماس لار له مجاهدينو سره رابطه نيول دي، هغوئ ما په اسانه ورپيداکولی شي. خو يوه خبره په پام کې ونيسه او هغه دا چې زه يوازې له رښتينيو (آزادو) خبريالانو سره غږېږم، او د هغو خبريالانو پوښتنو ته هېڅ ځواب نه وايم چې د پرديو لخوا په کار ګومارل شوي وي،ځکه چې د هغوئ اکثره يې جاسوسان وي، او زما د دښمنانو لپاره کار کوي.

غازي: ستاسو له ځرګندونو ډېره ډېره مننه، هيله ده چې يوځل بيا زموږ هېواد ته راشې، او موږ دې په ښاديو ښاد کړې.

آزادي: غازی صيب ستاسې له راتګ څخه هم ډېره مننه چې په خطرناکو حالاتوکې مو ځان ماته را ورساوه، او زما پيغام مو د نړۍ مسلمانانو ته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسني جهادي ادب ته یوه کتنه

له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې په افغانستان کې اسلامي ادب او بیا په خاص ډول جهادي ادب ته دومره کار وشو چې کېدی شي د پښتو ژبې په تېر ټول مدون ادبي تاریخ کې به ورته نه وي شوی.

په دې موده کې په سلګونو دیوانونه، شعري ټولګې او کتابونه چاپ شول، او په سلګونو زره ادبي لیکني وشوې. همدارنګه په سلګونو شاعران او لیکوالان د ادبي لیکنو په میدان کې راوټوکېدل او د جهاد او قربانیو په غېږ کې رالوی شول.

دغو شاعرانو او لیکوالو د خپل ملت د حماسو او ویرونو، د مظلومیت او مقاومت حیرانوونکي کیسې او داستانونه په خپلو لیکنو کې خوندي کړل، او د جګړې په اور او ورانې کې یې هم د انساني عواطفو او احساساتو پالنه وکړه. دوئ په خپلو ادبي لیکنو کې د جنګ تودوخه، د مقاومت صبر، د غازیانو عزم او ولولې، د فتوحاتو داستانونه، د شهیدانو ارمانونه، د یتیمانو سلګۍ، د کونډو خویندو ساندې او کوکارې، د بورو میندو آهونه، د هجرت له کړاونو ډك خو د برکت ژوند او نور ډېر څه په داسې دقیق، رسا او هر اړخیز ډول عکاسي کړل چې یو نوی ادبي مکتب یې رامنځته کړ.

دغه نوي ادبي مکتب د افغانانو په نوي نسل کې داسې اصیل بچیان وروزل چې دعزم کاروان یې د ولولو په بدرګه د فتحې تر منزله بدرګه کړ، او په روانه صلیبي جګړه کې د ټولې دنیا کفارو د فکر او ادب په ساحه کې مرعوب نه کړای شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومه لیکنه ادبي لیکنه ده؟

ادب هغه بلیغه وینا ده چې له عواطفو سرچینه اخلي، پر نفس تأثیر کوي، لوړ افکار او عالي مفاهیم د ښکلیو عبارتونو په جامه او د تخیل په تصویر کې تقدیموي.

په پورتني تعریف کې د ادب په اړه لاندې پنځه عناصر یاد شوي دي:

۱ – عاطفه: هره هغه وینا چې له احساس او عاطفې څخه راپورته شوې نه وي، ادبي وینا نه بلله کېږي.

۲ – تأثیر: هره وینا چې خپل مخاطب متأثر نه کړي، په هغه کې احساس او جذبه، وجد او طرب راونه پاروي، ادبي وینا یې نشو ګڼلی.

۳ – لوړ افکار: لوېدلي، بې محتوا، سپکې او بازاري لیکنې او وینا ادبي نشي ګڼل کېدای.

۴ – ښکلا: لفظي او معنوي ښکلا هغه مهم عنصر دی چې ادبي وینا له عامې وینا څخه بېلوي.

۵ – تخیل: تصویر او تخیل په ادبي ویناکې بل هغه مهم عنصر دی چې ادیب د هغه په وسیله معدومې او غیر محسوسې صحنې، پېښې، حرکات، او شخصیتونه د لوستونکو ذهن ته داسې ور وړاندې کوي چې ته به وایې دی یې ربښتیا ویني او ورسره اوسي.

د جهادي ادب اهمیت:

ادب په حقیقت کې د یوې ټولنې د اخلاقي او ذوقي(اصلاح) او یا (فساد) یوه مؤثره وسیله ده. که د یوې ټولنې ادبیات صالح، معیاري، انسان جوړونکي او باکیفیته شي، نو د هغې ټولنې اخلاقي فکري، او ذوقي ژوند هم یوه معیاري بڼه غوره کوي. او بالعکس که د یوې ژبې او ټولنې ادبیات فاسد، بې خونده او بې کیفیته شي، نو همدغه (فساد) د ټولنې د افرادو په ژوند کې هم منعکس کیږي. له همدې امله خو ادب ټولنې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفاهيمو د تلقين او د انسانانو د نفسونو د صيقل کولو يوه غوره وسيله ده.

همدا ډول که په ټولنه کې جهادي ادب چې د ټولنې نوي نسل ته د جهاد، سربښندنې، غيرت، عزم، ثبات، زړورتيا، سرلوړی، سخا، له مظلوم څخه د دفاع او د ظالم په خلاف د درېدلو مفاهيم تلقينوي وده وکړي، نو همدغه صفات د ټولنې د ځوانانو په عملي ژوند کې راڅرګندېږي. او که د دغو مفاهيمو په خلاف د غلامۍ، تعيّش، هوس، شهوت، لندغرتوب، بې لارېتوب او پرديپالنې مفاهيم د ټولنې د ابياتو موضوع وګرځي، نو بيا يې همدغه ډول آثار د افرادو په ژوند کې هم منعکس کېږي.

د جهادي ادب اهداف:

ادبيات ډېر ډولونه لري چې خلك يې په بېلابېلو نومونو يادوي لکه انساني ادب، عرفاني او صوفي ادب، عشقي يا رومانسي ادب او داسې نور. که د دغو اقسامو معانيو ته سړی ځير شي نوګوري چې هر ډول ادب په يوه خاص مجال کې د انسانانو د ذوقونو، عواطفو، احساساتو او انګېرنو تمثيل او پالنه کړې ده، او هغه يې د ارتقا او کمال په لوري بيولی دی. همدغه ډول جهادي ادب هم خپل موضوعات او اهداف لري چې په لاندې ډول يې يادوو:

١ – د کفر، ظلم، بې عدالتيو او استعمار په مقابل کې د ټولنې په افرادو کې د قربانۍ او مقاومت احساسات راپارول او ځپاند ساتل.

٢ – د مبارزينو د عزم او حوصلې لوړل او د هغوئ رزمي معنويات تقويه کول.

٣ – د جګړې د اور او لمبو په ژوندکې هم د مجاهدينو په زړونو کې انساني عواطفو ته دوه ورکول.

۴ – د جګړو، فتوحاتو، او حيرانوونکو حوادثو تفصيلات په ادبي قالب کې خوندي کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – د جهاد او مبارزې د قهرمانانو ستایل، او ولسونه د هغوئ درناوي ته هڅول، او راتلونکو نسلونو هغوئ د اتلانو په حیث وړاندې کول.
۶ – د شهیدانو مرتبې او د هغوې یادونه تازه ساتل.
۷ – د جهاد او مبارزې په بهیر کې د منافقینو، له دښمن سره د متعاونو څېرو، خائنانو، غدارانو، او فرصت طلبو عناصرو د شرموونکو مواقفو غندل او بربنډول.
۸ – د دښمن د ذلت، وحشت، نا انسانیت، او ماتو بیانول او داسې نور.
د افغانستان په تېر څلوېښت کلن جهادي ژوند کې د ادبي لیکنو لپاره په لکونو داسې پېښې حوادث او د منفي او مثبت تأثیر لرونکي شخصیتونه په واقعي ډول وجود لري چې څو څو چنده تر تخیّل هم د لوړ معیار ارزښت لري، خو د خواشینۍ ځای دی چې تر اوسه دغو په زرګونو دغه ډول پېښې، کیسې او کرکټرونه په کافي اندازه په ادبي شکل نه دي خوندي شوي او نږدې ده چې دغه په زرګونو د عالي کیفیت لرونکي حادثې زمونږ د ملت له اجتماعي حافظې څخه ووځي، او د وخت په تېرېدلو له خلکو هم هېرې شي.
د جهاد د روان ادبي بهیر یو بل اړخ چې ډېر د توجه وړدی هغه د ادبي فورمونو د عدم توازن مساله ده، پدې معنې چې ځینو فورمونو لکه شعر، ترنم، او ترانو ورکې ښه وده وکړه، خو ځینو نورو فورمونو لکه ادبي نثر، لنډې کیسې، طنز، ناول، ډرامې، او جهادي تیاتر و رکې ډېره لږه وده کړې ده. او کېدای شي چې کار سبب هم دا وي چې دغه نور نثری فورمونه د شعر په خلاف زیاتره علمي او فني اړخ لري، او په روان جهادي بهیر کې فني او علمي ادبي اړخونو ته ډېر کار ندی شوی، چې دغه تشه بیا تقریباً هغو لیکوالو او ادیبانو ډکه کړې چې (سیکولر) نظریات لري، او دین ته په ژوند کې په څه نقش قایل ندي. همدا علت دی چې ډېر تنکي شاعران او ادیبان مو د جهادي ادب په ډګر کې له یو څه وخت تېرولو وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(نشنلستو) او نورو سيکولرو جهتونو د دامونو ښکار کېږي چې دا بيا ډيره د اندېښنې خبره ده چې بايد غم يې وخوړل شي.

جهادي شعر او ترانې:

په تېرو څلوېښتو کلونو کې د جهادي ادب په ساحه کې جهادي ترانو تر بل هر ډول شعر زياته وده وکړه. جهادي ترانو د جهاد له پيله تر اوسه زموږ د ملت افتخارات، فتوحات، صبر او عزم ، مېړانه او قربانۍ په پراخه پيمانه د قوي او مؤثر آهنګ په لرلو سره زمزمه کړل. په زرګونو ترانې وليکل شوې او د مجاهدو ځوانانو په غږونو په ډېر عالي کيفيت ووېل شوې چې هر کور، هرې جبهې، هر سنګر، هر مکتب، او هر پوهنتون کې يې انګازې وکړې.

جهادي ترانې هغه وخت خپل اوج ته ورسېدې چې د طالبانو په وخت کې ورته په حکومتي سطحه د ثبت او نشر پراخ وسايل، ستوډيوګانې او راډيوګانې په خدمت کې شوې، او د (شريعت غږ) راډيو د عمومي رياست د هنر او ادبياتو په رياست کې ورته د درمحمد (ګوهري) غوندې شاعر، اديب ، مجاهد، عالم او فاضل شخصيت د خدمت ملا وتړله. ګوهري صاحب ترانې دومره معياري کړې چې کله هم دومره نه وې معياري شوې. دغه معياريت په ترانو کې د ښه شعر، ښه پيغام، ښه آهنګ او ښه غږ په بڼه کې راڅرګند شو.

د طالبانو حکومت د وخت له راډيو خپرېدونکي ترانې د خلکو دومره خوښې شوې چې د کابل د مکروريانو له کمونزم او غربپالنې متأثرو ماشومانو به هم د کمونستانو د وخت د (و ه سربازه ياره خيژه په مورچل باندې) پر ځای د (وه طالبه ګرانه پام کوه کابل باندې) ترانه له ځانونو زمزمه کوله.

د امريکا تر يرغل وروسته مرحلې ته که سړی وګوري نو ويني چې جهادي ترانو د رزمي آهنګ تر څنګ د نوي دښمن د عميقې پېژندنې په خوا کې د غرب فلسفه او فکري ارزښتونه هم تر زوررو ګوزار لاندې ونيول. که سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و وايي چې په دغه مرحله کې طالبانو د غرب د میډیا او فرهنګي یرغل مخه یوازې په قوي پیغام او د ښه کیفیت په لرونکو ترانو ونیوله نو بې ځایه به نه وي.

جهادي شعر او ترانو په دغه مرحله کې دومره زور واخیست چې د موسیقۍ زاړه معتادان هم اوس تر سندرو ترانې ډېرې خوښوي او اوري یې.

جهادي شعر او اسلامي ترانو ته چې چا پدی ورستیو کې کومو شاعرانو خدمت وکړ هغوئ ټول یې د ډېر قدر وړ دي، ځکه چې هغوئ په هره مرحله کې مجاهدینو ته مناسب پیغام ورکړ. د د غو مجاهدو شاعرانو په منځ کې ځو داسې ځلېدونکي ستوري دی چې چې د جهادي شعر سرخېلان یې بللی شو. دغه خلك مطمئن، مولوي بدرالدین،مولوي ذاکر مهاجر، عبدالله، مزمل، وطن مل، ، سعید، ګوهری، مفتون، وثیق، حمدي، شپونکی، معتصم، عرفاني، فیضاني، تکل،حریت مل او نور دي. خو د دې خلك و نومونو یادول پدې معنی نه دي چې نورو څه نه دي کړي، بلکې دا هغه خلك دي چې د مایوسۍ،رعب، خاموشی او کړاونو په مرحله کې یې ځوانانو ته د رزم حوصله ورکړه، او د غرب د تبلیغاتو جادو یې ورماته کړه چې وروسته بیا نورو هم د دوئ پر لیکه قدم واخیست.

د جهادي شعر او اسلامي ترانو په الهام د هېواد په پوهنتونونو کې هم د غلامانو او غلامي په خلاف سکوت ماتوونکی د حق اوازونه د ستېجونو له سره راپورته شول چې نه (د ځنځیر له زوره و وېرېدل، نه یې د باطل پرستو سلام وکړ، او نه هم یې د پیر له زوره وېریدل).

د دغه ډول ادبي جهادي جرأت او سبك امتیاز ځوان با احساسه شاعر (سمیع الله تړون) ته ور په برخه شو چې په بې ساري جرأت یې ځوانو شاعرانو ته یو نوی شعري سبك او ادبي مکتب ورمعرفي کړ.

شعر که هر څومره قوي او پیغام لرونکی هم وي خو چې له سوز او ګدازه ډك ترنم یې په رګونو کې ونه چلېږي په آسانه د خلکو زړونو او ذهنونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړ نښې پیدا کولی، همدا وجه ده چې خوږ او له سوزه ډك ترنم د ښه شعر روح بلل کېږي.

په جهادي شعر کې د سوز او ساز د (روح) د پوکولو افتخار په دې حماسي بهير کې الله تعالی له تېرو دريوو لسيزو راهيسې ملا(فقير محمد درويش) ته ورپه برخه کړی دی. هغه (درويش) ته چې په غرونو، صحراوو، ښارونو، او ولسونو کې يې د ويښتابه انګازې خپرې کړې. سختو او دردوونکو حالاتو او درنو مشکلاتو او خنډونو (درويش) له خپلې ارادې ونه ايستلی شو. هغه په خپل عهد وفا وکړه، او د فاتح کاروان تر منزله د ويښ او مست ساتلو عزم يې پوره کړ. الله جل جلاله دې يې تل طلايي حنجره د حق د خواږه غږ د پورته کولو لپاره تازه ولري.

د (درويش) تر څنګ د طالبانو د حکومت په وخت کې يوې بلې جادويي حنجرې خاوند چې نړدې وو د خپلې جادويي حنجرې او د خپل قوي تأثير په زور د مفسدې موسيقۍ تغر ورټول کړي، او د اسلامي ترنم په ډګر کې د يوه بې تاجه بادشاه په حيث خپل ځان ثابت کړي قاري فضل الدين (سراجي) وو. خو افسوس چې لکه د وريځې لمر د ډېر لږ وخت لپاره د کاروان پر سر راښکاره شو او بيا خدايزده چې د کومو تورو وريځو تر شا ورك شو.

قاري فضل الدين سراجي د ساحر آواز د لرلو تر څنګ نازك خياله اديب، د ښکلا انځورګر، د حماسو شاعر او د پاك قران حافظ هم وو. خو نه پوهېږم چې ولې يې او س په ادب کې احساس، په انځور ګرۍ کې ښکلا، او په شعر کی حماسه ورکه شوه؟ او ولې د قران د (الانفال) سورت ورکې د جهاد، او د (براءت) سورت ورکې له طاغوت څخه د بېزارۍ او د (الشعراء) سورت ورکې د (إلاالذين) څخه د مخکې او وروسته شاعرانو تر منځ د توپير استعداد راپيدا نه کړ؟ داسې ښکاري لکه چېځنګه چې له غربه را الوتي د فېشن طوفان يې مبارکه ږيره ترې ووهله د غسې يې شرعي علم او جهادي شخصيت هم د ډيموکراسۍ نم کش کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سراجي خو د (یاقوتو غمی) وو خو افسوس چې د ډیموکراسۍ په بازار کې د بېډۍ په بيه لاړ. خو بيا هم وايم ګوندي چې د (عرفان نړۍ) ورکې ربنتيا هم د پښېمانۍ شعور راويښ کړی وي، او (له نورو څخه د دردوونکي بيلتون) احساس يې بېرته له راګرځېدلي کاروان سره بيا يو ځای کړي. خو د (عرفان نړۍ) هم يوه ډېره خطرناکه نړۍ ده، او کله کله خو سړی ورکې د (دمادم مست قلندر) تر سرحده هم رسېږي. نو ښه به دا وي چې سراجي بېرته (ملت د ابراهيم) شي، او د (بوتانو د ماتولو) په خپل زاړه عهد وفا وکړي. ځکه چې (له دنيا سره خو نه سکون ورغی، او نه يې له سرګردانۍ خلاص) کړ.

که جهادي ترانو ته يو څه په انتقادي نظر وګورو نو وينو چې جهادي ترانې د خپلو ټولو مثبتو اړخونو تر څنګ په اوسنۍ مرحله کې يو څه منفي اړخونه هم لري چې په لاندې څو کرښو کې ورته اشاره کوو.

د جهاد د بهير په دې وروستيو کې هر چا جهادي شعر ته مخه کړې ده، هم هغه خلك هم شعر وايي چې په شعر ويلو پوهېږي، او هغه خلك يې هم وايي چې نه پرې پوهېږي. بې استاذه او بې علمه شاعرۍ زور اخيستی. ډېر داسې د شعر ويلو شوقيان شته چې په شعر ويلو نه پوهيږي خو شعرونه وايي. او که يې په شعر کې څه خلل راشي نو د دې پر ځای چې کوم پاخه شاعر ته ورشي او خپل شعر ورباندې په علمي ډول اصلاح کړي بخپله لګيا وي او په خپله خپل شعر په ترنم باندې (کپي کشي) کوي. دغه وضعيت جهادي شعر له لاندې کمزوريو سره مخ کړی دی:

١ – د شعري سويې ټيټوالی.

٢ – د رکيکو ترکيبونو، کمزورو الفاظو، بازاري اصطلاحاتو، او عاميانه تعبيرونو استعمال.

٣ – د قوي پيغام نشتوالی.

۴ – د سندرو د کمپوزېشن (آهنګ) تقليد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د شرم ځای خو لا دا دی چې د ښځینه سندرغاړو د سندرو تقلید هم رواج موندلی، او کله کله خو ځینې ترانه ویونکي جهادي ترانې د حماسي آهنګ پر ځای د هغو زړو کوچیانیو سندرو پر طرز هم وایي چې پخوانیو اناګانو به د خپلو لمسیانو په ودونو کې پس له نیمې شپې ویلې.
د دې مشکلاتو ښایې ډیر اسباب وي، خو مهم یې کېدای شي د ځوانو شاعرانو د علمي سویې ټیټوالی، له تکړه شاعرانو د استفادې نه کول وي. او د دې تر څنګ د داسې یوې مرجع نشتوالی هم دی چې د نشر لپاره د معیاري او غیر معیاري شعر د تمییز چارې ترسره کړي.
په نارسمي جهادي ترانو کې یو بل لوی مشکل دا هم دی چې د فیتو، او سي ډیانو د محتوی د عنوان لپاره داسې نومونه غوره کېږی چې هېڅ جهادي پیغام او حماسي الهام نه لري. بلکې داسې نومونه ورته غوره کېږي چې سړی فکر کوي دا به د پېښور د ولسې سندرغاړو د فیتو او سي ډیانو نومونه وي لکه چپه بریتونه، د ارمانونو باران، د ارزوګانو شپیلۍ، د غزنې په زیارتونو، مسافر جانان، بې ننګه تربور، وړې وړې سلګۍ، واړه واړه ګلونه، د اباسین څپې، د ښاپیری ورغوی، د جانان کلی، زېړه وړانګه، زخمي لونګین، وربل یې شهیدشو، د غمونو غوبل او داسې نور ډېر نومونه چې هېڅ جهادي او اسلامي پیغام نه لري. او دا په داسې حال کی چې د فیتو محتوی یې تر نومونو ډېره درنه وي.
دا یو څو خبرې وې چې د جهادي ادب او اسلامي شعر په هکله مې په ذهن کې وې او پدې نیت مې د ادبي ذوق له لرونکو مجاهدو وروڼو سره شریکی کړې چې موږ ټول د خپل حق جهاد او مېړنې مقاومت د ادبي حق د ادا کولو په لاره کې خپل مسؤولیت د په ښه ډول رك کړو، او پرې نږدو چې ځوان شاعران او ادیبان مو په نا مطلوبو لارو لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي دښمن څوک دی، د دښمن پوځونه که د هغه افکار او نظريات؟

د اسلام او د کفر تر منځ دښمني د آدم عليه السلام له زمانې راروانه او په مختلفو مراحلو تېره شوې ده، خو تسلسل يې دوامداره دی. د تاريخ په اوږدو کې د اسلام په خلاف د کفر دښمنۍ په بېلابېلو وختونو کې خپل شکل او کيفيت ته تغيير ورکړی او پدې دښمنۍ کې يې هر ډول مادي او معنوي وسائل په کار اچولي دي. دا چې د الله تعالی د حق دين په خلاف د کفر دښمني په بېلابېلو شکلونو کې دوام لرلی نو الله تعالی هم په هره زمانه کې د هماغې زمانې د حالاتو او شرائطو مطابق د کفر او ګمراهيو په خلاف د مقابلې لپاره انبياء او شريعتونه راليږلي دي. او دا ځکه چې لکه څنګه چې د کفر په انواعو نظرياتو او فلسفو کې بدلون راځي نو د هغو د له منځه وړلو لپاره نوي دعوت، نوي تعامل او د بشريت د نوي نسل د لارښوونې لپاره د نويو پيغمبرانو راليږلو ته هم ضرورت پېښ شوی چې دا سلسله په محمد صلی الله عليه وسلم تمامه شوې ده.
د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر وفات وروسته د کفر د ټولو انواعو او اشکالو په خلاف مقابله او د هغو له شر څخه د انسانانو د ساتلو مسؤوليت د دې دين علماوو ته ورپاتې شو. او د اسلام په تاريخ کې چې تر کومه وخته د دين علماوو د اسلام د بيان تر څنګ کفر او د هغه ډولونه او نظريات هم خلکو ته ور معرفي کول نو خلکو به هم کفر پېژاند چې هم به يې خپل ځان او هم خپله ټولنه ورڅخه ساتله، او هم به يې د هغه د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کولې. خو له کله راهيسي چې د اسلام ښوونې په تعليمي نصابونو کې د کفر د معاصرو انواعو، اشکالو او نظرياتو پېژندګلوي او د هغو په خلاف په معاصر شکل مبارزه ورکه شوه او د مسجد ملا، د مدرسې استاد، د منبر خطيب، د کتاب مؤلف او شارح او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خانقاه مرشد د دې زمانې خلکو ته د کفر د معاصرو ډولونو لکه د سیکولریزم، ډیموکراسۍ، کمونیزم، هیومنیزم، لیبرالیزم، وضعي قوانینو، تنصیر، استعمار ، استشراق او د معاصر کفر د نورو ډولونو د نظریاتو او عقائدو په خلاف څه ونه ویل او و یې نه لیکل، او د هغو لوري ته د بلونکو اشخاصو او احزابو په خلاف یې علمي او فرهنګي مبارزې ته ځای ور نه کړ، نو هماغه وو چې د کفر دغه معاصر ډولونه او د هغو نظریات په خطرناك ډول د اسلامي نړۍ په ولسونو کې خپاره شول، او د نویو نسلونو په ملیونو ځوانان یا ورڅخه متأثره شول، او یا یې هم په صف کې ودرېدل او بېرته یې د اسلام په خلاف دښمني شروع کړه.

د معاصر کفر خطر پدې کې دی چې هغه اسلامي ټولنو د صریح کفر په نامه نه راصادرېږي، بلکې هغه پداسې نومونو او شعارونو ځانته په اسلامي ټولنو کې ځای پیدا کوي چې په ظاهره یې له نومونو د کفر نښې نه ښکاري، او د آزادۍ، دیموکراسۍ، سیاسي او دیني پلورالیزم، پرمختګ، مساوات، ټولنیز بدلون، د بیان او عقیدې د آزادۍ، د بشر د حقوقو، د ښځو د حقوقو، عقلانیت، قانون مندۍ، نړیوالو قوانینو، نړیوالو اصولو، مدني ټولنې او دېته په ورته نورو نومونو د مسلمانو ټولنو پر ژوند ځان حاکموي، او دا ټول هغه اصطلاحات دي چې هر یو یې په غرب کې خپل فلسفي مفهوم او مدلول لري چې له یوې مخې د اسلام په مخالف قطب کې قرار لري.

په تېرې یوې پیړۍ کې کفارو او په خاص ډول د کمونیزم، سیکولریزم او لیبرالیزم د مکتب پیروانو خپلې فلسفې، نظریات، سیاسي او اجتماعي اصول او خپل فکري او معنوي ارزښتونه له بېلابیلو لارو او د بېلابېلو وسائلو په وسیله په مسلمانانو ومنل.

د دغو پردیو ارزښتونو او سیاسي او اجتماعي نظریاتو د تأثیر په نتیجه کې په اسلامي نړۍ کې داسې پردي پال نسلونه رالوی شول چې د سیاست، قوانینو، تعلیم، فرهنګ، اخلاقو، معنوي ارزښتونو، عسکریت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اقتصاد په ډګرونو کې د غربیانو پر لاره روان شول. سیکولر غرب او کمونست شوروي اتحاد پدې وتوانید چې اسلامي نړۍ خپله داسې یوه مستعمره وګرځوي چې حکام او نظامونه یې پخپله خوښه په دوئ پسې روان شي.
د معاصر کفر د نه پېژندنې او د هغه په اړه د غفلت نتیجه پدې شکل کې هم راووته چې هغه ملا، طالب، مرشد او تبلیغي دعوتګر چې باید مسلمانان یې د معاصر کفر له خطرونو څخه خبر کړي وای د هغوئ لویه برخه نن په خپله لیبرالیزم، دیموکراسي، سیکولریزم، هیومنیزم، تنصیر، استشراق، وضعي قوانین، نړیوال کفري پوځي او سیاسي تړونونه او د کفر نور اوسني انواع او اشکال په علمي شکل نه پیژني، نو ځکه خو یې نه په خلاف مؤثره مبارزه کولی شي، او نه یې دغې مبارزې ته په خپلو اهدافو کې ځای ورکړی دی.
زموږ یوه لویه برخه ملایان او مرشدان که د یهودو او نصاراوو په هکله څه معلومات لري هم نو هغه هم هماغه د یونیم زرکلونو مخکنې معلومات دي چې اوس په هغه شکل کې واقعیت نه لري. او دا ځکه چې د نن ورځې یهودیت، صهیونیزم او په هغو پورې اړوند نړیوالو او محلي تنظیمونو تقریباً ټوله نړۍ په یوه او یا بل شکل یرغمل کړې ده، او په نړۍ کې یې د ډېرو مهمو چارو واګې په خپل لاس کې نیولې دي.
همدارنګه نصرانیت هم اوس هغه پخوانی د صومعې او رهبانیت دین نه دی چې عقیده یې په یوه خاصه محدوده کې تأثیر ولري او بس. بلکه نصرانیت اوس په صلیبیت، تنصیر، استعمار او نړیوال نظام بدل شوی چې د نړیوالو کاتولیکو، ارتوډکسو، پروټسټنټ کلیساګانو او نورو نړیوالو مؤسسو له لارې یې په بېلابېلو شکلونو ټولې نړۍ ته ځان رسولی دی او د ملیاردونو انسانانو پر ژوندې خپل تاثیر پرې ایښی دی، خو زموږ د ملا، مدرسې، او د خانقاه د مرشد په نصاب کې د دغو لویو خطرونو په هکله هېڅ هم نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې په مکتب ، پوهنتون، مسجد، مدرسه، خانقاه او تبلیغ کې زده کوونکو ته د کفر د معاصرو ډولونو او د هغو د نظریاتو په اړه څه نه تدرسیږي نو له دغو دیني او علمي مراجعو څخه یوه برخه فارغېدونکي هم عامو خلکو ته پدې اړه څه نه وایي. نو هماغه وي چې یوه لویه برخه عام خلك د دغو کفري نظریاتو په دامونو کې په یوه او بل ډول ښکیل شي.

د افغانانو د جهادي مقاومتونو په بهیر کې د ډېرو لویو افتخاراتو تر څنګ یوه لویه منفي نقطه هم شته چې تل یې جهادي مبارزې له هغې متأثره شوې دي، او هغه دا ده چې دوئ د دښمن په مقابل کې مقاومت کوي، خو د هغه له فکر او نظریاتو سره د مقابلې په ډګر کې جدیت او پوره وړتیا نه لري.

که د پورتنۍ مدعا د اثبات لپاره د مثالونو په لټه کې شو، نو ښه ډېر مثالونه به وینو چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱ – افغانانو د چنګېزیانو په مقابل کې مقاومت کړی، خو د چنګیز د فکر او قانون په مقابل چې (یاسا) نومېده او حق او باطل یې ورکې سره ګډ کړی وو کومه مؤثره فکري مقابله نه ده کړې، بلکې افغانانو پخپله هم په خپل ژوند کې په داسې عرفونو او قوانینو ګذاره کړې چې شریعت، قومي نرخونه، رواجونه، عرفونه او خپلې انګېرنې او نظریات یې ورکې ګډ کړي دي. دین یې د عبادت په ساحه کې منلی، کتاب یې د ملا ګڼلی، او چې په خپلو کې سره په منازعاتو کې اخته شوي نو بیا یې د دې پر ځای چې قضیه یې د فیصلې لپاره یوازې شریعت ته وروړی وي، مقابل لورې ته یې ویلي دي چې (په شریعت راسره فیصله کوې او که په پښتو؟ دواړو ته دې تیار یم) یعنې که شریعت وي او که غیر شریعت دواړه منم.

۲– افغانانو د انګریزانو په خلاف ډېرې جګړې کړي دي او ډېرې قربانۍ یې ورکړي، خو د انګریز د عقیدې په خلاف چې (نصرانیت) دی، او د هغه د اخلاقو، سیاسي تفکر او فرهنګ په خلاف یې چې لیبرالیزم، استعماري توسعه غوښتنه، سیکولریزم او دیموکراسي ده هېڅ کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدي، علمي، فکري او فرهنګي مبارزه نه يوازې دا چې کړې نه ده، بلکې ښه ډېر پوهان، مفکرين، سياستمداران او د نظام او د قلم خاوندان يې د انګريزانو پر لاره روان شوي، او ولس ته يې په بېلابېلو ډګرونو کې اروپايي فکر ورتلقين کړي دی، او د هماغه فکر پر اساس يې نظامونه هم جوړ کړي دي.

۳- افغانانو د هندوانو او سکانو په خلاف جګړې کړي دي، د هندوستان ډېرې سيمې يې لاندې کړي، ډيلي يې فتحه کړې، خو د هندوييزم د کفر په خلاف يې چې د شرك تر ټولو بد ډول دی نه کومه علمي او فکري مبارزه کړې، نه يې د هندوييزم د عقائدو، اخلاقو، مشرکانه تمدن او د مسلمانانو په خلاف د هندوانو له بدو عزائمو په پراخه پيمانه د تأليف او فکري مبارزې له لارې راتلونکو ولسونو ته څه پرې ايښي دي. او د دې کار نتيجه يې دا راوتلې چې د دې پر ځای چې په افغانه ټولنه کې هندو او سك ته د مشرك، کافر، اهل ذمه او د اسلام د دښمن په سترګه وکتل شي، هندو ته (لالا) او سك ته (سردار) ويل شوي دي چې دواړه د عزت او درناوي الفاظ دي.

نه يوازې دا چې افغانانو ته د هندوانو فکر او فرهنګ د يو کفري او شرکي فرهنګ په حيث نه دی معرفي شوی، بلکې د نظام او با نفوذه سياسي جهتونو له لوري په سيستماتيك ډول کوښښ شوی چې (مسلمان) افغانستان ته له (کافر) هندوستان سره د يو دوست هېواد په حيث پيوند ورکړل شي، او دلته د هندي فرهنګ د خپرېدو لپاره لاره هواره شي.

۴- افغانانو د روسانو په خلاف هم لوی جهاد او اوږده جګړه وکړه او د لويو قربانيو په ورکولو يې د الله تعالی په نصرت له هغوئ څخه خپله خاوره آزاده کړه، خو د کمونيزم د فکر او عقيدې په خلاف يوه علمي، فکري او فرهنګي مبارزه ونه شوه. زموږ ملا او مدرس ونشوای کولی چې د ولس لوستي نسل ته کمونيزم د (کفر) په حيث ورمعرفي کړي. همدغه علت وو چې په افغانستان کې کمونستان او د کمونيزم د فکر پلويان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانونه (مسلمانان) ګڼي او ټولنې هم هغوئ د کمونيزم د منلو له امله کافر نه دي ګڼلي.
د دې کار نتيجه دا راووته چې نه يوازې دا چې پرون موږ کمونستان له خپلې ټولنې څخه ګوښه نه کړای شول، بلکې نن هماغه کمونستان په بل شکل بيا په همدې مسلمانې ټولنې حاکمان دي، او دې ولس ته د کمونيزم په خلاف د درېدلو سزا ورکوي.

د کفر د معاصرو ډولو د پېژندلو ضرورت:

د کفر د انواعو او د هغه د نظرياتو پېژندل هم په هماغه اندازه ضروري دي لکه څومره چې د ايمان پېژندل ضروري دي.
په قرآن کريم کې الله تعالى له مسلمان سره د شيطان د دښمنۍ اعلان او پر دې دښمنۍ د هغه تأکيدونه بيان کړي دي.
شيطان کافر دی او د شيطان مکرونه، دسيسې، طريقې، انسان ته د ده د وسوسو او شبهاتو ور اچول، د ده افکار او نظريات او همدارنګه د ده د پيروانو عقائد او نظريات او د هغوئ ډلې، احزاب او نصابونه، سياستونه، نظامونه، ادبيات او فلسفې ټول د کفر هغه انوع او اشکال دي چې په قرآن کريم کې الله تعالى پدې مقصد په تفصيل بيان کړي دي چې مؤمنان له هغو څخه ځانونه خبر کړي، د هغو په دامونو کې له ښکيل کېدلو ځان وساتي، او د هغو د له منځه وړلو لپاره تدابير او لارې چارې وسنجوي، او مناسب وسائل په کار واچوي. نو له همدې امله څنګه چې د ايمان پېژندل ضروري دي تر څو مسلمان مؤمن شي او د ايمان د غوښتنو مطابق عمل وکړي، په همدومره اهميت د کفر پېژندل هم ورته ضروري دي ترڅو په هغه کې له واقع کېدلو کې ځان وساتي او دښمني ورسره وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له عمر رضي الله عنه څخه نقل دي چې (ينقض عرى الإسلام عروة عروة إذا وُلِدَ في الإسلام من لم يعرف الجاهلية) ([1]. د اسلام کړۍ به يوه يوه ماتيږي کله چې په اسلام کې داسې څو وزيږي چې جاهليت نه پيژني.
عمر رضی الله عنه د جاهليت او کفر نه پيژندل د اسلام د کړيو د ماتولو سبب بولي، او دا ځکه چې کېدی شي چې د جاهليت د نه پيژندلو له امله به څوك په هغه کې واقع شي او بيا به له اسلام سره دښمنۍ کوي لکه پدې زمانه کې چې د معاصر جاهليت د افکارو منونکي د اسلام د دعوی له لرلو سره سره د اسلام او جهاد په خلاف په يوې بې رحمه جګړه کې اخته دي او دکفارو خوا يې نيولې ده.

د اسلام په تاريخ کې اسلامي امت له کفارو سره د مسلسلو جګړو له امله دومره ندی کمزوری شوی لکه څومره چې د کفارو د فرهنګ، عقائدو، دودونو، اخلاقو او سياست د راواردېدلو او په مسمانانو کې د هغوئ د فکري او اجتماعي فعاليتونو له امله کمزوری شوی دی.

د کفارو ناپوځي فعاليتونو په تېرو پنځو پېړيو کې په پرله پسې ډول اسلامي امت له سياسي، فکري، عسکري او اجتماعي انحطاط سره مخامخ کړ، او د حقيقي اسلام له تعليماتو څخه د ليرې والي او د جهادي روحيې د نه درلودلو له امله په مسلسل ډول د کفارو په مقابل کې کمزوری شو.

---

[1] – توجيهات ونصائح شرعية إلى شباب الصحوة الجهادية في تونس القيروان، النصيحة الرابعة، نشر(النخبة للإعلام)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سياسي، فکري،اجتماعي او پوځي انحطاط د دې اوږدې مودې په پای کې چې الله تعالی د کمونيزم په مقابل کې د افغانانو جهاد د مسلمانانو د بيا ويښتابه يوه ذريعه وګرځاوه او د دې جهاد د تأثيراتو څپه په اسلامي نړۍ کې په پراخه ډول خپره شوه او په لکونو مسلمان ځوانان بېرته اصل اسلام ته راوګرځېدل او د غرب او شرق د کفارو فکري ارزښتونه يې پردي او بې لارې وبلل، او له هغو څخه يې خپله بيزاري او نفرت اعلان کړ، نو کفارو او په رأس کې غرب دغه بهير خپل تر ټولو لوی او خطرناك دښمن وګاڼه، او د هغه په خلاف يې په ټوله نړۍ کې فکري او پوځي جګړه پيل کړه.

په دې مرحله کې يوه برخه خلکو چې ځان اسلامي نهضتونه، منځلاري مسلمانان او ديموکرات اسلامي احزاب ګڼل د اسلام په سياسي فهم کې د انحراف له امله او ياهم د ځينو سياسي مصالحو په خاطر د کفارو مقابلې ته راونه وتل.

دغو خلکو هم د خپل فکري انحراف او يا هم د غرب د مادی او پوځي قوت له وېرې د جهادي بهير له لارويانو څخه خپله لاره بېله کړه او له غرب سره د پيوند اخيستلو او د هغوی په نړيوال صف کې ځانته د ځای پيدا کولو په مقصد د جهادي فکر او تګلارې خاوندان توند لاري، بنسټ پالي، ترهګر او ورانکاري وګڼل، او پدې کار سره يې د دښمن ادعا تأييد او د هغه تله ور درنه کړه، چې دې کار هم د دوئ اسلامي مصداقيت تر پوښتنې لاندې راووست، او هم يې د امت ډېرې ځوانان د جهادي بهير پر افاديت شکمن کړل چې د دې دواړو و کارونو فايده د دښمن ځولۍ ته ورولوېده.

د دښمن له فکر سره بايد څه وکړو؟

د دې لپاره چې لکه څنګه مو چې اسلامي ټولنه د کفارو له پوځي اشغاله آزادول غواړو د هغوئ له فکري اشغاله يې هم آزاده کړو نو د فکر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ او تعلیمي نصابونو په ډګرونو کې دقیقو، سنجول شویو او د تطبیق وړ اقداماتو ته ضرورت لرو چې ځینې یې په لاندې ډول یادوو:

١- د هغه نظام او هغو سیاسي او فکري جهتونو د نسکورولو او مقابلې لپاره باید جدي، هر اړخیز او مسلسل کوښښ او مبارزه وشي چې په بېلابېلو ډولونو د کفارو د سیاسي، اجتماعي او فلسفي افکارو د خپرولو تر شا ولاړ دي. او دا ځکه چې که دوئ په اسلامي ټولنه کې د پردیو د افکارو د خپرولو لپاره په پراخ ډول د کار تر شا ولاړ نه وي نو دښمن مو په مخامخ ډول هر فرد نشي مخاطبولی، او نه مو د ټولنې ډېر خلك تر خپل تاثیر لاندې راوستلی شي. د دغې مقابلې لپاره په جهادي صف کې د پوځي او فکري مقابلې د ورتیاوو پیدا کول تر ټولو ضروري کار دی.

٢- د دیني او دنیاوي تعلیم له دواړو نصابونو څخه باید په پوره زیرکتیا او جدیت ټول هغه مفردات او مضامین وویستل شي چې د کفارو له فکر، فرهنګ، سیاست او د هغو له اجتماعي او فلسفي ارزښتونو سرچینه اخلي. که چېرې دولت او رسمي جهتونه دغه کار نه کوي، نو لږ تر لږه په نارسمي مجال کې خو باید دا کار په حتمي ډول ترسره شي.

٣ – د دیني او دنیاوي تعلیمي مؤسسو او مدارسو په نصابونو کې باید د کفر او ګمراهۍ د معاصرو ډولونو، اشکالو او نظریاتو لکه کمونیزم، سیکولرزم، ډیموکراسۍ، لیبرالیزم، هیومنیزم،نشنلزم، ګلوبلایزیشن، وضعي قوانینو او د غرب له لوري د جوړ شوي معتدل اسلام په د رد اړه مضامین داخل کړای شي او په معقول، مدلل او مؤثر ډول تدریس شي.

مسلمانان باید په خپلو نصابونو کې د خپلو لوستونکو لپاره د کفارو د عقیدوي، سیاسي، اخلاقي انحطاط معاصر او ښکاره مثالونه وړاندې کړي، ترڅو کفار هغوئ ته د آیډیل او مقتدا په حیث نه بلکې د داسې خلکو په حیث ورښکاره شي چې باید هدایت وروړسول شي او له کفر څخه یې نفرت وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – د مېډیا، ټولنیز ارتباط د وسائلو او د ژورنالیزم مؤثر استعمال پدې لاره کې تر ټولو مهم کار دی. او دا ځکه چې دغه ذرائع په دې زمانه کې د پیغام رسولو او د اجتماعي ذهنیت د تشکیل مهم وسائل دي، او په یوه ځل په ملیونونو انسان مخاطبوي او په هغوی کې مثبت او یا منفي تحول راولي. غرب د همدغو وسائلو له لارې ټوله نړۍ مسحوره کړې ده او په پراخه پیمانه یې د نړۍ ولسونه تر خپل تأثیر لاندې راوستلي دي.

د امریکا په مقابل کې چې جهادي صف تر یوه حده د پیغام رسولو معاصر وسائل وکارول که څه هم چې په ډېر مسلکي شکل او پراخه پیمانه نه وو خو بیا یې هم په نړۍ کې د غرب جادو ورماته کړه، او د همدغو وسائلو له لارې یې نړۍ ته د خپلې بریا او د دښمن د ماتې شواهد وړاندې کړل.

۶ – د اسلام حقیقي تشریح او له هغه څخه د خرافاتو او انحرافاتو څنډل او له نورو نظریاتو سره د هغه د پیوند کارۍ مخه نیول بل هغه مهم کار دی چې د جهادي نظریې او اسلامي فکر خاوندان باید ورته د خپل کار په اولویاتو کې ځای ورکړي. او دا کار ځکه ضروري دی چې کفار له همدغو عواملو څخه د اسلام په بدنامه او په هغه باندې د نویو نسلونو د باور د کمزوري کولو لپاره کار اخلي.

نن ورځ په اسلامي نړۍ کې او هم په افغانستان کې ډېر داسې څه د اسلام په نامه خپاره شوي چې هغه له ریښتینې اسلام څخه ډېر لرې دي. او هم له داسې ډېرو مهمو اسلامي اعمالو او عقائدو خلك غافل شوي او یا یې ورته په اهمیت نه دي کتلي چې هغه په دین کې د لوړې مرتبې اعمال او عقائد دي. نو په کار ده چې د مسلمانان او بیا په خاص ډول د جهادي صف یوازې د کفارو جنګیالي په دښمنۍ ونه نیسي، بلکې اصلي دښمني مو باید د دښمن له نظریاتو سره وي. او هر هغه څوك چې د دښمن د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افکارو ممثل وي هغه خپل دښمن وګڼو او له هغه سره د مناسب تعامل لارې ولټوو.

د دښمن د افکارو، نظریاتو، فرهنګ او د هغه د ملګرو او پیروانو خطر ځکه د هغه د پوځونو او جنګیالیو تر خطره ډېر دی چې هغه خو به ماتې وخوري او وبه تښتې، خو افکار او ملګرې به یې په هر حالت کې دلته پاتې وي، او په سلګونو کلونه به دلته د اسلام او مسلمانانو په خلاف په یوه او بل ډول فعالیتونه کوي او په هر نسل کې به یوه برخه خلك د اسلام او اسلامي نظام په خلاف دروي.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library